دیني - سیاسي مشر

# امام خمیني

ځېړنه:
عبدالبصیر محمدي

امام خميني (ره)

څېړنه:
عبدالبصير محمدي

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب ځانګړنې
د کتاب نوم: امام خميني (ره)
څېړنه:عبدالبصير محمدي
د چاپ کال:۱۳۹۰
مخونه:۳۸۵
د چاپ شمېر:۱۰۰۰ ټوکه.
د چاپ وار:لومړی

ډالۍ:

د

امام سید روح الله موسوي خمیني

سپیڅلې او سترې اروا ته چې

په خپله بې سارې مشرۍ یې اسلامي انقلاب بریالی او اسلام یې عزتمن کړ.

لړلیک

بحث پیلولو ته دریمځه.......................................................۱۰
زموږ د پېړۍ د اسلامي پاڅون مشر ..........................................۱۰
اسلامي عالم، سیاستپوه او مشر هم دی .........................................۱۱
د امام خمیني (ره) لنډ ژوند لیک ...........................................۱۳
قم ته هجرت، د تکمیلي زده کړو تحصیل او د اسلامي علوم ښوونه ...۱۳
امام خمیني (ره)د مبارزې او پاڅون په سنگر کې .........................۱٤
د جوزا د پینځلسم پاڅون .......................................................۱۸
له ترکیې نه عراق ته د امام خمیني تبعید.....................................۲۰
امـام خمینـی او د مبارزې استمـرار ( ۱۳۵۰ ـ ۱۳۵٦ ) ......................۲۱
پر ۱۳۵٦ کال د خلکو پاڅون او د اسلامي انقلاب څوکې ته رسېدل...۲۲
له عراق نه پاریس ته د امام خمیني هجرت.....................................۲۲
تر څوارلس کاله تبعید روسته هېواد ته د امام خمیني راستنېدل .........۲۳
د امام خمیني رحلت؛ ...........................................................۲٤
د افغانستان له مسلمان ولسه په ملاتړ کې د امام خمیني (ره) څرگندونې:۲۵
گورباچوف ته د امام خمیني (ره) د لیک یوه برخه .........................۳٤
له امام خمیني نه د افغانستان په اړه د مرحوم حاج احمد آقا خاطرات .۳٦
پاڼلیکونه...........................................................................۳۷
امام خمیني (ره) د افغانستان د مطبوعاتو او شخصیتونو له نظره..........٤۰
الف-شخصیتونه: ..................................................................٤۰
ب ـرسنۍ: .........................................................................٤۲
۱- د میثاق خون مجله: .............................................................٤۲
۲- د فتح مجله ......................................................................٤۲
۳- د وحدت هفته نامه ..............................................................٤۳
٤- د پیام مستضعفین مجله..........................................................٤٤
۵- اخبار هفته .......................................................................٤٤
پاڼلیکونه...........................................................................٤٦
امام خمیني (ره)...................................................................٤۷

د نړیوالو شخصیتونو او رسنیو له لیدلوري ........................................ ٤٧
الف- د علمي، فرهنګي، سیاسي او مذهبي شخصیتونو لیدلوري: ....... ٤٧
د اسلامي هېوادونو مشران ................................................................ ٦٠
د نړۍ رسنۍ ........................................................................ ٦٧
پاېلیکونه .............................................................................. ٧٢
د امام خمیني (ره) د رباعیاتو پښتو ژباړه ........................................ ٧٧
د امام خمیني (ره) له نظره دد تهذیب لومړی ګام.......................... ٨١
د امام خمیني (ره) لیکه ........................................................... ٨٨
په افغانستان کې د امام خمیني ره لیکه ......................................... ٩١
د جوزا د پینځلسم خونړی پاڅون............................................... ٩٢
د امام خمیني (ره) د ځینو ویناوو ټولګه......................................... ٩٥
آزادي د امام خمیني (ره) په ویناوو کې .......................................... ٩٦
د امام خمیني (ره) له نظره خود باوري او خودکفایي ......................... ١٠٠
پاېلیکونه ........................................................................... ١٠٦
ځوانان او امام خمیني (ره) ....................................................... ١٠٨
پاېلیکونه ........................................................................... ١١١
دیني زده کړیالانو ته د امام خمیني (ره) سپارښتنې .......................... ١١٢
علمي مرکزونو ته د امام خمیني (ره) سپارښتنه ............................... ١١٦
امام خمیني (ره) او مدني ټولنه ................................................. ١١٧
پاېلیکونه ........................................................................... ١٢١
امام خمیني (ره) او د انسان حجابونه ........................................... ١٢٢
امام خمیني (ره ) او د دیني تفکر احیا ........................................ ١٢٤
د تهذیب او د نفس د تزکیې ارزښت........................................... ١٣٠
امام خمیني (ره) او اخلاق او سیاست ........................................... ١٣٦
پاېلیکونه ........................................................................... ١٣٩
دیني مدرسو ته د امام خمیني (ره)خبرداری ................................... ١٤٠
امام خمیني (ره) او د انبیاوو ځانګړنې ......................................... ١٤٦
ابراهیم علیه السلام د امام خمیني په ویناوو کې. . . . . . . . . . . . ١٤٩

موسى علیه السلام د امام خمیني په ویناوو کې ........................... ۱۵۰
عیسی علیه السلام د امام خمیني په ویناوو کې ........................... ۱۵۰
سلیمان علیه السلام د امام خمیني (ره) په ویناوو کې .................... ۱۵۲
حضرت محمد د امام خمیني (ره) په ویناوو کې.......................... ۱۵۳
پاېلیکونه........................................................................... ۱۵۵
د امام خمیني (ره) له نظره د روژې روزنیز اړخ ............................ ۱۵۷
مېرمنې د امام خمیني (ره) په ویناوو کې .................................... ۱٦٤
امام خمیني (ره) او له نفس سره مبارزه ...................................... ۱۷۰
(ستر جهاد).......................................................................... ۱۷۰
د امام خمیني (ره) خاطرات ................................................... ۱۷٤
پاېلیکونه........................................................................... ۱۷۸
د امام خمیني (ره) له نظره پوهه او ایمان .................................... ۱۷۹
پر سیمه اییزو بدلونونو د امام خمیني د تفکراتو اغېزې.................. ۱۸۲
د امام خمیني (ره) الهي-سیاسي وصیت...................................... ۱۸۷
د امام خمیني (ره) آثار........................................................... ۲۲٤
سرچینې ............................................................................. ۲۲۷

الامام موسی الکاظم علیه السلام:

(( رجل من اهل قم یدع الناس الی الحق، یجتمع معه قوم کزبر الحدید، لا تزلهم الریاح العواصف، ولا یملون من الحرب، ولا یجنبون، و علی الله یتوکلون، و العاقبة للمتقین= د قم یو سړی به خلک حق ته رابولي. یوه ډله خلک به د اوسپنې د ټوټې په څېر ترې راتاو شي، چې سخت بادونه او بېخ راایستونکي توپانونه به یې څپڅپانده نه کړي، هغه له څه نه ډارېږي او یوازې پر خدای توکل کوي؛ خو عاقبت د پرهېزکارانو دی. ))

# بحث پیلولو ته دریمځه

## زموږ د پېړۍ د اسلامي پاڅون مشر

پر ۱۳۵۷ د سلواغې پر ۲۷ مه په ګاونډي هېواد ایران کې د اسلامي عالم، سیاستپوه، عارف، د نبي کریم له ځوځاته، مجتهد، د ایران ولس دیني او سیاسي مرجع ارواښاد "سید روح الله موسوي خمیني" په مشرۍ "اسلامي انقلاب" بریالی شو.
دې انقلاب په "سیاسي فرهنګ" کې یو نوی باب پرانست، تر انقلاب مخکې اسلام د یو خوځنده، ټولنیز او سیاسي خوځښت په توګه مطرح نه و؛ خو د امام خمیني (رح) په مشرۍ د ایراني ولس اسلامي انقلاب، اسلام د یوې ژغورنده او ټولنسازې اندې په توګه مطرح کړ او د نړۍ د پوهانو اذهان یې اسلام ته رامات کړل او د پلټنو له مخې د انقلاب له بریا تر ننه پورې یوازې په اروپا کې څه له پاسه زر تنه عالمانو د اسلام دین منلی دی او پردې سربېره، په اسلامي هېوادونو کې یې اسلامي خوځښتونه ته نوې ساه پوه کړه، چې په ګاونډ کې یې په افغانستان کې د پخواني شوروي اتحاد د لاسپوڅو پر وړاندې په وسلوال پاڅون پیل وکړ او څرګنده بېلګه یې د هرات د کب د ۲٤ مې خونړۍ پاڅون و.
د امام خمیني (رح) په مشرۍ انقلاب نړیوالو ته جوته کړه، چې کړای شي اسلام حکومت وکړي او مسلمین سرلوړي او عزتمن وي. تردې له مخه اسلامي خوځښتونه سخت ځپل کېدل؛ خو د امام مشرۍ او هغه اند، چې د انقلاب شعارو د مسلمانانو دا تنده یې ماته کړه، چې هو! اسلامي حکومت کړای شي؛ نو ددې انساني او اسلامي سرلوړۍ له مخې د امام خمیني (ره) په مشرۍ اسلامي انقلاب مسلمین سرلوړي کړل او د استکبار له منګولو یې ورته د ژغورنې فکري-سیاسي او روحي هډه جوړه کړه؛ نو ځکه پر ټولو مسلمانانو او د نړۍ پر بېوزلیو دا زمه واري پرته ده، چې ددې خوځښت مشرتابه او "هډې"د پاسوالۍ له د نړیوال کفر او صهیونزم پر وړاندې د لا پیاوړتیا لپاره دا سنګر غښتلی کړي.

## اسلامي عالم، سیاستپوه او مشر هم دی

د اسلامي نړۍ د عالمانو د خپلمنځي رغنده سیالۍ په لړ کې د اهلبیتو علیهم السلام یو لاروي عالم وکړای شول، چې نړۍ رایجې سیاسي پوځي او ټولنیزې او فکري معادلې دړې وړې کړي، چې دا په حقیقت کې د ګردو عالمانو د سترګو یخوالی هم دی؛ خو د نورو اسلامي مذاهبو عالمانو ته ذمه واري تر غاړې ده، چې د خپلو سیمو او هېوادنو د شرایطو په پامنیوي په رغنده سیالۍ کې برخه واخلي او دا اسلامي سپارښتنه عملي کړي، چې: " اسلامي عالم، سیاستپوه او مشر هم دی".

عالمان کړای شي، چې د ایراني ولس د اسلامي انقلاب له تجربو ګټنه وکړي، خپلې مبارزاتي هڅې داسې تنظیم کړي، چې په سوله ییزه توګه او د ولسواکۍ له لارې د ټولنې او دولت د مشرۍ لپاره د عالمانو ونډه تثبیت کړي.

امام خمیني (ره) د ازادۍ ستر ببرغچي، د انسان د عزت او صلابت پاسوال او د نړۍ د بېوزلیو ملاتړ و، چې و یې ویل: (( موږ د نړۍ له ټولو مظلومانو سره په غم کې شریک یو. ))؛ خو شعار یې نه ورکاوه؛ بلکې څه یې، چې فکر و او څه یې چې ویل، عمل یې پرې کاوه.

د شوروي د یرغل پر وړاندې د افغانستان د خلکو یو اصلي ملاتړ امام خمیني (ره) و، چې هېڅکله چمتو نه شو د سیاسي مصلحتونو او د لنډمهاله ملي ګټو لپاره د افغانستان د خلکو له ملاتړه لاس واخلي.  د دامام خمیني دې پرېکنده دریځ روسان دومره غوسه کړل، چې د عراق له منځه دیکتاتور؛ صدام ته بمونه او مزایل ورکړل، چې د ایران پلازمېنه؛ تهران پرې بمباري کړي.

د امام خمیني په ویناوو کې د افغانستان د خلکو په اړه په زړه پورې او ښکلې تعبیرونه دي.

دا مسلمان عالم، سیاستپوه او د اسلامي انقلاب مشرتابه مقام د افغانستان ولس مېړنی بولي، چې له روس سره په جهاد کې یې روسي ځواکونه داسې له پښو وغورځول، چې بیا یې کله هم د سرااوچتولو جرات و نه کړ.

د جهاد په پېر کې امام خمیني (ره) د افغانستان خلک د مبارزې دوام او یووالي ته رابلل او د افغانستان د خلکو برۍ یې نږدې ګاڼه.

امام خمیني (ره) د ایران د اسلامي انقلاب په دویمه لمانځ غونډه کې د افغانستان د خلکو حالات زړه بوګنوونکي او خواشینوونکي وبلل او مسلمانانو ته یې وویل: ((مسلمانانو! له اسلام سره مرسته وکړئ. )) امام خمیني شوروي ((یرغلګر))، د افغانستان کمونستي دولت یې

((غاصب)) او د د خلق ديموکراټيک ګوند يې ((خاين)) ګوند باله. امام خميني په ايران کې مېشت افغان کډوالو ته ځانګړی پام درلود او پر ۱۳۶۱ لمريز کال يې وويل:
(( مونږ مسلمانان يو او هغوی هم مسلمانان دي، مونږ يې بايد مېلمستيا وکړو، خدمت يې وکړو او هغو ی. . . . . . . ))
امام خميني (ره) په ايران کې مېشت افغان مهاجرو ته ځانګړی پام درلود. امام خميني (ره) پر ۱۳۶۱ کال د تهران بازاريانو ته د وينا په ترڅ کې يې افغان مهاجرين د ايرانيانو مېلمانه وګڼل، وويل: (( موږ مسلمانان يو، هغوی هم مسلمانان دي، موږ يې بايد مېلمستيا وکړو، خدمت يې وکړو او. . . . ))
بله داچې امام د اسلامي نړۍ په معاصر تاريخ کې د يو نړيوال او بې ساري شخصيت په نامه تثبيت شوی دی. ستر راويښونکی، سازش نه منونکی او پرېکنده، تاريخ ساز، د اسلام بيا راژوندی کوونکی، مسلمانانو ته عزت ورکونکی، د بېوزليو ملاتړ، د يووالي او وحدت منادي، د اسلام رښتين مدافع، له خدايه پروا کوونکی، له استکبار سره مبارزه کونکی او. . . هغه نومونونه او عنوانه دي، چې علماوو، پوهانو، شخصيتونو، او د نړۍ د هېوادونو مشرانو؛ مسلمانان وي که نامسلمانان، امام خميني (ره) ته يې ورکړي دي؛ لکه څنګه چې ښاغلی محمد امين فروتن افغان اهلسنت د امام خميني (ره) لېواله شخصيت وايي:
(( د زمانې ستر قلندر او د مبارزه او عرفان جام په لاس درويش د اسلام د حيثيت او پت په خاطر راپاڅېد او د اسلام ستر امت ته يې حيثيت او پت وروباښه. ))
امام خميني (ره) د يو ستر متفکر، فقيه، فيلسوف، عارف او ستر مذهبي او سياسي مشرتابه په نامه په ملي، قومي او تبريز تنګ چوکاټ کې نه ځايېده. ټاټوبی يې ايران دی؛ خو انديشه او عمل يې له ايرانه اوختی او ټولو انسانانو او په تېره بيا د هر هېواد په مسلمانانو پورې تړاو لري. نو پردې بنسټ په دې هڅه کې شوو، چې ځوان نسل ته د امام خميني (ره) د شخصيت د معرفي کولو لپاره يو لړ مطالب راټول کړي.

په درنښت

عبدالبصير محمدي

## د امام خميني (ره) لنډ ژوند ليک

د ۱۳۲۰ هجري قمري د جمادي الثاني پر شلم، چې د ۱۲۸۱ هجري شمسي د سنبلې له ۳۰ (د ۱۹۰۲ زېږدیز د سپمتبر ۲۱) سره سمون خوري د ایران د مرکزي ولایت په خمیني ښار کې د علم، هجرت او جهاد په کورنۍ کې د زهرای اطهر سلام الله علیها له ځوځاته، روح الله الموسوی الخمینی پر دې خاورین طبیعت قدم کېښود.

هغه د خپل پلارنیکه پر خویونو پسوللی و، چې په نسل په نسل یې د خلکو په هدایت او د الهي معارفو په زده کړه کې شپې ورځې سبا کړي دي. د امام خميني پلار مرحوم آیت الله سید مصطفی موسوی خمیني د آیت الله العظمی میرزای شیرازي هم پېری او هم عصره و او روسته تردې، چې په نجف اشرف کې یې اسلامي علوم او معارف زده کړي وو او د اجتهاد درجې ته رسېدلی و؛ نو ایران ته راستون او د خلکو په ښوونه، روزنه او ددیني چارو بوخت شو. حال داچې امام خمیني لا پینځه میاشتنی ماشوم و، چې د وخت ظالم حکومت د اراک او خمین پر لار شهید کړ. د شهید خپلوانو د قصاص د الهي حکم د پلي کولو په موخه تهران ته راغلل او ټینګار یې وکړ، چې وژونکی دې قصاص شي. امام خميني له هماغه ماشومتوبه د یتیمۍ له کړاوونو او د شهادت له مفهوم سره اشنا و. امام خميني په ماشومتوب کې د خپلې مؤمنې مور؛ بانو هاجر تر پالنې لاندې و، چې په خپله هم د تقوا او علم له کورنۍ او د مرحوم آیت الله خوانساري له کورنۍ وه او همداراز په ماشومتوب کې له خپلې ترور (عمه) صاحبه خانم سره هم و، چې په خپله مېړنۍ او حقپلټونکې مېرمن وه؛ خو په پینځلس کلنۍ ددې دوو عزیزانو له نعمتونو هم بې برخې شو.

## قم ته هجرت، د تکمیلي زده کړو تحصیل او د اسلامي علومو ښوونه

لږ روسته تردې، چې آیت الله العظمی حاج شیخ عبدالکریم حایري یزدي ـ رحمه الله علیه ـ قم ته ولاړ (د ۱۳۰۰ هجري شمسي نوروز، چې د ۱۳٤۰ هجري قمري د رجب المرجب میاشت سره سمون خوري) امام خميني هم د قم دیني مدرسې ته ولاړ او په چټکۍ یې د قم د دیني مدرسې له استادانو خپلې تکمیلي زده کړې وکړې.

د آیت الله العظمی حایري یزدي تر وفات روسته د امام خمیني او نورو مجتهدینو هلې ځلې پایلې ته ورسېدې او آیت الله العظمی (رض) د علمیه حوزې د زعیم په نامه قم ته روان شو. دا مهال امام خمیني له استادانو او په فقه، اصول، فلسفه، عرفان او اخلاق کې د نظر خاوند مجتهد شمېرل کېده. امام خمیني په قم کې په فیضیه، مسجد اعظم، مسجد محمدیه، مدرسه حاج ملاصادق، مسجد سلماسی، . . . د فقه، اصول، فلسفه، عرفان او اخلاق د تدریس لپاره کلونه کلونه ملا تړلې وه او د نجف په دیني مدرسه کې یې هم څوارلس کاله په شیخ اعظم انصاري (ره) په جومات کې د فقه او اسلامي معارفو په تدریس بوخت و او په نجف کې وو، چې د لومړي ځل لپاره یې د ولایت فقیه په زده کړو کې د اسلامي حکومت نظري اصول تدریس کړل.

## امام خمیني (ره)

## د مبارزې او پاڅون په مورچل کې

د امام خمیني د مبارزې او د خدای په لار کې د جهاد جرړه په اعتقادي لید، روزنه، کورني چاپېریال او د ژوند سیاسي او ټولنیزو شرایطو کې وه. مبارزې یې له ځوانۍ پیل او د مبارزو تکامل یې د روحي او علمي ابعادو د تکامل له موازاتو سره یو خوا او د ایران او اسلامي ټولنو سیاسي او ټولنیز حالاتو بلخوا په بېلابېلو بڼو کې یې دوام موندلې ده او پر ۱۳۴۰ او ۱۳۴۱ کال ایالتي او ولایتي یو فرصت رامنځ ته کړ تر څو دی د پاڅون په مشرۍ او روحانیت کې خپله ونډه ولوبوي او په دې ترتیب د۱۳۴۲ د خرداد پر پینځلسمه د ایران د ولس او روحانیت سراسري قیام له دوو سترو ځانګړنو؛ یعنې د امام خمیني واحده رهبري او د انګېزو اسلامي توب او د پاڅون شعارونه او موخې د ایران د ولس د مبارزې لپاره یو نوی څېرکی او فصل شو، چې بیا په نړۍ کې د اسلامي انقلاب په نامه و پېژندل او معرفي شو. امام خمیني د لومړۍ نړیوالې جګړې په اړه، چې هغه مهال دولس کلن ځوان و، خپل خاطرات داسې وایي: زما دواړه نړیوالې جګړې یادېږي. . . . . زه کوچنی وم؛ خو ښوونځي ته تلم او د شوروي سرتېري مې د خمین په مرکز کې ولیدل؛ هغوی مې هلته ولیدل او له هغه ځای نه یې

وشړلو. امام خميني په بل ځای د ځينو خوانينو او ظالمو اشرارو نومونه اخلي، چې د حکومت په ملاتړ به يې د خلکو مالونه او ناموسونه لوټ کول، وايي: زه له ماشومتوبه په جګړه کې وم. . . . . پر موږ به رجبعليانو يرغلونه کول او په خپلو مو ټوپکونه درلودل او دا مهال زه نوی بالغ شوی وم؛ نو هغه مهال به زه سنګرونو ته تلم. پر ۱۲۹۹ شمسي د اسفند پر دريمه د رضاخان کودتا، چې د پخو تاريخو اسنادو په شتون کې د انګرېزانو لخوا سازماندهي شوې او ملاتړې يې کېده که څه د قاجاريانو سلطنت ته يې د پای ټکی کېښود او تر څه بريده يې ملکو ک الطوايفي او د خوانينو او اشرارو حکومتونه له منځه يووړل؛ خو په بدل کې يې داسې ديکتاتوري رامنځ ته کړه، چې تر سيوري لاندې زر کورنۍ د ايران د مظلوم ملت پر برخليک واکمن شول او د پهلوي ځوځات په يوازې ځان د د ټولو مخينه لرونکيو اشرارو او خوانينو دنده پر غاړه واخسته.

په داسې شرايطو کې د ايران علماء او روحانيت، چې مشروطيت تر خوځښت روسته د وخت د دولتونو، انګليسي لاسپوځيو لخوا په تنګسه کې وو او بلخوا د د مصنوعي روښانفکرانو او پر لويديځ ځان بايلونکيو دښمني له بلخوا وه؛ نو له اسلامه د دفاع او د خپل موجوديت د ساتنې لپاره يې يون پيل کړ.

آيه الله العظمی حاج شيخ عبدالکريم حايری د قم د وخت د علماوو په بلنه له اراک څخه دې ښار ته هجرت وکړ او لږ روسته تردې، چې امام خميني په خپل ځلانده استعداد په خمين او اراک د خپلې ديني مدرسې مقدماتي زده کړې پای ته رسولې وې؛ نو قم ته يې هجرت وکړ او عملا يې د قم د نوي ديني مدرسې په پياوړي کېدو فعاله ونډه واخسته او ډېر وخت لا نه و تېر شوی، چې آنحضرت ددې مدرسې د عرفان، فلسفې، فقهې او اصولو ځلانده څېره و پېژندل شوه.

د آيت الله العظمی حايري (د ۱۳۱۵ ه. ش د دلوې لسم) تر وفات روسته د قم ديني مدرسه ړنګېدو او انحلال وګواښله؛ ژمن علماء د چارې په لټه کې شول او د اتو کالو لپاره د قم د ديني مدرسې پالندويي ښاغليو هر يو سيد محمد حجت، سيد صدر الدين صدر و سيد محمد تقی خوانساری -رضوان الله عليهم ـ وکړه او په دې واټن کې او په تېره بيا د رضاخان تر سقوط روسته د عظمی مرجعيت د پلي کېدو لپاره شرايط چمتو شو. آيه الله العظمی بروجردی ستر علمي شخصيت و، چې کولای يې شول، چې د مرحوم حايري لپاره مناسب ځايناستی شي او د ديني مدرسې خوندي ساتونکی شي او دا وړانديز د آيت الله حايري د شاګردانو او امام خميني له خوا چټک تعقيب شو. امام خميني، چې په ځير د

ټولنې سیاسي شرایط او د دیني مدرسو وضعیت تر څارنې لاندې نیولی و او خپل معلومات یې د معاصرو تاریخي کتابونو، د وخت مجلو او ورځپاڼو په مطالعه، تهران ته په تګ راتګ او له آیت الله مدرس سره په کتو یې پوره کول او پوه شوی و، چې له دې خوارونکیو شرایطو نه چې د مشروطیت تر ماتې او په تېره بیا د رضا خان له واکمنۍ روسته رامنځ ته شوي، د خلاصون یوازېنۍ لار داده دیني حوزې راویښې شي او تردې مهم چار هم د دیني مدرسو خوندي ساتنه او پاتېینه ده او همدارزا له علماوو سره د خلکو د معنوي اړیکې ټینګول دي. امام خمیني د خپلو ارزښتمنو موخو د تعقیب لپاره پر ۱۳۲۸ کال د آیـه اللـه مـرتضـی حایـری په مرسته یې د دیني مدرسې د بنسټ د اصلاح طرح آیت الله بروجردي ته وړاندې کړه، چې دا طرح د امام د شاګردانو او روښان ضمیره دیني زده کړیالانو لخوا ومنل شوه او په ورین تندي یې ترې استقبال وکړ.

خو رژیم په خپلو محاسباتو کې تېروتی و. د ایالتي او ولایتي ټولنو لایحه، چې له امله د مسلمان توب، پر قرآن کریم قسم او نارینه توب شرط نوماندانو ته بدل شوی و د ۱۳۴۱ ه د میزان پر ۱٦ د امیر اسدالله علم کابینې تصویب کړ. د ښځمنو د ټاکنو آزادي د نورو پټو موخو لپاره یو سرپوښ و. د دوو لومړیو شرطونو حذفول دقیقا د بهایي عناصرو د حضور د قانوني کولو لپاره تر سره شوي وو او د ایران له شاه نه د امریکا شرط دا و، چې له اسرائیل نه ملاتړ کوي او خپلې اړیکې به ورسره زیاتوي او د ایران په درې ګونو څواکونو کې د بهائیت د ښکېلاګري مسلک د لارویانو نفوذ دا شرط پلي کاوه او سره له دې، چې دا لایحه تصویب شوه امام خمیني د قم او تهران له نورو علماوو سره په سلا مشوره په پراخ بنسټه نیوکو پیل وکړ.

په دې وخت کې د شاه د رژیم د واقعي موخو د روښانولو او د علماوو او دیني مدرسو د خطیر رسالت د بیانولو په برخه کې د امام خمیني ونډه خورا ګټوره او چارسازه وه. شاه او اسدالله علم ته د علماوو اعتراضي لیکونو او تلګرافونو د ټولو خلکو د ملاتړ یوه پیاوړې څپه رامنځ ته کړه. شاه او اسدالله علم ته د امام خمیني د تلګرافونو لحن خوار توند او هشدار ورکوونکی و او په یو له دې تلګرافونو کې راغلي وو: زه یو ځل بیا تاسې ته نصیحت کوم، چې د خدای لاروۍ او اساسي قانون ته غاړه کېږدئ او له قرآن، علماوو او د مسلمانانو له مشرانو د سرغړونې له وخیمو او خطرناکو عواقبو وډار شئ او په لوی لاس او بې له کوم دلیله هېواد په خطر کې مه اچوئ؛ ګنې د اسلام علماء به مو په اړه د خپلې عقیدې له څرګندولو ډډه و نه کړي.

او په دې ترتیب د ولایتي او ایالتي ټولنو تجربه د ایران ولس ته هغه اړخه بریالۍکامیابه تجربه وه، چې په ترڅ کې یې د هغه شخصیت ځانګړنې وپېژندې، چې له هر اړخه د اسلامي امت د مشرۍ لپاره وړ و.

سره له دې چې شاه د ټولنو په پېښه کې ماتې خوړلې وه؛ خو د امریکا په پام کې د اصلاحاتو د ترسره کولو لپاره د امریکا فشارونو دوام ومومند. شاه د ۱۳۴۱ هجري شمسي په دیماه کې د اصلاحاتو شپږ ګوني اصول وویل او د رفراندوم غوښتونکی شو. امام خمیني یو ځل بیا د قم مراجع او علماء ناستې او د چارې پیدا کولو ته راوبلل.

د امام خمیني په وړاندیز د ۱۳۴۲ کال نوروز د شاه د رژیم د اقداماتو د نیوکې په خاطر تحریم شو. د امام خمیني په اعلامیه کې د شاه سپین انقلاب د د شاه په تور انقلاب تعبیر شوی و او داچې شاه له امریکا او اسرائیل سره همغږی دی؛ نو له دې چارو یې پرده اوچته کړې وه. بلخوا د ایران شاه د واشنګټن مقاماتو ته ډاډ ورکړی و، چې د ایران ولس د امریکا په پام کې د اصلاحاتو سر ته رسول ته بشپړه چمتوتیا لري او پردې اصلاحاتو یې د سپین انقلاب نوم ایښی و؛ خو د علماوو مخالفت ورته خورا ګران پرېووت.

امام خمیني د خلکو په ټولنو په ډاګه شاه د جنایتونو اصلي لامل او د اسرائیلو هم ژمنی معرفي کاوه او ولس یې پاڅون ته راباله. امام خمیني د ۱۳۴۲ د حمل پر دولسمه د شاه د رژیم پر وړاندې د قم، نجف او نورو اسلامي هېوادونو پر چوپتیا نیوکه وکړه، و یې ویل: نن مو چوپتیا له جبار واکمن سره همغږي ده او یوه ورځ روسته (د ۱۳۴۲ کال د حمل پر دیارلسمه) د "شاه دوستي؛ یعنې غارتګري=له شاه سره مینه؛ یعنې لوټماري" په نامه خپله مشهور بیانیه خپره کړه.

۱۳۴۲ کال د عید نوروز د مراسمو په تحریم پیل او د فیضیه مدرسې د مظلومینو په وینه سور شو. شاه د امریکا په پام کې پر اصلاحاتو ټینګار کاوه او امام خمیني هم د خلکو پر آګاه کولو او د امریکا د لاسوهنو د شاه د جنایتونو پر وړاندې ولس پاڅون ته رابلل. د ۱۳۴۲ کال د حمل پر څوارلسم له نجف نه آیت الله العظمی حکیم په یوه تلګراف کې د ایران له ټولو علماوو وغوښتل، چې په ډله ایېزه توګه نجف ته هجرت وکړئ. دا وړاندیز د علماوو او دیني مدرسو د خوندي ساتنې لپاره شوی و.

امام خمیني پر دې ګواښونو چورت خراب نه کړ، د آیت الله العظمی حکیم د تلګراف جواب یې ولېږه او پکې یې ټینګار کړی و، چې په ډله ایېزه توګه هجرت کول او د قم د علمي حوزې خالي ساتل په مصلحت نه دي.

## د جوزا د پینځلسم پاڅون

د ۱۳۴۲ کال محرم، چې له خرداد سره يې سمون خوړ، امام خمیني له دې فرصته خورا ګټنه وکړه او خلک يې په مستبد شاه پسې پاڅون ته راوهڅول.
امام خمیني ۱۳۸۳ هجري قمري (د ۱۳۴۳ شمسي د خرداد پر دريالسمه) خپل تاريخ وينا وکړه، چې د خرداد د پینځلسم پاڅون يې پيل کړ.
په همدې وينا کې وو، چې امام خمیني په خپل لوړ غږ شاه ته وويل: ښاغليه زه درته نصيحت کوم. ښاغيله شاه! جناب شاه! زه درته نصيحت کوم، له دې چارو دې لاس واخله، دوی دې تېرباسي. خوښ نه یم، چې که يوه ورځ ته ولاړ شې؛ نو ټول ولس شکرونه وکړي. . . . . که څه درته وايي؛ نو لږ فکر پرې کوه. . . . زما نصيحت واوره. . . . زموږ د شاه او اسرائيلو تر منځ څه دي، چې د امنيت شورا وايي، چې د اسرائيل په اړه خبرې مه کوئ. . . . . مګر شاه اسرائيلي دی؟
شاه د پاڅون د ځپلو حکم وکړ. د خرداد پر څوارلسم لومړی د امام خمیني ډېری ياران ونيول شول او د خرداد د پینځلسم سهار وختي له مرکزه سلونه کماندو راغلل او د امام خمیني کور يې کلابنده کړ او حال داچې امام خمیني په لمانځه بوخت و، ونيول شول او تهران ته يووړل شو او د هماغې ورځ پر مازيګر يې د قصر زندان ته منتقل کړ. د خرداد د پينځلسم سهار وختي د اسلامي انقلاب د مشر د نيول کېدو خبر تهران، مشهد، شيراز او نورو ښارونو ته ورسېد، چې د قم په څېر حالات پکې رامنځ ته شول. امام خمیني د قصر په زندان کې تر ۱۹ ورځو بند روسته د عشرت آباد نظامي هدېې ته يووړل شو.
د ۱۳۴۳ د حمل پر اتلسم په ماښام کې امام خمیني له پخوانۍ اطلانۍ ته پرته ازاد او قم ته يووړل شو او خلک هم چې خبر شول؛ نو ټول په جامو نه ځايېدل او په فيضيه او ښار کې څو ورځې جشنونه و لمانځل شول. پر ۱۳۴۳ کال د خرداد د پاڅون لومړي سالګرد د امام خمیني، نورو مراجعو او ديني مدرسو په ګډو او بېلابېلو بيانيو ولمانځل شوه او د عمومي وير ورځ په نامه معرفي شوه.
امام خمیني په همدې ورځ (د ۱۳۴۳ د آبان پر څلورم) يوه انقلابي بيانيه صادره کړه، پکې يې ليکلي وو: نړۍ بايد پوه شي، چې د ايران ولس او نور مسلمانان، چې ستونزې لري، د پرديو

لخوا دي، د امریکا لخوا دي، اسلامي ولسونه عموما له پردیو او خصوصا له امریکا کرکجن دي. . . . امریکا ده، چې له اسراییلو او پلویانو یې ملاتړ کوي. امریکا ده، چې اسرائیلو ته یې ځواک ورکړی دی او مسلمان عرب یې کډن کړي دي. د کاپیتالاسیون د لایحې د تصویب پر خلاف د امام خمنیي افشا گریانو د ۱۳۴۳ په آبان په میاشت کې د ایران ولس یې یو ځل بیا پاڅوني کړ.

د ۱۳۴۳ د آبان د میاشتې د دیارلسم پر سهاد یو ځل بیا له تهران راغلیو کماندو گانو په قم کې د امام خمیني کور کلابند کړ. حیرانوونکې خو داده، چې دا ځل هم امام خمیني نیول کېده؛ نو د پخوا په څېر پر لمانځه و. امام خمیني ونیول شو او له امنیني ځواکونو سره نېغ په نېغه د تهران د مهرآباد نړیوال هوایي ډگر ته یووړل او هلته یې له پخوا په یوه چمتو شوې الوتکه کې د پوځي چارواکیو تر نېغې څارنې لاندې الوتکه آنکارا ته والوته. د هماغې ورځ پر مازیگر ساواک (پر هغه مهال د ایران استخباراتي شبکه) په ورځپاڼو کې د هېواد د امنیت پر خلاف د پاڅون په خاطر د امام خمیني د تبعید خبر خپور کړ.

په ترکیه کې د امام خمیني اقامت یوولس میاشتې دوام وموند او په دې مونده کې شاه د مقاومت ټول پاتې شوني او آثار له منځه یووړل او د امام خمیني په نه شتون کې یې په چټکه د امریکا په پام کې په اصلاحاتو لاس پورې کړ. په ترکیه کې د امام خمیني اجباري اوسېدل ورته فرصت ورکړ، چې د تحریو الوسیله په نام د سترگه کتاب په لیکنه لاس پورې کړي.

## له ترکیې نه عراق ته د امام خمیني تبعید

د ۱۳۴۳ کال د میزان پر دیارلسم تاریخ امام له خپل زوی؛ حاج آقا مصطفی سره له ترکیې نه عراق ته تبعید شول. امام خمیني بغداد ته تر رسېدو روسته د سپین لمنو امامانو د قبرونو د زیارت په موخه کاظمین، سامرا او کربلا ته ولاړ او یوه ونۍ روسته خپلې اصلي ځای؛ یعنې نجف ته ولاړ. په نجف کې د امام خمیني ۱۳ کاله اوسېدل په داسې شرایطو پیل شول، چې که څه په ظاهره د ایران او ترکیې هومره تر فشارونو او دباوونو لاندې نه و؛ خو د دښمن لخوا نه؛ بلکې د مصنوعي ملایانو ورته پېغورونه دومره وو، چې امام له خپلې پراخې سینې سره سره له دې کړونکیو پېغورونو سرټکولی دی؛ خو دې یو کړاوو او ستونزو هم و نه شو کولای، چې امام له هغې لارې ستون کړي، چې آگاهانه یې ټاکلې وه. امام خمیني د مغرضو وگړیو له مخالفتونو او پېغورونو سره د ۱۳۴۳ کال د آبان په میاشت کې د شیخ انصاري (ره)په جومات کې د خارج فقه تدریس پیل کړ او دا تدریس یې له نجفه تر پاریسه تر هجرته دوام وموند.

امام خمیني، چې نجف ته ورسېد؛ نو د لیکونو او پیغامونو په لېږلو سره یې له مبارزینو سره خپله اړیکه ټینگه وساتله او هغوی یې په هر مناسبت کې د پینځلسم د خرداد د پاڅون موخو تعقیبولو ته رابلل. امام خمیني د هجرت او فشارونو له ستونزوو سره سره له خپلې مبارزې لاس وانه خست او په خپلو ویناوو، پیغامونو او لیکونو یې د مبارزینو زړه ژوند ساته.

د ۱۳۴۷ کال د میزان پر ۱۹ امام خمیني د فلسطین د الفتح سازمان له استازي سره په کتنه کې د اسلامي نړۍ او د فلسطین د ولس د جهاد په اړه خپلې ځرگندونې ځرگندې کړې او په همدې کتنه کې یې فتوا ورکړه، چې د شرعي وجوهو د زکات یوه برخه باید د فلسطین مجاهدینو ته ورکړه شي.

پر ۱۳۴۸ د د عراق او ایران د اوبو د پولې پر سر د شاه د رژیم او د عراق د بعث گوندشخړه رااوچته شوه او د عراق رژیم دېری ایرانیان په ناوړه وضع له ایرانه بهر کړل او د بعث گوند خورا کوښښونه وکړل له د ایران له رژیم سره د امام خمیني له دښمنۍ گټنه وکړي.

څلور کاله تدریس، هلو ځلو او د امام خمیني روښانوونکیو ویناو تر څه بریده د نجف د دیني مدرسې چاپېریال او فضا کې بدلون راوستی و. او اوس پر ۱۳۴۸ کال پر ایران سربېره

په عراق، لبنان او نورو اسلامي هېوادونو کې د امام خميني خوځښت خورا مينوال پيدا کړي او د امام خميني يون او خوځښت يې خپله بېلګه کړې وه.

## امـام خمينـی او د مبارزې استمـرار ( ۱۳۵۰ ـ ۱۳۵٦)

د ۱۳۵۰ پر دوه نيمه کې د عراق د رژيم او د شاه اختلافات ډېر شول، چې له امله يې خورا ايرانيان له عراقه و ايستل شول. امام خميني د عراق جمهور رئيس ته په يوه تلګراف کې د هغه د رژيم دا چار په سخته وغانده. او کوم شرايط، چې مخې ته راغلي وو؛ نو امام هوډ وکړ، چې له عراقه ووځي؛ خو د عراق چارواکيو د امام خميني د هجرت له عواقبو په وېره يې ورته د وتو اجازه ور نه کړه. پر ۱۳۵٤ کال د خرداد د پينځلسم پاڅون د لمانځنې پر مهال د قم فيضيه مدرسه يو ځل د ديني زده کړيالانو د پاڅون نندارتون و. د "درود بر خميني" او "د پهلوي پر لړۍ مرگ" غږونو دوه ورځې دوام وموند.
شاه د خپلو ضد اسلامي سياستونو په لاروۍ د ۱۳۵٤ کال د دلوې په مياشت کې د پېغمبر اکرم د هجرت تاريخ پر ځای د هخامنشي سلطنت د لړۍ د تاريخ مبداء د هېواد رسمي تاريخ وټاکه. امام خميني هم په يو سخت غبرګون کې فتوا ورکړه، چې له شاهنشاهي تاريخه ګټنه حرامه ده.

## پر ۱۳۵٦ کال د خلکو پاڅون او د اسلامي انقلاب څوکې ته رسېدل

امام خمیني، چې په ځیر د نړۍ او ایران بدلونونه تر څارنې لاندې نیولي وو؛ نو له لاس ته راغلي فرصته یې خورا ګټنه وکړه او د ۱۳۵٦ د مرداد په میاشت کې یې په یوه پیغام کې اعلان کړل:اوس چې کوم حالات دي او داچې په کورنیو او بهرنیو رسنیو کې، چې د رژیم جنایتونه چاپ شوي دي؛ نو یوه فرصت دی، چې علمي، فرهنګي او هېواد پاله وګړي او په هېواد دننه او له هېواده بهر ټولنې دې له دې فرصته ګټنه وکړي او پاڅون دې وکړي. . س
د ۱۳۵٦ د آبان په میاشت کې د آیه الله حاج آقا مصطفی خمینی شهادت او هغه پرتمین مراسم، چې په ایران کې ورته ونیول شول، د ایران د مذهبي ټولنې او دیني مدرسولپاره د پاڅون پیل و. امام خمیني هغه مهال دا پېښې د پټو الهي پېرزوګانو په نامه یادولې او د شاه رژیم هم په اطلاعات ورځپاڼه کې له سپکاوي د ډکې مقالې په خپرولو له امامه غچ واخست او پردې مقالې نیوکه د ۱۳۵٦ کال د دی پر نولسمه د دیني زده کړیالانو د پاڅون لامل شو، چې پکې ځمکه د ډېری دیني زده کړیالانو پر وینه سره شوه او شاه د ډله ایېزو وژنو له لارې هم و نه شو کولای، چې بل شوی اور مړ کړي.

## له عراق نه پاریس ته د امام خمیني هجرت

په نیویارک کې د ایران او عراق د بهرنیو چارو د وزیرانو د کتنې پایله دا شوه، چې امام خمیني دې له عراق بهر کړای شي او د ۱۳۵۷ د میزان پر دویم په نجف کې د امام خمیني کور بعثي ځواکونو کلابند کړ او ددې خبر خپرېدو په ایران، عراق او نورو هېوادونو کې د خلکو غوسه او غبرګونونه راوپارول.
د میزان پر دولسمه امام خمیني د کویت پر لور له نجفه ووت. د کویت دولت د ایران د شاه په اشاره د امام خمیني له ورننووتو مخنیوی وکړ مخکې هوډ و، چې امام لبنان یا سوریه ته هجرت وکړي؛ خو له خپل زوی( حجه الاسلام حاج سید احمد خمینی ) سره تر مشورې روسته یې هوډ وکړ، چې پاریس ته هجرت وکړي او د میزان پر څوارلسم پاریس ته ننووت. او دوه ورځې روسته د پاریس په شاوخوا کې په نوفل لوشاتو کې د یو ایراني په کور کې مېشت شو. د الیزه مامورینو امام خمیني ته د فرانسې د جمهور رئیس پیغام راووړ، چې هېڅ

ډول سياسي فعاليت به نه کوي. امام خميني هم توند غبرګون کې ورته وويل، چې دا محدوديتونه د دموکراسۍ پر خلاف دي او که مجبوره شي، چې له ميدان هوايي بل ميدان هوايي او له دې هېواده بل هېواد ته سفر وکړي؛ خو بيا به له خپلو موخو لاس وا نه خلم.
امام خميني د ۱۳۵۷ کال د دی په مياشت کې د انقلاب شورا جوړه کړه. شاه هم د سلطنت د شورا تر جوړولو او د بختيار کابينې ته د اعتماد د رای تر اخستو روسته له هېواده وتښتېد. دا خبر په تهران او تر هغه روسته په ټول کې ايران کې خپور شو او خلکو په جشنونو او لمانځنو پيل وکړ.

## تر څوارلس کاله تبعيد روسته هېواد ته د امام خميني راستنېدل

د ۱۳۵۷ کال د دلوې په مياشت کې هېواد ته د امام خميني د راستنېدو خبر خپور شو. هر چا به چې دا خبر اورېده؛ نو له خوشحالۍ به په جامو کې نه ځايېده؛ خو ياران او خلک وارخطا وو؛ ځکه چې لا تر اوسه د شاه لاسپوڅي دولت او پوڅي حکومت و؛ خو امام خميني خپل هوډ کړی و او د ايران ولس ته په پيغام کې يې ويلي، چې په دې برخليک سازو او خطيرو ورځو کې غواړي، چې د خپل ولس تر څنګ ووسي. د بختيار دولت له جنرال هايزر سره په هماهنګۍ د هېواد په هوايي ډګرونو کې بهرنۍ الوتنې بندې کړې.
او د بختيار دولت تر څو ورځو زيات و نه شو کولای، چې دا بنديز وضع کړي او د خلکو غوښتې ته تسليم شو، چې بالاخره د ۱۳۵۷ کال د دلوې پر ۱۲ امام خميني تر ۱٤ کاله تبعيد روسته خپل هېواد ته راستون شو. د ايران د ولس بې سارى او ستر استقبال غير قابل انکار او نانتې و، چې لويديځې رسنۍ يې هم پر اعتراف او منښته مجبور کړ او د استقبال کوونکيو شمېر يې له ٤-٦ ميليونو پورې اعلان کړ.

# د امام خمیني رحلت؛

## د یار وصال او د یارانو فراق

امام خمیني خپل ارامونونه، موخې او هر هغه څه یې چې باید ویلي و ای، و یې ویل او په عمل کې یې هم خپله ټوله هستي موخو ته د رسېدو لپاره کارولې وه اوس د ۱۳٦۸ کال د خرداد په میاشت کې ځان د هغه عزیز ملاقات ته چمتو کوي، چې خپل ټول عمر یې د هغه د رضا د لاس ته راوړنې لپاره تېر کړی و. د ۱۳٦۸ کال د خرداد د میاشتې د شنبې ورځ د وصال شېبه وه. هغه زړه ودرېد او له کاره وغورځېد، چې په میلیونو زړونه یې د خدای په رڼا او معنویت ژوند کړي وو. په رښتیا چې د ایران ولس پر امام خمیني مین وو او د تلین په مناسبت یې څومره ښه شعار ورته ټاکلی و، چې: له امام خمیني سره له ښېګڼو سره مینه ده.

د ۱۳٦۸ پر څوارلسمه ورځ د رهبر د خبرګانو مجلس غونډه وکړه او د آیت الله خامنه ای په واسطه د امام خمیني د وصیت نامې تر ویلو روسته، چې دوه نیم ساعته یې دوام وموند د امام خمیني او د انقلاب اسلامي د مشرتابه مقام د ټاکلو لپاره بحث او خبرې اترې پیل شوې او تر څو ساعتونو روسته حضرت ایت الله خامنه ای (د وخت جمهور رئیس)، چې په خپله د امام خمیني له شاګردانو او د اسلامي انقلاب له ځلانده څېرو او د پینځلسم د خرداد د پاڅون له ملګرو څخه و او د خوځښت په ټول بهیر کې په ټول ښکته او پورته شرایطو کې یې د انقلاب له نورو یارانو سره سرښندنې کړې وې؛ نو د ټول خبرګانو په خوښه او رایه دې خطیر رسالت ته وګومارل شو.

# افغانستان د امام خمیني (ره) په ویناوو کې

## د افغانستان له مسلمان ولسه په ملاتړ کې د امام خمیني (ره) څرګندونې:

* زه په هر ځای کې، چې یم د افغان، پاکستاني، هندي او عراقي ورونه او ښاغلي مې یادېږي او لکه څنګه چې مې دلته ورته پام و، په بل ځای کې که هم ووسم؛ نو له دوی سره به مې اړیکه او مینه ټینګه وي.[1]

*(( افغانستان هغه هېواد دی، چې زمونږ په ګاونډ کې دی او مسلمان هېواد دی، مونږ د افغانستان له ملت سره دوستانه اړیکې لرو او هغوی زمونږ ورونه دي. )) (۲)

* په هر هېواد کې ګورئ، چې د همدې امریکا او شوروي په لاسوهنه وژنې کېږي. اوس په افغانستان کې د شوروي په لاسوهنه وژنه کېږي او په نورو ځایونو کې هم. په لبنان کې هم د امریکا په لاسوهنه وژنه روانه ده. (۳)

* له شوروي غواړو، چې په افغانستان کې دې لاسوهنه نه کوي؛ لکه څنګه چې موږ لېواله یو، چې افغانستان، چې یو خپلواک اسلامي هېواد دی، چارې یې په اسلامي بڼه هوارې شي. هلته د شوروي لاسوهنه به پر ایران هم اغېزمنه وي او موږ له شوروي غواړو، چې په افغانستان کې دې لاسوهنه نه کوي. په افغانستان کې اوسني کمونستي دولت پر وګړیو خورا دباو راوړی دی او موږ خبر شوي یو، چې تقریبا له خلکو پنځوس زره تنه وژل شوي دي او اسلامي علماء یې بندیان کړي دي. که تره کی همداسې خپلې لیارې ته دوام ورکړي؛ نو برخلیک به یې د محمد رضا برخلیک وي. (٤)

*د افغانستان ملت دې له ایرانه عبرت واخلي او دا فاسد وګړي، چې خاورې یې دخلکو پر وینو ولړلې، پر خپل ځای کېنوي. د افغانستان پوځیان دې له ولس سره یو ځای شي. دا د اسلام حکم دی. د افغانستان اداري دې د ایران د ادارو په څېر له خلکو سره یو ځای شي.

---

[1] که څه هڅه شوې، چې د افغانستان په اړه د امام خمیني (ره) ټولې ویناوې په دې ټولګه کې راټولې شي او دا ټولګه په خپل وار بشپړه ټولګه وي؛ نو که د افغانستان په اړه یې رانه کومې ویناوې پاتې وي؛ نو هغو ویناوو ته به مې لاسرسی نه درلود.

پولیس دې له خلکو سره یو ځای شي او دا فاسد دې بهر کړي. موږ هیلمن یو، چې د مسلمینو په وحدت کلمه، د اسلام، فلسطین او افغانستان چارې او ستونزې هوارې شي. (۵)
* تاسې اوسني افغانستان ته وکځئ، څو میاشتې کېږي، چې د افغانستان ولس راګېر شوی دی، خدای دې انشاء الله وژغوري؛ ځکه مقابل لوری یې یو فاسق سړی دی، چې خپل ولس په ټانک او الوتکي په بمنونو ځپي. (٦)
* تقریبا ټول انقلابونه، چې رامنځ ته شوي د پوځیانو په واسطه رامنځ ته شوي؛ یو ګوند، چې له پوځیانو سره یې تړاو درلود، یو وګړی له پردیو ځنې، چې له بهرني هېوادونو یې ملاتړ کېږي.
*تاسې همدې کودتاه ته پام وکړئ، چې څو ورځې مخکې په افغانستان کې وشوه، یو وګړي، چې اعلان یې کړی، چې زه کمونست یم، د کمونستانو له مشرانو ځنې و، د شوروي د پوځیانو په مرسته یې دا کودتاه کړې ده؛ هغه معلومه نه ده، چې سر ته به یې ورسوي که نه. د افغانستان ولس هم راپاڅېدلی؛ خو کومې کودتاوې، چې په یو بل پسې هلته شوې، پوځي حکومتونه وو، چې د بهرنیو په واسطه شوي دي او نورې کودتاوې هم داسې وې. (۷)
* سرنېزه کولای شي، چې ځینې خلک وځپي؛ خو متسقربېدای نشي. اوس تاسې ګورئ، چې په افغانستان کې کودتا کېږي؛ خو هغه کودتاوې دي، چې یو ځواکمن د بل ځواکمن په واسطه راځي، بیا هغه له منځه ځي او بل زور ځواکی ځواک ته رسي او ولس په دې چارو خوښ نه دی او له دې چارو سره د ولس هېڅ تړاو نشته.
*اوس دا کومه ګډوډي، چې په افغانستان کې راپېښه شوې او هغه چې شوروي یې ملاتړ کوي او پخپله دا کودتا هم د شوروي کودتا ده؛ نه د هغه وګړي [ببرک کارمل] ددې وګړي تر ځواکمنېدو د مخه د شوروي ځواکونه افغانستان ته راننوتل او حکومت یې له منځه یووړ؛ نه داچې حکومت غوښتي وي، چې هغه راشي. د حکومت په شتون کې دوی راغلل او افغانستان یې ونیو او قبضه یې کړ او حکومت یې یې فاسد حکومت و؛ هغه فاسد حکومت یې له منځه یووړ او تر هغه فاسد حکومته یې بل ستر فاسد واکمن کړ او اوس افغانستان د هغوی په قبضه کې دی. پر خلاف، ولس او ټول هغه وګړي، چې متفکر دي او ټول هغه دولتونه، چې په شوروي پورې تړلي دي، دا چار یې وغانده او د شوروي سفیر تر هغه چاره څو ګړی روسته راغی، دلته و، چې زه ورسره وګورم.
هغه وویل: ما یو پیغام راوړی دی او خپل پیغام یې ووایه او همدا مطالب وو، چې بهرني وګړي راغلي دي او په افغانستان (مثلا) په ورانکاری بوخت وو او له ملت سره مخالف وو او

د افغانستان دولت له شوروي وغوښتل، چې راشي او دا کار وکړي او هغه (شوروي) هم په دې تکل کې دی، چې راشي، حال داچې راغلي وو او [حفيظ الله امين] يې له منځه وړی و.

ما ورته وويل: هغه بهرنيان څوک دي، چې تاسې يې وياست؟کوم بهرنيان راغلي دي؟ په حيرانتيا سره يې وويل: پاکستان؛ بيا ما ورته يوه کيسه وکړه، چې د چارو بنسټ پر هماغه کيسه و.

ورته مې وويل: که تاسې خيال کوئ، چې په سرنېزه به وکولای شئ، چې يو ولس خاضع کړئ او استقرار هم رامنځ ته شي؛ نو دا مو ستره تېروتنه ده. سرنېزه کولای شي، چې يو ولس وځپي، و يې وژني؛ خو مستقرېدای نشي. ولس که يو څه وغوښتل، تل نشو کولای، چې د يو ولس د لېوالتيا پرخلاف يو چار ترسره کړو او که رژيم له ولس سره دوه رژيمه وي، ولس مسلمان وي او حکومت کمونست؛ نو دا چار سر نه نيسي او تاسې هم داسې هيله و نه لرئ.

تاسې اوس د افغانستان په وضع پوه شئ داچې حکومت، اوس يې د امين حکومت را پرځولی دی، اوس يې په ټولوژنه لاس پورې کړی دی او د شوروي الوتکې او پينځه څلوېښت زريز سمبال لښکر پر ښارونو يرغل کړی او هر څه يې چې خوښه وي، کوي يې؛ البته هغوی [د افغانستان ولس] مقاومت لري او [مقاومت] کوي او بالاخره بری د ولس دی انشاء الله. (۸)

*((مونږ يو ځل بيا په ډاگه خپل پرېکنده ملاتړ د افغانستان له مظلوم ملته اعلانوو او د شوروي يرغلگران په کلکه غندو. مونږ مسلمانان يو او لويديځ او ختيځ راته مطرح نه دی. مونږ له مظلومه دفاع کوو او پر ظالم وردانگو او دا زمونږ يوه ديني دنده ده.)) (۹)

* موږ د افغانستان له مېړني او مسلمان ولسه بشپړ ملاتړ کوو؛ هغه ولس، چې د يرغلگرو پر وړاندې مبارزې ته راپاڅېدلی دی؛ نو پوه دې شي، چې خدای ورسره دی او څومره يې ليکې کوټلې کېږي او په پياوړي ايمان وجنگېږي، تر څو چې بريالي شي او پوه دې شي، چې بری رانږدې دی. (۱۰)

*زه يو ځل بيا د شرقي اشغالگرانو او لوټمارانو په واسطه د افغانستان اشغالول او نيول غندم او هيلمن يم، چې د افغانستان اصلي ولس حقيقي خپلواکۍ ته ورسي او ډېر ژر ددې په اصطلاح د کارگرې طبقې له پلويانو خلاصون و مومي. (۱۰)

*پر هغه ورځ، چې د شوروي سفير ما ته راغی، و يې ويل، چې د افغانستان دولت غوښتي، چې شوروي دې هتله پوځيان ولېږي، ورته مې وويل، چې دا ستره تېروتنه ده، چې شوروي

یې کوي؛ البته د شوروي دولت کولای شي، چې افغانستان قبضه کړي او و یې نیسي؛ خو نشي کولای، چې هلته پاتې شي او که تاسې خیال کړی وي، چې افغانستان به ونیسئ او آرام به یې کړئ؛ نو پوه شئ، چې دا مو باطل خیال دی. دا افغانستان ولس مسلمان دی او د افغانستان د حکومت پر وړاندې درېدلی دی.
* تاسې هم که ولاړ شئ او که بل کوم ځواک هم ورشي او هغه ځای ونیسي؛ خو نشي کولای، چې آرام یې کړي او بالاخره ماتې به وخورئ. (۱۱)
*یوه ورځ د شوروي سفیر ما ته راغی او راته یې وویل، چې د افغانستان رانه مرسته غوښتې او موږ غواړو افغانستان ته ورننوځو. ما ورته وویل: البته کولای شئ افغانستان ونیسئ؛ خو دوام نشئ راوړلای؛ تر څو چې ولس یو چار نه وي غوښتای؛ نو هیڅ کار نشو کړای. اوس پوه شوي؛ خو راګېر دي او لکه څنګه چې ما وویل هماغسې به کېږي. د افغانستان دولت غاصب دی او بهرنیانو سره یې هوکړه کړې ده او د ولس مخالف دی. (۱۲)
*ښه ده، چې له افغانستانه ښاغلی کارتر عبرت واخلي. د افغانستان دولت، چې له شوروي سره یې په یوه کاسه کې لاس دی او کمونستي او چپي ګوندونه له هغه (شوروي) سره موافق دي. ولس خو ورسره نه دی او نه به ورسره وي؛ هغوی له شوروي ماډرنې سلاګانې واخستې او د شوروي عسکر او صاحب منصبان یې د هغوی پر خپلو وسلو ووژل او اوس هم پردې چار بوخت دي او شوروي هم هره ورځ ماډرنې سلاګانې رالېږي، سرتېري رالېږي؛ خو تر اوسه یې و نشو کولای، چې د افغانستان مېړنی ولس خاضع کړي. (۱٤)
*(( دوی نه پوهېږي، چې شوروي سره له دې ټول ځواک او ماډرن جنګي وزلو چې لري یې، په افغانستان کې یې پوزه پر خاوره موږل شوې ده. )) (۱۵)
* که مسلمانان سره یووالی ومومي؛ نو نه به د "قدس" مسله راپېښېده او نه د افغانستان او نه به په نورو ځایونو کې مسلمانانو ته پېښې راپېښېدې. تر څو به مسلمان ولسونه په غفلت کې وي؟ ولې دا ولسونه ددې ابرقدرتونه پر وړاندې نه درېږي؟ (۱٦)
* د مسلمانانو ستونزه یوازې د قدس ستونزه نه ده؛ دا یوه له هغو ستونزو څخه ده، چې مسلمین یې لري.

مګر افغانستان د مسلمانانو له ستونزو څخه نه دی؟
مګر ترکیه د مسلمانانو له ستونزو څخه نه ده؟
مګر پاکستان د مسلمانانو له ستونزو څخه نه دی؟
مګر مصر د مسلمانانو له ستونزو څخه نه دی؟

مگر عراق د مسلمانانو له ستونزو څنې نه دی؟
موږ باید تحلیل او شننه وکړو، چې د ستونزو سرچینه چېرته ده او د هوارې لار یې کومه ده؟ ولې مسلمانان په هر ځای کې د خپلو حکومتونو او ابرقدرتونو تر فشار لاندې دي او ددې مسئلې د هواري لار څه ده، تر څو چې پر ټولو ستونزو د برلاسي لار ومومو او هم قدس او افغان او نور مسلمانان ازاد شي. (۱۸)
*(( مونږ غواړو د نړۍ یو میلیارد مسلمان وګړي سره سم متحد او یو موټی شي او که یو موټی شول؛ نو نه به د فلسطین ستونزه پاتې شي؛ نه د افغانستان ستونزه او نه نورې مسئلې. )) (۱۹)
*په دې وخت کې، چې سترو ځواکونو پر اسلامي هېوادونو یرغل کړی دی او د افغانستان په څېر د افغاني مسلمانانو ورونو بې رحمانه وژنه (چې نه غواړي بهرنیان یې په برخلیک کې ونډه ولري او یا امریکا، چې په هر فساد کې لاس لري) په داسې وخت کې، چې اسرائیل پر فلسطین او لبنان هر اړخیز یرغل کړی او د اسرائیلو پلازمینه یې بیت المقدس ته انتقال کړې او هر ورځ پر کډوالو مسلمانانو تېري کېږي؛ نو په دې وخت کې مسلمانان تر هر خته ډېر یووالي او وحدت ته اړین دي. (۲۰)
*تاسې افغانستان ته وګورئ، سره له دې چې افغانستان چپي ګوندونه لري، چې زور ځواکي هم دي او له ولس سره مخالف هم دي او ولس یې هم له حکومت سره مخالف دی او د هغه ستر ځواک ځواکونه هم هلته ورننوتي دي؛ خو په سیاسي ګوزار یې شوروي وواهه، چې ټولې دنیا ته یې پاتې راوست. د افغان ولس ځواکمنو چریکانو شوروي په داسې ډغره وواهه، چې سر هم له ځایه نشي پورته کولای. (۲۱)
*موږ په افغانستان کې د شوروي پوځي لاسوهنه ولیده (سره له دې، چې) د افغانستان غاصب حکومت او شوروي او څنې چپي ګوندونه سره یوځای دي؛ خو د افغانستان پتمن ځوانان یې په مخ کې ولاړ دي او ډېر وخت دی، چې شوروي ته یې سترې ستونزې راولاړې کړې دي؛ داسې چې باید ووایم، چې شوروي ته یې سیاسي ماتې ورکړې ده.
*د افغان پتمنو چریکانو ارزښت په دې کې دی، چې هغه بوت یې مات او دړې وړې کړ، چې ولسونو ته توږل شوی و، چې که شوروي ته څوک سپڼ هم وکړي؛ نو پوپناه به شي؛ هغوی (افغانانو) دا بوت مات کړ؛ دا څو میاشتې کېږي، چې هغوی له شوروي او خپل حکومت سره له دې ټولو ځواکونو او پوځي وزلو مخالفت کوي. افغان چریکانو هغه بوت مات کړ، چې ولسونو ته یې رامنځ ته کړی و. ستاسې دا عمل [په تهران کې د امریکا د

جاسوسی د ځالې ویجاړي ] دلته او د هغوی هغه عمل هلته، هغه ازرښت نه دی، چې څومره والی یې وسنجوو.
* پر دولتونو څه شوي دي؟ولې باید تر پایه د سترو ځواکونو تر فشار او دباو لاندې تسلیم وي؟ولې باید هغسې وکړي او مسلمانان پر ځای ناست وي؟ ولې باید ایران داسې کړي او مسلمانان چوپ ناست وي؟ ناست دي، چې یو یو یې له منځه یوسي، تر څو چې د بل وار راورسي. (۲۲)
* ای د نړۍ مسلمانانو او د هستۍ بېوزلیو! راپاڅئ او خپل برخلیکونه په خپلو لاسونو کې واخلئ، تر څو به د افغانستان او لبنان پر ورونو وېرونکي تېري زغمئ او غږ ته به یې ځواب نه ورکول کېږي. تر څو به د اسلام له دښمنانو سره د مقابلې پر ځای او د ځان د خلاصون پر ځای، له ګرمې وسلې الهي پوځي ځواکه غفلت کوئ او پر سیاسي او سازشي چارو به سترو ځواکونو سره وخت تېروئ او اسرائیل ته به د بې رحمه جنایتونو او تېولوژنو اجازه ورکوئ؟
* پر عزیز اسلام درود! د حق په لار کې پر مجاهدینو درود! د تاریخ په ترڅ کې د خدای په لار کې پر شهیدانو درود! د افغانستان، ایران، فلسطین او لبنان پر شهیدانو درود. د باطل پر خلاف په جګړه کې پر جنګیالیو سلام او سلام دې د خدای پر صالحو بندګانو وي. (۲۳)
* که مسلمانان او اسلامي دولتونه سره یو ځای شي او هغه وروروليٍ، چې خدای تعالی په قرآن کې ویلې، رامنځ ته کړي او و یې ساتي؛ نو نه به پر افغانستان یرغل وشي؛ نه به پر فلسطین یرغل وشي او نه به پر نورو هېوادونو. (۲٤)
*چې کله انقلاب د خلکو له منځه راپاڅي؛ نو ناشوني ده، چې په یوه ډله او یا حتی پر لښکر یې مات کړو. دېبلګې په توګه امریکا او یا بل ستر ځواک کولای شي، چې ایران ونیسي؛ خو نشي کولای، چې انقلاب مات کړي؛ لکه څنګه چې شوروي په افغانستان کې مخ په ماتېدو دی او ښکاري، چې پښېمانه شوی دی. (۲۵)
* که له افغانستانه خبر نه یاست، د افغانستان ډېر علماء او مخور وګړي دلته په ایران کې دي، له هغوی پوښتنه وکړئ، چې په افغانستان کې څه تېرېږي. ای مسلمانانو! د اسلام غږ واورئ. (۲٦)

*هغوی پوهېږي، چې په کومه لار باید یو هېواد ویجاړ او له منځه یوسي؛ هغوی پوهېږي، چې دا چار باید په خپله د حکومت له لارې، د دولت له لارې، د پارلمان له لارې او په خپله د همدوی له لارې تر سره کړي. هغوی پوهېږي، چې یو هېواد ته ورننووتل، له هغې وضعې سره، چې دا هېوادونه یې لري، دا نشي کېدای هغوی دا چار په افغانستان کې تجربه کړ. سره

له دې، چې په افغانستان کې يې دولت ورسره دی او ګوندونه او کېدای شي ډېرى ګوندونه ورسره وي؛ خو دا چې يوه ټولګه هلته ده؛ هغه ټولګه، چې مسلمانان دي او له سترو ځواکونو سره مخالف دي او د همدوی له امله هغوی هلته بريالي شوي نه دي او په هغه چار کې هره ورځ ماتې خوري، چې کول يې غوښتل. (۲۷)
* افغانستان ته پام وکړئ، حال داچې کمونستان او دولت يې ولس سره مخالف وو، همدا وګړي، چې د ملت او اسلام مال و؛ ټولو اسلامي طريقه در لوده؛ همدوی تر يوه کاله ډېر په مقاومت کې دي. هغه څه نه کېږي، چې ولس يې و نه غواړي.
*د افغانستان کډوال، چې اوس په ايران کې دي او خورا ستونزې هم لري، هغه هم هغه ويجاړی دي، چې دوی يې ترميمول غواړي؛ البته ولس ورسره په ډېرو چارو کې ډېره مرسته کوي؛ خو داسې نه ده، چې يوازې د ولس مرسته به کافي وي، دا څومره مرسته، چې ورسره شوې، دولت ددې چارو متکفل دی او ددې چارو مسوول دی او هره ورځ له سترو پېښو سره مخ دي. (۲۸)
*. . . . . . او همداسې هغه مېلمانه، چې لرو، افغانان دي، مسلمانان دي يا فرض کړئ، چې عراقيان دي يا يې بېچاره ګان له خپلو کورونو لرې کړي، مالونه يې ترې لوټ کړي او پخپله يې دلته رالېږلي دي. ښه! څه بايد ورسره وکړو؟ آيا بايد مېلمستيا يې و نشي؟ موږ مسلمانان يو او هغوی هم مسلمانان دي. موږ يې بايد مېلمستيا وکړو، خدمت يې وکړو او دا دولت دی، چې دا چارې پر مخ بيايي. (۲۹)
* ستر ځواکونه په خپلو ګټو پسې دي؛ په دې پسې نه دي، چې ځان ته ضرر ورسوي؛ يوازې په خپلو ګټو پسې دي؛ ټوله نړۍ دې په سيند لاهو شي؛ خو چې هغوی ته پکې ګټه وي؛ خو يو هېواد داسې ويني، چې دلته خپله ګټه نه لري؛ دوی (شورويان) له خپل هغه ټول ځواک سره په افغانستان کې پوه شول، چې ضرر يې کړی دی؛ ما هم پر هماغه لومړۍ ورځ، چې د شوروي سفير ما ته راغی او راته يې وويل: [د افغانستان دولت] له موږه غوښتي. ورته مې وويل: دا کار مه کوئ، چې ضرر به وکړئ او اوس هم پوه شوي، چې ضرر يې کړی دی. پوهېږئ يو هېواد، چې وضع يې داسې ده، نشو کولای، چې هجمه ورسره وکړو، دلته ګټه نشته؛ ټول تاوان دی. (۳۰)
*آيا سمه ده، چې شوروي د افغانستان مسلمانان تر سختو کړاوونو لاندې ونيسي او د افغانستان اسلامي هېواد ونيسي او تاسې چوپ کېنئ. (۳۱)

*تاسې پر داسې کال دې مبارک سفر (حج) ته ځئ، چې ستر ځواکونه په سیمه کې په فساد او لوټ بوخت دي.
* بلخوا شوروي په افغانستان کې په هر ځای کې یې، چې زور ورسي لاسوهنه کوي او د افغانستان مظلوم ولس ځپي او بحمدالله د افغانستان ولس هم ددې ستر ځواک پر وړاندې په مړانه ودرېدل او مقابله یې وکړه.
*ټولي ستونزې ددې لپاره راولاړوي، چې مسلمانان له هغې لارې کاره کړي، چې اسلام ورته ښوولې ده او تر اوسه لا یو د عیسویانو د ملایانو غونډې هم د شوروي لخوا د افغانستان نیول و نه غندل او چمتو نه شول، چې دا خبره په ټکیو ووایي، چې دا سم چار نه دی، چې روسانو افغانستان ونیوه او ووېرېدل او موږ تر اوسه خیال کاوه، چې مسیحي ملایان امریکایي دي؛ خو اوس معلوم شول، چې شوروي هم دي او ډېری مسلمان ملایان هم تر هغوی کم نه دي. (۳۲)
*موږ هیلمن یو، چې د سعودي دولت ددې له خدایه د بې خبرو ملایانو خبرو ته غوږ کېنږدي او لکه څنگه یې، چې ژمنه کړې ده، مسلمانان د حج په مراسمو له مشرکانو او کفارو سره د برائت مراسمو ته ازاد پرېږدي او په دې الهي عمل له هغوی؛ په تېره بیا له ایراني، فلسطیني، لبناني او افغاني زایرانو سره یو ځای شي، چې تېری پرې شوی؛ تر څو د ټولو مظلومانو گډ دښمن ټولو ته په یوه غږ وروښیي.
*. . . . . پر افغانستان د شوروي بې رحمه یرغل وشو هغه اسطوره ای ځواک او پوځ او خاین حکومت او غاصب گوند پر خپل ایمان او پر خدای پر ډاډ ډېري وړي کړ او داسې ویلای شو، چې شوروي له خپل یرغله خورا پښېمانه دی او لالهانده دی، چې څنگه له افغانستانه ووځي، چې نور هم بې پته نشي. (۳۳)
*د شوروي په لاس په افغانستان کې هر ورځ ناورین رامنځ ته کېږي؛ البته د افغانستان ولس یې هم مخې ته ولاړ دی، چې (شوروي) پر خپلو کړنو پښېمانه کړي. (۳٤)
*په افغانستان کې یې گوند له شوروي سره موافق و، پوځ یې له شوروي سره موافق و؛ هر څه یې موافق و؛ هغه ځواکمن چریکان وو، چې شوروي یې پر خوله وواهه او اوس یې هم وهي. (۳۵)
* هغوی (ستر ځواکونه) خپل تېري کوي؛ هغوی په لبنان او فلسطین کې زموږ ډلې ډلې ځوانان وژني او هغوی په افغانستان کې هم داسې تېري کوي او. . . . (۳٦)

* شوروي څه کاره دی، چې له هغه لرې ځایه راغلی او غواړي په افغانستان کې واکمني وکړي؟ ولې؟ځکه دوی د یوې ډلې له ناپوهی او د یوې ډلې له خیانته ګټه پورته کوي. (۳۷)

* تاسې پوهېږئ، چې نړۍ نن ځانګړې وضع موندلې ده او د عفوې بين المللی سازمان د یو لړ هېوادونه نومونه لیست کړي، چې د بشر حقوق یې نقض کړي دي، چې پکې د امریکا، فرانسې او شوروي نومونه نشته او تاسې پخپله ګورئ، چې شوروي په افغانستان کې او امریکا په لبنان کې څه څه کارونه کوي او پردې چارو یې د خلکو د چارو د سمونې نوم ایښی دی. (۳۸)

* هر یو مو په یوه نامه یو هېواد ته ورننوځئ. دېلګې په توګه روسیه په دې نامه افغانستان ته راننووته، چې غواړو هغه ځای اصلاح کړو او امریکا، انګلیس او فرانسه هم دخلکو د اصلاح لپاره لبنان ته ننوځي. (۳۹)

*بلخوا شوروي په دې نامه افغانستان نیولی، چې سوله پکې راوړي، او اوس څو کاله کېږي، پینځه کېږي، چې په افغانستان کې یې اور بل کړی دی. د امریکا هم، چې په نړۍ کې هر ټکي ته لاس ورسي، وایي، چې موږ سولې ته ځو؛ خو فساد رامنځ ته کوي؛ نه پوهېږم دا متل به مو اورېدلی وي: یو وړوکی ماشوم یو داسې سړي په غېږ کې نیولی و، چې خلک یې له څېرې ډارېدل او ماشوم هم د همدې سړي له وېرې ژړل او دې سړي ورته ویل، چې مه وېرېږه زه دلته یم، یو چا ورته وویل، چې ښاغلیه دا ماشوم له تا ډارېږي، ته یې له غېږې کوز کړه، په خپله به قرار شي.

اوس دا ستر ځواکونه افغانستان ته راغلي او وایي: مه ډارېږئ موږ دلته یو. په لبنان کې هم مه ډارېږئ مه دلته یو. دا خلک له تاسې ډارېږي، تاسې ولاړ شئ، خلک به پخپله چوپ او کرار شي.

* ځاني غوښتنو شوروي افغانستان ته راوړی او داسې چارې کوي. (٤۰)

* هغوی چې ملحد دي، د الحاد پلویان شوي او په هېڅ څه سم نه پوهېږي او هغوی چې ادعا کوي، چې موږ د ولس پلویان یو او ولس یو او د دوی هم چې څومره له لاسه کېږي، وژنه کوي، لوټ کوي او ولس له منځه وړي او اوس یې په افغانستان کې همداسې وکړل. (٤۱)

*شوروي هم خپل پوځي يرغل وکړ او کوي يې او ګوري، چې څه به کېږي؛ سره له دې، چې هلته (افغان) ولس شته، چې ورسره مقابله وکړي دوی بايد په خپل نظر کې بيا کتنه وکړي او په دې پوه شي، چې اوس پخواني وختونه نه دي او ولسونه غير دولتي دي. (٤٢)

* شوروي پوه شو، چې په افغانستان کې، سره له دې، چې د افغانستان هېواد د هغوی چې کار يې له شوروي سره دی او کمونستان پکې دي او هم هغوی چې مسلمانان دي داسې يې په شوروي مجال راتنګ کړی دی، چې اوس نه پوهېږي څنګه ځان له دې کړکېچه رابهر کړي. (٤٣)

* زه خواشينی يم، چې شوروي د افغانستان په باب زما پر خبرو عمل و نه کړ او په دې اسلامي هېواد يې يرغل وکړ. ډېر مې ويلي او اوس يې هم وايم، چې د افغانستان ولس پر خپل حال پرېږدئ. د افغانستان ولس به خپل برخليک په خپله ټاکي او خپله واقعي خپلواکي به تضمينوي او د کرملين ولايت او د امريکا قيموميت ته اړتيا نه لري او څرګنده ده، چې له خپل هېواده د بهرني پوځيانو تر وتو روسته د نورو واکمنۍ ته غاړه نه ږدي او د امريکا پښې به هم ورماتې کړي، چې د لاسوهنې يا يرغل په تکل کې وي. (٤٤)

* زموږ د برائت غږ؛ د افغانستان د مظلوم ملت غږ دی؛ د هغه ملتونو او دردمندانو غږ دی، چې د کفر او نفاق چړو يې زړونو څېرلي دي. (٤٥)

* استالين، چې په اصطلاح د خپل ګوند يوه روښانه څېره وه، تګ، راتګ تشريفات او اشرافيات يې مو وليدل. اوس تاسې غوليدلي، چې د رژيم په مينه کې يې ځانونه ځاروئ، د شوروي مظلوم خلک او نور اقمار يې لکه افغانستان يې په تېريو کې ژوندونه له لاسه ورکوي. . . .

*له افغانستانه بايد عبرت واخستل شي؛ سره له دې، چې غاصب دولت او چپي ګوندونه له شوروي سره وو او دي؛ تر اوسه يې و نه شول کولای، چې ولس سرکوب او پر ځای کېنوي. (٤٦)

## ګورباچوف ته د امام خميني (ره) د ليک يوه برخه

((. . . . . ښاغلی ګورباچوفه!اوس ددې مسئلو او سريزو تر ويلو روسته له تا غواړم، چې د اسلام په اړه جدي او سمه پلټنه وکړئ او دا ددې لپاره نه دي، چې اسلام او مسلمانان به تا ته

اړتیا لري؛ بلکې د هغو سترو او نړیوالو ارزښتونوله امله، چې اسلام یې لري او اسلام کړای شي، چې د ټولو ملتونو د هوساینې او ژغورنې لامل شي او د بشریت بنسټیزې ستونزې پرانځي. اسلام ته سمه او جدي پاملرنه کړای شي، چې د ټل لپاره تا د افغانستان او د نړۍ له نورو مسئلو وژغوري. مونږ د نړۍ مسلمانان د خپل هېواد د مسلمانانو په څېر ګڼو او ټل خپل ځان د هغوی په برخلیک کې شریک ګڼو. د شوروي په ځینو جمهوریتونو کې مو چې دیني مراسمو تر سره کولو ته اجازه ورکړه؛ نو و مو ښووله، چې نور داسې فکر نه کړئ، چې مذهب د ټولنې لپاره افیون دي. )) (۱۳٦۷/۱۰/۱٤)

## له امام خميني نه د افغانستان په اړه د مرحوم حاج احمد آقا خاطرات

* (( د افغانستان د خلکو د اسلامي انقلاب په ترڅ کې، د برخليک د ټاکلو په اړه يې، د ايران اسلامي جمهوريت تل په دې هڅه کې و، چې د افغانستان د خلکو اراده او غوښتنه دې پلي شي او ددې خبرې د جوتولو لپاره هغه وخت مې رايادېږي، چې د ايران او عراق د تحميلي جګړې په ترڅ کې د شوروي مشرانو د اسلامي انقلاب ستر مشرتابه حضرت امام خمنيي (ره) ته پيغام راواستاوه، چې که غواړئ؛ نو موږ مو د وسلې اړتيا پوره کولای شو؛ خو بايد د افغانستان په مسله کې راسره ګوزاره وکړئ؛ خو امام خميني (ره) ورته وويل: موږ وسله د اسلام د ساتلو لپاره غواړو؛ نه د پوپناه کولو لپاره يې. )) (٤٧)

## پاېليکونه

۱- پر ۵۰/۹/٦ په نجف اشرف کې د امام له ويناوو څخه.
۲-پر ۵۷/۱۰/۱۸ د لندن له ټايمز سره د امام خميني مرکه.
۳-پر ۵۸/۳/۲۱ د امام خميني له ويناوو څنې.
٤- پر ۵۸/۳/۲۲ د پخواني شوروي له سفير سره د امام خميني د کتو له ويناوو څنې.
۵-پر ۵۸/۵/۲۷ خبرگانو مجلس ته د امام خميني له ويناوو څنې.
٦-پر ۵۸/٦/۱۲ د مکتب وليعصر په غونډه کې د شهداوو د مېرمنو غونډې ته د امام خميني له ويناوو څنې.
۷- پر ۵۸/۱۰/۱۱ د آذربايجان مېرمنو ته د امام خميني (ره) له ويناوو څنې.
۸- پر ۵۸/۱۰/۱٤ د تهران پوهنتون استادانو ته د امام خميني (ره) له ويناوو څنې.
۹- پر ۵۸/۱۱/۱۵د حضرت محمد (ص) د ميلاد په غونډه کې د امام خميني (ره) له ويناوو څنې.
۱۰-پر ۵۹/۱/۱ د نوي کال د رانووتو پر مهال د امام خميني (ره) له ويناوو څنې.
۱۱-پر ۵۹/۱/۱۰ قضايي مسوولينو ته د امام خميني (ره) له ويناوو څنې.
۱۲-پر ۵۹/۲/۲۸ له حجة الاسلام نوري سره د کتنې پر مهال د امام خميني (ره) له ويناوو څنې.
۱۳-پر ۵۹/۳/۲ د پوهنتون استادانو ته د امام خميني (ره) له ويناوو څنې.
۱٤- پر ۵۹/۳/۱٤ د شرعياتو پوهنځي محصلينو ته د امام خميني (ره) له ويناوو څنې.
۱۵- پر ۵۹/٤/۲۰ د امام خميني (ره) له ويناوو څنې.
۱٦-پر ۵۹/۵/۱٦ د امام خميني (ره) له ويناوو څنې.
۱۷-پر ۵۹/۵/۱۸ د امام خميني (ره) له ويناوو څنې.
۱۸- پر ۵۹/۵/۱۸ د قدس د آزادۍ د کنگرې غړيو ته د امام خميني (ره) له ويناوو څنې.
۱۹-پر ۵۹/۵/۲۰ د اسلامي هېوادونو له سفيرانو سره د کتو پر مهال د امام خميني (ره) له ويناوو څنې.
۲۰-پر ۵۹/٦/۲۱ د بيت الله الحرام حاجيانو ته د امام خميني (ره) له ويناوو څنې.

۲۱- پر ۵۹/۷/۲۸ د اسلامي هېوادونو له سفيرانو سره د کتو پر مهال د امام خميني (ره) له ويناوو څخه.
۲۲-پر ۵۹/۸/۱۲ د "دانشجويان پيرو خط امام" غونډې ته د اسلامي هېوادونو له سفيرانو سره د کتو پر مهال د امام خميني (ره) له ويناوو څخه.
۲۳-پر ۱۳٦۰/۵/۱۰ د قدس د ورځې په مناسب د امام خميني (ره) له ويناوو څخه.
۲٤-پر ۱۳٦۰/۱۰/۱۸ د امام خميني (ره) له ويناوو څخه.
۲۵- پر ٦۰/۱۱/۱٦ د "شوراى هماهنگي تبليغات اسلامي" د شورا غونډې ته د امام خميني (ره) له ويناوو څخه.
۲٦-پر ٦۰/۱۱/۲۲ د اسلامي انقلاب د بري دويمه لمانځ غونډې ته د امام خميني (ره) له ويناوو څخه.
۲۷- پر ٦۱/٦/۸ د آيت الله العظمی گلپايگاني د تلگرام په ځواب کې د امام خميني (ره) له ويناوو څخه.
۲۸-پر ٦۱/۹/۲۸ د سپاه پاسداران د بسيج غړيو سره د کتو پر مهال د امام خميني (ره) له ويناوو څخه.
۲۹-پر ٦۱/۱۱/۱۰ د تهران د بازارونو د اصنافو له استازيو سره د کتو پر مهال د امام خميني (ره) له ويناوو څخه.
۳۰-پر ۱۳٦۱ د اسلامي انقلاب د بري د لمانځ غونډې پر مهال له بهرني مېلمنو سره د کتو پر مهال د امام خميني (ره) له ويناوو څخه.
۳۱-پر ٦۲/۱۳/۱۵ د ۱۵ خرداد د قيام په لمانځ غونډه کې د امام خميني (ره) له ويناوو څخه.
۳۲- پر ٦۲/۵/۲٦ د حج د مسوولينو په غونډه کې د امام خميني (ره) له ويناوو څخه.
۳۳-پر /٦۲/٦/۱۲ د بيت الله الحرام حجاجو ته د امام خميني د پيغام يوه برخه.
۳٤- پر ٦۲/٦/۵ د ستاد انقلاب فرهنگي د غړيو په غونډه کې د امام خميني (ره) له ويناوو څخه.
۳۵-پر ٦۲/٦/۳۰ د ايران د اسلامي جمهوريت له رياست سره د کتو پر مهال د امام خميني (ره) له ويناوو څخه.
۳٦-پر ٦۲/۷/٤ د هېواد له چارواکيو سره د کتو پر مهال د امام خميني (ره) له ويناوو څخه.
۳۷- پر ٦۲/۷/۱۳ د جامعه روحانيت مبارز تهران د غړيو غونډې ته د امام خميني (ره) له ويناوو څخه.

۳۸-پر ٦۲/۸/۲٤ د ولايتونو له خطيبانو سره د کتو پر مهال د امام خميني (ره) له ويناوو څخه.
۳۹-پر ٦۲/۸/۲٤ د دانشگاه آزاد اسلامي د پوهنتون له چارواکيو سره د کتو پر مهال د امام خميني (ره) له ويناوو څخه.
٤۰-پر ۱٦/ ٦۲/۹ د صحت عامې د وزارت له چارواکيو سره د کتو پر مهال د امام خميني (ره) له ويناوو څخه.
٤۱- پر ٦۲/۱۰/۱ د هېواد له چارواکيو سره د کتو پر مهال د امام خميني (ره) له ويناوو څخه.
٤۲- پر ٦۲/۱۲/۲۹ د ايران د ملي راډيو تلويزيون له چارواکيو سره د کتو پر مهال د امام خميني (ره) له ويناوو څخه.
٤۳-پر ٦٦/۱/۱۸ د امام خميني له ويناوو څخه.
٤٤- پر ۱٤۰۷ ه قمري (مرداد ۱۳٦٦) د بيت الله الحرام حجاجو ته د امام خميني (ره) له ويناوو څخه.
٤٥-هماغه سرچينه.
٤٦-پر ٦۸/۳/۱٥ د امام خميني (ره) د وصيتنامې له متن څخه.
٤۷-پايگاه اطلاع رساني امام خميني (ره).

## امام خميني (ره) د افغانستان د مطبوعاتو او شخصيتونو له نظره

### الف-شخصيتونه:

* شهيد حجة الاسلام سيد محمد حسين مصباح په شرعيه او حسبيه چارو کې د امام خميني (ره) وکيل: (( علامه امام خميني د صهيونزم او امپريالزم پر خلاف مبارز شخصيت، د ترکيې د زندان د کړاوونو تر زغملو روسته، په عراق کې د عامه مسلمانانو د ستر مشر او زعيم په نامه وپېژندل شو. . . . . . ستر مشرتابه؛ حضرت علامه خميني (ره) يو له اوسني سترو مشرانو څنې په اعلميت او عدليت ويلو کې مخکښ و او د اسلامي فکر د احيا او د مسلمانانو د راويښولو لپاره يې خورا زحمتونه او کړاوونه گاللي دي، چې کله يې د اسرائيل د صهيونزم تېري او شرقي او غربي استعمارگرانو او امپريالزم قبضه او تسلط وليد، د يو واقعي او سرښنده ديني مشر په بڼه يې د استعمار د فاسدو غړيو پر خلاف مبارزې ته راپاڅېد. د هغه علمي آثارو او ديني ژورو تشکيلاتو او په زړه پورې ويناوو آزادي ښناند خوځښت را منځ ته کړ؛ خو د استعمار لاسونو لومړی زنداني کړ او بيا يې ترکيې ته وشاړه.

[امام خميني] اوس [۱۳٤۹] په عراق کې په پاکه خاوره کې مېشت دی او د اسرائيلو پر خلاف يې اوس هم نه ستړې کېدونکې مبارزه روانه ده. په خپلو ويناوو، مقالو او حتی په خپلو درسي محاضراتو کې د مسلمانانو ټولنه د خپل پخواني او سرسخته دښمن؛ يعنې اسرائيل سره مبارزې او د يوې ټلوالې د جوړولو غوښتونکی دی. (٤۹/۹/۲٤) (۱)

*انجينير گلبدين حکمتيار د حزب اسلامي افغانستان مشرتابه: ((. . . . د ايران ملت د امام خميني په پرېکنده مشرۍ وکړای شول، چې خپل انقلاب بريالی کړي. مونږ د رحمان خدای شکر باسو، چې د ايران مؤمن ملت ته يې داسې مشرتابه وکړی دی او مونږ له هغو دريځونو ملاتړ کوو، چې اسلامي انقلاب د امام خميني په مشرۍ غوره کړي دي. مونږ د ايران اسلامي انقلاب د ايران د ملت نه گڼو او د ايران ولس ته دا اجازه هم نه ورکوو، چې دا انقلاب يوازې خپل انقلاب وگڼي. د ايران اسلامي انقلاب د نړۍ د ټولو مسلمانانو دی. )) (۲)

* پروفيسور استاد برهان الدين رباني: (( د سيد روح الله امام خميني (ره) د معاصر تاريخ ستر شخصيت وفات، نه جبرانېدونکې ضايعه او ستره دردناکه پېښه ده، چې ژمن مسلمانان يې په ټوله نړۍ کې سخت وژړول، ستر اسلامي شخصيتونه د خپل ټاټوبي په پولو کې نه پاتې

کېږي او هغوی د ټولې اسلامي نړۍ پانگه ده. امام خمیني کاپیټالزم او کمونزم دواړه مردود وگڼل او د بشریت ژغورنه یې یوازې په اسلام کې لیدله؛ هغه د لویدیځ او ختیځ پر وړاندې په مړانه ودرېد او له هر ډول فساد او دسیسو سره لاس وگرېوان شو او سرلوړی ژوند یې وکړ او په ډاډمن روح یې الهي قضاء ته لبیک ووایه. )) (۳)

*محمد اکرام اندیشمند د افغانستان مجاهد او مشهور لیکوال: ((د امام خمیني وفات، د اسلامي نړۍ ستر عالم، په اوس وخت کې د ټولو مسلمانانو په تېره بیا د هغوی د خواشینۍ لامل شو، چې په ژور بصیرت او د نظر په پراخوالی او رښتین اخلاص، د نړۍ د یو میلیارد مسلمانانو برخلیک ته یې بې له گوندي او مذهبي او نشنلستي جاهلانه افکارو پام وي او د روس او امریکا استکبار د مسلمانانو او اسلام د خطرناکو او سازش نه منونکیو دښمنانو په نامه تشخیصوي.

چې کله موږ د امام خمیني شخصیت ته په داسې لید وگورو؛ نو حقه خبره ده، چې هغه په اوسني وخت کې د اسلامي نړۍ له سترو شخصیتونو څخه دی. )) (٤)

* آرش ولوالجي فرهنگي مجاهد افغان: (( د امام خمیني (ره) ستر والی باید د ایران د اسلامي انقلاب په ستروالي کې ووینو او د پهلوي روست نظام تقلیب او بیا د ایران د اسلامي جمهوریت پر خلاف د امریکا او شوروي د ښکاره دښمنۍ اعلان او اعلام په خپله ددې انقلاب د ستروالي نښه گڼل کېږي. )) (۵)

* حاجي محمد امین فروتن؛ د افغانستان جهادي او فرهنگي شخصیت: انصافا ځای یې دی، چې په دې محفل کې [په تهران کې د افغانستان دویم سیمینار]د زمانې د ستر قلندر او د عرفان د مبارزې جام په لاس، چې د اسلام او مسلمانانو د پت په خاطر یې قیام وکړ او ستر اسلامي امت ته یې پت او حیثیت وروباښه، یاد کړو؛ هو! د ټول منلي امام خمیني (ره) یاد؛ دا د تاریخ ستر آزاده، چې تر نیمې پېړۍ مبارزې روسته د بهشت زهرا د هدیرې په یوه ټوټه خاوره کې د تل لپاره غلی شو. )) (٦)

*مرحوم مولوي نصرالله منصور وایي: (( په مسلمانانو کې د یووالي راوستو لپاره امام خمیني بېلگه دی، چې اسلامي ټولنو ته په آگاهي ورکولو یې وکړای شو مسلمانان سره یوموټی کړو.
))

## ب ـ رسنۍ:

### ۱- د میثاق خون مجله:

د میثاق خون مجله د جمعیت اسلامي افغانستان د نشراتي ارگان مجله، حضرت آیت الله خامنه ای ته د استاد رباني د تسلیت پیغام خپروي او په خپله سرمقاله کې یې کښلي وو:
(( حضرت امام خمیني (س) د قرآن د ښوونځي له فرزانه زده کړیالانو او زامنو څخه و، چې خپل عزیز عمر یې د قرآن تر سیوري لاندې تېر کړ، خپل ژوند یې هر اړخیز د خدای لپاره د خدای په لار کې وقف کړ؛ هغه بې له خدایه بل واکمن نه پېژانده او بې له قرآنه یې بل قانون او دستور نه پېژانده. )) (۸)
د میثاق خون په مجله کې د (( امام خمیني بزرگمردي از دنیای اسلام و عالم بشریت )) تر عنوان لاندې یوه مقاله خپره شوې وه، چې پکې راغلي وو:
((. . . . د اسلام د تاریخ په دې روستیو کې، په تېره بیا د شرق او غرب د استعمار په راښکاره کېدو او د قرون وسطی تر تېرېدو روسته او د عصري تېکنالوژۍ او صنعت به رابرسېرنه، چې مسلمان هېوادونه د کفارو تر واک لاندې راغلل، امام خمیني (ره) د اسلامي امت په میلیونو تنو کې، یوازېنی ممتاز شخصیت شمېرل کېږي، چې د یو اسلامي شخصیت ډېرې ځانگړنې یې درلودې. )) (۹)

### ۲- د فتح مجله

د فتح مجله د افغانستان د حزب الله نشراتي ارگان مجله په خپله سرمقاله (( حزب الله و تداوم خط امام (س) )) داسې کښلي وو:
(( خمیني د اولیاوو له ځوځاته یو بل ستر مشرتابه، چې تر انبیاوو، اولیاوو او معصومینو روسته په یوازې ځان راپاڅېد او پر کفر، شرک، اختناق، حفقان او د قابیلیانو او توکملمانځو او الحادي ښوونځیو یې وروانگل او عدالت او انسانیت یې نړیوالو ته وروپېژانده او د مسلمانانو له لاسه تللی عظمت او سیادت یې بېرته ورکړ او له خپل اصلي ماهیته یې خبر کړل، بصیرت یې ورته راوگرځاوه او اسلامي انقلاب یې په ټوله نړۍ کې خپور شو او اسلامي نهضت په

ځغاسته پر مخ روان دی، اسلامي امت د خپل له لاسه وتلي عظمت په لاس ته راوړو کې دی.
اسلامي نړۍ او بېوزله يې، چې په بې خبرۍ کې يې بندګي کوله، خپله خودآګاهي د امام خميني د پېغمبر په څېر د مشرۍ پايله ګڼي. )) (۱۰)
په دې سرمقالې کې داسې هم راغلي وو:
(( نن په قطبينو کې د اسلام زامنو د اسلاغ بېرغ وځړاوه او په لرې پرتو سيمو کې ځينه او زندۍ کولو خلک پوزې ته رارسولي، د موذن په زړه پورې غږونه تر غوږو کېږي او د امام خميني (ره) لارويان چمتو دي، چې د شهادت تر بريده يې آرمانونو ته عمل جامه وروا‌غوندي او له دې هم نه غافلېږي، چې د تاريخ همېشنی مثلث زر، زور او تزوير د عدالت په هره جبهه کې حضور لري او په مخ کې به يې وي او دوی به ورسره مخېږي. )) (۱۱)

## ۳- د وحدت هفته نامه

د وحدت هفته نامه له هېواده بهر د حزب وحدت اسلامي د نمايندګۍ د نشراتي ارګان هفته نامه ده؛ پخپله سرمقاله (( در مکتب سياسي امام خميني (س) ))، امام خميني يې د ددې پېړۍ يوه محبوبه څېره، د په زړه پورې کلام، ښکلي غږ، د کړنو د متانت، د ژبې د غوخوالي، پوهې او ژورې تقوا او د روح د تزکيې او الهي عرفان خاوند معرفي کړی دی، وايي:
(( هغه څه چې تر هر څه د حضرت امام (س) په ممتاز شخصيت کې پامونه رااړوي، دادی: هغه يو مذهبي مشر او فقيه و او له يوه فقيه او ديني عالمه د نړيوالو برداشت دا و، چې يوازې په زهد، پارسايي، عبادت او تهجد اکتفا کوي او له دنيا او قيصرانو سره کار نه لري او يوازې خلکو ته نصحيت کوي او خلک د دوزخ له اوره وېروي او جنت او جنتي نعمتونو ته يې رابولي!
خو د امام خميني (س) په ښوونځي کې نه اجتهاد او نه فقاهت دا معنی درلوده او نه ديني عالم هغه دنده درلوده؛ هغه اجتهاد او فقاهت د ژوند په متن کې ليده او ديانت يې عين سياست ګاڼه او په خپل سيرت او عمل يې په فقه کې داسې يو بدلون راوست، چې په حقه ويلی شو، چې هغه د فقهې احياګر او په معاصر تاريخ کې د نوينې فقهې بنسټګر دی.

امام(س) فقهې او فقاهت ته داسې عناصر رانبايستل، چې که بې له هغه هر علمي شخصيت دا کار کړی و؛ نو تکفير شوی به و؛ خو هغه په خپل بې ساري جرات، پرېکندتوب او مړانې له استنباط د خورا روښانه انځور په وړاندې کولو سره غږ کړ: په اجتهاد کې زمان او مکان دوه ټاکوونکي عناصر دي. يوه مساله، چې پخوا يې يو حکم درلود، په ظاهره هماغه مساله پر يو نظام د حاکم سياست، ټولنې او اقتصاد، ممکن نوی حکم ومومي. په دې معنی، چې هماغه لومړی موضوع، چې له ظاهري پلوه يې له پخواني سره توپير نه دی کړی، واقعاً نوې موضوع شوې ده، چې قهراً نوی حکم غواړي. )) (۱۲)

## ٤- د پيام مستضعفين مجله

د پيام مستضعفين مياشتنۍ مجله د افغانستان د سازمان نصر د نشراتي ارگان مجله په خپله سرمقاله (( در سوگ ارتحال بزرگ پرچمدار اسلام ناب محمدي، امام خميني )) د امام خميني په هکله داسې کښلي وو:

(( په يقين، چې امام خميني رضوان الله تعالی عليه؛ يو له هغه نادرو شخصيتونو څخه و، چې په ۲٦ کالو کې په خپلو نه ستړې کېدونکيو او اوږدو مبارزو يې په تېره بيا په دې روستۍ لسيزه کې يې معاصر تاريخ بدل کړ. . . . تر اوسه لا د وخته دی، چې واقعي او ژور فکر يې بشر ته روښانه شي. لسونه کالونه پکار دي، چې ددې شخصيت او د پېړۍ تاريخ ساز عظمت بشر ته ورو پېژنو او همداسې تر اوسه لا ډېر د وخته دی، چې موږ مسلمانان يې دين او پور ادا کړو، چې دا ستر انسان يې پر موږ لري.

څکه تر اوسه لا پوه نه يو، چې هغه د اسلام او اسلامي نړۍ لپاره څه کړي دي؟څومره بدلون يې راوست؟څه خدمتونه يې وکړل؟له موږ يې څه غوښتل؟ او موږ تر اوسه څه کړي دي او څه بايد وکړو؟ )) (۱۳)

## ٥- اخبار هفته

اخبار هفته د داکتر نجيب د واکمنۍ پر مهال مشهوره هفته نامه په خپله سرمقاله (( يک سال از وفات امام خميني گذشت )) کې کښلي وو:

(( د ایران د مستضعفینو د عالیقدر مشرتابه د وفات یو کال وشو.  یو کال مخکې پر ۱۳٦۸/۳/۱٤ د ایران راډیو د امام خمیني د وفات خبر خپور کړ، چې له دې فاني دنیا یې سترګې پټې کړې. په میلیونو لېواله د خپل مشر وداع ته راوتلي وو او په خپل دې عمل یې د امام خمیني له آرمانونو سره خپله همبستګي تجدید کړه.
امام خمیني وفات وکړ؛ حال داچې له هغه تاریخه یو کال تېرېږي او د ایران ولس او د امام خمیني لارویان په اسلامي نړۍ کې پر هغه لار بې له تزلزله پر مخ روان دي، چې امام خمیني ورته ټاکلې ده. )) (۱٤)

## پاڼلیکونه

۱-د پکتیکا جریده۴۹/۹/۲٤، څلورم مخ او همداسې کیهان اندیشه، د۱۳٦۹ د حمل او ثور میاشتو ۲۹ ګڼه، ۱۹۹-۱۹۸ مخونه.
۲-د سپاه پاسداران انقلاب اسلامي په مرکزي دفتر کې د حکمتیار له ویناوو څخه، چې د راه حق د دریم کال له اوولسمه ګڼې ۳۰/قوس/۱۳٦۰ څخه اخستل شوی دی.
۳-آیت الله خامنه ای ته د پروفسور برهان الدین رباني د تسلیت پیغام. میثاق خون مجله، څلورم کال، (۲-۳)ګڼه، ۱۳٦۸، مخ ٦.
٤-د میثاق خون مجله، څلورم کال (۲-۳) ګڼه، ۱٦ مخ.
۵-هماغه سرچینه/۱۹ مخ.
٦-پر ٦۸/۷/۱۰ په تهران کې د افغانستان په دویم کنفرانس کې د الحاج فروتن له ویناوو څخه.
۷-د امام خمیني د نولسم تلین په غونډه کې د منصور له ویناوو څخه. انصاف هفته نامه، ٦٦ ګڼه، لومړی مخ، ۱۳٦۸ مخ.
۸-د میثاق خون مجله (۲-۳) ګڼه، لومړی مخ، ۱۳٦۸.
۹-هماغه سرچینه/۱٦ مخ.
۱۰-پایګاه اطلاع رساني امام خمیني.
۱۱-هماغه سرچینه.
۱۲-هفته نامه وحدت، ۷۳/۷/٦، (ربیع الثاني۱٤۱٤ ه. ق. )
۱۳-پیام مستضعفین، ۷۱ مسلسه ګڼه، څلورم مخ، د ٦۸ کال جوزا.
۱٤-اخبار هفته، ۲۲ ګڼه (۷٤ مسلسه شمېره) دویم کال، د ۱۳٦۹ کال د جوزا ۱۷ تاریخ.

## امام خميني (ره)

## د نړيوالو شخصيتونو او رسنيو له ليدلوري

### الف- د علمي، فرهنگي، سياسي او مذهبي شخصيتونو ليدلوري:

* آيت الله العظمى شهيد سيد محمد باقر صدر: (( ذوبوا فى الخمينى كما هو ذاب فى الاسلام؛ ويلي شئ په خميني کې؛ لکه څنگه چې په اسلام کې ويلې شوی دی. )) (۲)
*آيت الله العظمى شهيد مرتضى مطهري: (( خو هغه سفر کړی، چې د زړونو په سلونو قافلې ورسره دي؛ نوم يې، ياد يې، د ويناوو اورېدل يې، گرم روح يې، پولادي عزم او اراده يې، استقامت يې، مړانه يې، روښانه ليد يې او ايمان يې، چې د عام او خاصو پر خولو دی؛ يعنې د زړونو زړه، د اتلانو اتل، د ايران د ولس د سترگو تور او گران؛ زموږ ستر او عاليقدر استاد؛ حضرت آيت الله العظمى خميني (ادام الله ظلاله) هغه حسنه ده، چې خدای زموږ پېړۍ ته راکړې دی او د "ان لله فى کل خلف عدولا ينفون عنه تحريف المبطلين" روښانه او څرگند مصداق دی. )) (۳)
* امام خامنه ای د ايران د اسلامي انقلاب مشرتابه مقام: (( امام خميني يو تلپاتې ژوندی حقيقت دی. )) (٤)
* امام خامنه ای د ايران د اسلامي انقلاب مشرتابه مقام: امام ټول پوه کړل، چې کامل انسانېدل او د علي په څېر ژوند کول او د عصمت تر پولو ژوند کول افسانه نه ده. )) (۵)
* امام خامنه ای د ايران د اسلامي انقلاب مشرتابه مقام:
(( امام هغه روح الله و، چې د حضرت موسى په همسا او مصطفوی فرقان يې د مظلومانو خلاصون ته ملا وتړله، د زمانې د فرعونانو تخت يې ښپښانده کړ او د مستضعفانو زړه يې د هيلو په رڼا روښانه کړ. )) (٦)
* امام خامنه ای د ايران د اسلامي انقلاب مشرتابه مقام: (( خورا ناوړو پېښو د هغه (امام خميني) زړه نه ښپښپانداوه او هغه پر خپلو ځاني غوښتنو واکمن و. )) (۷)

* عباس مدني د الجزاير د ژغورنې د اسلامي تلوالې مشر: (( هغه څراغ، چې امام خميني (س) بل کړ، زموږ زړونه يې روښانه کړل. د الجزاير ولس چمتو دی، چې د ايران د ولس ترڅنګ په يوه ليکه د "الله اکبر" د بيرغ د څړولو لپاره و درېږي. )) (۸)
*تراب زمزمي، تونسی ليکوال: (( امام خميني (ره) په نړۍ کې د سلونو ميليونو مسلمانانو او د ميلياردونو مظلومو انسانانو هيله وه. د امام لار هماغه د الله لار وه. نن امام خميني (ره) په موږ کې نشته؛ خو په نړۍ کې په زرونو خميني را ژوندي کېږي. )) (۹)
*محمد لنسل په اتريش کې د اسلامي ژوند د تجديد د فرهنګي مرکز مشر: (( اسلامي انقلاب د غرب د فرهنګ ټولګه وګواښله او پيغام يې د ستر مشر په مشرتابه امام خميني (ره)، له کفره د خلاصون او پر خپلو زېرمو د مسلمانانو د خپلې واکمنۍ پيغام و. امام شرق او غرب و لړزاوه او داسې ميراث يې پرېښود، چې فعال، قطعاً او پياوړی دی، چې اسلامي امت ته به د امام موخو ته د عمل په جامه وراغوستو کې لارښوونه کوي. )) (۱۰)
* مرحوم شيخ سعيد شعبان د لبنان د توحيد اسلامي د خوځښت مشر: (( خدای امام خميني (ره) ته ځانګړې او بې سارې ځانګړنې ورکړې وې او هغه خدای د کفر او جاهليت په دې پېر کې اسلامي امت ته ورکړ، چې اسلام ته بيا ژوند ورکړي. )) (۱۱)
* مرحوم دکتر کليم صديقي د لندن د اسلامي مطالعاتو د مرکز مشر: ((د امام خميني (ره) په مشرۍ د اسلامي انقلاب قابل توجه اغېز په دې کې دی، چې اسلام او مسلمانان د يو پياوړي سياسي او مذهبي ځواک په نامه مطرح شول او د ابر قدرتونو په سياسي محاسباتو او ارزونو کې يې تر پخوا خورا پياوړی دريځ او ځای وموند او ددې مدعا د اثبات لپاره د " د جهان ځواک"، "په صحنه کې د اسلام حضور" او " د اسلامي ژوند تجديد" پر ليکنو استناد وکړو. )) (۱۲)

*احمد جبرائيل د فلسطين د آزادۍ لپاره د تلوالې ستر مشر: (( د امام حکم د قرآن حکم دی او د هغه اسوه او بېلګه پيغمبر اکرم و او امام په دې پياوړې اډانه او ستر جهاد د طاغوتيان عرشونه ولړزول او بېوزله او مستضعفان يې د نېغې لارې او د قدس د آزادۍ پر لور هدايت کړل. )) (۱٤)

* شهيد سيد عباس موسوي د لبنان د حزب الله سرمنشي:(( تر اسلامي بنسټپالۍ د مخه د غرب د پانګوالۍ او صهيونزم پر وړاندې د مستضعفو او مبارزانو پناهځی کمونزم و؛ خو د امام خميني (ره) په مشرۍ د اسلامي انقلاب په بري معلومه شوه، چې له استکبار سره د مبارزې حقيقي ځواک په اسلام کې دی او په دې ترتيب دوه ستر بدلونونه د نړۍ په کچه

رامنځ ته شول: لومړی داچې د کمونزم او سوسیالزم د ورستو هڅوکو د ماتېدو غړونه تر غوږو شول؛ ځکه اسلام یې حقیقي منځپانگه یا ماهیت رابرسېره کړ او دویم داچې په نړۍ کې د اسلام په نامه یو ځواک راڅرگند شو. )) (۱۵)
*پروفسور حامد الگار د امریکا د برکلي پوهنتون د اسلامپوهنې استاد: (( هر څوک چې د امام خمیني (ره) ترځنگ د اوسېدو او ورسره د پاتې کېدو نېکمرغي ولري؛ نو پوهېږي، چې د هغه زیارت حتی، چې کله یوه خبره هم کوي؛ نو د انسان پر اروا خورا ژور اغېز لري. )) (۱٦)
*سید السعد گیلاني په لاهور کې د پاکستان د اسلامي جماعت مشر: (( د اسلامي انقلاب ستر مشرتابه موږ ته پټ راوباښه او په ټوله نړۍ کې یې اسلام بیا راژوندی کړ. هغه د مسلمانانو عزت او د کفارو ذلت یوازې په الهي ځواک په تکیه لاس ته راوړی و؛ هغه مسلمانان له تپوتیارو وژغورل او خپلواکۍ ته یې ورسول. )) (۱۷)
*مولانا افتخار احمد په کویټه کې د اهلسنتو امام جماعت: ((امام خمیني (ره) په خپله بې ساري مشرۍ اسلامي ټولنه د غفلت له خوبه راویښ کړل او د اسلام دښمنانو ته یې ماتې ورکړه. ))(۱۸)
* مېرمن عابده حسین د پاکستان د ملي شورا غړې: ((امام خمیني (ره) د خپل ژوند په ترڅ کې ایمان او تقوا راژوندۍ کړه او د اسلام د دښمنانو پر خلاف چارو یې درېمې نړۍ ته ځواک وروباښه. )) (۱۹)
*مفتي محمد حسین نعیمي په لاهور کې د اهلسنتو د علمي حوزې (مدرسې) مشر: (( نړۍ امام خمیني (ره) د شرق له غرب سره د مقابلې او د اسلام واقعي راژوندی کوونکی ښکاروندی پېژني. )) (۲۰)
*د پاکستان د اخوت اسلامي د خوځښت مشر: ((امام خمیني (ره) د مسلمانانو د یووالي ستر بېرغچي و. هغه مستضعفینو او مسلمانانو ته د ښکېلاگرانو پر خلاف د مبارزې ځواک وروباښه او تر تېرې لاندې اسلام ته یې تازه روح ورکړ. )) (۲۱)
*مفتي ظهورالله هاشمي په اسلام آباد کې د یو جومات امام: ((امام خمیني (ره) د اسلام اصلي راژوندی کوونکی دی، چې یووالی او وحدت ته یې د مسلمانانو په رابللو، د دښمنانو دسیسې شنډې کړې او مسلمانانو ته یې د مبارزې ځواک ورکړ. )) (۲۲)
*مرحوم مولانا بخاري د هندوستان د مسلمانانو مشر: ((امام خمیني (ره) ددې درې روستیو لسیزو معمار او تاریخ ساز دی. )) (۲۳)

*سلطان صلاح الدين اويس د هند د ملي شورا غړی او د هندوستان د اتحاد المسلمين د مجلس مشر: (( په دې پېړۍ کې د اسلام دپياوړي کېدو د پلي کېدو لپاره د ايران د انقلابي او فقيد مشر خدمتونه به تاريخ په طلايي ټکيو ثبت کړي. )) (٢٥)
*د غنا د مسلمانانو مشر: ((امام خميني (ره) تر ابده ژوندی دی او قدسيه انفاس به يې ټوله نړۍ کې انګازې کوي. )) (٢٦)
*محمد لنسل په اتريش کې د اسلامي ژوند د بيا راژوندي کېدو مشر: (( له شرق او غرب سره د امام خميني (ره) مخالفت، چې د ١٣٤٢ کال په جوزا کې پيل شوی و، د اسلامي انقلاب په بري يې زور واخست. د "سعيد بړکه" د فلسطين د اسلامي جهاد د مشر د وينا له مخې: امام خميني (ره) فلسطين، چې د هېرېدو او له منځه تلو په حال کې و، په ذهنونو کې يې بيا راوژندی کړ. )) (٢٧)
* پروفسور ادوارد علي صامعي په آرژانتين کې په يو کاتوليک پوهنتون کې د سياسي فلسفې او اسلامپوهنې استاد: (( ده [امام خميني (ره)] له اسلامه په سم برداشت او سمه شننه، سياست له الهياتو او تاريخ يې له وحې سره يوځای کړ او په دې وسيله يې د شيطان کرلی تخم له بېخه راوايست او په خپل دې اقدام يې يو ځل بيا اسلام د ايديولوژيو او د نړۍ د فلسفي او سياسي خوځښتونو په سر کې کړ. )) (٢٨)
*مېرمن امين شليګ اوغلو په استانبول کې د "مکتوب" مجلې د هيئت تحرير مشره: ((امام خميني (ره) بې ريا ژوند وکړ او د تاريخ بهير يې بدل کړ او دا يو نانتې يا انکارناپذيره واقعيت دی. )) (٢٩)
*نبيه بري د لبنان د ملي شورا او امل د خوځښت مشر: (( د جوزا مياشت ځومره له غمه ډکه ده، چې پکې له موږه سپېڅلی قدس؛ د ښارونو مور او اديانو زانګو سقوط وکړ او په همدې مياشت کې د زمانې ترټولو سپېڅلی انسان او د اديانو پلار؛ امام خميني (ره) له موږه واخستل شو. ای امامه! ته د تعبد او تهجد له کلاګانو پورته تللی وې او لاسونو دې آسمان لمس کړی و، چې نور دې له خالق سره واټن نه درلود او د سترګو په رپ کې ورسره يوځای شوې، آرام شه، چې د مؤمنانو آرامځی د راتلونکيو زانګو ده. )) (٣٠)
*وليد جنبلاط د لبنان د دروزيانو مشر: (( د بشريت نړۍ ستر مشرتابه له لاسه ورکړ، چې د خپلې مبارزې په ژوند کې يې د استعمار او ښکېلاک تر ټولو پياوړې او زړه کلا ماته کړه؛ لکه څنګه چې د نړۍ ازادي غواړيو په اوسني وخت کې د عدالت بېرغچي له لاسه ورکړ. )) (٣١)

*د فلسطين د جهاد يو غړی: (( د فلسطين زامنو هيله درلوده، چې له امام خميني (ره)سره به يوځای په سپېڅلي قدس کې لمونځ وکړي. . . . امام خميني (ره)د صهيونزم سرسخته دښمن و او د فلسطين زامنو ته يې د عزت، شرف او قيام زده کړه ورکړه. )) (۳۲)
*د ارژانتين د مسلمانانو استازی: ((موږ يو داسې مشر له لاسه ورکړ، چې د بشريت د ټولنې پر سمبنالنه وسمن و؛ نو بېځايه به نه وي، چې پر خپل حال وژاړو. )) (۳۳)
*محمد العاصي د واشنګټن ډي سي امام جماعت او خطيب: (( حضرت امام خميني (ره) د نړۍ ټول سياسي معادلات ګډوډ کړل. . . . هغه د نړۍ د ټولو مسلمانانو او مستضعفانو لپاره د خپلواکۍ پلار و. )) (۳٤)
*مېرمن پروفسور الميرا د آذربايجان د ښځو د څېړنو د مرکز غړې: ((هر چېرته، چې حق ته لېوالتيا وي، د امام خميني (ره) نوم هم هلته دی او د هغه تفکر په ټوله نړۍ کې د حق غوارۍ بېلګه ده. )) (۳۵)
*پروفسور امين کاريچ په بوسني هرزګوين کې د ښوونې، روزنې، هنر او فرهنګ وزير: (( د امام خميني (ره) راښکاره کېدل راته وښوول، چې د غربيانو ختيځپوهنه ناسمه وه. امام خميني (ره) په شلمه پېړۍ کې تر ټولو ستر مذهبي مشر او د ټولې اسلامي نړۍ مشر دی. )) (۳٦)
*پروفسور ساويت بيک د قرقيزستان د علومو او صنايعو د پوهنتون مذهبي مشر: (( د هغه (امام خميني) ښوونې په زړه پورې دي. امام خميني (ره) په اوسني وخت کې د انسان الهي هويت بېرته انسانانو ته راوګرځاوه. )) (۳۷)
*محمد حسنين هيکل مصری ليکوال او څېړونکی: (( هغه يو ستر شخصيت و، چې له يوه بل پېر يا دورانه راغلی و. )) (۳۸)
*شيخ عبدالله زين الدين د سعودي عربستان مبارز روحاني: (( بېشکه امام خميني (ره)د اسلامي نړۍ يو له بې ساريو او نادرو شخصيتونو څخه و، چې په جزيرة العرب کې د پېغمبر اکرم تر راښکاره کېدو روسته يې اسلام د ځانپلورو واکمنانو له منګولو راوايست. )) (۳۹)
*رافائل ګوفرپارا د اسپانيا مشهور ژورنالست: ((امام خميني (ره) د غرب د عقيدتي-سياسي استعمار او ښکېلاک پر خلاف او خپلواکۍ او ازادۍ ته د رسېدو لپاره د درېمې نړۍ د مبارزې په کړنلار کې بنسټيز بدلون راوست. د امام د خوځښت ارزښت په دې کې و، چې جوته يې کړه، تر څو مو چې د غربي نړۍ وګړپالی او ځانپالی ته شا کړې نه وي؛ نو د درېمې نړۍ د ولسونو ازادي او پرمختګ به ناشونی وي. )) (٤۰)

* دویم پاپ ژان پل د نړۍ د کاتولیکانو پخوانی مشر وایي: (( د آیت الله خمیني او د هغه څه په اړه باید په ډېر درناوي او ژور تفکر سره څرګندونه وشي، چې د نړۍ په پراخه برخه کې یې ترسره کړ. )) (٤١)
* کاپوچي اسقف: (( امام د نړۍ د مستضعفانو پلار و او د هغه له لاسه ورکول د نړۍ د بېوزلیو لپاره ستر غم دی. )) (٤٢)
*رابین وودز ورث د "امام او اسلامي انقلاب" د کتاب لیکوال: (( امام خمیني د اوسني وخت مسیح و؛ کله خدای د یوې ښکلې څېرې په بڼه راڅرګندېږي، کله د یو ښکلي غر په بڼه او کله هم په یو بشپړ عارف کې د غوڅې او بلیغې وینا په بڼه؛ لکه امام خمیني.
امام یو توپان و؛ خو په دې توپان کې مطلق ارامش او سکون و؛ هغه خورا پرېکنده او آمرانه و؛ خو سره له دې خورا ارامبښونکی و؛ هغه ځواب ورکونکی او خورا اغېزمن و او په وجود کې یې ساکن او بې حرکته حقیقت و؛ خو همدا بې حرکتي، عظمت او کمال یې د یو ستر هېواد د خوځښت لامل شو. ډېری بودایي زاهدان، عارفان، راهبان او هندي حکیمان وو، چې یوه هم دومره اغېزمن او انرژي ښباندي نه وو.
زما په آند د امام خمیني په وجود کې ټوله هغه سپېڅلتیا راڅرګنده شوې وه، چې اسلام یې زېری ورکوي او په رښتیا! څه چې پرې لګېدل د مطلقې رڼا یوه وړانګه وه. )) (٤٣)
*آموندا روبن پونته د ارژانتین مخکښ ژورنالست: (( دا افسانه ای انسان، چې په ایران کې راښکاره شو، د حیرانتیا خبره نه ده؛ ځکه د اسلام پېغمبر؛ حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم یې وړاندوینه کړې وه، چې ایران به د اسلام د سترو احیاکوونکیو ټاټوبي وي. )) (٤٤)
*دکتر "فرانسسکو اسکودرو بداته" د اسپانیا د اسلامي ټولنو د فدراسیون مشر په مادرید کې له ایرنا سره د مرکې پر مهال: ((په اسلامي نړۍ کې د امام خمیني څېره غیر قابل اغماض ده او هغه د اوسنۍ پېړۍ یو له سترو شخصتونو څنې ګڼل کېږي. . .
د امام خمیني (ره) په مشرۍ د اسلامي انقلاب برۍ په اسلامي نړۍ کې د خورا سترو بدلونونو لامل شو او هغه د اسلام یوه نوې څېره راوړاندې کړه. )) (٤٥)
د یادونې وړ ده، چې "فرانسسکو اسکودرو بداته" د اسپانیا په مسلمانانو کې د "عبدالله منصور" په نامه پېژندل کېږي.
*"ریاج تاتاري" په اسپانیا کې د مسلمانانو د ټولنې رئیس، په مادرید کې له ایرنا سره د مرکې پر مهال: (( امام خمیني (ره)، چې په اسلامي نړۍ کې ممتاز او ټول منلی شخصیت پېژندل کېږي، بریالی شو، چې په ایران کې یو مهم اسلامي انقلاب بریالی کړي. . . .

په ایران کې د اسلامي انقلاب برى، اسلامي نړۍ ته خورا ارزښتناک او مهم شمېرل کېږي او د مسلمانانو د وياړنې لامل دى. )) (٤٦)
*عباس البياتي د عراق د ترکمنانو د اسلامي اتحاديې مشر، له ايرنا سره دمر کې پر مهال: (( د جمهوري اسلامي بنسټگر له اسلامي ويښتيا سره اغېزل شوى دى؛ داسې چې د هر يوه نامه د بل بشپړونکې ده. . . .
ځينې ټولنو په دې اړه غربي کړنلارې بېلگه کړې، چې له اسلامي ارزښتونو سره يې ټکر درلو د؛ خو امام خميني (ره) داسې يوه بېلگه رامنځ ته کړه، چې و يې کولاى شول، چې اسلامي ارزښتونه د اوسني وخت له لاس ته راوړنو سره همغږې کړي.
. . . . . د امام خميني (ره) ژوند هغه کتاب دى، چې لرې پاڼې يې اړول شوې دي او دا کتاب بايد تل د انقلاب د اصولو او آرونو او انساني لوړو موخو د زده کړې لپاره د نړۍ د خلکو او راتلونکي نسلونو په لاسرسۍ کې وي.
. . . . . راحل امام څه د انقلاب تر بري مخکې او څه د انقلاب تر مخکې روسته تل د فلسطين د ارمانونو ملاتړ و. )) (٤٧)
*حسن افندي اسمائيچ د سرايوو (د بوسني هرزگوين پلازمېنه) د ښار مشهور مفتي: ((امام خميني (ره) په ايران کې د اسلامي انقلاب په بري وکولاى شول، چې په نړۍ کې مسلمانان، اسلام او اصلي هويت ته راوگرځوي.
په ايران کې اسلامي انقلاب په داسې وخت کې سر راپورته کړ، چې د نړۍ په ډېرى ځايونو کې مسلمانانو په غفلت له اسلامه واټن نيولى و او دې انقلاب هغوى راويښ کړ.
څه چې امام خميني (ره) په ايران کې وکړل، په اوسنۍ پېړۍ کې بې ساري وو او دا چار هغوى ته ستره او بې سارې بېلگه کېداى شي، چې اسلام غواړي دي. )) (٤٨)
*"رديبک قاري نيسان باى اولى" په قزاقستان کې ديني مفتي له ايرنا سره د مرکې پر مهال: (( هغه نه يوازې په ايران او اسلامي نړۍ پورې؛ بلکې په ټولې نړۍ پورې تړاو درلود.
. . . مؤمنان د يو ساختمان د برخو په څېر دي، چې يو بل ټينگ ساتي او امام خميني (ره) د تاريخ يوه ستره سياسي-مذهبي څېره وه، چې د مسلمانانو د يووالي او وحدت لپاره يې خورا هلې ځلې او غورځې پرځې وکړې.
نړۍ امام خميني (ره) پېژني او گورباچوف ته يې د پيغام غبر، چې کمونزم بايد په ميوزيم کې وليدل شي، اوس هم د نړۍ په غوږونو کې انگازې کوي؛ هغه له دين سره مبارزه ماتې خوړلې گڼله او اوس يې د پيغام ژوروالي ته په ننداره يو. )) (٤٩)

*دکتر محمد تاجیک، تاجکستانی متفکر: ((امام خمیني (ره) د نړۍ ښکارندو او پدیدو ته نوی لید مطرح کړ.

تر اسلامي انقلاب د مخه د ازادۍ، اخلاق او د سیاست ډګر د ننووتو د ظریفو ټکیو تعریف ته، زموږ د متفکرانو ټول پام د سوسیالزم او لیبرالزم فکري ښوونځیو ته ورګرځېده.

. . . . امام خمیني غربي دودیزې معادلې ګډې وډې کړې او د رقیقو او لطیفو کلماتو په کارولو یې له ذهنه لرې واژه ګانې تعریف کړې او د خپل ولس د فکرونو، هیلو او خبرونو د ویلو لپاره یې له خپلې ځانګړې ډکشنرۍ ګټنه وکړه. ))(۵۰)

*میخائیل لمشف د روسیې د فدراسیون رئیس: ((امام خمیني (ره) د اوسنۍ پېړۍ د مشرانو پر خلاف، چې هر یوه په یوه له دې ځانګړې برخه اقتصادي، سیاسي، علمي، فرهنګي، دیني یا حقوقي کې استعداد او وړتیا درلوده، ددې ټولو حوزو او چارو د سمبالنې وړتیا یې درلوده.

امام خمیني (ره) سیاست له دینه نه بېلېدونکې برخه ګڼله او په دیني او الهي اراده د ظالمانو او زورمټیو پر خلاف راپاڅېد.

راحل امام د ټولنې په ټولو ټولنیزو او سیاسي کچو کې، اسلام د ټاکونکي لامل په نامه په انقلابي بدلونونو او د انساني لوړو ارزښتونو ملاتړ مطرح کړ.

. . . . امام تل د انسان او خدای ترمنځ پر نه شلېدونکې اړیکې ټینګار درلود؛ هغه ځوانان د انرژۍ او عقل د ستر زېرمو په نامه له رښتین اسلام سره پیوند کړل او له کړلارۍ یې وساتل.

له نړیوال اړخه د امام خمیني (ره)فکر او اندیشه په ټوله اسلامي نړۍ کې خپور شو او له امریکا او اسرائیل سره یې د اسلامي نړۍ ګرېوان ته د لاس اچونکیو ستونزې په نامه، مبارزې ته راپاڅېد او جوته یې کړه، چې اسلامي انقلاب د روسیې او فرانسې له توکیزو یا مادي انقلابونو سره خورا توپیر لري.

امام خمیني (ره) د اسلام له تلپاتې او همېشنیو ښوونو په لاروۍ، بې د ټولنیز موقعیت په پامنیوي، د ټولو انسانانو برابری په پام کې ونیوه او سوله، برابري او د ولس هوساینه یې خپله موخه وټاکله. )) (۵۱)

*شفکو عمر بشیچ د کرواسي مفتي له ایرنا سره د مرکې پر مهال: ((امام خمیني (ره) په اسلامي نړۍ او ټوله نړۍ کې له ځانګړي درناوي برخمن دی او د هغه اندیشه او تفکر نه یوازې د مسلمانانو د ویښتیا لامل شو؛ بلکې د نورو ادیانو لارویان یې هم د ټولنې په جوړښت کې د دین ارزښتناکې ونډې ته متوجه کړل.

د امام خمیني (ره) انقلاب د تاریخ په یو داسې پېر کې ترسره شو، چې په ټولنه کې د دین د عدم کارآیي تفکر واکمن و؛ خو د ایران اسلامي انقلاب په دې اندیشه د بطلان کرښه راکښله.

. . . . د امام خمیني (ره) له رحلته د څو کالو په تېرېدو موږ شاهد یو، چې د هغه افکار او اندیشې اوس هم په نړۍ کې خورا پلویان او لارویان لري او د ټولو ادیانو لارویان باید ددې پېړۍ تر ټولو ستر مصلح او سمونپال؛ یعنې د امام خمیني (ره) قدردان وي. )) (۵۲)

*راویل عین الدین د روسیې د مسلمانانو ستر مفتي او د مسکو امام جمعه له ایرنا سره د مرکې پر مهال: ((د امام خمیني (ره) تفکراتو او اندیشو په اسلامي نړۍ کې خورا ستر بدلونونه رامنځ ته کړل. امام په خپلو افکارو او اندیشه موږ ته خبر راکړ، چې هر هغه نظام په پوپناه کېدو او له منځه تلو محکوم دی، چې په معنویت تکیه و نه لري. ))

راویل عین الدین په دې مرکه کې امام خمیني (ره) د ستر فقیه په نامه یاد کړ، چې خپل ټول ژوند یې د اسلام سرلوړۍ او عظمت ته بښلی و.

د مسکو د امام جمعې د وینا له مخې، د امام خمیني (ره) افکار د ټولې نړۍ د مسلمانانو او له هغې جملې څخه د روسیې مسلمانانو ته الهام بښاندي وو او همداسې به د تاریخ په ترڅ کې مسلمانانو ته لارښوونکي وي.

هغه د امام د آثارو پر تدوین له ټینګار سره وویل: (( څومره یې چې آثار خپاره شي، بیا به هم د اسلام او مسلمانانو ددې ستر فقیه چوپړتیاوو او خدمتونو ته پاتې راغلي یو. ))

د روسیې ستر مفتي، امام خمیني (ره) له استکبار او بنده د مسلمانانو د ازادۍ منادي وګاڼه، چې ټولو مسلمانانو ته یې د اسلام په واقعي بهیر کې د تګ لارښوونه وکړه.

هغه وویل: (( د امام په قیام، د استبکار او غربپالۍ بوتان، چې د ولسونو ټولنیز او اقتصادي امنیت یې له منځه وړه او فساد یې تبلیغاوه، مات کړ. ))

راویل عین الدین د شوروي اتحاد روستي ولسمشر ګورباچوف ته د امام پیغام، سپارښتنې او تذکرات، د پیغمبر په څېر وګڼلې، چې پکې په روښانه د ټولو چارو وړاندوینه او د ستونزو د هواري لار ښوول شوې وه.

د راویل عین الدین د وینا له مخې: امام په دې پیغام اوسپارښتنو کې د کمونزم له برزخه تر وتو روسته د پانګوالۍ او سرمایه دارۍ او غربپالۍ دوزخ ته د ورغورځېدو خبر هم ورکړی و.

هغه وويل: د روسيې مسلمانان تل د امام خميني (ره) د آثارو او فکر درناوی کوي؛ ځکه گروهمن دي، چې ددې افکارو پايله د اسلام بيا راژوندي کېدل وو او لوړ اسلامي ارزښتونو ته يې ځلا ورکړه. )) (۵۳)

* شيخ منير المصري د اسپانيا په پلازمېنه مادريد کې د مسلمانانو د تر ټولو ستر جومات امام جماعت له ايرنا سره د مرکې پر مهال: ((امام خميني (ره) په اسلامي نړۍ کې نادر شخصيت و، چې د هدايت او د فکرونو د روښانولو لپاره له خورا وړتياوو، وسمنيو او ځواکمنيو برخمن و.

. . . . . امام خميني (ره) وکولای شول، چې مذهبي او اعتقادي احساسات خپاره او پياوړي کړي او اقداماتو او هلو ځلو يې جوت کړل، چې يوازې همدا لامل کولای شي، چې په وگړيو کې بدلون رامنځ ته کړي. )) (۵٤)

*عماد العلمي په سوريه کې د حماس خوځښت د سياسي نمايندگۍ غړی، له ايرنا سره د مرکې پر مهال: ((د امام خميني (ره) په مشرۍ د اسلامي انقلاب بري وکولای شول عرب او اسلامي ولس ته اعتماد په نفس ورکړي.

د ايران د اسلامي انقلاب د بري په برکت، په مسلمانانو کې انقلابي روحيه راولاړه شوه او سره له دې، چې د اسلامي انقلاب له بري خورا وخت تېر شوی؛ خو دې روحيې په ولسونو کې جرړه غځولې ده. )) (۵۵)

* "اسرافيل اسرافيل اف "په جمهوري اذربايجان کې د "نظامي گنجوي" د ادبياتو د ميوزيم مشر له ايرنا سره د مرکې پر مهال: (( د شلمې پېړۍ په شخصيتونو کې امام خميني (ره) تر ټولو غوره شخصيت و.

امام خميني (ره) د يو ستر نړيوال شخصيت په نامه؛ نه يوازې د جمهوري اسلامي ايران لپاره؛ بلکې د ټولې نړۍ او نړيوالو لپاره مطرح و.

. . . . حال داچې د ايران اسلامي انقلاب د خپل عمر شلم پسرلی تېروي؛ خو په هر اړخيز ډول د جمهوري اسلامي د بنسټگر فکرونه او موخې اوس ځرگندې او روښانه تر سترگو کيږي.

بېشکه د جمهوري اسلامي بنسټگر په خپل کوټلي خوځښت د شلمې پېړۍ لپاره يوه ستره پېښه راپېښه کړه او اوس دا خوځښت د ايران له بريدونو هاخوا د آزادي غواړيو خوځښتونو د راپيدا کېدو لامل شوی دی. )) (۵٦)

*دکتر چاندرا مظفر، د پوهنتون استاد او د "نړۍ له عدالت سره" د نړیوال سازمان مشر او او مالیزیا د "عدالت حزب" معاون: ((امام خمیني (ره) په یوه داسې ټولنه کې د معنوي او اخلاقي ارزښتونو څېره راڅرګنده کړه، چې توکیزپالي او ماده ګرایي یې یوه نه بېلېدونکې برخه وه.
امام خمیني (ره) به د شلمې پېړۍ د ستر مشرتابه په نامه یادېږي؛ ځکه هغه ړومبی مشر و، چې په دې پېړۍ کې د یو ستر دیني انقلاب او پاڅون بنسټګر و.
. . . . امام خمیني (ره) خور ستر مشر و، چې په خپلو هلو ځلو او غورځو پرځو یې په اسلامي نړۍ کې خورا ستره ونډه درلوده. )) (۵۷)
*جویالیان زاپاتا د کلمبیا د اسلامي فرهنګ مشر، لیکوال او څېړونکی: (( په شلمه پېړۍ کې درې شخصیوته په نړۍ کې مطرح شول او په ټولو سیاسي ټولنو کې د سیاستوالو پام یې ځان ته راوګرځاوه؛ یو له هغوی ځنې ګاندي و. بل یحیی (د واتیکان د خلکو مشر) او دریم یې حضرت امام خمیني (ره) و. په دې درې مشرانو کې د چا چې ویناوې او روحیات پر خلکو اغېزمن وو؛ امام خمیني و. امام خمیني (ره) مسلمان ازاده مشر و، چې په خپل قیام یې وکولای شول، اسلام د ایران په پراخه هېواد کې ځای پر ځای کړي او په نړۍ کې یې اسلام ته اړتیا بیا راژوندۍ کړه. امام خمیني (ره) د اسلام تر سیوري لاندې او په تدبیر او درایت وکولای شول، چې د نورو مشرانو لپاره بېلګه شي. )) (۵۸)
*مېرمن مهرالنساء، شاعره، ادیبه او د تاجکستان د کورنۍ او مېرمنو د ټولنې غړې: ((د اسلامي انقلاب یوه ځانګړې ځانګړنه د الهي اډانې په نامه د امام خمیني (ره) مشري وه. امام خمیني (ره) د بشري تاریخ یو ستر او تلپاتې شخصیت دی، چې ځانګړې انساني، الهي، ملکوتي او انساني ځانګړنې یې درلودې. دا الهي شخصیت په ټوله نړۍ کې په هغه ځای کې، چې کوم زړه د میني او حقیقت لېواله وي، شته او د تل لپاره ژوندی دی.
ټوله اسلامي نړۍ او مستضعفین د داسې مشر په شتون ویاړي او پرون د هغه لاس ښکلول او نن یې د حرم د خاورو ښکلول هغه هیله ده، چې د نړۍ ډېری مسلمانان یې په زړه لري او تل یې زمزمه کوي. د نړۍ د مسلمانانو سترګې د ایران د مسلمانانو لاسونو او ګامونو ته دي او خدای دا توفیق زموږ ایراني خویندو ورونو ته ورکړی دی او ان شاء الله، چې ددې توفیق درناوی به کوي او یوه شېبه به هم د امام خمیني (ره) له یاد او لارې غافل نشي.
ګورباچوف ته په پیغام یې موږ ته دیني او الهي شخصیت راښکاره کېږي. دا پیغام د دواړو هېوادونو په تاریخ او په معاصر تاریخ کې پاتې کېدونکی دی او د دواړو هېوادونو په تاریخ

کې د عطف یو ټکی دی. امام خمیني (ره) یو روحاني او عرفاني شخصیت و؛ هغه هستۍ ته هم په همدې لید کتل او یوازې همدا لید دی، چې معاصر انسان داسې دیني کړنلار او اسلامپالۍ ته اړباسي.

معاصرې نړۍ، د امام خمیني (ره) شخصیت په دې پیغام کې موندلی دی. د هغه لوړ او اسماني روح یې د ستایلو وړ دی. دې پیغام په هغه پېر کې د شوروي تر واکمنۍ لاندې ټول جمهوریتونه اغېزمن کړل. موږ هېڅکله فکر نه کاوه، چې د اذان روح ښاندي غږونه به له جوماتونو واورو او امام خمیني (ره) د یوې داسې نېکمرغۍ زېری ورکړی و. )) (۵۹)

*سید صدرالدین، معاصر الجزایری متفکر او پوه: ((امام خمیني (ره) یو استثنایي شخصیت و. دا انسان مسلمانانو ته د خدای ډالۍ وه تر څو وکولای شي، چې په اسلام کې خپل بهیر تصحیح کړي.

امام خمیني (ره) اسلام د جومات له گوټه راوایست او خلکو ته یې د یو داسې بهیر لارښوونه وکړه، چې وکولای شي اسلام د ژوند دود په نامه پلي کړي. امام خمیني (ره) و، چې دا جرات یې مسلمانانو ته ورکړ، تر څو وکولای شي اسلام نورو ته وروړاندې کړي. اوس مسلمانان په خپلې مسلمانۍ ویاړي؛ حال داچې تر امام خمیني (ره) مخکې چا مړانه نه درلوده، چې خپله مسلماني څرگنده کړي؛ هغوی نن په اسلام د ځواکمنۍ احساس کوي. دا یوازې امام خمیني (ره) و، چې موږ ته یې حقیقي اسلام راوښود او اوس په کوم شناخت، چې امام خلکو ته ورکړی دی، خلک کولای شي، چې د واقعي اسلام؛ لکه څنگه چې امام وایه، نږه محمدي (ص) اسلام او امریکایي اسلام سره توپیر کړای شي.

د امام خمیني په راښکاره کېدو د مسلمانانو لپاره یو جدي پېر پیل شو، چې د امام خمیني (ره)تر راښکاره کېدو د مخه خورا جدي و. تر امام خمیني (ره) مخکې خلکو گوندي او ملي لېوالیتاوې درلودې؛ حال داچې امام خمیني (ره) دا فکر او ایده وویله، چې اسلام تردې ستر دی، چې یو گوند یا ځانگړي ملیت ته محدود کړای شي او په همدې فکر دي، چې اسلامي خوځښتونو د گوند یا د ځانگړي ملیت له طرحې نړیواله بڼه موندلې ده؛ هغه خوځښتونه، چې په ډېری ځایونو که له ورته او مشابهو کړنلارو او شعارونو برخمن دي. )) (٦٠)

*استاد جمعه علي خان د قیزقیزستان د فرهنگ وزارت معین: ((امام خمیني (ره) زموږ د پېړۍ روسته ښکارنده ده؛ یعنې کټ مټ په داسې حال کې چې امریکا او شوروي نړۍ سره په دووسترو قطبونو ایشلې وه او د یو قدرت خطر یې هم نه احساساوه، امام خمیني (ره) راښکاره

شو او دا له جراته یو ډک خوځښت دی. د حیرانتیا خبره خو داده، چې هغه ته هر ملت درناوی لري او د هغه په همدې تېزهوشۍ او نبوغ وو، چې و یې کولای شول، چې په اوسنۍ نړۍ دومره اغېز وکړي.
امام خمیني (ره) مقتدره او دوراندیشه مشر، سپېڅلي انسان، د روڼ او پاک باطن خاوند و، چې غني طبیعت یې درلود. زما په آند د هغه رهبري او لارښوونې څه د اسلامي ولسونو په برخه کې او څه د نړیوالو ستونزو په برخه کې یوه الهي ډالۍ یوه. د هغه د انسانانو باطن ته پام و او انسان په خورا ساده ژبه، هغې ازلي او له خپلې مبداء سره اړیکې ته رابولي، چې دا په خپله یوه غایي موخه ده. د ژوند د معنی او تمدن روستۍ موخه همدا مطلب دی؛ هغه دې ټکي ته ځانګړی پام درلود او ټول انسانان یې په همدې کچه؛ یعنې په انسانتوب ارزوي، چې دا په ټولو شرایطو کې ارزښتمن دی او زه فکر کوم، چې د اسلامي انقلاب د ټولو بریو او لاس ته راوړنو پټه او راز په همدې کې نغښتی دی. دا یو واقعیت دی، چې هر مشر، چې د مبارزو په ډګر کې وي، د ستونزو په کندو کې غوپې وهي؛ امام خمیني (ره) سم بهیر وټاکه او دا نوره په راتلونکیو پوره اړه لري، چې تر پایلې ورکولو پورې ورپسې ولاړ شي. )) (٦١)
*حسن الباش مشهور فلسطینی متفکر او د "فلسطین جهاد اسلام" غړی له ایرنا سره د مرکې پر مهال: ((امام خمیني (ره) په خپل انقلاب او پاڅون جوت کړل، چې اسلام یو حقیقي ځواک دی، چې و یې کولای شول، چې مسلمانانو ته عزت وروبښي.
اسلامي نړۍ له ۱۹۷۹ کاله مخکې د هویت له نشتونه کړېده؛ خو امام خمیني (ره) وکولای شول، چې په خپل انقلاب په خلکو، هویت او شخصیت کې یې ستر بدلونونه رامنځ ته کړي؛ داسې چې نن مسلمانان په خورا ویاړ په خپلې مسلمانۍ ویاړي.
د اسلامي انقلاب تر بري روسته ډېری ولسونه؛ لکه فلسطین، الجزایر، د منځنۍ آسیا هېوادونه او د شرقي آسیا هېوادونه د امام خمیني (ره) له تفکراتو اغېزمن او برخمن شول. )) (٦١)
*مېرمن نسیم والجي د کینیا د مېرمنو د کمېټې غړې او د "الکوثر" او د "هدایت لار" د مجلو سردبیره: ((پر خدای چې د امام خمیني (ره)، ددې اوسنۍ پېړۍ د ستر شخصیت په اړه ددې جهالت په پېر کې په بشپړه توګه خبرې نه شو کولای. حقیقتاً امام هغه شخصیت دی، چې هر څه یې وکړل، د خدای په لار کې وو. )) (٦٣)
*مېرمن نورای جانان بزیرګان د ترکیې د استانبول پوهنتون محصله: ((که مې و نه کړوي؛ نو و به وایم، چې له امام خمیني (ره) سره مینه لرم؛ خو آتاتورک مې بدې ایسي. )) (٦٤)

## د اسلامي هېوادونو مشران

*پروفسور استاد برهان الدين رباني د افغانستان پخوانی ولسمشر: ((لکه څنګه چې په صدر اسلام کې حضرت محمد صلی الله عليه و آله وسلم د هغه وخت پر سترو ځواکونو د مسلمانانو د بري زېری ورکاوه او چا پرې باور نه کاوه؛ حضرت امام خميني (ره) له خپلو لږو يارانو سره قيام او پاڅون پيل کړ او د غرب او شرق د سترو ځواکونو پر وړاندې يې بری وموند. )) (٦٥)

*علي حسين موسوويني د متحده تانزانيا ولسمشر: ((امام خميني (ره) د ايران د اسلامي انقلاب معمار او ځانګړنه وه، چې پر کبرجنو يې د مستضعفانو بری او ځواک جوت کړ. دې انقلاب د ايران اصالت او سرچينې يې د يو سم سياسي، اقتصادي، فرهنګي او عادلانه نظام د رامنځ ته کولو لپاره بسيج کړل، دې انقلاب خپل ځواک د آفريقا د آزادۍ او په نړۍ کې له ظلم او تېري سره د مبارزه پر خلاف وکاراوه. )) (٦٦)

* مېرمن بي نظير بټو د پاکستان فقيده صدراعظمه: (( د امام خميني (ره)په څېر مشران يوازې يو ځل په يوه پېړۍ کې زېږي. د ايران اسلامي انقلاب له امام خميني (ره) څخه الهام او مشري اخسته او نه يوازې په ايراني ټولنه کې؛ بلکې په ټوله اسلامي نړۍ کې يې يو بنسټيز بدلون رامنځ ته کړ او د امت اعتقاد يې د اسلام په تلپاتې پيغام راژوندی کړ.
د ايران اسلامي جمهوريت موږ ته خورا ارزښت لري. د امام خميني (ره) پيغامونه په راتلونکې کې هم د مسلمانانو د هدايت څراغونه دي او راتلونکي ولسونه به هم د امام خميني (ره) له سترو او سپېڅليو رڼو افکارو نه ګټنه کوي؛ زه ايران خپل هېواد ګڼم؛ لکه څنګه چې مسلمان پاکستان هم د ايرانيانو هېواد دی. هېڅ څه تردې موږ ډېر نه خوشخالوي، چې ايران په سيمه کې د بريالي او ځواکمن هېواد په نامه مطرح وي. )) (٦٨)

* غلام اسحاق خان د پاکستان پخوانی ولسمشر: ((د امام خميني (ره) معنوي ځواک، پوهه او تلپاتې مشري به يې د تل لپاره په تاريخ کې پاتې شي. )) (٦٩)

*-حضرت امام خميني (ره) نه يوازې د ايرانيانو مشر؛ بلکې د ټولو مسلمانانو مشر دی. حضرت امام خميني (ره) د نړۍ د مظلومينو او مستضعفينو د حقوقو د لاس ته راوړو لپاره خورا هلې ځلې وکړې او اسلامي نړۍ يې مديونه ده؛ ځکه اسلام يې راژوندی کړ. )) (٧٠)

*خان بهادر خان د پاکستان د مذهبي چارو وزیر: (( د امام خمیني (ره) په جنازه کې تر ۱۰ میلیونو د زیاتو وګړیو ګډون په تاریخ کې تر ټولو ستر مراسم دي. )) (۷۱)
*صادق المهدي د سوډان پخوانی صدراعظم: ((امام خمیني (ره) او په ایران کې اسلامي انقلاب د عربو او د صهیونزم او امپریالزم پر خلاف د فلسطین ولس مبارزاتي ځواک او جهاد ته نوې دمه او ځواک ورکړ. د ایران ولس پر دین په تکیه پاڅون وکړ و بري ته یې شهیدان شول. هېڅ‌ا په دې هکله ایرانیان تر دباو لاندې نه دي راوړي؛ بلکې هغوی په خپله خوښه اسلام غواړي. ایرانیان تر نورو اسلامي هېوادونو ډېر اسلام ته قرباني ورکوي؛ ځکه اسلام پرې خورا ګران دی.
د ایران د ولس پر دې مېړني او ستر چار خورا ویاړم؛ ځکه د طاغوت واکمني یې راوپرځوله او ایران یې د امریکا د امپریالزم له ولکې رابهر کړ او بیا یې د اسلام غېږې ته راستون کړ؛ په واقع کې د ایران اسلامي انقلاب د اسلام او مسلمان ځوانانو روح تازه کړ او نړیوالو ته یې اسلامي اعتبار وروښود. بلخوا د ایران اسلامي انقلاب وښوول، چې ټول مسلمانان سره یوه ګډه مساله لري او د اسلامي انقلاب تر بري روسته یې پر خپل ټول ځواک د فلسطین او بیت المقدس له آزادۍ ملاتړ وکړ. )) (۷۲)
*عمر البشیر د سوډان جمهور رئیس: (( په دې روستۍ پېړۍ کې جمهوري اسلامي یوازېنی اسلامي دولت دی. د سوډان خلک په خپل هېواد کې د اسلامي احکامو د پلي کېدو غوښتونکي دي او په دې اړه د ایران تجربو ته اړ دی. )) (۷۳)
*شازلي بن جدید د الجزایر پخوانی جمهور رئیس: ((امام خمیني (ره) دې فقید نابغه، خپل ژوند حنیف دین ته وربښلی و. )) (۷٤)
*د سوډان د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر: (( حضرت امام خمیني (ره) نه یوازې د ایران د ولس مشر؛ بلکې د اسلامي نړۍ مشر و. دا ستر شخصیت زموږ په زړونو کې ځای لري او په حقیقت په سوډان کې د اسلامي انقلاب لپاره زموږ مشوق او هڅاندې امام خمیني (ره) و. )) (۷۵)
*جنرال موسی ترائوه، د مالي جمهور رئیس: ((امام خمیني (ره) استثنایي شخصیت و، چې د ایران او اسلامي امت پر معاصر تاریخ یې تلپاتې اغېز کېښود. امام خمیني (ره) د مشرۍ د ټولو فکرونو او ملي خپلواکۍ ښکارندوی دی. )) (۷٦)

*حسین محمد ارشاد د بنګله دیش جمهور رئیس: (( ایران یو ستر مشر له لاسه ورکړ، چې د هغه یاد، لوړ فکرونه او ارزښتمن چوپړونه به یې د ایران د اسلامي جمهوریت په بنسټګرۍ کې پاتې شي. )) (۷۷)
*معمر قذافي د لیبیې مشر: ((امام خمیني (ره) د انقلاب تر ټولو له سترو انبیاوو او د امپریالزم، صهیونیزم او نړیوال استکبار ستر او کلک دښمن و او ښکاره چې نوم به یې د اسلام په تاریخ کې د تل لپاره پاتې شي. )) (۷۸)
*عبدالسلام جلود د لیبیې له مشرانو څخه: ((د ایران اسلامي انقلاب د ټولو اسلامي ولسونو، مستضعفانو او د نړیوال استکبار پر وړاندې د مقاومت او پایدارۍ د رامنځ ته کېدو لامل دی. ایران د اسلام، مسلمانانو او عربو پیاوړی ملاتړ دی.
د نړۍ په ولسونو کې د ایران اسلامي انقلاب او امام خمیني (ره) څکه محبوبیت وموند، چې اسلامي انقلاب او مشرۍ یې له امریکا او ارتجاع سره مبارزه وکړه او د قدس ازادي یې خپله اصلي موخه وټاکله.
د ایران اسلامي انقلاب د ایران د راپرځول شوي شاه پر وړاندې پاڅون نه و؛ بلکې د لسونو او د انقلابي ځواکونو د ویښتیا لامل ګڼل کېږي. )) (۷۹)
* حافظ اسد د سوریې فقید جمهور رئیس وایي: (( د ایران اسلام انقلاب خپلې اړیکې له امپریالیستانو سره پرېکړې او د پردیو پوځې هډې یې له منځه یووړې او د سرلوړۍ پر لوري شول. د صهیونستانو رژیم دومره د ایران له اسلامي انقلابه په وېره کې شو، چې څو ځل یې خپل ارباب؛ امریکا ته ګیله وکړه، چې ولې د ایران د اسلامي انقلاب مخنیوی نشي کړای، چې له اسرائیلو نه به د فلسطین د ازادۍ لامل کېږي. )) (۸۰)
*- (( امام خمیني زموږ د ټولو مشر و. )) (۸۱)
*احمد جبرائیل د فلسطین د آزادۍ لپاره د خلق د ټلوالې مشر وایي: ((د خدای د لارې د لارویانو مړینه شهادت دی او موږ له خپل شهید رهبر سره ژمنه کوو، چې د فلسطین تر آزادۍ پورې به مسلحانه جهاد ته دوام ورکوو. )) (۸۲)
*عمر کرامي د لبنان پخوانی لومړی وزیر وایي: ((په دې حساس وخت کې د د امام خمیني (ره) شتون ډېر برخلیک ساز او ارزښتمن دی، چې ډول ډول خطرونه اسلامي امت ګواښي او د مسلمانانو په له منځه وړو کې د اسرائیلو جنایتونه ورځ په ورځ په زیاتېدو دي. )) (۸۳)
*- موږ همداسې د ایران له اسلامي انقلابه، چې په سیمه کې د امریکا او امپریالزم د پرمختګ په مخ کې ستر خنډ شو، ملاتړ کوو او د ایران د ولس د مقاومت خوځښت د خپلو عربي

آرمانونو تر ټولو غوره ملاتړ ګڼو. په نړۍ کې د اسلامي ويښتيا د امام خميني له امله ده. )) (٨٤)

*ابراهيم بابا نګيه دار د نيجريه جمهور رئيس: (( امام خميني د سولې سمبول او د اسلام لپاره ستر مشر و. )) (٨٥)

*محمد زياد باره د سومالي جمهور رئيس: (( د هغه مړينه د اسلامي امت او ټولې نړۍ لپاره يوه نه جبرانېدونکې ضايعه ده؛ دی به د سترو ځانګړنو او اسلام ته د چوپړونو له امله تل په ذهنونو کې پاتې شي. )) (٨٦)

*کيم ايل سونګ د شمال کوريا جمهور رئيس: (( حضرت آيت الله خميني (ره) د هر ډول زورزياتي، زورځواکۍ او امپرياليزم سره په مقابله کې څرګند او روښانه چوپړونه وکړل. )) (٨٧)

*-د ايران ولس خپل ستر مشر له لاسه ورکړ، چې خپل ټول عمر يې د خپل ملت په چوپړ کې تېر کړی دی او هغه سرلوړۍ او وياړنې به د تل لپاره پاتې شي، چې هغه دې فقيد مشر خپل ولس او جمهوري اسلامي ته پرېښې دي. )) (٨٨)

*سام نجوا د سواپو مشر وايي: (( موږ د خپل وخت يو له سترو مشرانو څنې له لاسه ورکړ. )) (٨٩)

*جنرال دکتر ژوزف سايدومامو د سيرالئون جمهور رئيس: (( د امام خميني په وفات او مړينه بشريت تاوان وکړ او په همدې دليل ټوله ورپسې غمجنه ده. )) (٩٠)

*اريش هونيکر د شرقي آلمان جمهور رئيس: (( د امام خميني نوم به تل له هغه نوي فصل سره پاتې شي، چې هغه د ايران په تاريخ کې رامنځ ته کړ. )) (٩١)

*ډګروال بليز کمپائوره د بوورکينا فاسو جمهور رئيس: (( امام خميني په اصولو ګروهمن سړی و، چې له امپرياليزم او هر ډول زورځواکۍ سره يې په هر ډول مبارزې او مقاومت زموږ په عصر او وخت اغېز وکړ. )) (٩٢)

*د يوګانډا پخوانی جمهور رئيس وايي: (( آيت الله خميني ستر روحاني مشر و، چې نه يوازې د ايران مسلمانانو؛ بلکې ټولې نړۍ ترې الهام اخسته. ))

*-جيمي کارتر د امريکا د متحده ايالاتو پخوانی ولسمشر وايي: ((آيت الله خميني په خپل هېواد کې د يو ستر مېړني په نامه پېژندل کېږي. ))

*-ګورباچوف د پخواني شوروي مشر وايي: (( آيت الله خمينی وکړای شول، چې په نوي تاريخ ستره اغېزه وکړي. ))

*- ((فيدل کاسترو د کوبا انقلابي مشر وايي: د پخواني شوروي تر شيندل کېدو روسته، گورباچوف ته د آيت الله خميني پر سپارښتنو مې سر خلاص شو او گروهمن يم، چې د ايران د فقيد مشر قرآني ماډل بايد د لويديځو ماډولونو پر ځای د نړيووالو لپاره کړلار شي. هغه څه چې په ايران کې راپېښ شول يو واقعي ولسي پاڅون و، دا پاڅون د ستر ځواک خاوند هم دی او په کار ده، چې مونږ ترې خپل ملاتړ اعلان کړو. ))

*-نلسون ماندېلا د جنوبي افريقا پخوانی ولسمشر وايي: (( امام خميني يوازې د ايران لپاره ستر مشر نه و؛ بلکې د ټولو ازادي غواړيو خوځښتونو لپاره مشر او لارښود شمېرل کېده. . . . دا راته ستر وياړ و، چې د دويم ځل لپاره د امام خميني مقبرې ته راشم او خپل درناوی ورووړاندې کړم . ))

معمر قذافي د ليبي مشر وايي: (( په نوې نړۍ کې د ايران اسلامي انقلاب يو ولسي او مترقي انقلاب دی او د نړۍ ټولو مسلمانانو ورپورې خپلې هيلې تړلې دي. د ايران اسلامي انقلاب د اسلام واقعي څېره خلکو ته وښووه. ))

*-احمد بن بلا د الجزاير د خپلواکۍ تر لاسه کولو روسته لومړی ولسمشر و، چې وايي: (( بې ځايه نه ده، چې د ايران اسلامي انقلاب د هغو دولتونو په زړونو کې وېره اچولې، چې زمونږ تېل لوټي. ))

*-ژوليوس نايره د تانزانيا جمهور رئيس: (( د ايران اسلامي انقلاب نړيوالې معادلې گډې وډې کړې. . . . د ايران اسلامي انقلاب خورا اصيل او ولسي پاڅون دی. مونږ دې انقلاب ته پر خورا درناوي او ارزښت قايل يو. ايران هم پياوړی دی او هم د نړۍ خورا غيرمتعهد هېواد دی. ))

*-حبيب شطّي د اسلامي کنفرانس پخوانی سرمنشي وايي: (( د ايران اسلامي انقلاب ددې پېړۍ يوه خورا مهمه پېښه ده او ټولو ته يې وښوول، چې اسلام څومره ځواکمن دی او د ايران اسلامي انقلاب وکړای شول، چې د نړۍ يو خوراپياوړی رژيم له پښو وغورځوي . ))

*-محمد مهدي شمس د لبنان دشيعه وو د مجلس معاون: (( د ايران اسلامي انقلاب ددې پېړۍ معجزه وه او مونږ ته يې خورا ستره زده کړه راکړه او هغه داچې په يووالي هر کار کړای شو. ))

*-عبدالحليم خدام د سوريه د بهرنيو چارو وزير وايي: (( د ايران اسلامي انقلاب نه يوازې د ايران لپاره؛ بلکې د ټولې سيمې او نړۍ لپاره ستر انقلاب و. ))

*-سرتاج عزیز د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر وایي: (( د امام خمنیی اسلامي انقلاب نه یوازې د ایران لپاره ستر تحول او بدلون و؛ بلکې په ټوله نړۍ کې ستر بدلون او تحول و. ))
*-عبدالحمید اجل په ایران کې د الجزایر سفیر وایي: (( الجزایر د ایران پر اسلامي انقلاب ویاړي. ))
*منګیستو هایله ماریام د اتیوپي پخواني جمهور رئیس وایي: (( امام خمیني د ایران هغه شاه راوپرځاوه، چې ایرانی ولس یې د استعمار، استضعاف او امپریالزم تر واک لاندې کړی و، ایران یې پر خپل برخلیک واکمن کړ او ددې ولس د تاریخ یو نوی څپرکی یې پیل کړ. )) (۹٤)
*رابرت موګابه د زیمباوه جمهور رئیس وایي: (( امام خمیني (ره) هغه شخصیت دی، چې د ایران ولس ته یې د دنیا په یو تر ټولو غوره انقلابونو په بهیر کې لارښوونه وکړه؛ هغسې انقلاب، چې نړۍ لا تر اوسه نه دی لیدلی. )) (۹۵)
*پر غنا د لنډمهالي شورا رئیس وایي: (( د امام خمیني وفات او مړینه د دریمې نړۍ د ټولو وګړیو لپاره ستره او نه جبرانېدونکې ضایعه ده، چې د استعمار او زورځواکۍ پر خلاف د هغه له مبارزې یې الهام اخسته. زه ډاډمن یم، چې هغه روح به هېڅکله له منځه ولاړ نشي، چې امام خمیني د خپلې رهبرۍ پر مهال د میلیونو وګړیو په زړونو او ذهنونو کې پو کړی و. )) (۹٦)
*کنت کائوندا د زامبیا جمهور رئیس: (( موږ د امام خمیني د رحلت له امله ویر ته ناست یو؛ ځکه هغه له خپلو همنوعانو سره مینه درلوده. د امام خمیني د رحلت په خاطر ویرجن یو؛ ځکه د هغه انقلاب یو روحاني او معنوي انقلاب و. )) (۹۷)
*د ګینه جمهور رئیس وایي: ((امام خمیني (ره)؛ دې د نړۍ تر ټولو ستر شخصیت خپل ژوند د مسلمانانو د بری او ټولنیز عدالت د پلي کولو لپاره په مبارزه او جهاد کې تېر کړ. )) (۹۸)
* نلسون ماندېلا د جنوبي افریقا جمهور رئیس: (( د امام خمیني منحصر به فرده مشري وه، چې په تش لاس یې د ایران اسلامي انقلاب بریالی کړ.
هغه له پاریس نه تهران ته د امام خمیني (ره) هجرت د سترې تاریخي پېښې په نامه یادوي وایي: (( ما په خورا ځیرنه هغه حساسې ورځې څارلې. )) (۹۹)
*د ایران د پخواني شاه په رژیم کې د اسرائیلو سفیر وایي: (( خمیني د افراطي شیعه ګرۍ ښوونکی و، چې متعصبانه اسلام یې زموږ تر پولو راووړ، چې له اسلامه دا ډول تلقي به ژر له منځه ولاړه نشي. )) (۱۰۱)

*هنري پرشت د ایران په پخواني شاهنشاهي رژیم کې د امریکا د متحده ایالاتو یو ډیپلومات وایي: (( شک نشته، چې آیت الله خمیني ددې پېړۍ د تاریخ یو ستر شخصیت و او ډېر داسې کسان پیدا کېږي، چې د هغه په شان په نړۍ او ایران کې د هغه په شان جاذبه او نفوذ ولري او دومره د نړۍ د ځواکونو پام ځان ته راواړوي او په اند مې، چې یوه ورځ به تاریخپوهان وښیي، چې آیت الله خمیني داسې یو شخصیت و، چې شخصیت یې په سمه توګه درک شوی نه دی. )) (۱۰۲)

*-هنري پرشت د ایران په پخواني شاهنشاهي رژیم کې د امریکا د متحده ایالاتو یو ډیپلومات وایي: شک نشته، چې آیت الله خمیني ددې پېړۍ د تاریخ یو ستر شخصیت و او ډېر داسې کسان پیدا کېږي، چې د هغه په شان په نړۍ او ایران کې د هغه په شان جاذبه او نفوذ ولري او دومره د نړۍ د ځواکونو پام ځان ته راواړوي او په اند مې، چې یوه ورځ به تاریخپوهان وښیي، چې آیت الله خمیني داسې یو شخصیت و، چې شخصیت یې په سمه توګه درک شوی نه دی.

## د نړۍ رسنۍ

* کلن راډیو: (( بېشکه د امام خمیني (ره)نوم به د نړۍ د تاریخ په هغه سرپو کې ثبت شي، چې د شلمې پېړۍ سیاسي واقعیت ته یې بدلون ورکړ. هغه په لومړۍ درجه کې یو داسې شخصیت و، چې د اسلام د اصولو لاروی و او یو داسې مذهبي مبارز، چې د خپلو عقایدو پر سر مصالحې او معاملې ته چمتو نه و او همدې ځانګړنې یې ټولو هغه وګړیو ته په زړه پورې او جاذب شخصیت کړ، چې د اسلامپالۍ په څپو کې په هغه هویت پسې ګرځېدل، چې قرآني جرړه یې درلوده. )) (۱۰۳)
* د لندن راډیو: (( آیت الله خمیني د هغه انقلاب مشري وکړه، چې نړۍ یې ولړزوله. )) (۱۰٤)

* بي بي سي: (( امام خمیني په منځني ختیځ کې په دې روستۍ پېړۍ کې تر ټولو ځواکمن مشر و؛ هغه په ټوله نړۍ کې د بسنتپالو لخوا د یو معنوي انقلاب د مشر په نامه د درناوي او ستاینې وړ و؛ خو ډېرى هغه کسانو، چې په غرب کې یې هغه ته د یو خطرناک عارف په سترګه لیدل، چې د اسلامي نړۍ د خپرېدو په هیله کې دی. په واقع کې اسلامي انقلاب یوه تازه واژه ده، چې له آیت الله خمیني سره یې مفهوم وموند. )) (۱۰۵)
*د امریکا دولتي راډیو: (( په تېرو لسو کلونو کې آیت الله خمیني (ره) څو څو ځل امریکا له بېوسۍ سره مخ کړه او په دې اړه یې امریکا ته زده کړه ورکړه او د امریکا جمهور رئیس یې له نهیلۍ سره مخ کړ. )) (۱۰٦)
*د آمریکا فارسي راډیو: (( په هر څه کې د آیت الله خمیني خبره د کاڼي کرښه وه. راتلونکې، چې هر څه وي؛ خو په یوه خبره کې تردید نشته او هغه داچې په ایران او نړیوالو چارو کې د امام خمیني اغېزې به تر کلونو کلونو پر ځای پاتې وي. )) (۱۰۷)
*د ناروی راډیو: (( آیت الله خمیني هغه شخصیت و، چې په دې لس کالو کې یې څو څو ځل د امریکا سپکاوی وکړ او امریکا یې بې پته کړه. )) (۱۰۸)
*د فرانسې خبري آژانس: (( امام خمیني یو له هغو محدودو انقلابي مشرانو څنې و، چې خدای ورته دا نعمت ورکړی و، چې نظریات یې په تاریخ کې ولیکل شي. )) (۱۰۹)
*لبنانۍ السفیر ورځپاڼه: (( امام خمیني (ره) د معاصرې پېړۍ روستی تاریخ ساز و، چې د غرب د واکمنۍ افسانه یې تر پښو لاندې کړه او د انقلابي اتحاد په رامنځ ته کولویې یو نوی

عصر او پېر رامنځ ته کړ او له دې فاني دنیا به یې ابدي دنیا تګ، د خمیني عصر پای ته و نه رسوي. )) (۱۱۰)
*آنسا خبري آژانس: ((امام خمیني د اسلام د راژوندي کېدو بنسټګر، موسس او اصلي پلي کوونکی و، چې د سیاست اصلي بنسټ یې مذهبي عقیده ګڼله. )) (۱۱۱)
*د آلمان د اشپېګل مجله: (( له امام خمیني (ره) څخه ددې دومره سراسري ملاتړ راز یې بې تجمله ژوند و او دا یوازې امام خمیني (ره) و، چې ان د دښمنانو په اعتراف یې په خپل ټول عمر کې یوه له تواضع سره او بې له لر هر ډول دنیوي تمایلاتو او تجملاتو ژوند درلود او په ژوند کې یې یو تور ټکی هم نه لیدل کېږي. آیت الله خمیني د خپلې لس کلنې واکمنۍ پر مهال وکولای شول هر څه په حرکت راوړي او سره له دې، چې تر هغه مخکې هم اسلامي بنسټپالي وه؛ هغه وکولای شول، چې دا اسلامي بنسټپالي له مراکشه تر اندونیزیا پر یوه سیاسي انقلابي ځواک بدله کړي، چې ماده پال او غیر روحاني رژیم تر دباو لاندې کړي او په فارس خلیج کې د تیلو او ریاکار واکمنانو په زړه لړزه واچوي.
تېرو پېښو ته کتنه ښیي، چې روښانه ومومو، چې آیت الله خمیني د منځني ختیځ په سیاسي معادلاتو کې د ایران موقعیت او د استراتیژیکي اهمیت تر ولسمشر کارتر غوره ارزونه کړې وه. امریکا توجه نه وه کړې، چې ایران یې بالقوه د بین المللي امنیت سستم د کمزورۍ ټکی دی. په تهران کې یې د انقلاب بری یوازې ددې انقلابي څپې یو پیل و او هغه هیلمن دی، چې ټولې سیمې ته به خپور شي. کارتر او سلاکارانو یې د خمیني ښکارنده په یوه ملي دریافت په پام کې نیولې وه او تر دې روسته مسلمه ده، چې له مصر او اسرائیل نه نیولې تر سعودي عربستان، عراق، امارات او فارس خلیج باید د ایران د انقلاب پیامدونه وزغمي. )) (۱۱۲)
* روزنامه پولتیکا د بلګراد چاپ: (( امام خمیني (ره) په سکوت کې خبرې کولې؛ خو غږ یې د نړۍ په لریو لریو سیمو کې واورېدل شو. . . . امام خورا ساده ژوند وکړ او هېڅ د تجمل آثار یې په ژوند کې نه لیدل کېدل. )) (۱۱۳)
* انګلیسي اینډپینډنټ ورځپاڼه: (( ډېر کم راپېښېږي، چې یوازې یو تن وکولای شي، چې د تاریخ بهیر بدل کړي او کټ مټ دا هماغه چار و، چې آیت الله خمیني وکولای شو. ومړ هغه سړی، چې د تاریخ بهیر یې بدل کړی دی او هغه بدلونونه به له منځه ولاړ نشي، چې هغه په انقلابي سیاستونو کې رامنځ ته کړي دي. )) (۱۱٤)

* د لبناني "النداء" ورځپاڼې تحريريه هئيت: (( د امام خميني په مړينه مو هغه مشر له لاسه ورکړ، چې د امريکا د امپرياليزم پوزه يې پر خاورو وموږله. )) (۱۱۵)
* "پټريوټ" په ډهلي کې انګليسي ورځپاڼه: (( امام خميني يوه داسې څېره پېژندل شوې، چې له غرب سره يې مقابله وکړه، واقعي اسلام يې راژوندی کړ او له جهانخوارانو سره هېڅ ډول معاملې ته چمتو نه و. )) (۱۱۶)
*د پاکستان "جنګ"ورځپاڼه: ((امام د نړۍ د مسلمانانو د يووالي بېرغچي و. )) (۱۱۷)
*د کراچۍ "امن" ورځپاڼه: (( د اسلام او حق ستر بېرغچي باقي او ابدي نړۍ ته ولاړ؛ خو د اسلام په بيا راژوندي کولو کې به يې بېلابېلو اړخونو کې ونډه په تاريخ کې تلپاتې وي. )) (۱۱۸)
*د ترکيې د "ګازتر ملي ورځپاڼه": امام خميني (ره) د اسلام د عزت ښکاروندی و. موږ د هغه ستر شخصيت په څېره کې د اسلام عزت او د مؤمنو وقار ته په نندارہ وو. هغه په هغه وخت کې، چې خورا مادي امکانات يې په لاس کې وو، هېڅکله يې د خپل مادي ژوند څېره بدله نه کړه. . . امام خميني (ره) د شهادت ستر ښوونکی و. )) (۱۱۹)
* د ترکيې "ګوش" ورځپاڼه: ((يوولس کاله مخکې هېڅ څوک هم پوه نه شول، چې يو ژوندی بم پاريس ته ننوتی دی. )) (۱۲۰)
* د سوريې "تشرين" ورځپاڼه: (( امام خميني (ره) په خپل امت کې نه دی؛ خو هغه يوه داسې ليکه ترسيم کړه، چې د يو ابدي منشور او تلپاتې انقلاب په نامه د تل لپاره پاتې شي او دا منشور له ظلم، توکمپالۍ، استعمار او صهيونزم پر خلاف دوامداره مبارزه ده. )) (۱۲۱)
*د غربي آلمان "هندلس پلات" نشريه: ((امام خميني (ره) يوه سياسي زلزله رامنځ ته کړه، چې نړۍ يې ځپځپاندې کړه. )) (۱۲۲)
* الکفاح عربي: ((يو تر ټولو ستر شخصيت آيت الله خميني و او د عظمت رمز يې هله تلپاتې او جاويدان شو، چې له نړۍ يې رحلت وکړ، نړۍ له شرق او غربه ورته سترګې په لار وې او هېڅوک د خبرې کولو جرات نه لري، هڅې نه چې د رڼا شعاع يې قبره راووځي او احتمالات ګډوډ کړي. )) (۱۲۳)
* د ناروې "داګبلات" ورځپاڼه: (( امام خميني يو پياوړی شخصيت و، چې په ستونزو کې يې په ارامه هوډ نيوه. ويناوې يې قانون او قانون يې قرآن و. )) (۱۲٤)
* د لندن "آبزرور" هفته نامه: (( امام خميني د پخواني پيغمبرانو په څېر خلک له ديني اصولو لاروۍ ته راوبلل. د نړۍ خلکو ته يې پيغام په عقيده کې خلوص او د غرب د پېچلتيا او

چټلتیا پر وړاندې یې خلک سادګۍ ته رابلل او دا یې د بري راز او د لارویانو د ویاړنې لامل دی. )) (۱۲۵)
*د وین "پروفیل" هفته نامه: (( هر انقلابي مشر، چې د آیت الله خمیني ویناوې خپله کړنلاړ کړي؛ نو و به کولای شي، چې غربي سستم پر اسلامي ټولنه بدله کړي. )) (۱۲٦)
* د ایټالیا " ایل جورنو" ورځپاڼه: (( د اسلامي انقلاب حقیقت او د آیت الله خمیني تفکر خورا ژور دی او غربي نړۍ یې له درکه تر اوسه بېوسه پاتې ده. )) (۱۲۷)
* د اسپانیا "ال پاییس": ((امام خمني همېشه بریالی شخصیت و. )) (۱۲۸)
*د لبنان "السفیر" ورځپاڼه: (( دی سپین ږیري په خپله اراده، د سپینې ماڼۍ واکمنان د شړو د بوجیو او سیمټي سنګرونو تر شا کړل او د شوروي په نظام کې د بدلون خوځښت یې تاند کړ. )) (۱۲۹)
* د جینوا "لاسویس" ورځپاڼه: دې ورځپاڼې په خپله سرمقاله کې کښلي وو: (( میلیون شیعه مسلمانان د آیت الله خمیني د مرګ ویر ته کیناستل؛ خو د ویر پر ځای د هوساینې او آسودګي احساس کوي. )) (۱۳۰)
*الشعیب ورځپاڼه: (( امام خمنیي (ره) د نړۍ د بېوزلیو د دفاع په خاطر د اسلامي ایران له اسمانه د اسرائیلو بېرغ راښکته کړ او د هغه پر ځای یې د لومړي ځل لپاره د فلسطین بیرغ وځړاوه او د ایران شرقي ورونه یې مسلمان افغان مجاهدینو ته پرانستل.
امام خمیني (قدس سره)ګورباچوف اسلام ته راوباله او د سلمان رشدي په څېر د یو مرتد د غرغره کولو او اعدام حکم یې ورکړ او په خپل دې عمل یې داسې چار ترسره کړ، چې تر پیغمبر اکرم او خلفای راشدینو روسته چا نه وکړی.
امام د مسلمانانو په هڅونه، د سازماندهۍ لپاره په اروپا او امریکا کې په سلونو موسسې پرانستې او له دې لارې ددې هېوادونو ډېری خلکو اسلام ومانه او د تاریخ ددې ستر ۸۹ کلن سړي لاس ته راوړنې به په تاریخ کې په طلایي ټکیو ثبت شي.
امام خمیني د انبیاوو پر لار ولاړ، خورا ځان ساتی او پرهېزګار و او د شرق او غرب د تفکر پر وړاندې په مړانه ودرېد او د اسلامي او انبیاوو کړنلارې په خاطر یې خورا هلې ځلې وکړې. امام خمیني په خپل تفکر، اخلاق او کړنلار معاصره نړۍ حیرانه او هېښنده کړه. هغه په خپل یو لیک کې د هغه څه وړاندوینه کړې وه، چې شرق ته به راپېښېږي او ټول هغه څه چې امام خمیني د نړۍ لپاره وړاندوینه کړې وه، راپېښ شول

امام خميني د شرق لپاره يو رسول او بشر ته حقيقي پيغام راوړنکی و. د بشر د خلاصون لپاره د حضرت امام عرفان او تفکر د خدای له الياوو سرچينه اخستې وه. )) (١٣١)
*-د اسوشيتيد پرس اژانس پر ١٣٦٨/٣/١٤ وويل: (( آيت الله خميني يو "شاه" راوپرځاوه، يو ابر قدرت يې حيران کړ او د يووالي او اسلامي ځواک په پيغام يې ټوله نړۍ ولړزوله. ))
*-اينډيپېنډنټ ورځپاڼه پر ١٣٦٨/٣/١٥ ليکي: (( ډېر لږ پېښېږي، چې يو سړی يوازې وکړای شي د تاريخ بهير بدل کړي او دا کټ مټ هماغه چار و، چې آيت الله خميني وکړای شو.))

## پایلیکونه


۱-سفینة البحار، دویم ټوک، ٤٤۲ مخ.
۲-پایگاه اطلاع رساني امام خمیني
(www. imam-khomeini. com)
۳-استاد شهید مرتضی مطهري، نهضتهای اسلامي در صد ساله اخیر، خپرونکی:دفتر انتشارات اسلامي، حمل ۱۳٦۳، جوزا ۱۳٦۹، مخ ۲.
٤- پایگاه اطلاع رساني امام خمیني
(www. imam-khomeini. com)
۵- د رسالت ورځپاڼه، پیک هجران، ۱۳٦۹ جوزا، ۲ مخ.
٦-هماغه، هماغه مخ.
۷- پایگاه اطلاع رساني امام خمیني
۸-د امام خمیني د مرگ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانگړپاڼه، ۱۳٦۸ کال.
۹- د رسالت ورځپاڼه، پیک هجران، ۱۳٦۹ جوزا، ٤٦ مخ.
۱۰- د امام خمیني د مرگ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانگړپاڼه، ۱۳٦۸ کال، ۱۵ مخ.
۱۱- د رسالت ورځپاڼه، پیک هجران، ۱۳٦۹ جوزا، ٤۷ مخ.
۱۷-دري راډیو، ۱۳٦۸ سرطان.
۱۸-هماغه.
۱۹- پیک هجران، ۱۳٦۹ جوزا، ٤۹ مخ.
۲۰- دري راډیو، ۱۳٦۸ سرطان.
۲۱- پیک هجران، ۱۳٦۹ جوزا، ٤۷ مخ.
۲۲- د امام خمیني د مرگ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانگړپاڼه، ۱۳٦۸ کال، ۱۵ مخ.
۲۳-هماغه.
۲٤-هماغه.
۲۵- د رسالت ورځپاڼه، پیک هجران، ۱۳٦۹ جوزا، ۱۵ مخ.

٢٦-هماغه.

٢٧- دري راډيو، ١٣٦٨ سرطان.

٢٨- د رسالت ورځپاڼه، پيک هجران، ١٣٦٩ جوزا، ٤٧ مخ.

٢٩-هماغه.

٣٠- د امام خميني د مرگ د څلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانگړپاڼه، ١٣٦٨ کال، ١٥ مخ.

٣١- د رسالت ورځپاڼه، پيک هجران، ١٣٦٩ جوزا، ١٥ مخ.

٣٢- د رسالت ورځپاڼه، پيک هجران، ١٣٦٩ جوزا، ٣٢ مخ.

٣٣- د رسالت ورځپاڼه، پيک هجران، ١٣٦٩ جوزا، ٤٧مخ.

٣٤- پايگاه اطلاع رساني امام خميني.

٣٥- پايگاه اطلاع رساني امام خميني.

٣٦- پايگاه اطلاع رساني امام خميني.

٣٧- پايگاه اطلاع رساني امام خميني.

٣٨- پايگاه اطلاع رساني امام خميني.

٣٩- پايگاه اطلاع رساني امام خميني.

٤٠- پايگاه اطلاع رساني امام خميني.

٤١- د امام خميني د مرگ د څلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانگړپاڼه، ١٣٦٨ کال، ١٥ مخ.

٤٢- د رسالت ورځپاڼه، پيک هجران، ١٣٦٩ جوزا، ٤٧مخ.

٤٣- پايگاه اطلاع رساني امام خميني.

٤٤- پايگاه اطلاع رساني امام خميني.

٤٥- پايگاه اطلاع رساني امام خميني.

٤٦- پايگاه اطلاع رساني امام خميني.

٤٧-د جمهوري اسلامي ورځپاڼه، ٧٨/٧/١٠.

٤٨- د جمهوري اسلامي ورځپاڼه، ٧٨/٧/٥

٤٩- د جمهوري اسلامي ورځپاڼه، ٧٨/٧/٧

٥٠- د جمهوري اسلامي ورځپاڼه، ٧٨/٧/١٨

٥١- د جمهوري اسلامي ورځپاڼه، ٧٨/٧/١٨

٥٢- د جمهوري اسلامي ورځپاڼه، ٧٨/٧/١١
٥٣- د جمهوري اسلامي ورځپاڼه، ٧٨/٧/١١
٥٤- د جمهوري اسلامي ورځپاڼه، ٧٨/٧/٤
٥٥- د جمهوري اسلامي ورځپاڼه، ٧٨/٧/١٢
٥٦- پايگاه اطلاع رساني امام خميني (ره).
٥٧- د جمهوري اسلامي ورځپاڼه، ٧٨/٧/٢٠
٥٨-د رسالت ورځپاڼه، ١٣٧٨ ميزان.
٥٩- امام خميني وجهان معاصر، ٢ ټوک، تهران، د عروج خپرندويه ټولنه، ١٣٧٦.
٦٠- امام خميني وجهان معاصر، ٢ ټوک، تهران، د عروج خپرندويه ټولنه، ١٣٧٥.
٦١- امام خميني وجهان معاصر، ٢ ټوک، تهران، د عروج خپرندويه ټولنه، ١٣٧٥.
٦٢- د جمهوري اسلامي ورځپاڼه، ٧٨/٧/١٠
٦٣- د جمهوري اسلامي ورځپاڼه، ٧٨/٧/١٠.
٦٤-د فارس خبري آژانس، ٨٧/٣/٢٩.
٦٥- پايگاه اطلاع رساني امام خميني (ره).
٦٦- د امام خميني د مرگ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانگړپاڼه، ١٣٦٨ كال، ٤٧ مخ.
٦٧- د رسالت ورځپاڼه، پيک هجران، ١٣٦٩ جوزا، ٤٧مخ.
٦٨- پايگاه اطلاع رساني امام خميني (ره).
٦٩- د رسالت ورځپاڼه، پيک هجران، ١٣٦٩ جوزا، ٤٦مخ.
٧٠- پايگاه اطلاع رساني امام خميني (ره).
٧١- پايگاه اطلاع رساني امام خميني (ره).
٧٢- پايگاه اطلاع رساني امام خميني (ره).
٧٣- پايگاه اطلاع رساني امام خميني (ره).
٧٤- د رسالت ورځپاڼه، پيک هجران، ١٣٦٩ جوزا، ٤٧مخ.
٧٥- د امام خميني د مرگ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانگړپاڼه، ١٣٦٨ كال.
٧٦- د امام خميني د مرگ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانگړپاڼه، ١٣٦٨ كال، ٤٧ مخ.

٧٧- د امام خميني د مرگ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانگړپانه، ١٣٦٨ کال، ٤٧ مخ.
٧٨- د رسالت ورځپانه، پیک هجران، ١٣٦٩ جوزا، ٤٧مخ.
٧٩- پایگاه اطلاع رساني امام خميني (ره).
٨٠- د امام خميني د مرگ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانگړپانه، ١٣٦٨ کال.
٨١-دري راډيو، جوزا، ١٣٦٨.
٨٢- د امام خميني د مرگ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانگړپانه، ١٣٦٨ کال.
٨٣- پایگاه اطلاع رساني امام خميني (ره).
٨٤- پایگاه اطلاع رساني امام خميني (ره).
٨٥- پایگاه اطلاع رساني امام خميني (ره).
٨٦- د امام خميني د مرگ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانگړپانه، ١٣٦٨ کال.
٨٧- پایگاه اطلاع رساني امام خميني (ره).
٨٨- د رسالت ورځپانه، پیک هجران، ١٣٦٩ جوزا، ٤٧مخ.
٨٩- دري راډيو، جوزا، ١٣٦٨.
٩٠- د امام خميني د مرگ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانگړپانه، ١٣٦٨ کال.
٩١- د امام خميني د مرگ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانگړپانه، ١٣٦٨ کال.
٩٢- پایگاه اطلاع رساني امام خميني (ره).
٩٣- د امام خميني د مرگ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانگړپانه، ١٣٦٨ کال.
٩٤- پایگاه اطلاع رساني امام خميني (ره).
٩٥- پایگاه اطلاع رساني امام خميني (ره).
٩٦- د رسالت ورځپانه، پیک هجران، ١٣٦٩ جوزا، ٤٦مخ.
٩٧- د رسالت ورځپانه، پیک هجران، ١٣٦٩ جوزا، ٤٧مخ.
٩٨- د رسالت ورځپانه، پیک هجران، ١٣٦٩ جوزا، ٤٧مخ.
٩٩- پایگاه اطلاع رساني امام خميني (ره).
١٠٠- د رسالت ورځپانه، پیک هجران، ١٣٦٩ جوزا، ٤٨مخ.
١٠١- د رسالت ورځپانه، پیک هجران، ١٣٦٩ جوزا، ٤٧مخ.
١٠٢- د رسالت ورځپانه، پیک هجران، ١٣٦٩ جوزا، ٤٧مخ.
١٠٣- پایگاه اطلاع رساني امام خميني (ره).

۱۰٤- د رسالت ورځپاڼه، پیک هجران، ۱۳٦۹ جوزا، ٤۸مخ.
۱۰۵- پایگاه اطلاع رساني امام خمیني (ره).
۱۰٦- د رسالت ورځپاڼه، پیک هجران، ۱۳٦۹ جوزا، ٤۸مخ.
۱۰۷- پایگاه اطلاع رساني امام خمیني (ره).
۱۰۸- پایگاه اطلاع رساني امام خمیني (ره).
۱۰۹- پایگاه اطلاع رساني امام خمیني (ره).
۱۱۰- د رسالت ورځپاڼه، پیک هجران، ۱۳٦۹ جوزا، ٤۸مخ.
۱۱۱- پایگاه اطلاع رساني امام خمیني (ره).
۱۱۲- پایگاه اطلاع رساني امام خمیني (ره).
۱۱۳- د رسالت ورځپاڼه، پیک هجران، ۱۳٦۹ جوزا، ٤۸مخ.
۱۱٤- د رسالت ورځپاڼه، پیک هجران، ۱۳٦۹ جوزا، ٤۸مخ.
۱۱۵- د امام خمیني د مرګ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانګړپاڼه، ۱۳٦۸ کال.
۱۱٦- د امام خمیني د مرګ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانګړپاڼه، ۱۳٦۸ کال.
۱۱۷- د امام خمیني د مرګ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانګړپاڼه، ۱۳٦۸ کال.
۱۱۸- د امام خمیني د مرګ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانګړپاڼه، ۱۳٦۸ کال.
۱۱۹- د رسالت ورځپاڼه، پیک هجران، ۱۳٦۹ جوزا، ٤۸مخ.
۱۲۰_ د رسالت ورځپاڼه، پیک هجران، ۱۳٦۹ جوزا، ٤۸مخ.
۱۲۱- د رسالت ورځپاڼه، پیک هجران، ۱۳٦۹ جوزا، ٤۸مخ.
۱۲۲- د رسالت ورځپاڼه، پیک هجران، ۱۳٦۹ جوزا، ٤۸مخ.
۱۲۳- د امام خمیني د مرګ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانګړپاڼه، ۱۳٦۸ کال.
۱۲٤- د امام خمیني د مرګ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانګړپاڼه، ۱۳٦۸ کال.
۱۲۵- د امام خمیني د مرګ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانګړپاڼه، ۱۳٦۸ کال.
۱۲٦- د امام خمیني د مرګ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانګړپاڼه، ۱۳٦۸ کال.
۱۲۷- د امام خمیني د مرګ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانګړپاڼه، ۱۳٦۸ کال.
۱۲۸- د امام خمیني د مرګ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانګړپاڼه، ۱۳٦۸ کال.
۱۲۹- د امام خمیني د مرګ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانګړپاڼه، ۱۳٦۸ کال.
۱۳۰- د امام خمیني د مرګ د ځلوېښتمې په مناسبت د خراسان ځانګړپاڼه، ۱۳٦۸ کال.
۱۳۱- د رسالت ورځپاڼه، پیک هجران، ۱۳٦۹ جوزا، ٤۸مخ.

## د امام خمیني (ره) د رباعیاتو پښتو ژباړه

ډډه

فاطي!دوست خوا لره ښايي شي سفر
له خپـــل ځـــانه بايد هم و شـــي گـــذر
معــرفت کوم، چې لري د هستـــۍ وړم
دی د لارې د يـــو پــه کــار دی ترې حذر

پناه

د درويش د کړيکې ته يې اوربېدونکی
دا ټپـــي تـــه آرام تـــه يـــې بښـــونکی
زياتېــدونکی توفان زه يې کـــړم ډوب
تـــه د خپـــلې بېــرۍ لار يې ښوونکی

ستره پرده

فاطي! چې د فلسفې پر علم نازېږې
پــــر بـــل علم په څرگنده شان لگېږي
وېره کړم، چې ددې سترې پردې شاته
شـــي غافله ترې هستي يې وبايلېږي

جفا

لـــه فـــولاده زړه پــــر آه کله پستېږي
هم د سوي زړه پر کړيکه نه تودېږي
غاړې ته يې د جفا طوق دی اچولی
چې د زړه پر ځورو و مې نه شرمېږي

د حق ثنا

د جـــــهان ذرې و حــــــــــق وايـــي ثناء
کـــړی تســـبو کـــې د ليـــدنې تمـــنا
مونږ ړانده زړونه هغوی انگېرو چوپ

په فصيـــــح ذکـــر لـــتهون کـــې يې گويا
حجاب
هغه څـــــوک چـــې فلسفي باندې نازيږي
پر بل بـــاندې څرگنده شـــان لگيــــــږي
وېره کړم، چې ددې سترې پردې پای کې
ياراني کې بوخت او ځان ورته بايليږي
اسير
پرې وياړيږمه که زه شـــومه فقـــير ســـــتا
شي له ځانه مې خلاصون شومه ســتا اسير
د پـــــر غز توفان بـــــلا کـــــې دی گـــېر پاتې
شوم يوازې د ليندۍ غـــــشي کـــې گېر ستا
د زړه آرام
چې ستا ياد د درويشانو زړه ارام دی
درويشانو ستونزې حـل لره د پام دی
ده رنـــــــا د نـــگار مـخ طور او شجر
دا حاصـل و درويشانو ته انعام دی

### د لارې سوچ

طاعت نه شو کړای ګناه ته لارې چارې
مـــــدرسې تـــه خانقاه ته یو بسې واری
انـــا الحـــق چېغه ده، لاره د منـــــصور
ربه! مرسته، چې سوچ کړو د کومې لارې

### د حق جلوه

څو موســـی نه شې کلیـــــم به نشـــې کله
د طـــــــور لار کـــــې یې مقـــیم نه شې کله
څو د حق جلوه خو دې نه دی خلاصه نکړې
د ازل یـــــــــار ســـــــره نـدیم به نشې کله

### پند

څو چې دوست وي، تالره نشتـــــــــه خطـــــر
کم و کیف د وړه یې شتـــــــــــــون کې بې اثر
له هر څه چې شته ترې تېر شـــه هغـــه خپل کړه
نه به وي تردې دوه تـــــــــــکیــــــو پند بهتر

### عارف

هغه څوک چې پر خپل سوچ باندې عارف وي
لامبوزن په سیند کــــــې به د معســـــارف وي
کومه ورځ کـــــــــه له حجـــــــابه رابهر شي
و به ویني که له خپل پـــــوښه واقـــــــــف وي

### اسلامي جمهوري

زمونږ تلپاتې اسلامي جمهوریت دی
نهیـــــــــلی دښمن زمونږ له هیبت دی
کومـــــه ورځ چې له ظالم شته نړۍ شي
پر خوارانو او پر مونږ اختر ساعت دی

زمونږ جمهوري

جمهوري زمونږ څرګندوی دی د اسلام
فتـــــــــــنه پالو دې سوچونو واړه خام
ملـــــــت ځـــي پر خپله لار مخ نه وړاندې
صدام خپل په لاس ګېر پاتې په سل دام

لمر

حجاب لرې کړه څو ووینې جمال یې
او هم مـــــخ د هغه ذاب بې مثال یې
له پوټـــــــکي خپله ووځه ښا پېرکه
چې ووینې له ختــلو جلوی جلال یې

خلاص

هغه ورځ ښه ده، چې خلاص ته له خپل ځان شې
شـــــــــې قانـــــع اوتېـر له دې دواړه جهان شې
طغیـــــــــــان وکړې د هستی درمند وسېځې
یا حـــــــــــــــق وایې له هــــر کیشه په امان شې

## د امام خمیني (ره) له نظره د

# د تهذیب لومړی ګام

تر څو غواړئ د غفلت په خوب کې ووسئ او په فساد او تباهۍ کې ډوب وسئ؟ له خدایه وډارېږئ؛ د چارو له عاقبته ځان وساتئ، د غفلت له خوبه راپاڅئ. تاسې تر اوسه لا راویښ شوي نه یاست؛ تر اوسه مو لا لومړنی ګام نه دی پورته کړی. په سلوک کې لومړنی ګام ((یقظه=ویښتیا)) ده؛ خو تاسې ویده یاست؛ سترګې مو خلاصې؛ خو زړونه مو ویده دي. که زړونه خوبوړي او د ګناهونو له امله تور او زنګ وهلي نه وو؛ نو داسې هوسا به مو خپلو ناوړه کړنو او ویناوو ته دوام نه ورکاوه. که لږ مو د اخروي چارو او وېرونکیو عاقبتونو په باب فکر کاوه؛ نو هغه دندو او مسوولیتونو ته به مو ډېر اهمیت او ارزښت ورکاوه، چې در پر غاړه دي. تاسې یوه بله نړۍ هم لرئ؛ معاد او قیامت هم درته شته (لکه نورو موجودات، چې عود او رجعت نه لري، تاسې هغسې نه یاست). ولې عبرت نه اخلئ؟ ولې نه هوښیارېږئ او نه راویښېږئ؟ ولې دومره په هوسا د مسلمانانو غیبت او ورپسې بدردې او سپکې سپورې ویاست او ورته غوږ ږدئ؟ پوهېږئ هغه ژبه، چې غیب پرې شوی وي، د قیامت پر ورځ د نورو تر پښو لاندې چکول کېږي؟ آیا خبر یاست، چې "الغیبة ادام کلاب النار"[1] آیا پوهېږئ، چې دا اختلافونه، دښمنی، کینې، بدګڅی، ځانمني، غرور، کبر او ځاني غوښتنې څومره ناوړه عواقب لري؟ آیا پوهېږئ، چې ددې رذیله او محرمه کړنو عاقبت دوزخ دی او شونې ده، چې خدای مه کړه اور ته مو د ننووتو لامل شي؟

خدای مه کړه انسان په بې درمله درد اخته شي. کوم رنځونه، چې درد لري، انسان درملنې ته اړباسي؛ طبیب او روغتون ته ځي؛ خو هغه رنځ خورا خطرناک وي، چې بې درده وي او نه احساسیږي او هله ترې انسان خبرېږي، چې اوبه له ورخه تېرې شوې وي. اروایي رنځونو کې درد درلود؛ نو بیا به هم د شکر ځای و؛ ځکه بالاخره انسان به یې درملنې ته اړایسته؛ خو څه وکړو، چې دا خطرناک رنځونه درد نه لري. د غرور او ځانمنۍ رنځ بې درده دی. نورې

---

[1]. نوف البکالي ته د امیرالمؤمنین له مواعظو څنې دي، چې: اجتنب فانها ادام کلاب النار. = له غیبته ډډه وکړه؛ ځکه هغوی د دوزخ د سپو قورمه ده. ) وسائل الشیعه؛ اتم ټوک، "کتاب الحج"، "ابواب احکام العشرة"، ۱۵۲ باب، ۱۲ حدیث، ۲۰۰ مخ.

گناهگانې بې درده زړه او اروا فاسدوي. دا رنځونه نه يوازې درد نه لري؛ بلکې خوندور ظاهر لري. هغه مجلسونه او غونډې خورا گرم او خوندور وي، چې غيبت پکې کېږي! له نفس او دنيا سره مينه، چې د ټولو گناهونو جرړه ده[1]، خورا خوندر دي.

مستسقي [2] په اوبو له منځه ځي؛ خو تر پايه د اوبو له څښلو خوند اخلي او قهراً که انسان له يوه رنځه خوند واخست او درد يې هم نه درلود؛ نو په درملنې پسې به يې هم نه ځي او څومره، چې ورته د خطر اعلان وشي، چې دا وژونکی دی؛ نو باور به نه کوي. که انسان د دنيا لمانځنې او ځاني غوښتنو پر رنځ اخته شو؛ زړه يې د دنيا مينې ونيو، له دنيا پرته او له نورو څيزونو بېزاره شو؛ نو العياذبالله له خدای، د خدای له بندگانو او ملائکة الله سره به دښمني کوي او ورسره به د کينې احساس کوي او چې کله د سبحان خدای په امر پرښتې يې ساه اخستو ته راشي؛ نو خورا د کرکې احساس کوي؛ ځکه هغه پوهېږي، چې خدای او ملائکة الله غواړي، چې له خپلې محبوبې (دنيا او دنيوي چارو يې) بېل کړي او شونې ده، چې له حضرت حق تعالی سره په دښمنۍ له دنيا ولاړ شي. د قزوين له مشرانو يو ويل:يو سړي ته ولاړم، چې ځلکدن يې و. د ژوند په روستيو شېبو کې يې سترگې پرانستې و يې ويل:کوم ظلم، چې خدای راسره وکړ، چا هم راسره نه دی کړی؛ ځکه په څومره سختنه او ستونزو کې مې دا ماشومان لوی کړل؛ اوس غواړي له هغوی مې بېل کړي آيا تردې هم بل ستر ظلم شته؟که انسان ځان مهذب نه کړي او له دنيا ډډه و نه کړي او مينه يې له زړه و نه باسي؛ نو وېره ده، چې د مړينې پر مهال له خدای او الهي اولياوو سره په کينه او دښمنۍ له دنيا سترگې پټې کړي. آيا سرايله بشر د مخلوقاتو اشرف که په حقيقت کې د مخلوقاتو شر دی؟ " والعصر ان الانسان لفی خسر الا الذين آمنوا و عملوا الصالحات و تواصو بالحق و تواصوا بالصبر[3] " په دې سورت کې يې يوازې "مؤمنين"، چې د صالح عمل خاوندان دي،

---

[1]. عن ابی عبدالله –عليه السلام-قال: راس کل خطيئة حب الدنيا. "اصول کافي " څلورم ټوک، د "ايمان او کفر "کتاب، د "حب الدنيا او الزهد والحرص عليها "باب، لومړی حديث، ۲ مخ. "اصول کافي "؛ درېم ټوک، د "ايمان او کفر "کتاب، د " ذم الدنيا و الزهد فيها " باب، يوولسم باب، ۱۹۷ حديث؛ بحارالانوار؛ ۷۰ټوک، لومړی مخ او ۷۴ ټوک، ۱۷۸ مخ.

[2]. مستسقي:هغه چې د استسقاء په رنځ اخته دی او "استسقا " د هغه رنځ نوم دی، چې رنځور ډېری اوبه غواړي. (فرهنگ معين د "مستسقي " او "استسقا " تر ټکيو لاندې)

[3]. پر زمانې قسم !بېشکه (هر) انسان په زيان کې دی؛ خو بې له هغوی چې ايمان يې راوړی او ښه (کارونه) يې کړي او يو بل ته يې په حق سپارښتنه او په زغم سپارښتنه کړې وي. (د "عصر " سورت)

استثناء کړي دي او "صالح عمل" هغه عمل دی، چې له روح سره سمون خوري؛ خو ګورئ، چې د انسان ډېری اعمال له سترګې سره سمون خوري. د "تواصی" چار هم نه دی. که داسې وي، چې له دنیا او نفس سره مو مینه دربانديږ برلاسې شي او پرې نه بږدي، چې حقایق او واقعیات درک کړئ، کړنې مو خدای ته نږه کړئ؛ نو تاسې به حق او صبر ته له تواصی وساتي، ستاسې د هدایت په لار کې به خنډ شي، په خسران کې یاست، د دنیا او آخرت تاوانیان یاست؛ ځکه ځواني مو له لاسه ورکړې ده، له اخروي او جنتي نعمتونو هم بې برخې پاتې شوي یاست او کومه دنیا هم نه لرئ. نور که الهي جنت ته لار نه مومي او د الهي رحمت ورونه پرې تړلي دي او د دوزخ اور ته به ځي؛ نو لږ تر لږه دنیا خو لري او له دنیوي خوندونو برخمن دي؛ خو تاسې....

ځای وساتئ له دې، چې خدای مه کړه له دنیا او نفس سره مینه درکې ورځ په ورځ زیاته شي او چار تردې بریده راورسي، چې شیطان وکولای شي، چې ایمان درځنې واخلي. ویل کیږي:د شیطان ټولې هلې ځلې او غورځې پورځې دادي، چې ایمان درځنې واخلي.[1]

ټولې وزلې او نه ستړې کېدونکې هلې ځلې یې ددې لپاره دي، چې له انسانه ایمان پټ کړي. چا سند نه دی درکړی، چې ایمان به مو ثابت پاتې شي، کېدای شي ایمان "مستودع"[2] وي او په پای کې یې شیطان درځنې واخلي او له خدای او الهي اولیاوو سره په دښمنۍ له دنیا ولاړ شئ؛ یو عمر مو له الهي نعمتونو ګټنه کړې وي، د امام زمان (ع)دسترخوان ته ناست او په پای کې بې ایمانه او د نعمت له خاوند سره په دښمنۍ له دنیا ولاړ شئ.

---

[1]. قال فبما اغویتنی لاقعدن لهم صراطک المستقیم=شیطان وویل:داچې بې لارې دې کړم؛ نو زه به دې هم بندګان بې لارې کړم (اعراف/۱۲). د علي بن ابراهیم په تفسیر کې د اعراف د سورت تر ۱۷ آیت لاندې راغلي دي:که وګړي د هدایت پر لور ځي؛ نو شیطان کوښښ کاندي، چې د دین له لا رې یې کاږه کړي. (د علي بن ابراهیم تفسیر؛ لومړی ټوک، **۲۲۴** مخ؛ د برهان تفسیر؛ دویم ټوک، پینځم مخ. )

[2]. له اهلبیتو (ع) نه د راغلیو روایتونو په رڼا کې د انعام د سورت تر ۹۸آیت "فمستقر و مستودع" تر تفسیر لاندې، د وګړیو ایمان په دوه ډوله: "ثابت" او "عاریتي" ایشل شوی دی؛ لکه له موسی **جعفر** نه د **محمد** بن **الفضیل** روایت:ما کان من الایمان المستقر، فمستقر الی یوم القیامة [اوابدا]؛ و ما کان مستودعا سلبه الله قبل الممات. هغه څه چې له "مستقر ایمانه" وي؛ نو تر قیامته پاتې کېږي او هغه څه چې له "مستودع ایمانه" وي؛ نو خدای یې تر مرګه مخکې له انسانه اخلي. عیاشي تفسیر؛ لومړی ټوک، **۴۰۱** مخ.

په نهج البلاغه کې هم راغلي دي: فمن الایمان ما یکون ثابتا مستقرا فی القلوب؛ و ما یکون عواری بین القلوب و الصدور الی اجل **معلوم**=یو ډول ایمان په زړونو کې ثابت دی او یو ډول تر مړینه په سینو او زړونو کې عاریت دی.

نهج البلاغه؛ **۲۳۱** خطبه.

که له دنیا سره مینه، اړیکه او ورته لېوالتیا لرئ؛ نو پرې یې کړئ؛ دا دنیا له خپل ټول ظاهري ځل بل سره تر هغه ناڅیزه ده، چې د مینې وړ وي؛ داخو لا پرېږده، چې انسان د همدې ژوند له مظاهرو هم بې برخې وي، له تاسې سره د دنیا څه دي، چې زړه پرې وتړئ؟ تاسې وسئ او دا جومات او دا محراب او دیني مدرسه او د کور گوټ؛ نو آیا سمه ده، چې د جومات او محراب پر سر سره شخړه وکړئ، اختلاف رامنځ ته کړئ او ټولنه فاسده کړئ او که د دنیاپالو په څېر هوسا او له ځل بله ډک ژوند ولرئ او خدای مه کړه خپل ژوند په مزو چړچو کې تېر کړئ؛ نو د عمر تر تېرېدو روسته به وگورئ، چې د یو خوړ خوب په څېر هر څه تېر شوي دي؛ خو عاقبتونه او مسوولیت به تر تله ستاسې پر غاړه وي. دا ژر تېرې او په ظاهره خوږ ژوند (که ښه خوږ تېر شي) د هغه ناپایه عذابونو پر وړاندې څه ارزښت لري؟ کله د دنیاپالو عذاب ناپایه وي. هغه دنیاپال، چې خیال کاندي، دنیا یې لاس ته راوړې او له ټولو خوندونو او مزو چړچو برخمن شوي دي؛ نو هغوی په غفلت او تېروتنه کې دي، چې دنیا خپله چاپېریال او د ژوند ځای گڼي او خیال کوي، چې هر څه همدا دي، چې زه یې لرم. دا د اجسامو عالم تر هغه پراخه دی، چې بشر تصور وکړي، چې لاس ته یې راوړې ده او هغه برسېروي او تېروي یې. دا دنیا سره له دې ټولو اوزارونو او وزلو، په روایت کې راغلي دي، چې: ما نظ الیها رحمة[1]؛ نو باید ولیدل شي، چې هغه بل عالم، چې خدای تبارک و تعالی پنځولی دی او د رحمت نظر یې ورته کړی دی، څنگه دی. "د عظمت معدن"، چې انسان ورته رابولي، څنگه او څه دی. بشر تردې خورا کوچنی دی، چې پوه شي د عظمت معدن څه دی.

تاسې که خپل نیت نېږه کړئ، کړنې مو نېکې کړئ، له نفس او مقام سره مینه له زړه بهر کړئ؛ نو عالیه مقامات او رفیعه درجات درته چمتو او په تمه دي؛ کوم مقام، چې د خدای صالحو بندگانو ته په نظر کې نیول شوی دی، ټوله دنیا او پکې ځیزونه یې پر وړاندې پیسانۍ ارزښت هم نه لري؛ نو کوښښ وکړئ، چې دې عالیه مقاماتو ته ورسئ او که و مو کولای شول، چې ځان اصلاح، سم او پرمختگ وکړئ، تردې چې په دې عالیه مقاماتو او رفیعه درجاتو مو هم

---

[1]. د روایت متن داسې دی: فمالها عندالله –عزوجل-قدر ولا وزن؛ و الا خلق فیما بلغنا خلقا ابغض الیه منها؛ ولان نظر الیها مد خلقها= د خدای عزوجل په نزد دنیا هېڅ ارزښت نه لري او خدای تعالی په هغو موجواتو کې، چې پنځولي یې دي او موږ ته یې خبر رارسېدلی، داسې موجود نه دی پنځولی، چې تر دنیا ورته ډېر مبغوض وي او خدای چې کله دنیا پنځولې ورته یې د رحمت نظر نه دی کړی.
بحارالانوار؛ اویایم ټوک، د "ایمان او کفر" کتاب، ۱۲۲ باب، ۱۰۹ حدیث، ۱۱۰ مخ.

چورت خراب نه وي او بې اعتنا پرې ووسئ او د خدای عبادت دې مقاماتو ته د رسېدو په خاطر او پار و نه کړئ؛ بلکې داچې د عبادت وړ او کبريايي دی؛ د هغه عبادت وکړئ[1] ورته سجده وکړئ او سر ورته پر خاوره کېږدئ؛ نو هغه به وي، چې نوراني حجابونه به مو څيرلي وي او د عظمت معدن ته به مو لار موندلې وي. آيا تاسې، چې کومې کړنې لرئ او پر کومه لار، چې روان ياست، کولای شئ، چې داسې مقامونو ته ورسئ؟ آيا له عقوباتو او وېرونکيو عقوباتو او د دوزخ له اوره تېښته به شونې چار وي؟ تاسې خيال کوئ، چې سپين لمنو امامانو او د حضرت امام سجاد (ع) چغې او ژړاګانې د خلکو د ښوونې او روزنې لپاره وې؟هغوی سره له هومره معنوياتو او مقام يې چې درلود، د خدای له وېرې يې ژړل او پوهېدل، چې کومه لار يې، چې په مخ کې ده، تلل پرې څومره ستونزمن او خطرناک دي. له ستونزو، مشکلاتو، له صراط پله د تېرېدو له کړکېچونو (چې يو اړخ ته يې دنيا او بلخوا يې آخرت دی او له دوزخه تېرېږي) خبر وو؛ له قبر، برزخ، قيامت او وېرونکيو عواقبو خبر وو؛ نو ځکه کله هم هوسا نه وو او تل يې د آخرت له سختو عقوباتو خدای ته پناه وړه.

تاسې ددې وېرونکيو عقوباتو په اړه څه فکر کړی دی او د خلاصون څه لار مو موندلې ده؟کله به ځان تهذيب او اصلاح کوئ؟تاسې، چې اوس ځوانان ياست، د ځوانۍ ځواک لرئ، پر خپلو ځواکونو واکمن ياست او تر اوسه درباندې جسمي کمزوري نه ده برلاسې شوې؛ که د خپل ځان د جوړلو او تزکيې په فکر کې نشئ؛ نو په بوډاتوب کې، چې کمزوري او سستي درباندې برلاسې شوه او د ارادې، هوډ نيولو او مقاومت ځواک مو له لاسه ورکړ او د ګناهونو پېټي مو زړه ښيرن او تور کړ؛ نو څنګه به وکولای شئ، چې ځان جوړ او مهذب کړئ؟هره ساه، چې اخلئ، هر ګام، چې پورته کوئ او د عمر هره شېبه مو چې تېرېږي، سمونه او اصلاح ستونزمنېږي او شونې ده، چې ظلمت او تباهي ډېره شي؛ څومره، چې عمر ډېرېږي، د انسان له نېکمرغۍ سره په ټکر کې چارې ډېرېږي، ځواک لږېږي؛ نو چې زاړه شوئ؛ نو ستونزمنه ده، چې د تهذيب، فضيلت او تقوا په لاس ته راوړو کې بريالي شئ؛ توبه

---

[1]. له امام صادق (ع) نه روايت دی: العباده ثلاثة:قوم عبدوا الله-عزوجل-خوفا؛ فتلک عبادة العبيد، و قوم عبدوا الله تبارک و تعالی طلب الثواب؛ فتلک عبادة الاجرآء؛ و قوم عبدوا الله-عزوجل-حباً؛ فتلک عبادة الاخرار؛ و هی افضل العبادة = عبادت درې ډوله دی:هغه ډله، چې د وېرې له امله د خدای عزوجل عبادت کوي او دا د بندګانو عبادت دی او ځينې ثواب ته د رسېدو په پار د خدای عبادت کوي، چې دا د مزدورانو عبادت دی او ځينې د مينې له امله د خدای عزوجل عبادت کوي، چې د آزادګانو عبادت دی او همدا تر ټولو غوره عبادت دی. (وسائل الشيعه؛ لومړی ټوک، "ابواب مقدمة العبادات"، نهم باب، لومړی حديث، **۴۵** مخ. ) ( "اصول کافي"؛ دريم ټوک، د "ايمان اوکفر "کتاب، د "عبادت" باب، پينځم حديث، **۱۳۱** مخ.

نشئ کولای؛ ځکه توبه یوازې د "اتوب الی الله" په ویلو نه پلې کېږي؛ بلکې د ګناه پر پرېښوو ټینګار او اراده یې مهمه ده. [1] هغوی ته پر ګناه پښېماني او د تل لپاره پرېښولو ته یې عزم خورا ستونزمن چار دی، چې د خپل ژوند پنځوس یا شپېته کاله یې په غیبت او دروغو کې تېر کړی وي او په همدې ګناهونو کې یې خپله بډیره او سر سپین کړی وي او داسې وګړي د عمر تر پایه پر داسې ناوړچاریو اخته وي.

ځوانان دې بوډاتوب ته نه په تمه کېږي (موږ سپین ږیري یو او له ستونزو یې خبر یو)تاسې تر څو ځوانان یاست، کولای شئ، چې یو څه وکړئ او تر څو چې د ځوانۍ اراده او ځواک لرئ، کولای شئ ځاني غوښتنې، دنیا ته لېوالتیا او حیواني غوښتنې له ځانه لرې کړئ؛ خو که په ځوانۍ که د ځان د سمونې او اصلاح په فکر کې نه وسئ؛ نو په سپین ږیرتوب او سپین سرتوب کې اوبه له ورخه تېرېږي. تر څو چې ځوانان یاست یو فکر او چاره وکړئ، خپله سمونه او اصلاح بوډاتوب ته مه پرېږدئ. ځوان زړه لطیف او ملکوتي دی او د فساد انګېزې پکې لږې دي؛ خو څومره، چې عمر ډېرېږي، په زړه کې د ګناه جرړه پیاوړې او کلکېږي، تردې چې رانړول یې ناشوني شي؛ لکه څنګه چې په روایت کې دي: په پیل کې د انسان زړه د هنداري په څېر روڼ او پاک وي او هره ګناه، چې انسان کوي پر زړه یو تور ټاکی اضافه کېږي، [2] تردې چې زړه تور شي او ناشونې ده، چې شپه او ورځ پرې بې د پالونکي څښتن له سرغړونې تېر شي او چې زوړ شو؛ نو ستونزمنه ده، چې زړه یې لومړني حالت ته راورسي او که خدای مه کړه تاسې ځان اصلاح نه کړ او په تور زړه او په ګناه له ککړو سترګو، غوږونو او ژبو سره له دنیا ولاړئ؛ نو له خدای سره به څنګه ملاقات کوئ؟ دا الهي امانات، چې په بشپړ

[1]. امیرالمؤمنین وایي: ان الاستغفار درجة العلیین؛ و هو اسم واقع علی ستة معان: اولها الندم علی ما مضی؛ و الثانی العزم علی ترک العود الیه ابدا.... په تحقیق، چې استغفار لوړه درجه ده او هغه اسم دی، چې پر شپږو معناوو واقع کېږي: لومړی یې پر تېرو پښېماني ده. دویم یې د تل لپاره نه ستنېدو ته عزم دی.... نهج البلاغه، ۲۸۱ مخ، ۴۰۹ حکمت؛ او د توبې په اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره وګورئ: خمیني، روح الله؛ شرح چهل حدیث؛ ۱۷ حدیث.

[2]. له امام باقر نه روایت دی: ما من عبد الا و فی قلبه نکتة بیضاء؛ فاذا اذنب، خرج فی النکتة نکتة سوداء؛ فان تاب، ذهب ذلک السواد؛ و ان تماد فی الذنوب، زاد ذلک السواد حتی یغطی البیاض؛ فاذا تغطی البیاض، لم یرجع صاحبه الی خیر ابدا..... هېڅ بنده به نه وي؛ خو داچې پر زړه یې یو سپین ټکی وي؛ نو ګناه، چې وکړي، یو تور ټکی پرې پیدا شي؛ نو که توبه وکړي، هغه تور ټکی له منځه ځي او که ګناه ته دوام ورکړي، هغه توروالی ډېرېږي او سپین والی یې، چې وپوښل شو؛ نو د هغه زړه خاوند به کله هم نېکۍ او ښېګڼو ته راستون نشي... ("اصول کافي" دریم ټوک) د "ایمان او کفر" باب، "باب الذنوب"، شلم حدیث، ۲۷۴ مخ.

پاکوالي او طهارت درسپارل شوي، څنګه به يې ککړ بېرته ورکوئ؟ دا سترګې او غوږونه، چې په واک کې مو دي، دا لاس او ژبه، چې تر حکم لاندې مو دي، دا غړي، چې ژوند پرې کوئ –ټول د متعال خدای امانات دي، چې په بشپړې پاکۍ او سم درکړل شوي دي-؛ نو که په ګناه ککړ شول؛ خدای مه کړه که پر محرماتو ولړل شول، رذالت يې پيدا کړ؛ نو چې کله غواړئ دا امانتونه بېرته ورستانه کړئ؛ نو شونې ده، چې وپوښتل شئ، چې دا د امانتساتۍ دود نه و؟ موږ دا امانتونه داسې نه وو درکړي؟کوم زړه مو چې درکړی و، داسې نه و؟کومې سترګې مو چې درسپارلې وې، داسې نه وې؛ نو هله به ددې پوښتنو او ګروېګونو پر وړاندې څه ځواب لرئ؛ خپل خدای به څنګه له دې خيانتونو سره مو چې ورسره کړي دي، ملاقات کوئ.

تاسې ځوانان ياست؛ خپله ځواني مو په دې لار کې ايښې ده، داسې چې دا چارې درته له دنيوي نظره دومره ګټه نه لري؛ که دا ګرانبيه وختونه او د ځوانۍ پسرلی د خدای، سپېڅلې او ټاکلې موخې په لار کې په کار واچوئ؛ نو تاوان او ضرر به مو نه وي کړی؛ بلکې دنيا او آخرت دواړه به مو تامين او خوندي وي؛ خو که وضع مو په همدې بڼه وي، چې اوس ليدل کېږي، خپله ځواني به تلف کړئ او د ځوانۍ پسرلی مو بې حاصله تېر شوی وي او په بله نړۍ کې به د خدای پر وړاندې سخت مسوول وسئ او پوښتنه به يې درڅخه کېږي؛ حال داچې ستاسې ددې کړنو سزا او فساد راولاړونکی کردار مو يوازې په بلې نړۍ پورې نه محدودېږي او په دې نړۍ کې به هم له بېلابېلو ستونزو او غمونو سره لاس و ګرېوان شئ او بلاګانو او بدمرغيو کندې ته به ورګوزار شئ.

## د امام خميني (ره) ليکه[1]

هغوی چې له اسلامي انقلاب او د امام خميني ره له شخصيت سره اشنا دي، پوهېږي، چې امام خميني ره د ۱۳۴۲ کال د جوزا پينځلسم له پاڅونه د خپل عمر تر پايه او لوړ فکرونه يې، چې له نبره محمدي (ص) اسلامه راولاړې شوې وې او بنسټ يې پر انساني ارزښتونو و، د عمل ډګر ته راوړاندې کړل.

په ټولو چارو؛ لکه سياسي، ټولنيزو، فرهنګي او اقتصادي کې په ملي او نړيواله کچه د امام خميني ره کړنلار تر شونې بريده له اسلام سره همغږې و او مبالغه او ښنده به نه وي که وويل شي، چې تر صدر اسلام روسته د لومړي ځل لپاره د بشر په تاريخ کې امام خميني ره د ټولنې په سمبالنه کې ددې سپېڅلي دين څېره خلکو ته وښووله.

امام خميني ره په سکولارزم اوپه داسې وخت کې، چې د انساني ارزښتونو له منځه تګ او شيندل کېدل څوکې ته رسېدلي وو، د ميلونونو انسانانو، مسلمانانو که نامسلمانانو په زړونو کې يې د ايمان څراغ روښانه کړ.

هغه لار، چې امام خميني ره پرې د يو ديني او سياسي مشر په نامه په خپل وګړيز او ټولنيز ژوند کې پرې ولاړ، د "امام ليکه" نومېږي.

په حقيقت کې د "امام ليکه" هماغه د "اسلام ليکه" ده، چې امام خميني ره پر دې لار پر تګ ددې ليکې د سمبول په نامه په شلمه پېړۍ کې راښکاره شو. ډېرې مسلمان متفکران او مبارزان شيعه وي که سني د ايران د اسلامي انقلاب د برې له لومړيو کلونو يې همدا برداشت درلود او لکه څنګه چې ښاغلی ګلبدين حکمتيار، چې يو سني راډيکال شخصيت پېژندل کېږي، په تهران کې د خپلو ويناوو په ترځ کې يې وويل: (( موږ معتقد او ګروهمن يو، چې د امام ليکه د اصيل اسلام ليکه ده او موږ له دې ليکې دفاع کوو. ))[2]

البته د امام ليکه يو لړ ځانګړنې لري، چې تر ټولو روښانه يې له استکباري ځواکونو او زورځواکو سره د عدالت لپاره مبارزه ده. کولای شو، چې د امام ليکه له سياسي او ټولنيزو اړخونو په د درې اصلونو پر بنسټ ارزيابي کړو، چې دادي: (( انساني وحدت ))، ((اسلامي وحدت )) او ((ملي وحدت )).

---

[1] د پيام آفتاب وېبپاڼه

[2] راه حق، اوولسمه ګڼه، دريم کال، ۱۳۶۰، آذر

(( انساني وحدت )) د ظلم او تېري له منګولو د بشر خلاصون ته، ((اسلامي وحدت)) له کورني استبداد او بهرني ظالمو ځواکونو د واکمنۍ له منګولو د مسلمانانو خلاصون ته او ((ملي وحدت)) د ټاکلیو جغرافیایي واحدونو په چوکاټ کې مسلمانو ولسونو ته.
د ظلم او تېري له منګولو د خلاصون لپاره او له استکباري ځواکونو او زورواکو سره او ټولنیزو او اقتصادي نابرابریو سره د د مبارزې لپاره د امام خمیني ره، د کبرجنو پر وړاندې د "مستضعفینو د ټلوالې" پر رامنځ ته کېدو ټینګار کاوه؛ نو ځکه د حضرت امام مهدي (ع) د زوکړې ورځ د "مستضعفینو نړیواله ورځ" ونومول شوه. د روسته پاتې کېدو، کورني استبداد او سترو ځواکونو له شره د خلاصون لپاره امام خمیني ره د اسلام پر بنسټ اسلامي وحدت او ملي وحدت مطرح کړ. امام خمیني ره ړومبي شیعه مجتهد و، چې د اهلسنتو وړونو د جماعت په لمانځه کې یې د اهلسنتو وړونو په څېر د شیعه وو د لمونځ کولو او د ګډون جواز ورکړ او فرقه ګرایي او ګوندي یې وغندله. د "وحدت ونۍ"، چې هر کال د سرور کائنات حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه و آله وسلم د زوکړې پر مناسب هر کال په ایران کې لمانځل کېږي، د اسلامي وحدت لپاره مطرح شوه او تر ټولو مهمه یې د فلسطینانو د حق پر احقاق او له صهیونستانو د سپڅلي بیت القدس او قدس پر آزادۍ د امام خمیني ره همېشنی ټینګار و، چې د رمضان د میاشې روستۍ د جمعې ورځ په ایران کې "د قدس ورځ" لمانځل کېږي، چې دا ټول د مسلمانانو پر وحدت د امام خمیني ره له ژور اعتقاد راولاړېږي او د اسلامي وحدت د پلي کېدو لپاره اسلامي انقلاب خورا درنې بیې ورکړې دي او ورکوي یې.
د اسلامي وحدت په اړه په ایران او نړیواله کچه امام خمیني ره سیاست هېڅکله نمایشي او فرمایشي نه و؛ بلکې لکه څنګه چې وویل شول، د زړه له کومې یې پرې ایمان درلود. ځوک کولای شي د ایران د اسلامي جمهوریت په اساسي قانون کې، چې ددې هېواد تر ټولو مهمه ملي وثیقه ګڼل کېږي، د اهلسنتو مذهبي حقوق او د نااسلامي اقلیتونو د دیني او انساني حقوقو په رسمیت پېژندل نالیدي او نمایشي و ګڼي.
البته ددې اسلامي نظام د مخالفانو او متعصبو قومي او مذهبي وګړیو حساب بېل دی، چې تل کوښښ کوي، چې لمر په ګوته پټ کړي.
له ترهګرۍ سره مخالفت د امام د لیکې یوه بله ځانګړنه شمېرل کېږي. امام د خپل مبارزاتي ژوند په پېر کې د ولس د سترې انرژۍ په ازادۍ ټینګار درلود او هېڅکله یې حتی له استبدادي رژیمونو او د اسلام له مخالفانو سره د مقابلې له ترهګریزو عملیاتو ګټنه و نه کړه،

حال داچې د هغه مهال په جګړو کې چریکې جګړې او ترهګریز عملیات د ډېرې کینو او ښیو ازادي غواړیو مبارزاتي استراتیژي وه.
د امام خمیني ره زده کړیالان اولارویان هم له ترهګرۍ سره مخالف وو او دي؛ لکه څنګه چې امام خامنه ای د ایران د اسلامي انقلاب اوسنی مشرتابه مقام د اسلامي انقلاب د بري پر هماغه لومړیو کلونو کې د مشهد په پوهنتون کې د خپلو ویناوو په ترځ کې د ترهګرۍ په اړه داسې وویل: ((پر انقلاب د دښمنانو د بري یوه وزله ترور او ترهګري ده او توپیر نه کوي، چې دا ترور او ترهګري د پاکو عناصرو ترور وي که د ناپاکو عناصرو؛ څکه ناپاک عناصر باید محاکمه شي او روسته تردې، چې جرم یې تثبیت شو، باید د جرم له مخې یې سزا ورکړه شي؛ نه داچې ترور شي. ترور د زندۍ کولو او اختناق په معنی دی، د زور څواکې په مانا دی، پر شخصي او وګړیز څواک د اډانې په معنی دی، د آنارشزم په معنی دی او زما په نظر او لیدلوري ترور محکوم او غندل شوی دی او په دې بنه تروروونه د اسلام له نظره هم محکوم او غندل شوی دی. ))
په سیاسي، علمي، فرهنګي او ټولنیزو چارو کې د مېرمنو فعال ګډون هم د امام خمیني ره د لیکې یوه ځلانده ځانګړنه ده او د ایران د اسلامي انقلاب له سترو لاس ته راوړنو څنې ګڼل کیږي او له دې لاس ته راوړنې او ځانګړنې یوازې د اسلام مخالفان او کوږ فکري منکرېدای شي او هیڅ منصف او آزاده انسان ترې نه منکرېږي.
په خواشینۍ له پورته توضیحاتو سره سره، چې کله د امام د لیکې خبره کیږي، د ځینو ذهن ته له ایران سره تړاو او وابستګي راځي؛ نو څکه ځیني مسلمان وګړي او حتی افغان شیعه مذهبي هم کوښښ کاندي، چې په یوه نه یوه بڼه ځان له دې لیکې سره پردې وښیي. څرګنده ده، چې د امام خمیني ره په ایراني توب او شیعه توب دا برداشت توجیه کړي؛ خو دا برداشت له یوه زړه سواندي مسلمان، چې زړه یې په اسلامي نړۍ سوځیږي او د امام خمیني ره د ویناوو او کړنو سره اشنا وي، د منلو وړ نه دی.
په هر حال هغه څه چې د امام خمیني ره د کړنو، کړنلارو او ویناوو په اړه وویل شول که څوک شیعه که سني د امام د لیکې په اړه څه وواییې؛ نو آیا سمه ده، چې له ایران سره په وابستګۍ او تړاو یې تورن کړو؟ آیا د هغو مسلمانانو له یوه بله اغېزمنېدل، چې ګډ دین، مذهب، فرهنګ، ژبه او تاریخ له نامسلمان فکر، اندیشې او حتی له پردي له اغېزمنېدو سره له اعتقاداتو سره ټکر لري، سره یو شان ګڼل کیږي؟ممکن هغوی چې پر اسلام عقیده نه لري او یا ځان په ډېر افتخار سکولار ګڼي، ددې پوښتنې ځواب ورته مثبت وي؛ خو پر ملي

مصالحو آګاه او پوه مسلمان، چې پوهېږي په اسلامي نړۍ او په تېره بیا په افغانستان کې اسلام د ملي هویت یوه لاینفکه او نه بېلېدونکې برخه ده او بلکې خورا بنسټیزه چاره ګڼل کېږي، د نوموړې پوښتنې ځواب به ورته منفي وي.

## په افغانستان کې د امام خمیني ره لیکه

امام خمیني ره د یو شیعه مرجعیت په نامه په ایران کې د اسلامي انقلاب تر بري مخکې، په افغانستان کې خورا مقلدین او لارویان درلودل. په افغانستان کې د امام خمیني ره لیکه یوازې په روښانفکرو او لوستو پورې محدوده نه وه؛ بلکې د امام خمیني ره د ټولنیز نفوذ له امله یې د ټولنې په بېلابېلو برخو کې نفوذ درلود. د امام خمیني ره د لیکې لارویانو به په هېواد کې دننه او بهر د فرهنګی او تبلیغي کړیو په بڼه فعالیتونه کول؛ خو د بې تجربګۍ او له وګړیو د پوره شناخت د نه درلودو له امله، عناصرو او بېلابېلو سیاسي او فکري بهیرونو او کړیو د امام د لیکې ځوان او روښانفکره لارویان کرلاري کړل؛ خو ددې لیکې ټولنیز محور، چې علمای کرام وو، ددې لیکې ښېرغ یې لږ تر لږه له فکري نظره روغ وساته.
پر ۱۳۵۷ د اووم د ثور تر کودتا روسته یې ډېری د امام د لیکې لارویان او علماءبندیان او شهیدان کړل؛ نو د امام د لیکې لارویان، چې پخوا هم له لازمې همغږۍ او انسجامه برخمن نه وو، خپل فکري او ټولنیز محور یې چې امکان درلود، چې کولای یې شول، چې د جهاد په پېر کې غوره سازماندهي کړي، له لاسه یې ورکړ.
د امام د لیکې پخواني او نوي لارویان د ثور تر کودتا روسته په نوور ګوندونو کې غړیتوب واخست؛ خو د وخت په تېرېدو سره د امام له لیکې سره له ناهمغږو ګوندو راووتل .

# د جوزا د پینځلسم خونړی پاڅون[1]

د ایران د سیاسي تحولاتو د تاریخ څېړنه راښيي، چې د ایران ولس تل له بهرني استعمار او داخلي استبداد سره په بېلابېلو وختونو کې پر مبارزه بوخت وو. د جوزا پينځلسم د ایران د مبارزاتو په تاریخ کې یوه مهمه ورځ او د عطف ټکی ګڼل کېږي. ٤٥ کاله مخکې د بهرني استعمار او کورني استبداد پر خلاف د ایران د ولس پاڅون د امریکا په ملاتړ او مرسته، د وخت د دیکتاتور نظام په واسطه وځپل شو او د ایران د ولس خورا وګړي پکې شهیدان شول؛ نو ځکه امام خمیني (ره) د جمهوري اسلامي بنسټګر د جوزا پینځلسمه د تل لپاره د عمومي ویر ورځ اعلان کړه.

پر ۱۹٦۰ کال په امریکا کې له ډیموکراټ ګونده د جان. اف. کېنډي پر واکمنېدو د سپینې ماڼۍ مشران په ایران د خپلې تثبیت د خپرېدو په تکل کې شول. په ایران کې د امریکا حضور، چې له دویمې نړیوالې جګړې پیل شوی و، تل ورسره د ایران ولس مخالف و. پر ۱۹۵۳ په ایران کې امریکایي-انګلیسي کودتا، چې د دکتر مصدق دولت یې راوپرځاوه او یو ځل بیا یې دیکتاتوري پهلوي نظام واکمن کړ. امریکنیان په دې تصور وو، چې تر کودتا روسته به د ایران د ولس آزادي غواړی خوځښت د تل لپاره سرکوب او وچکول شي او امریکا په خپل دې بې ځایه تصور د ایران په بېلابېلو سیاسي، اقتصادي او نظامي چارو کې خپل شتون او حضور پراخه کړ.

د ۱۹٦۰ لسیزې په پیل کې نه یوازې د امریکایي سلاکارانو او شرکتونو د شتون او حضور پراختیا د خلک د خپګان لامل شو؛ بلکې امریکائیان په ایران کې د خپل موقعیت د ثبیت په تکل کې شوو؛ نو ځکه د جان کنډي دولت په ظاهره د یو اصلاحي پروګرام په نامه د یوې برنامې او کړلار په زوره د راتپلو له لارې د ایران د اقتصادي نظام د بدلون په تکل کې شول، چې ایران د غربیانو د توکیو پر یو ستر مصرفوونکي بدل کړي ددې په ظاهره د اصلاحي پروګرام پایلې د ایران لپاره دومره په تاوان وې، چې دا پروګرام یې په پټه په پارلمان کې تصویب کړ، داسې چې د هغه وخت د پارلمان غړي هم ددې پروګرام له جزییاتو خبر نه وو او په همدې وخت کې صهیونستي محافلو هم په ایران کې د امریکا د شتون ملاتړ ته راودانګل.

[1] د عروة الوثقی له قرآني وېبپاڼې www.orvah.co څخه اخستل شوی دی.

په دې کې امام خميني (ره) يوازېنی سياسي-ديني شخصيت و، چې د امريکا په پام کې د ايران په اقتصادي، کرهنيز نظام کې د ايران ولس ته ددې اصلاحاتو د تاوان په باب یې غبرګ راپورته کړ. امام خميني (ره) په خپلو ويناوو او د اعلاميوو په خپرولو ولس ددې امريکايي استعماري اصلاحاتو له تاوانه خبر کړل. امام خميني (ره) پر ۱۹۶۳ د امريکا، اسرائيلو پر لاسوهنو او پهلوي ديکتاتوري نظام پر ناروا چارو وينا وکړه. د امام خميني (ره) تر دې مشهورې وينا روسته د ايران په بېلابېو برخو کې ولس د بهرني استعمار او کورني استبداد پر وړاندې پاڅونونه وکړل. د امام خميني (ره) د ويناوو پر درې بنسټيزو محوورونو و: کورنۍ ديکتاتوري، د امريکا سلطه او د اسلامي نړۍ لپاره د اسرائيلو د شتون ګواښ.

جيمز بيل مشهور امريکايي ليکول په خپل کتاب "باز او شير" کې (چې د امريکا او ايران د اړيکو په اړه دی)د جوزا د پينځلسم د پاڅون په اړه ليکي: (( هغه تاريخ، چې د جوزا پينځلسم پکې پيل شو، د ايران په معاصر تاريخ کې د بدلون د پيل ټکی و. د بدلون دا ټکی امام خميني (ره) مشري کړ او په دې ترتيب يو ځل بيا له امريکا او کورني ديکتاتور نظام سره د ايران د ولس د مبارزې زمينه چمتو شوه. د ولس د اعتراضاتو او نيوکو په ډېرېدو او سختېدو د ايران د وخت ديکتاتور نظام د امريکا په ملاتړ او مرسته تصور کاوه، چې د امام خميني (ره) په بندي کولو او نيولو به د ايران د ولس ازادي غواړی خوځښت چوپ شي؛ نو ځکه د هغه وخت د رژيم امنيت امام خميني (ره) بندي کړ. ))

امام خميني (ره) بندي کولو د ايران په لويو ښارونو؛ لکه تهران کې د ولس د غوسې او اعتراضونو موجې راوپارولې. پر ۱۳۴۲ د جوزا پر پينځلسمه د خلکو اعتراضي لاريون د ديکتاتور نظام امنيتي چارواکيو د تهران خاورې د لاريون کوونکيو پر وينو ولړلې او ډېری خلک پکې شهيدان شول. څه موده روسته ديکتاتور نظام اړ شو، چې امام خميني (ره) خوشې کړي؛ ځکه تصور يې کاوه، چې د خلکو د استبداد ضد او د استعمار ضد پاڅون به يې د خلکو په وژلو خاموشه کړی وي؛ خو د امريکا د استعمار او کورني استبداد او د اسراييلو د نفوذ پر وړاندې د ايران د ولس مبارزې دوام وموند تردې، چې د ۱۹۷۹ د فبروري په مياشت کې د ايران اسلامي انقلاب بری ومومند.

د ايران د اسلامي انقلاب په بري که څه هم په ايران کې د امريکا حضور ته د پای ټکی کېښوول شو او د شاه ديکتاتور نظام ړنګ شو؛ خو د ايران د ولس پر وړاندې د امريکا نوې دښمني او غوسه پيل شوه او د انقلاب په دې درې لسيزو کې اسلامي انقلاب د امريکا له بېلابېلو دسيسو او په لار کې يې د خاه ايستو سره مقابله وکړه.

لکه څنګه چې مو وویل:د ۱۹٦۰ د لسیزې په پیل کې د امریکا د وخت حکومت په ظاهره د اصلاحي پروګرام په راتپلو د ایران اقتصادي سستم رنګ کړ. د ایران د اسلامي انقلاب تر بري روسته واشنګټن هڅې کوي، چې د اقتصادي بندیزونو په وضع کولو د اسلامي ایران د پرمختګ مخه ونیسي. د ایران له سولې ډک اټومي پروګرام د درولو لپاره د امریکا هڅې هم د اسلام او اسلامي انقلاب د روسته پاتې کولو یو بل پروګرام دی؛ خو د ایران مسلمان ولس د پیاوړې مشرۍ په هدایت د امریکا د سیاستونو له ماهیته خبر دي او هېڅکله به د سپینې ماڼۍ غیر اصولي سیاستونو ته سرټیټ نه کړي. د جوزا پینځلسمه له بهرني استعمار په تېره بیا له امریکا سره د ایران د مسلمان ولس د مبارزې یو ستر سند دی.

## د امام خميني (ره) د ځينو ويناوو ټولګه

دا چې امام خميني (ره) د يو ديني-سياسي مشر په نامه تر صدر اسلام روسته وکولای شول يوه اسلامي ټولنه او اسلامي حکومت جوړ کړي او نه يوازې د حکومت په جوړولو يې بسيا وکړه؛ بلکې د دې اسلامي نظام د پياوړي او تداوم لپاره يې په بېلابېلو برخو کې په ملي او نړيواله کچه د اسلام او د اسلامي ګټو په اړه خبرې کړې دي او داچې زموږ ټولنه هم يوه ديني ټولنه ده، چې تل د نړه محمدي (ص) اسلام پر بنسټ په خپل هېواد کې د اسلامي حکومت د جوړولو په هڅه کې دي او وي به؛ نو د د يو ديني-سياسي مشر په نامه زموږ د ولس علماوو، روښانفکرانو او لوستو ته د امام خميني ويناوې د نړه محمدي (ص) اسلام پر بنسټ د يوې ټولنې جوړولو لپاره بېلګه او د لار مشال کېدای شي، چې د امام خميني (ره) دا ګټورې ويناوې په زرونو کتابونو کې راټولې شوې دي؛ خو موږ هم دلته ځينو مهمو او هغو ته چې لاسرسی ورته لرو راوړو، په دې هيله چې د هېواد علماوو، روښانفکرانو او لوستو ته ګټورې واقع شي.

# آزادي

## د امام خميني (ره) په ويناوو کې[1]

### *- ((انسان آزاد او پر ځان، مال او ناموس يې واکمن خلق شوی دی او داسلام سپارښتنه ده، چې انسان ازاد او پر ځان واکمن دی. )) (۱)

*_((د بشر د حقوقو د نړيوالې اعلامیې سرلوحه آزادي ده. د وګړي ازادي ده، د بشر هر وګړی ازاد دی او بايد ازاد وي. )) (۲)

*- ((مګر ازادي ورکول کېدونې چار دی؟! پخپله دا جمله جرم دی داچې (( آزادي مو ورکړه )) آزادي د خلکو ده، قانون ازادي ورکړې ده، خدای خلکو ته ازادي ورکړې ده، اسلام ازادي ورکړې ده. . . . )) (۳)

*- ((د بشر لومړنی حق دی، چې زه غواړم ازاد ووسم. زه غواړم خبره مې ازاده وکړم او دا هغه خبره ده، چې که تاسې يې په هر ځای کې وکړئ؛ نو خلک يې درسره مني. )) (٤)

*- ((موږ غواړو د بشر د حقوقو د اعلاميو له مخې عمل وکړو، موږ غواړو ازاد ووسو. )) (٥)

*- ((د اسلام يو بسنټ ازادي ده، د مسلمان ملت واقعي انسان فطرتاً ازاد انسان دی. )) (٦)

*- ((اسلام دی، چې راته سمه لار او روغ رمټه ازادي خوندي کوي.

*- د ازادۍ مانا دا نه ده، چې کښېني او د اسلام پر خلاف خبرې وکړي؛ ازادي د قانون په چوکاټ کې ده. زمونږ د هېواد دين اسلام دی. د ازادۍ پوله داده، چې له اسلام سره ټکر و نه کړي. زمونږ اساسي قانون دين؛ اسلام ګڼي. )) (۷)

*-((بايد هڅه وکړئ، چې په خپل يووالي، اسلامي ټولنه رامنځ ته کړئ؛ هغه اسلامي ټولنه، چې پکې ټول خپلې ګروهې ازادې ووايي. )) (۸)

*- ((ځيزونه ګرانوال له ازادۍ ناوړه ګټنه ده، چې څوک وايي زه ازاد يم؛ نو او س يې چې څه زړه هر څه غواړي، دا بېوزلي ولوټي او بيې لوړې کړي او بازار په طاغوتي بڼه وي. )) (۹)

[1] دا موضوع له: مهدي منتظر قايم؛ آزادي هاى شخصي و فکري از نظر امام خميني (ره) و مباني فقهي آن، چاپ و نشر عروج څخه اخستل شوې ده.

*- (( د تمدن لومړۍ مرتبه د ولس ازادي ده، هغه هېواد تمدن نه لري، چې ازادي نه لري. . . .
متمدن هېواد هغه دی، چې ازاد وي، رسنۍ يې ازادې وي، ولس يې د خپلو عقيدو په ويلو او اظهار کې ازاد وي. )) (١٠)
*- ((په اسلام کې اختناق نشته؛ د ټولو طبقو لپاره ازادي ده؛ ښځې، سړي، سپين، تور؛ ټولو ته. )) (١١)
*- ((خپلواکي او ازادي له اسلام او قرآنه په لاروۍ کې ده. )) (١٢)
*-(( ازادي يو داسې چار نه دی، چې تعريف ولري، د خلکو عقيده ازاده ده، څوک پرې الزام نشي کولای، چې تاسې بايدهرومرو دا عقيده ولرئ. څوک پرې الزام نشي کولای، چې په دې لار ولاړ شئ، څوک پرې الزام نشي کولای، چې هرومرو په پلاني ځای کې واوسېږئ يا کومه دنده وټاکئ. ازادي يو واضح چار دی. )) (١٣)
*- ((رسنۍ د حقايقو او واقعيتونو په خپرولو کې ازادې دي. )) (صحيفه امام؛ څلورم ټوک، ٢٦٦ او ١١ مخونه. ٥٧/٨/١١)
*- (( اوس زه ازاد يم، چې هر کار مې چې زړه غواړي کوم به يې؟ ازاد يم، چې چا ته مې چې خوښه زوروم به يې؟ ازاد يم، چې هر هغه څه به ليکم، چې زړه مې يې غواړي؟ که څه هم د اسلام پر ضد او ملي گټو پر خلاف وي. آيا دې ته ازادي ويل کېږي؟ موږ ازادي غوښتې. اسلام هم ازادي لري؛ خو د خپلسرۍ او بې بندوبارۍ آزادي نه. موږ غربي ازادي نه غواړو هغه ازادي نه؛ بلکې بې بندو باري او خپلسري ده، موږ د قرآن تر سيورې لاندې ازادي غواړو. )) (١٤)
*- (( آيا موږ ازاد يو هروئين وپلورو؟ آزاد يوچرس وپلورو، قمارخانې پرانځو؟شرابخانې او ميخانې پرانځو؟ دا ازادي نه ده. دا يوه غربي ازادي ده، چې داسې چارې غواړي. کومه ازادي، چې په اسلام کې ده، د اسلام د قوانينو په حدودو کې ده. آيا هغه څه بايد د آزادۍ په نامه ترسره نشي، چې خدای ويلي دي او تاسې ازاد نه ياست، چې د اسلام د احکامو پر خلاف گام پورته کړئ. دا ازادي نه ده، چې څوک په دې نامه جواري وکړي او شراب وڅښي، چې ازاد دی. . . . . )) (١٥)
*- ((اسلام له هغو چارو سره مخالف دی، چې هېواد تباه کېدو او روسته پاتې کېدو ته کاږي. )) (١٦)
*- (( که له تجدد او تمدنه مراد په دې معنی وي، چې ځينې حرفه ای روښانفکران وايي، چې په ټولو چارو؛ لکه فحشاء، منکراتو او ان په همجنسبازۍ کې ازادي؛ نو پوه دې شي، چې

ټول اسماني اديان، پوهان او عقلاء له دې چار سره مخالف دي که څه هم ځنې شرق او غرب ځپلي په پټو سترګو ترې تقليد کوي. )) (۱۷)
*-هر څوک د عقيدې ښکاره کولو ته ازاد دی؛ خو دسيسې کولو ته ازاد نه دی. )) (۱۸)
*- ((او هر ملت حق لري، چې خپل برخليک په خپله وټاکي او دا د بشر له حقوقو ځنې دي، چې د بشر د حقوقو په نړيواله اعلاميه کې هم راغلې ده هر څوک او هر ملت بايد خپل برخليک په خپله وټاکي او زموږ ولس اوس هم ولاړ دی او ولاړ به وي، چې خپل برخليک په خپله وټاکي. )) (۱۹)
*- ((د خلکو له اړخه هر ډول ګوندونه او غونډې، چې د هېواد او خلکو ته پکې تاوان نه وي، ازاد دي او اسلام په دې ټولو چارو کې بريدونه ټاکلي دي. )) (۲۰)

پاڼلیکونه

١-(صحیفه امام، لومړی ټوک، ٢٨٦-٢٨٧ مخونه. ٤٣/١/٢٦).
٢-((صحیفه امام؛ دریم ټوک، ٣٣٢او ٢٩ مخ. ٥٦/١١/٢٩)
٣-(صحیفه امام؛ دریم ټوک، ٤٠٦٠٤٠٧. ٥٧/٣/١٠)
٤-(صحیفه امام؛ دریم ټوک، ٥١٠، ١٩ مخونه. ١٢٥٧/٧/١٩)
٥-(صحیفه امام؛ څلورم ټوک، ٢٣-٢٢٤، ٨ مخونه. ٥٧/٨/٨ )
٦-(صحیفه امام؛ څلورم ټوک، ٢٤٢، ١٠ مخونه. ٥٧/٨/١٠)
٧- (صحیفه امام؛ اووم ټوک، ٤٨٧، ٤٦٠، ٢ مخونه. ٥٨/٣/٢)
٨- (صحیفه امام؛ شپږم ټوک، ٥٧/١١/٣)
٩-(صحیفه امام؛ دریم ټوک، ٥١٠، ١٩ مخونه. ١٢٥٧/٧/١٩)
١٠-(صحیفه امام؛ پینځم ټوک، ٣٢-٣٣، ٢٨ مخونه. ٥٧/٨/٢٨)
١١-(صحیفه امام؛ شپږم ټوک، ٢٧٧، ١٠ مخونه. ٥٨/١/١٢. )
١٢-(صحیفه امام؛ اووم ټوک، ٢٤، ٢٦ مخونه. ٥٨/٢/٥).
١٣-(صحیفه امام؛ لسم ټوک، ٩٤-٩٥، ٢ مخونه. ٥٨/٧/٢. )
١٤-(صحیفه امام؛ اتم ټوک، ٦٥ مخ. ٥٨/٣/١٦. )
١٥-(صحیفه امام؛ اتم ټوک، ٢٨٣ مخ. ٥٨/٤/٤).
١٦-(صحیفه امام؛ یوولسم ټوک، ٣٧٣ مخ. ٥٨/٩/٥).
١٧-(د امام الهي سیاسي وصیتنامه، صحیفه امام؛ ٢١ ټوک، ٤٠٦ مخ. )
١٨-(صحیفه امام؛ دریم ټوک، ٣٧١ مخ، ٤. ٥٧/٢/٤).
١٩-(صحیفه امام؛ دریم ټوک، ٥٠٣ مخ، ١٩. ٥٧/٧/١٩).
٢٠-(صحیفه امام؛ څلورم ټوک، ٢٦٦ مخ. ٥٧/٨/١١)

## د امام خمیني (ره) له نظره

## خود باوري او خودکفایي[1]

*- (( باید د فرهنگ بیارغاونه وشي او اداراې باید تصفیه شي. دا ټولې چارې باید وشي. کرهڼه او زراعت باید پیاوړی شي، چې موږ چاته محتاج نشو، چې خپلو دښمنانو ته مو د یو څیز غوښتو ته لاس اوږد شي زموږ فرهنګ باید سم شي، زموږ پوهنتون باید سم شي، تر څو موږ په خپلو ټولو چارو کې خودکفا شو؛ خو دا ټولې اوږدمهالې برنامې دي، چې ترسره کوو به یې. )) (۱)

*- ((اوس مو چې سفارتونه په خپل لاس کې شوي دي او یو داسې واکمن مو پر سر ولاړ نه دی، چې تر فشار لاندې مو راوړي، چې داسې او هاغسې وکړئ او باید په خپله عمل وکړئ او د انسانیت پر مستقیم صراط ولاړ شئ. د انسانیت مستقیم صراط هم یوازې دا نه دی، چې لمونځ وکړو؛ لمونځ هم باید وکړو؛ خو باید خپلې سفارتخانې د نورو له ولکې رابهر کړو، تر څو بې له خپل دولته او د بهرنیو چارو له وزارته مو پکې پردي تصرفات و نه لري. . . . .
سفارتخانې، چې هر کار کوي، باید لومړی دې خبرې ته پام وکړي، چې دا کوم کار چې موږ کوو، موږ وابستګۍ او نورو ته تړاو ته نږدې کوي که آزادي او خودباورۍ او خودکفایۍ ته. (۲) ))

*- ((تاسې اوس خبر یاست، چې موږ په خوراکي توکیو کې بهر ته محتاج یو؛ موږ پخپله باید دا تشه ډکه کړو، چې دا زموږ په بزګرانو پورې اړه لري او البته دولت هم باید له بزرګرانو سره یو ځای شي او ورسره مرسته وکړي انشاء الله. )) (۳)

*- ((زموږ د هېواد زراعت سربېره پردې، چې باید د خپل هېواد اړتیاوې پوره کړي، باید صادرات هم ولرو او بیا باید داسې ورځ رانشي، چې بیا مو امریکا ته لاس اوږد شي، چې غنم راکړه، جوار راکړه او که کومه ورځ یې نه راکول؛ نو موږ به له لوږې مړه شو او باید خودکفا شو. )) (٤)

---

[1] دا موضوع له: خودباوري و خودکفایي از دیدگاه امام خمیني (ره)، چاپ و نشر عروج څخه اخستل شوې ده.

*- ((که غواړئ هېواد مو په خپل لاس کې وي او نور و نه کولای شي، چې لاسوهنه پکې وکړي؛ نو لومړی باید په خوراکي توکیو کې خپلې اړتیاوې پوره کړئ او پکې خودکفا شئ. اخر موږ ته دا ستره نیمګړتیا ده، چې کښنو او نور مو ډوډۍ راکړي او دا تشه به هله ډکه شي، چې زراعت ته مو پراختیا ورکړو. )) (۵)

*- ((موږ باید پردې پوه شو، چې هر څه یو او هېڅ هم راسره کم نه دي. موږ، چې ځان ورک کړی و او باید دا ورک کړی ځان بېرته ومومو او دا فکر، چې راباندې راتپل شوی و، چې (( که خارجیان ولاړ شي؛ نومړه به شو. )) باید په خپل ټول ځواک له منځه یوسو او و مو لیدل، چې یو ولس په تش لاس د نړۍ د سترو ځواکونو پر وړاندې په مړانه ودرېد او له دې پاڅونه د خدای په ځواک یوه داسې څپه جوړه شوه، چې و نه دریږي. . . . . )) (۶)

*- ((زه پردې عقیده یم، چې که انسان په خپل ژوند کې پر ځان سخته تېره کړي؛ خو ژوند یې په خپل لاس کې وي، خپلواک وي او په خپل ژوند کې خپله ډوډۍ او خپل سوکړک وخوري؛ نو ددې چار ارزښت په سل ګرایه تر هغه ډېر وي، چې په لوکسو آپارتمنو کې ژوند وکړم او د ژوند او برخلیک چارې مې د بل په لاس کې وي. )) (۷)

*- ((که تاسې غواړئ، چې اسلام او خپل هېواد ته خدمت وکړئ او د خپل هېواد خپلواکي وساتئ؛ نو په نورو پورې وابستګي مه لرئ، باید هم علمي مسلکونه پیاوړي کړئ هم اخلاقي تهذیب او هم عمل. )) (۸)

*- ((مهمه داده، چې ایرانیان پوه شي، چې په خپله کولای شي هر کار وکړي، په دې ټول وخت کې یې داسې تبلیغ کړي وو ایرانیان هېڅ هم نه دي او باید ټول او هر څه له بهره راوړي، له امریکا او اروپا یې راوړي؛ نو ځکه یې ایراني فکرونه کار کولو ته پرېښښوول. ایرانیان او وګړي له نورو خلکو کم نه دي، باید استعدادونه په کار واچول شي او دولت او ولس هغه وګړي تایید او ملاتړ یې کړي، چې اختراعات او مکاشفات لري تر څو چې انشاء الله ایران هر څه په خپله جوړ کړي. )) (۹)

*- (( هغه هېواد، چې اوس ستاسې په لاسونو کې دی، له هر اړخه له ډېرو غورځول شوی دی؛ نو اوس یې باید جوړ کړئ، یو هېواد دی، چې پردیو ځپلی، جنګ ځپلی او زلزلزلې ځپلی دی او دا باید جوړ شي او داسې خیال و نه کړئ، چې یوازې یو قشر او ډله یا یوازې دولت او یا سوداګر به دا کار وکړي؛ ټول باید سره لاسونه یو کړو، چې د ایران ملي، انساني او اسلامي ټولنه له اختناق او ګرفتاریو راوباسو. یو بل ته به لاسونه ورکوو، چې انشاء الله خپله دا

ملي او ديني دنده ترسره کړو، چې خپل هېواد له دې بحراني او کړکېچن حالته را بهر کړو.
)) (۱۰)
*- (( ټول باید مرسته وکړو؛ یعنې ولس، د ولس ټولې ډلې او طبقې باید په دې تکل کې وي، چې خودکفا شي او بهرنیو ته اړتیا و نه لري. )) (۱۱)
*- (( زموږ کورنۍ ستونزې هغه ستونزې دي، چې موږ یې پخپله باید هوارې کړو او ټول ولس باید په دې چار کې مرسته وکړي؛ هغوی دې کار وکړي، چې کار کولای شي؛ هغوی چې زراعت کولای شي، زراعت دې وکړي او دا د هېواد اقتصادي ستونزې به انشاء الله په خپله د ولس په لاس هوارې شي او زموږ ولس به خودکفایي ته ورسي. )) (۱۲)
*- ((اسلام نورو ته زموږ او ستاسې وابستګي نه مني، وايي: باید صنعت مو وابسته نه وي، زراعت مو وابسته نه وي، اداري مو وابسته نه وي، اقتصاد مو وابسته نه وي، فرهنګ مو وابسته نه وي او بهرني سلاکاران دې زموږ ادارو ته نه راځي او باید خپل هېواد په خپله سمبال او اداره کړو.
زموږ نظام باید امریکایي سلاکاران سمبال نه کړي؛ هغوی چې نه غواړي خپل هېواد جوړ کړي؛ غواړي خپل هېواد ړنګ کړي. کوم بهرني سلاکاران، چې راځي، نه غواړي موږ څه زده کړو او نه غواړي، چې موږ ته ښوونه وشي، غواړي موږ تم کړي، نه غواړي زموږ پوهنتونونه هغسې، چې باید اداره شي، سمبال شي او غواړي پوهنتونونه مو تل په هغوی پورې تړلي وي او موږ خپل علمي تولید و نه لرو او تر تله غواړي، چې لاس مو هغوی ته اوږد وي موږ باید ځان له فکري وابستګۍ رابهر کړو، چې فکر مو دا نه وي، چې موږ پخپله هېڅ هم نه یو او نه څه لرو او هر څه چې بهرنیان یې لري. )) (۱۳)
*- (( دا یو ستر مصیبت دی، چې ایران او شرقي هېوادونه یې لري، چې غربیانو ته یې غوږ دی، چې څه کوي، څه وايي او په ټولیزه توګه یې ځانونه بایللي دي او خپل فکري استقلال او فکري محتوی یې له لاسه ورکړې ده او دا هغه ستر ضرر دی، چې د تېلو تر تاوانه ستر دی او دا تشه باید فرهنګ ډکه کړي او زموږ فرهنګ باید داسې وي، چې ان شاء الله هغه وګړي، چې زموږ په فرهنګ کې روزل شوي وي، پر خپل ځان او پر خپل نفس متکي وي، باید خپل ځان او خپل هېواد ته د خپلواکۍ په سترګه ووینې او په خپله هېواد سمبال او اداره کړي او په خپله په خپل فکري خپلواکۍ د خپل هېواد په ګټو پسې وي. )) (۱٤)
*- ((دا پوهنتونونه باید موږ د نورو له احتیاجه رابهر کړي او هغه مهال، چې غواړو د یو چا درملنه وکړو، نورو ته مو لاس اوږد نه کړو؛ باید زموږ پوهنتونونه او ټولو قشرونه داسې چار

وکړي، چې لږ تر لږه موږ نورو ته محتاج ونه وسو. داسې دې نه وي، چې که یو څوک ناروغه شي، ووایي، چې دلته یې درملنه نه کېږي او داسې دې نه وي، چې یو څه خراب شي، ووایي، چې نور دلته نه جوړېږي. باید په خپله په خپلو پښو ودرېږو. شرق باید پر خپلو ودرېږي. که شرق بیا وغواړي، چې په هغوی پورې فکري وابستګي ولري او فکر وکړي، چې هر څه باید له هغه ځایه راشي او تر پایه وابسته وي.
شرق یو اسلامي فرهنګ لري، چې خورا لوړ او پیاوړی فرهنګ دی او خپل لاس دې غرب ته نه اوږدوي او له غربه دې څه نه غواړي او هر څه باید په خپله جوړ کړي. پخوا داسې وو، چې شرقي کتابونه اروپا ته تللي وو او اروپا یې طبیبه کړه او په اروپا کې یې ستر ستر طبیبان جوړ کړل؛ نو اوس څه شوي او سره له دې، چې تمدن له شرقه غرب ته تللی، شرق غرب ته تمدن صادر کړی دی؛ نو اوس باید موږ د ځینو د ځینو ناوړه چارولو امله روسته پاتې، پاتې شو او لاس غرب ته اوږد کړو.
شرق بابد پر خپل ځای ودرېږي او ځان بېرته وموميي. ډېر تبلیغات ددې لامل شوي، چې شرق ځان وبایلي او موږ خپل ځان بایللی دی. )) (۱۵)
*- ((ښوونکي دې ځوانان هېواد او اسلام ته د خدمت لپاره وروزي او زموږ ګران کارګران دې په خپلو چارو او کارونو کې جدي ووسي او خپل هېواد له دې تیاره حالته راوباسي، دوی په ښوونه او روزنه کې او هغوی دې په خپل کار د نړۍ هېوادونو ته وښیي، چې هغه ولس، چې غواړي پر خپلو پښو وددرېږي؛ هم په خپله ښوونه کوي او هم په خپله کار کوي. )) (۱٦)
*- (( یو هېواد که غواړي په خپلو پښو ودرېږي او هر اړخیزه خپلواک ولري بې له دې هېڅ چاره نه لري، چې له "بهره به یې را وارد کړو" تفکر له خپلو ماغزو بهر کړي. ماغزه یې باید په دې تفکر کار وکړي، چې موږ یې په خپله جوړ کړو؛ که یو څه نه لرو؛ له بهره یې راته نه راوړي. که یو وخت مو ولیدل، چې یو څیز نه شو جوړولای؛ نو په دې بسنده و نه کړو، چې له بهره یې راوړو؛ باید په خپله ورپسې ولاړ شو او په خپله یې ترسره او جوړ کړو. )) (۱۷)
*- (( که فرهنګ سم فرهنګ وي؛ نو سم ځوانان به راته وروزي. که فرهنګ د حق فرهنګ وي، الهي وي؛ هغه فرهنګ وي، چې د ولس او اسلام په ګټه وي. دا کوم وګړي، چې اوس ګورئ، چې د منصبونو او څوکیو خاوندان دي، له بهره به نه راتلل. زموږ فرهنګ استعماري فرهنګ دی، زموږ فرهنګ د صالحانو په لاس کې نه دی او د چارو واګې د صالحانو په لاس کې نه دي. )) (۱۸)

*- (( ځوانان دې په خپل قدر پوه شي، چې خپل عمر د علم، تقوا او د هېواد په جوړونه کې تېر کړي او ځانونه صالح کړي، چې يو هېواد يوازې په صالحو وګړيو خپلواکېدای شي او اوس، چې موږ څومره د بهرنيانو لاس ته ناست يو؛ دا ټولې چارې له دې امله دي، چې موږ صالح وګړي نه درلودل؛ هغه مهال که صالح وګړي وو؛ نو ګوښه کړي يې وو او په ډګر کې ناصالحه وګړي وو، پوه وو؛ خو صالح وګړي نه وو، چې د هېواد په درد نه خوږل کېدل او دوی هغه وګړي وو، چې موږ يې په بهرنيانو پورې وابسته کړو او د اوږدو کلونو لپاره يې زموږ هېواد د بهرنيانو نس ته ورواچاوه او داسې يې راسره وکړل، چې اوس يې پخپله ګورئ. )) (۱۹)

*- (( مسئله داده، چې دوی نه غواړي په ايران کې ارامش راشي، کوم چار تر سره نشي او خلکو ته کار ونشي او چې کله ارامش نه وي او خلکو ته کار و نه شو؛ نو ګډوډي به شي او چې کله ګډوډي شوه؛ نو هغوی به خپلو موخو ته ورسي او هغوی چې دې وګړيو ته دنده ورکړې، چې ګډوډي راوړي، چې هغوی خپلو موخو ته ورسي. )) (۲۰)

*- (( په هر حال په دې کې يوه مهمه خبره د مخدره توکيو ده او داسې نه ده، چې کوم قاچاقبر او قاچاقبران به دا کار کوي؛ نه هغوی خپل حساب لري او هغوی پوهېږي او پروګرام لري، چې په کومه طريقه دې پوهنتون عمل کولو ته پرېښوول شي، علمي مراکز څنګه کار کولو ته پرېښوول شي او څنګه پرې نه ږدي، چې ځوانان خپلې ټولنې ته ګټور واقع شي او وده وکړي، چې يو يې هم دا چارې دي، چې پر هروئينو او نورو مخدره توکيو د ځوانانو روږدېدل او دودېدل ډېر کړي؛ دا يو حساب شوی پلان دی او داسې مه وايئ، چې دا د يو څو قاچاقبرو کار دی او دا ستر قاچاقبران دي، چې دا کارونه کوي او په دې چارو هغوی نه غواړي، چې دا هېواد خپلواکۍ ته ورسي او دا خوځښت بريالی شي. )) (۲۱)

*- (( په پوهنتونو کې يې پلان دادی، چې ځوانان له فرهنګ، ادب او خپلو ارزښتونو لرې کړي او شرق او غرب ته يې راکاږي او بيا له همدې ځوانانو چارواکيو وټاکي، د هېواد برخليک يې په لاس کړي او د هم د دوی له لارې هر هغه څه، چې غواړي کوي يې. دوی به هېواد لوټ کړي، غرب ځيلی به يې کړي او صالح وګړي به ګوښه کړي او دا د يو هېواد د لوټلو او د تر خپل واک لاندې راوستو ته غوره لار ده؛ ځکه همداسې وګړي دي، چې بې چون و چرا د خپل هېواد هر څه بې خرڅه د پرديو جېبونو ته اچوي. )) (۲۲)

*- (( د هر هېواد بزگر او کارگر د هغه هېواد بنسټ دی او د هېواد اقتصادي بنسټ په بزگر او کارگر پورې تړلی دی؛ خو په خواشینی، چې دا دوه اقتصادي ټلوالې، چې د اقتصاد بنسټ دی؛ په تېر رژیم کې یې ماتې خوړلې وه. )) (۲۳)

## پاڼليکونه

۱-(۵۹/۱/۱۹) ايران ولس ته پيغام [له امريکا سره د اړيکو پرېکول]
۲-(۶۱/۱۰/٤) د بهرنيو چارو د وزارت چارواکيو ته د امام خميني له ويناوو څنې.
۳-(۵۷/۱۲/۲۹) د لنډمهاله دولت چارواکيو ته د امام خميني له ويناوو څنې.
٤-(۵۸/۸/۲. د قايم شهر د ښاروالی چارواکيو ته د امام خميني له ويناوو څنې.
۵-(۵۸/۸/٦) په جهاد سازندگی که د زده کړيالانو استازيو ته د امام خميني له ويناوو څنې
٦-(۶۰/۷/۲۳) د ښوونې او روزنې د وزارت چارواکيو ته د امام خميني له ويناوو څنې.
۷- د لنډمهاله دولت چارواکيو ته د امام خميني له ويناوو څنې.
۸-(٦٤/۵/۷) د مکتب وليعصر د شهيدانو د مېرمنو په غونډه کې د امام خميني له ويناوو څنې.
۹-(۵۹/۱۱/۲٦. ) د شرکت ملي نفت چارواکيو ته د امام خميني له ويناوو څنې.
۱۰-(۱۳۵۷/۱۱/۱۷) د وچو مېود د صادرونکيو ټولنې په غونډه کې د امام خميني له ويناوو څنې.
۱۱-(۵۸/۸/۱۱) په پهلوي رژيم کې د سياسي بنديانو په ډله کې د امام خميني له ويناوو څنې.
۱۲-(٦۱/۱۱/۱٤. (٦۱/۵/۲۵)) د شرکت ملي نفت چارواکيو ته د امام خميني له ويناوو څنې.
۱۳-(۵۸/۸/٦) په جهاد سازندگی که د زده کړيالانو استازيو ته د امام خميني له ويناوو څنې.
۱٤-(۵۸/٤/۲۳) د شهر رضا د ښارگوټي د فرهنگيانو په غونډه کې د امام خميني له ويناوو څنې.
۱۵-(۵۸/۸/٦) په جهاد سازندگی که د زده کړيالانو استازيو ته د امام خميني له ويناوو څنې.
۱٦- (٦۲/۲/٤)د ښوونې او روزنې د وزارت چارواکيو ته د امام خميني له ويناوو څنې.
۱۷-(۵۹/۱۱/۲٦) د شرکت ملي نفت چارواکيو ته د امام خميني له ويناوو څنې.
۱۸-(دی/۱۳۵٦) د ايران د ملي راډيو تلويزيون چارواکيو ته د امام خميني له ويناوو څنې.
۱۹-(۵۸/٤/۱۷) د اهواز ښار د محصلينو غونډې ته د امام خميني له ويناوو څنې.
۲۰-(۵۸/۳/۱۵) محصلينو ته د امام خميني له ويناوو څنې.
۲۱-(۵۸/٤/۱) له مخدره توکيو او اعتياد سره د سازمان چارواکيو ته د امام خميني له ويناوو څنې.

۲۲-(٦٨/٣/١٥) د امام خميني الهي سياسي وصيتنامه.
۲۳-(٥٨/٤/٤) د ايران د اتمسفر كارخانې كارگرانو ته د امام خميني له ويناوو څنې.

## ځوانان او امام خميني (ره)[1]

*- (( تاسې ځوانان غوره کولای شئ، چې خپل نفس تر زړو تهذيب کړئ؛ تاسې ملکوت ته نږدې ياست، په تاسې کې د فساد جرړې لږې دي او وده يې لږه ده او څومره وخت، چې پرې تېرېږي، جرړې يې پياوړې کېږي او څومره، چې د خپل نفس په تهذيب کې ناغېړي کوئ او وخت درباندې تېر شي؛ نو دا چار درته ستونزمنېږي او که يو بوډا وغواړي، چې ځان اصلاح کړي؛ نو دا ورته خورا ستونزمن چار دی؛ ځوانان ژر اصلاح کېږي؛ زر ځوانان اصلاح کېږي؛ خو يو بوډا نه اصلاح کېږي او د خپل عمر له دې فرصته ګټنه وکړئ او څه بوډاتوب ته مه پرېږدئ. )) (۱)

*-(( زه هيلمن يم، چې خدای تبارک تعالی تاسې ځوانانو ته عزت، روغتيا او نېکمرغي در په برخه کړي. زه له پاک خدايه د خپل هېواد او خپل ولس د آزادۍ غوښتونکی يم؛ تاسې ځوانانو، چې په دې دومره موده کې زحمتونه ګاللي؛ بيا هم دنده لرئ، تاسې زموږ زړېمې ياست او زه مو خدمتګزار يم. )) (۲)

*- (( زه تاسې ته هيلمن يم، زما ټوله هيله ځوانانو ته ده، زما هيله د ښوونځي زده کوونکيو ته ده، زما هيله تاسې ياست، چې ان شاء الله د هېواد برخليک به تر دې روسته ستاسې په لاس کې وي او تاسې به ددې هېواد وارثين ياست. )) (۳)

*- (( ای ځوانه! له خوبه راويښ شه، غفلت ته شا کړه او د همت ملا وتړه، تر څو چې ځوان يې او خپل ځواکونه دې تر خپل واک لاندې دي او ناوړه خويونو درباندې غلبه نه ده کړې؛ نو ددې ناوړو چارو سره د مقابلې او لرې کولو لپاره يې د چارې په لټه او فکر کې شه. )) (٤)

*- ((د توبې پسرلی په ځوانۍ کې وي، چې د ګناهونو پېټی لږ، د زړه او باطن تيپې تيارې نيمګړې او لږې وي او د توبې شرايط اسان دي. په بوډاتوب کې د انسان حرص، تمه، له ځان او مال سره يې مينه ډېرېږي او دا يو مجرب دی او دا خبره زما نه؛ بلکې نبوي حديث دی. که يو انسان په بوډاتوب کې د ځان سمونې په فکر کې وي؛ نو له کومه ځايه معلومه ده،

---

[1] - دا برخه د "جوانان از ديدګاه امام خميني" له کتاب، چې د "موسسه چاپ و نشر عروج" لخوا خپور شوی دی، اخستل شوې ده.

چې په ځوانۍ کې یې اجل راورسي او بوډاتوب ته و نه رسي. داچې بوډاګان لږ دي؛ دلیل یې دادی، چې مرګ ځوانانو ته نږدې دی. . . .
نو ګرانه! څومره ژر، چې دې له لاسه کېږي، د همت ملاوتړه او لېچې راونغاړه او اراده پیاوړې کړه او په ځوانۍ کې دې له ګناهونو توبه وکړه او ورته شا کړه او مه پرېږده، چې د خدای دا نعمت دې له لاسه ووځي او ځان د شیطان او اماره نفس پر وسوسو مه بوختوه. ))
(۵)

*- ((په یوه حدیث کې راغلي: (( څوک چې په ځوانۍ کې قرآن ولولي؛ نو قرآن یې له وینې او غوښې سره ګډېږي. )) (کافي٤/٤٠٥) او اصلي خبره داده، چې په ځوانۍ کې د زړه تیاره او بوختیا لږه وي؛ نو ځکه له قرآنه هم ډېر اغېزمنېږي او اغېز یې پرې تر پایه پاتې کېږي. ))
(٦)

*- ((ځوان نسل، چې ان شاء الله د اسلام راتلونکي ته به ګټور وسئ، لازمه ده، چې زما یو څو خبرو ته ښه پام وکړئ. په خپل ژوند کې د اسلام د معرفي کولو لپاره خورا جدیت وکاروئ؛ څنګه مو ګټور لیدل هماغسې اسلام تبلیغ کړئ، کتباً او شفاهاً خلک پوه کړئ، چې اسلام له هماغه پیله له څومره ستونزو سره مخ و او اوس یې هم څومره ستر دښمنان دي او پرېنږدئ، چې د اسلام حقیقت او ماهیت پټ پاتې شي او داسې تصور وشي، چې اسلام د مسیحیت په څېر _نه حقیقي مسیحیت _ یوازې د حق او خلق په اړه د څو اړیکو ټولګه ده او "جومات" له "کلیسا" سره توپیر نه لري. )) (٧)

*- ((تاسې ځوانان باید خپله اراده پیاوړې کړئ، چې د هر ظلم او تېري پر وړاندې ودرېږئ او بې له دې بله چاره نه لرئ، ستاسې حیثیت، د اسلام حیثیت دی او د اسلامي هېوادونو حیثیت په دې پورې اړه لري، چې تاسې ځوان نسل مقاومت وکړئ. )) (٨)

*- ((اوس تاسې ځوانانو، روښانفکرو او پوهانو ته په کار دي، چې له وضعې عبرت واخلئ، خپلې ټولګې مو پیاوړې او ډېره کړئ او له بې بنسټه مخالفتونو ډډه وکړئ، د نورو بې ځایه ښوونځیو ته شا کړئ او د اسلام پرمختللي او پیاوړي ښوونځي ته مخه کړئ او د حق په لار کې د باطل د منځه وړو لپاره لاسونه سره یو کړئ او خلک د اسلام له سپېڅلیو موخو خبر کړئ او د چارواکیو له جنایتونو او خیانتونو پرده اوچته کړئ او په دې لار درته له خدایه مرسته غواړم. )) (٩)

*- (( زه د خپل عمر په روستیو ورځو کې یم او هیله مې تاسې ټول ځوانان، محصلین له هېواده بهر او په هېواد کې دننه او دیني زده کړیالان دي او هیلمن یم، چې روښان ضمیره

پوهان او متفکران ټولو خلکو ته د اسلام د سپېڅلي دين احکام او موخې بيان کړي؛ څکه يوازې په اسلام کې د هېوادونو آزادي او د بشر دنيوي او اخروي نېکمرغي نغښتې ده. . . . . .
له هېواده بهر او په هېواد کې دننه ځوانان او محصلين دې د توحيد تر بېرغ لاندې همغږي له انسانيت او انسانانو دفاع وکړي تر څو انشاء الله له اسلامي هېوادونو د پرديو لاسونه او لاسوهنې پرې شي او ځوانان دې په ډېره هوښياری د پرديو تفرقې او درز اچونې ته پام وي او پردي لاسپوڅي دې له خپلو ډلو وباسي. )) (١٠)
*- (( زه له تاسې ټولو ځوانانو مننه کوم، چې پر وخت او ځای له خپل ټول ځواک سره په خپله ټوله اراده راپاڅېدئ او خپل کارونه مو پرېښوول او هغه چار مو ترسره کړ، چې د ټول ولس پر غاړه دی؛ ستاسې د بري راز په يووالي کې دی او داچې ټول سره همغږي شئ. ))
(١١)
*- ((تاسې پوهېږئ، چې دا خوځښت په اسلامي ځواک او ايماني ځواک مخې ته ولاړ؛ گنې موږ د هغوی پر وړاندې هېڅ نه درلودل او هغوی هر څه درلودل؛ موږ ايماني ځواک درلود او تاسې باايمانه پياوړيو ځوانانو دا خوځښت دې ځای ته راورساوه او بريالی مو کړ او داايماني پياوړی ځواک د تل لپاره وساتئ. )) (١٢)
*- ((تاسې ځوانانو جوته کړه، چې کولای شئ، چې د ټولو سترو قدرتونو پر وړاندې ودرېږئ او کولای شئ، چې خپل هېواد وژغورئ. . . . .  تاسې ځوانانو له هماغه ړومبی ورځې له خدای او اسلام سره مو خپله ژمنه جوته کړه او هيله ده، چې تر پايه پردې ژمنه ودرېږئ او ستاسې راتلونکې ځوځات به هم پر همدې ژمنه ولاړ وي او د تل لپاره خپل هېواد او اسلام بيمه کړئ.
تاسې جوته کړه، چې هر هغه څه کولای شئ، چې و يې غواړئ. تاسې په نړی کې يوه معجزه وکړه، چې دا معجزه په بشر کې الهي ځواک و او تاسې د ټولو هغو ځواکونو پر وړاندې ودرېدئ، چې ستاسې هېواد او هېوادوال يې له منځه وړل او ستاسې زېرمې يې لوټلې او سرلوړي بريالي هم شوئ. )) (١٣)
*- ((تاسې د اسلام زېرمې ياست، تاسې ځوانان ددې ولس زېرمې ياست او دې عواطفو تاسې بريالي کړئ.
دا کوم روحي بدلون، چې زموږ په ځوانانو کې راپيدا شو؛ دا خدايي چار و او بشر نشي کولای، چې د خلکو پر ارواوو داسې اغېز وکړي. )) (١٤)

## پاپلیکونه

۱-د امام خمیني د حمد سورت تفسیر.
۲-(۵۸/۱/۹) د ځمکني پوځ سرتېرو او صاحبمنصبانو ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
۳-(۵۸/۱/۱۷) ایران ولس ته پیغام
٤-د امام خمیني چهل حدیث.
۵- د امام خمیني چهل حدیث.
٦-زده کړیالانو ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
۷-د امام خمیني د ولایت فقیه کتاب.
۸-د امام خمیني د "اکبر جهاد یا له نفس مبارزه" کتاب.
۹-ټولو مسلمانانو او محصلینو ته د امام خمیني پیغام.
۱۰-(۵٦/۵/٤) له محصلینو نه د امام خمیني د مننې پیغام.
۱۱-(۵۷/۱۱/۱٤) د استقبال کمېټې ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
۱۲-(۵۸/۵/۲)د آذربایجان پاسدارانو ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
۱۳-(٦۰/۱۲/۱۰)د کمېټو بولندویانو او پاسدارانو ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
۱٤-(۵۸/٤/۱۸) د تهران خلکو ته امام خمیني له ویناوو څنې.

#ديني زده کړيالانو ته د امام خميني (ره) سپارښتنې

تاسې چې نن په دې مدرسو کې تحصيل کوئ او غواړئ سبا د ټولنې مشري او د وگړي ښيون او هدايت په لاس کې واخلئ؛ داسې خيال مه کوئ، چې دنده مو يوازې د يو لړ اصطلاحاتو زده کول وي، يوه بله دنده هم لرئ. تاسې بايد په دې مدرسو کې دومره ځانونه جوړ کړئ او وروزئ، چې که کلي يا ښار ته ولاړئ، وکولای شئ، چې د هغه ځای ميشت وگړي هدايت او مهذب کړئ. له تاسې تمه داده، چې کله د فقهې له مرکزه ولاړئ، پخپله مهذب او جوړ شوي ياست، تر څو وکولای شئ نور جوړ کړئ او و يې روزئ؛ خو که خدای مه کړه، د پوهې په مرکز کې مو ځان اصلاح نه کړ، معنويات مو لاس ته را نه وړل او هر چېرته چې ولاړئ، العياذ بالله خلک کږلاري کړئ؛ نو خلک به اسلام او روحانيت ته بدبين او بدکڅي کړئ.

تاسې درنې دندې لرئ، که په ديني مدرسو کې پر خپلو دندو عمل و نه کړئ او د خپل ځان د تهذيب په هڅه کې نشئ او يوازې د څو اصطلاحاتو د زده کړې په تکل کې شئ او يوازې يو څو فقهي مسايل زده کړئ؛ نو په راتلونکي کې به خدای مه کړه د اسلام او اسلامي ټولنې لپاره مضر وسئ. العياذ باالله د خلکو د کږ لارئ لامل به شئ او که ستاسې د کړنو او ناروا خوی له امله يو تن بې لارې شو او له اسلامه واوخوت؛ نو تر ټولو ستره گناه به مو کړې وي او ستونزمنه ده، چې بيا مو توبه ومنل شي او که يو تن ته هدايت وکړئ؛ نو د روايت له مخې "تر ټولو هغو څيزونو به درته غوره وي، چې لمر پرې لگېږي".[1]

ستاسې دنده خورا درنه ده؛ ستاسې دندې تر عامه خلکو خورا درنې دي؛ داسې چارې شته، چې عامه خلکو ته مباح دي؛ خو تاسې ته جايزې نه دي او شونې ده، چې درته حرامې وي.

---

[1]. قال اميرالومؤمنين-عليه السلام: لما وجهنى رسول الله-صلى الله عليه و آله-الى اليمن قال:يا على لا تقاتل احدا حتى تدعوه الى الاسلام و ايم الله لان يهدى-عزوچل- على يديک رجلا خير لک ممل طلعت عليه الشمس و غربت ولک ولاوه.

حضرت علي (ک) وويل:چې کله رسول الله (ص) يمن ته ولېږلم، و يې ويل: علي !له چا سره جگړه مه کوه؛ خو داچې اسلام ته يې راوبلې، پر خدای قسم داچې خدای دې يو تن پر لاس هدايت کړي؛ نو تر هغه څه درته غوره دی لمر پرې لگېږي او ته به يې ولاء (دميراث حق او... ) لاس ته راوړې.

وگورئ:فروغ کافي؛ پينځم ټوک، ((کتاب الجهاد ))، ((باب الدعاء الى الاسلام قبل القتال ))، دويم حديث، ۳۶ مخ.

خلک له تاسې د ډېرى مباحو چارو د نه ترسره کولو تمه لري؛ نامشروع او پرېوتې چارې خو پر خپل ځای پرېږده؛ که خدای مه کړه، و مو کړې، خلک به اسلام او روحانيت ته بدبينه او بدګځي کړئ. درد همدلته دى، که خلک د خپلو تمو پر خلاف درځنې يوه کړنه ويني؛ نو له دينه کرېږي، له روحانيته کرېږي، نه له يو وګړي څخه. کاشکې له يوه وګړي ګرځېدای او يوه وګړي ته بدبينه او بدګځي کېدای؛ خو که له يوه روحاني ناوړه او بې نزاکته کړنه ويني؛ نو شننه او تحليل نه کوي او لکه څنګه چې په کسبګرو کې ناوړه او کړلاري وګړي دي، په مديرانو کې ناوړه او فاسد وګړي ليدل کېږي؛ نو شونې ده، چې په روحانيونو کې هم يو څو ناوړه وګړي وليدل شي؛ نو که يو دوکاندار يا هټيوال کوم خلاف چار تر سره کړي، وايي: پلانی هټيوال خلافکار دى. که يو عطر پلور ناوړه کړنه وکړي؛ وايي پلانی عطر پلور ناوړچاری دى؛ خو که کوم ملا يا روحاني ناوړه چار وکړي، نه وايي پلانی ملا يا روحاني کړلاری شوی دى، وايي ملايان ناوړچاري دي.

د پوهې د خاوندانو دندې خورا درنې دي؛ د علماوو مسووليت تر نورو خورا ډېر دى که د "اصول کافي"[1] او د "وسائل"[2] په کتاب کې د علماوو د دندو بابونو ته مراجعه وکړئ؛ نو و به ګورئ، چې پوهانو او علماوو ته درنې او خطيرې دندې ويل شوي دي. په روايت کې دي، چې کله ځلکدن وي؛ نو عالم ته نوره د توبې ځای نه وي پاتې او پر هغه مهال يې توبه نه منل کېږي؛ ځکه خدای يوازې له هغو خلکو د ژوند په روستيو شېبو کې توبه مني، چې ناپوهه او جاهل وي. [3] او همداراز په روايت کې راغلي: د ناپوه اويا ګناهونه ښښل کېږي مخکې تردې، چې د عالم يوه ګناه وښښل شي. [4]؛ ځکه د عالم ګناه د اسلام او اسلامي ټولنې

---

[1]. "اصول کافي"؛ (( دفضل العلم کتاب )) ابواب:صفة العلماء، النهى عن القول بغير علم، استعمال العلم، المستاكل بعلمعه و المباهى به، لزوم الحجة على العالم، و ((باب النوادر)).

[2]. وسائل الشيعه؛ اتلسم ټوک، ((د القضاء کتاب))، ((ابواب صفات القاضى)) ۴، ۱۱، ۱۲. ۹-۱۷ او ۹۸-۱۲۹ مخونه.

[3]. عن جميل بن دراج قال سمعت ابا عبدالله-عليه السلام-يقول: اذا بلغت النفس ههنا (و اشار بيده الى حلقه) لم يكن للعالم توبه. ثم قرا: (( انما التوبه على الله للدين يعلمون السوء بجهالة )) جميل بن دزاج وايي، چې له امام صادق (ع) نه مې واورېدل، چې و يې ويل: چې کله ساه دلته راورسېده (په خپل لاس يې خپل ستونې ته اشاره وکړه)؛ نو عالم ته د توبې ځای نه پاتې کېږي. بيا آنحضرت دا آيت ووايه: په تحقيق، چې توبه د هغوی لپاره ده، چې د ناپوهۍ له مخې ناوړچاري کوي. (نساء/۱۷)

وګورئ: اصول کافي؛ لومړی ټوک، ((کتاب فضل العلم))، ((باب لزوم الحجة على العالم.. )) دريم حديث، **۵۹** مخ.

[4]. عن حفص بن قياس، عن ابي عبدالله-عليه السلام-قال: يا حفص! يغفر للجاهل سبعون ذنيا قبل ان يغفر للعالم ذنب واحد. حفص بن قياس وايي، امام صادق (ع ) وويل: اى حفص! د جاهل اويا ګناه ښښل کېږي، مخکې تر دې، چې د عالم يوه ګناه و ښښل شي.

"اصول کافي؛ لومړی ټوک، "کتاب فضل العالم"، "باب لزوم الحجة على العالم.. "لومړی حديث، **۵۹** مخ.

لپاره خورا ضرر لري. عوام او جاهل که کومه گناه وکړي؛ نو یوازې ځان یې بدمرغه کړی دی، ځان ته یې ضرر رسولی دی؛ خو که یو عالم کږلاری او منحرف شي او ناوړه چار وکړي؛ نو ټوله ټولنه به کږلارې کړي او اسلام او اسلامي علماوو ته یې تاوان ورسولی دی. [1]داچې په روایت کې راغلي، چې دوزخ د هغه عالم له بویه چغې وهي، چې په خپل علم یې عمل نه دی کړی[2]؛ نو ځکه په دنیا کې د عالم او جاهل په منځ کې اسلام او اسلامي ټولنې ته په ضرر رسولو کې خورا توپیر دی. که یو عالم کږلاری شو؛ نو شونې ده، چې یو ولس کږلاری کړي او که یو عالم مهذب وي او اسلامي اخلاق او آداب رعایت کړي؛ نو ټولنه به مهذبه او هدایت کړي. په دوبي کې، چې ځینو ښارونو ته ولاړم؛ نو و مې لیدل، چې وګړي یې خورا مؤدب دي او اصلي خبره یې په دې کې وه، چې صالح او ځانساتي علماء یې درلودل. که په یوه سیمه کې صالح او ځان ساتی عالم ژوند کوي؛ د عالم همدا شتون د هماغې سیمې د وګړیو د تهذیب او هدایت لاملېږي؛ که څه هم په خوله تبلیغ او نصیحت و نه کړي. [3]؛ خو داسې وګړي مې لیدلي، چې د پند او عبرت تومنه وه او یوازې کتل ورته د تنبه لاملېدل. همدا اوس د تهران سیمې سره توپیر لري؛ په هغه سیمه کې، چې یو ځان ساتی او مهذب عالم وسي؛ نو هماغه سیمه صالح او د ایمان خاوندان لري او په بله سیمه کې، چې یو فاسد او کږلاری ملا دی او امام جماعت شوی دی او یوازې د دین په نامه یې یوه هڅې

---

[1]. قال رسول الله-صلی الله علیه و آله- صنفان من امتی اذا صلحا، صلحت امتی؛ اذا فسدا، فسدت امتی. قیل: ومن هم؟ قال (ص) العلماء ولامراء. رسول اکرم (ص) وویل:که په امت کې مې دوه ډلې صالحې شوې؛ امت به مې صالح شي؛ او که دا دوه ډلې فاسدې شوې، امت به فاسد شي. وویل شول:هغوی څوک دي؟او یې وویل: علماء او واکمنان. وګورئ: خصال؛ "باب الاثنین "۳۷ مخ؛ تحف العقول؛ **۵۰** مخ.

[2]. عن سلیم بن قیس الهلالی:قال سمعت امیرالمؤمنین-علیه السلام- یحدث عن النبی (ص) انه قال فی کلام له: العلماء رجلان:رجل عالم اخذ بعلمه وعالم تارک لعلمه؛ فهذا هالک و ان اهل النار لینادون من ریح العالم التارک لعلمه. سلیم بن قیس هلالي وایي:له حضرت علي مې واورېدل، چې له پېغمبراکرمه یې روایتول، چې آنحضرت په خپلو ویناوو کې وویل: علماء دوه ډلې دي: هغه عالم، چې پر خپل علم یې عمل وکړ؛ نو وژغورل شو او هغه عالم، چې په خپل علم یې عمل نه دی کړی؛ نو هلاک شو او په رښتیا، چې دوزخیان د هغه عالم له بد بویه په چغو دي، چې په خپل علم یې عمل نه دی کړی. وګورئ: "اصول کافی" لومړی ټوک، "کتاب فضل العلم"، باب استعمال العلم "لومړی حدیث، **۵۵** مخ.

[3]. امام صادق (ع) وویل: کنونوا دعاه للناس بالخیر بغیر الستکم، لیروا منکم الاجتهادو الصدق و الودع. خلک نېکۍ ته راوبلئ؛ خو نه په خپلو ژبو؛ داسې چې خلک په تاسې کې ځانساتي او صدق ووینې. "اصول کافي"؛ دریم ټوک، "د کفر او ایمان کتاب"، "د الصدق و اداء الامانة باب" لسم حدیث، **۱۲۴** مخ

پرانستې ده؛ نو گورئ، چې یوه ډله یې تېرایستې او کږلاري کړي یې دي او همدا چټلی دي، چې دوزخیان یې له بویه چغې وهي. همدا چټلی دي، چې ناوړه عالم، بې عمله عالم، کږلاري عالم رامنځ ته کړي دي او بوی یې ان د هغه دنیا دوزخ میشتي هم کړوي؛ نه داچې هلته پرې څه وراضافه شوي وي؛ هغه څه چې په آخرت کې راپېښېږي، هغه څه دي، چې په همدې دنیا کې مو لاس ته راوړي دي؛ موږ ته بې له خپل عمله هېڅ هم نه راکوي، چې کله یو عالم "فساد غواړی" او خبیث وي او ټولنه چټله کړي؛ خو په دې نړۍ کې یې د چټلۍ بوی نه سږل کېږي؛ خو په آخرت کې یې بوی سږل کېږي؛ خو یو عادي تن دومره اسلامي ټولنه نه چټلوي. عوام هېڅلکه ځان ته اجازه نه ورکوي، چې د امامت او مهدویت ادعا وکړي، د نبوت او الوهیت ادعا وکړي او دا فاسد عالم دی، چې یوه نړۍ چټلوي او له فساده یې ډکوي: اذا فسد العالم، فسدالعالم. [1]

[1]. غرر الحکم؛ اووم ټوک، ۲۲۹ مخ.

## علمي مرکزونو ته د امام خمیني (ره) سپارښتنه

علمي مرکزونه د علمي مسایلو ترڅنګ د اخلاقي مسایلو او مانیزو پوهو زده کړو ته اړ دي. د اخلاقو ښوونکي، د روحاني ځواکونو ښوونکي، د نصیحتونو غونډو او نصیحتونو ته اړ دي. اخلاقي او اصلاحي کړلارې، د روزنې او تهذیب ټولګي، د الهي ښوونو زده کړه، چې د ټولو انبیاوو د بعثت موخه ده، باید په دیني مدرسو کې دود او رسمي شي؛ خو په خواشینۍ چې په علمي مراکزو کې دې ډول اړینو چارو ته لږه توجه کېږي. مانیزې او روحاني پوهې مخ په ځوړ دي او وېره له دې ده، چې په راتلونکي کې دیني مدارس و نشي کولای، چې د اخلاق علماء، مهذب ښوونکي او الهي انسانان وروزي او په مقدماتي مجالي چارو کې بحث او څېړنه، اصلي او بنسټیزو مسایلو ته د رسېدو لپاره، چې د قرآن کریم، ستر نبي (ص) او نورو انبیاوو او الیاوو ورته پام دی، پرې نه ږدي. ښه ده، چې فقیهان او مدرسین، چې د علمیه ټولنو د توجه وړ دي، په خپلو زده کړو کې د وګړیو په روزنه او تهذیب هم لاس پورې کړي او اخلاقي او مانیزو چارو ته ډېر پام وکړي، د دیني مدرسو زده کړیالانو ته هم په کار دي، چې د فاضله ملکاتو د لاس ته راوړو لپاره او د نفس د تزکیې لپاره کوښښونه وکړي او پر هغو دندو او درنو مسوولیتونو عمل وکړي، چې ورپر غاړه دي.

# امام خميني (ره) او مدني ټولنه[1]

*- (( په حقیقت کې واکمن، قانون دی. ټول د قانون په امان کې دي، د اسلام د قانون په پناه کې دي؛ وګړي او مسلمانان د شرعي احکامو په چوکاټ کې ازاد دي؛ یعنې داچې که چا د شرعي احکامو په چوکاټ کې پر قانون عمل وکړ؛ نو نور څوک حق نه لري، چې ورته ووايي: هلته ولاړ شه او یا هلته کېنه. )) (١)

*- (( اسلامي حکومت د موجوده یو حکومت په څېر هم نه دی؛ مثلا استبدادي نه دی، چې د دولت رئیس مستبد او خود رای وي، د وګړیو پر مال او ځان لوبې وکړي او په خپله خوښه پکې لاسوهنه وکړي او هر هغه څوک ووژني، چې خوښه یې شي او چا ته یې چې خوښه شي، ځمکې او مالونه ورکوي. رسول اکرم، حضرت علي او نورو خلفاوو هم داسې واک نه درلود. اسلامي حکومت نه استبدادي دی او نه مطلقه؛ بلکې مشروطه دی؛ البته نه په اوسنۍ مانا مشروطه، چې د قانون تصویبول د وګړیو په رایو او اکثریت پورې اړوند وي؛ مشروطه په دې مانا، چې چارواکي په سمبالنه او اجراتو او پلي کولو هغه ټولګې ته مشروط وي، چې په قرآن کریم او د رسول اکرم په سنتو کې ټاکل شوي دي. د شرطونو ټولګه هماغه اسلامي قوانین دي، چې باید رعایت او پلي شي؛ نو ځکه اسلامي حکومت پر خلکو د الهي قانون حکومت دی. )) (٢)

*-((هغه دولت قانوني دولت دی، چې په دین کې د شته شرایطو پر بنسټ رامنځ ته شي او د اسلامي احکامو پلي کوونکی وي. )) (٣)

*- ((په اسلام کې حکومت د قانون حکومت دی؛ حتی د رسول الله او حضرت علي حکومت د قانون حکومت و؛ یعنې هغوی قانون واکمن کړ. . . . هغوی دقانون په حکم واجب الاطاعة دي؛ نو حکم د قانون حکم دی او پر اسلامي هېواد قانون واکمني کوي. )) (٤)

*- ((لکه څنګه چې د هستۍ او خلقت قوانین خدای مقرر کړي دي او د ټولنو او انسانانو نېکمرغي او کمال یوازې له هغه الهي قوانینو په لاروۍ کې ده، چې د انبیاوو په واسطه بشر ته ویل شوي دي. )) (٥)

---

[1] -دا برخه د "مهدي براتعلي" د " امام خميني و جامعه مدني " له کتابه اخستل شوې ده، چې چاپ او نشر عروج (وابسته به موسسه تنظیم و نشر آثار امام خمیني) لخوا خپور شوی دی.

*- (( د اسلام سپېڅلې شرع يوازېنی مقننه ځواک دی؛ هېڅوک د قانونګذارۍ حق نه لري او بې له اسلامي شرعې يو قانون هم د پلي کېدو وړتيا نه لري. )) (٦)
*- ((يوازې د قانون ټولګه د ټولنې د سمونې لپاره کافي نه ده او داچې قانون د بشر د نېکمرغۍ او سمونې لامل شي، اجراييه ځواک او مجري او پلي کوونکي ته اړتيا لري؛ نو ځکه خدای تعالی د قانون د ټولګې؛ يعنې شرع د رالېږلو تر څنګ يو حکومت او پلي کوونکې اداره هم مقرره کړې ده. رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم د مسلمانانو د ټولنې د اداري او اجرايي تشکيلاتو په راس کې و او د وحې پر ابلاغ او د اسلامي احکامو پر تفسير او بيان سربېره يې ملا تړلې وه، چې د اسلام دولت رامنځ ته کړي. هغه مهال يې مثلا يوازې د سزا د قانون پر بيانولو اکتفا نه کوله؛ بلکې تر څنګ يې پلي کاوه هم. )) (٧)
*- ((داچې د اسلام حکومت د قانون واکمني ده؛ نو قانونپوهان او تر هغوی پورته دينپوهان؛ يعنې فقهاء يې بايد متصديان وي او دوی دي، چې د اسلامي هېواد پر ټولو اجرايي، اداري او برنامه ريزي چارو څارنه کوي. فقهاء د الهي احکامو په پلي کولو کې امين دي. )) (٨)
*- ((په اسلام کې حکومت له قانونه د لاروۍ په مفهوم دی او يوازې قانون پر ټولنه واکمني لري او کوم محدود اختيارات، چې رسول اکرم او ولات ته ورکړل شوي وو، د خدای له اړخه وو. رسول اکرم به چې کله کوم حکم ورکاوه له الهي قانونه په لاروۍ به يې دا چار ترسره کاوه؛ هغه قانون، چې بې له استثناء بايد ټولو ترې لاروي کړې وای. )) (٩)
*- (( په حکومتونو کې هم يو اسلامي حکومت يو د عدل حکومت، چې حکومتونه د وګړيو تابع وي او حکومتونه د خلکو لپاره وي؛ نه داچې خلک د حکومت لپاره وي. اسلامي حکومت هغه دی، چې د خلکو خدمتګزار وي او بايد خدمتګزار يې وي. )) (١٠)
*- (( د اسلام پېغمبر د نړۍ د نورو حکومتونو په څېر حکومت جوړ کړ؛ خو موخه يې ټولنيز عدالت و. )) (١١)
*- (( چارواکيو، واکمنانو او د دولت رييسانو ته تر عادي وګړيو د نفس تزکيه ډېره په کاره ده. که عادي وګړي تزکيه نشي او سرغړونه رامنځ ته شي؛ نو يو محدوده سرغړونه به وي؛ خو که. . . په هغو واکمنانو کې شوه، چې خلکو منلي دي؛ نو دا يو هېواد فساد ته راکاږي او کله هم هېوادونه فاسدوي. )) (١٢)
*- (( يو داسې دولت رامنځ ته شي، چې له ټولو سره په عدالت چلن کوي او د قشرونو ترمنځ پر توپير قايل نه وي؛ خو هغه انساني توپيرونه او امتيازات، چې په خپله يې لري. )) (١٣)

*-(( که د خدايي حق عادلانه حکومت غواړي رامنځ ته شي؛ نو بايد ملي شورا له فقهاوو او يا د فقهاوو تر څارنې لاندې رامنځ ته شي او په شورا کې اسماني قوانين طرح شي او د اسماني قوانينو د پلي کولو پر څرنګوالي خبرې اترې او بحث وشي او دولت يې پلي کوونکی ځواک شي. )) (١٤)

*- ((. . . . حکومت بايد په خدايي قانون، چې د خلکو او هېواد په ګټه دی، اداره شي، چې سمبالنه بې د فقيه او عالم له څارنې نه ترسره کېږي. . . )) (١٥)

*- (( اسلام. . . خپل ځانګړی ټولنيز، اقتصادي او فرهنګي نظام لري او د بشر د ژوند د ټولو اړخونو لپاره ځانګړي قوانين، چې بې ددې قوانينو له پلي کېدو ټولنه نېکمرغۍ ته نه رسي. )) (١٦)

*- ((معصوم امام او د مسلمانانو واکمن کولای شي هغه کارونه وکړي، چې د مسلمانانو په ګټه وي؛ لکه د بيو او صنعت ثابت ساتل او يا د سوداګرۍ محدودول، چې د نظام او ټولنې په صلاح او سمونه کې ونډه لري. )) (١٧)

*- (( بايد ووايم، چې حکومت، چې د رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم د مطلقه ولايت يوه څانګه ده، د اسلام له لومړنيو احکامو څخه دی او پر ټولو فرعيه احکامو حتی لمونځ، روژې او حج مقدم دی او لومړيتوب پرې لري. واکمن کولای شي هغه کور يا جومات وران کړي، چې د لارې يا واټ پر سر وي او د کور بيه يې خاوند ته ورکړي؛ واکمن کولای شي د لزوم او ضرورت پر مهال يو جومات بند کړي او هغه جومات، چې ضرار وي، که بې ورانولو يې چاره نه وي، ورانولای يې هم شي. حکومت کولای شي هغه شرعي قراردادونه، چې په خپله يې له خلکو سره تړلي او د اسلام او هېواد د مصلحت پر خلاف وي، يو اړخه لغو کړي او هم کولای شي هر چار عبادي که غير عبادي وي، چې جريان او بهير يې د اسلام د مصالحو پر خلاف وي، مخه يې ونيسي؛ حکومت کولای شي له حجه، چې له مهمو الهي فرايضو څخه دی، هغه مهال يې د لنډې مودې لپاره مخنيوی وکړي، چې د اسلام د مصالحو پر خلاف وي. هغه څه چې تر اوسه ويل شوي او يا به وويل شي د مطلقه الهي ولايت د نه شناخت او پېژندو له امله دي. هغه څه چې ويل شوي، چې شايع دي مزارعه او مضاربه او دوی ته ورته به په خپلو اختياراتو له منځه وړي؛ په ډاګه يې وايم که فرضاً داسې وي؛ نو دا د حکومت له اختياراتو څخه دي او تر دوی پورته هم يو لړ مسايل دي، چې نور مو وخت نه نيسم. )) (١٨)

*- ((. . . . په اسلامي حکومت کې بايد تل د اجتهاد ور پرانستی وي او د انقلاب او نظام د طبيعت غوښتنه ده، چې په بېلابېلو زمينو کې اجتهادي-فقهي نظرات که څه يو د بل مخالف وي، راوړاندې شي او څوک يې د مخنيوي څواک او وسه نه لري؛ خو مهمه د ټولنې او حکومت سم پېژندل دي، چې پر بنسټ يې اسلامي نظام وکولای شي، چې د مسلمانانو په گټه برنامه جوړه کړي. . . . . )) (۱۹)

## پاېلیکونه


۱-( امام خمیني؛ ولایت فقیه، حکومت اسلامي، تهران، انتشارات امیر کبیر، ۹٤/۱۳۵۷ مخ )
۲-( امام خمیني؛ ولایت فقیه، حکومت اسلامي، تهران، انتشارات امیر کبیر، ۵۲/۱۳۵۷-۵۳ مخونه )
۳-(صحیفه امام؛ څلورم ټوک، ٤٤٤ مخ. )
٤-(صحیفه امام؛ اتم ټوک، ۲۸۱ مخ. )
۵-(صحیفه امام؛ پینځم ټوک، ۳۸۸ مخ. )
٦-(امام خمیني، ولایت فقیه:حکومت اسلامي، ۳۳ مخ. )
۷-(امام خمیني، ولایت فقیه:حکومت اسلامي، ۱۷ مخ. )
۸-(امام خمیني، ولایت فقیه:حکومت اسلامي، ٦۱ مخ. )
۹-(امام خمیني، ولایت فقیه:حکومت اسلامي، ۳٤مخ. )
۱۰-(صحیفه امام؛ شپږم ټوک، ٤٦۸ مخ. )
۱۱-(صحیفه امام؛ ۲۱ ټوک، ٤۰٦ مخ. )
۱۲-(صحیفه امام؛ ١٤ ټوک، ۳۹۱-۳۹۲ مخونه. )
۱۳-(صحیفه امام؛ ۹ ټوک، ۷۲ مخ. )
١٤-(امام خمیني، کشف اسرار، ۱۹۱ مخ )
۱۵-(امام خمیني، کشف اسرار، ۲۲۱ مخ )
۱٦-(صحیفه امام؛ ۵ ټوک، ۳۸۹مخ. )
۱۷-(امام خمیني، تحریر الوسیله، دویم چاپ، قم، موسسه مطبوعات دارالعلمیه اسماعیلیان نجفي، بي تا، ٦۲٦ مخ. )
۱۸-(صحیفه امام؛ ۲۰ ټوک، ٤۵۱-٤۵۲. )
۱۹-((صحیفه امام؛ ۲۱ ټوک، ۱۷۷مخ. ))

# امام خمیني (ره) او د انسان حجابونه

بې له خدایه بل ته توجه، انسان په "ظلماني" او "نوراني" حجابونو کې رانغاړي. ټولې دنیوي چارې، چې د انسان توجه له خدایه دنیا ته راواړوي؛ نو د ظلماني حجاب لامليږي. ټول عوالم اجسام ظلماني حجابونه دي او که دنیا حق ته د توجه او آخرت ته چې "دارالتشریف" دی، د رسېدو لامل شي؛ نو ظلماني حجابونه پر نوراني حجابوني اوړي او "کمال انقطاع" هغه دی، چې ټول ظلماني او نوراني حجابونه وشلول او لرې شي تر څو وکولای شو الهي مېلمستون ته چې د "عظمت معدن" دی ورننوځو؛ نو په دې مناجاتو کې له متعال خدایه د زړه د سترګو رڼا او روښتیا غواړي، تر څو وکولای شي، چې نوراني حجابونه وشلوي او د عظمت معدن ته ورسي: "حتی تخرق ابصار القلوب حجب النور فتصل الی معدن الظمة ".

خو هغوی چې تر اوسه لا ظلماني حجابونه نه وي شلولي؛ د چاچې ټوله توجه طبیعت ته ده او العیاذ بالله له "عن الله" منحرف وي او له بېخه د روحانیت او له طبیعت له هاخوا عالمه بې خبره وي او "منکوس الی الطبیعه" دی او هېڅکله په دې تکل کې شوی نه وي، چې ځان اصلاح کړي او په ځان کې روحاني او معنوي ځواک رامنځ ته کړي او هغه تورې پردې له زړه لرې کړي او و يې شلوي، چې پر زړه يې پرتې دي؛ نو په "اسفل سافلین"[1] کې، چې تر ټولو روستی ظلماني حجاب دی پروت دی، حال داچې خدای بشر لوړمقامی او لوړرتبه پنځولی دی: "لقد خلقنا الانسان فی احسن تقویم[2]"څوک چې په ځاني غوښتنو پسې ځي او له هغه ورځې يې چې ځان پېژندلی او بې له ظلماني طبیعت بل ته توجه ن نه لري او هېڅکله فکر نه کوي، چې بې له دې تپې تیارې دنیا به بل منزل هم وي؛ نو په ظلماني حجابونو کې ډوب دی او د " اخلد الی الارض و اتبع هواه"[3] مصداق دی. هغه په ګناهونو او په هغه ککړ زړه، په ظلماني پردو پوښل شوی دی او تنګ روح، چې د ګناه د ډېر والي او له حق تعالی نه د سرغړونې له امله لرې شوی دی، هغه ځاني غوښتنې او له دنیا سره مینه، چې عقل او حقیقت لیدونکې سترګې يې ورته ړندې کړې دي؛ نشي کولای له ظلماني حجابونه ځان خلاص کړي؛ دا خو لا لرې ده، چې وکولای شي، نوراني حجابونه وشلوي او "انقطاع الی

---

[1]. تین/۵

[2]. په تحقیق چې موږ انسان ډېر په غوره توګه پنځولی دی. (تین/۴)

[3]. (اعراف/۱۷۲)

الله "لاس ته راوړي. هغه باید ډېر معتقد او ګروهمن وي، چې د الهي اولیاوو له مقامه منکر نشي. عالم برزخ، صراط، معاد، قیامت، حساب وکتاب، دوزخ او جنت افسانې و نه ګڼي. انسان په تدریج د ډېری ګناهونو او له دنیا سره د ډېرې مینې له امله له دې حقایقو منکرېږي؛ د اولیاوو له مقاماتو منکرېږي.

# امام خمیني (ره ) او د دیني تفکر احیا[1]

*- (( اساساً الهي انبیاء د خدای د بندګانو خدمت ته مبعوث شوي دي؛ معنوي او ارشادي خدمتونه، له تېوتیارو نه د رڼا پر لور را بشر راایستل او مظلومان، تېري ځپلیو او مستضعفانو ته خدمت او د عدل، وګړیز او ټولنیز عدالت راوستل. )) (۱)

*- ((که اسلامي قوانین په لوړه کچه رعایت شي؛ دا دوه مقصده به پلي شي، چې د انبیاوو مقاصد دي: د خلکو د روحانیت او کمال مقصد او په ټولنه کې عدل پلي کول. )) (۲)

*- (( مادیت د اسلام د معنویت تر سیوري لاندې منو. معنویت، اخلاق او د نفس تهذیب. اسلام د نفس د تهذیب لپاره راغلی دی، د انسان سازۍ لپاره راغلی دی او ټول توحیدي ښوونځي د انسان سازۍ لپاره راغلي دي. )) (۳)

*- ((داچې ویل کېږي، چې الهي انبیاء علیهم السلام له معنویاتو سره سروکار لري او حکومت او واکمني او دنیایي چارې رټل شوي دي او انبیاوو او الهي اولیاوو ترې ډډه کوله او موږ هم داسې وکړو؛ نو دا هغه د خواشینۍ خبره ده، چې اسلامي ولسونه یې ورک او پوپناه کړل او استعمارګرانو او ښکېلاګرانو لپاره لاره هواروي. )) (٤)

*- ((داسې تصور دې ونشي، چې د حکومت او قضا منصب یوازې د ائمو لپاره و او حکومت او واکمني یوازې له دې نظره د اهمیت وړ دی، چې وکولای شي په ټولنه کې د عدل حکومت او ټولنیز عدالت پلي کړي؛ خو د ائمو روحاني مقامات، چې د بشر له درکه مافوق دي، له نصب او جعل سره تړاو نه لري. )) (۵)

*- ((. . . . هغه چې غواړي الهي حدود جاري کړي؛ یعنې د اسلامي جزایي قانون پلي کړي، د بیت المال چارې په لاس کې واخلي او خدای د خپلو بندګانو اختیار ورته په لاس کې ورکړي، باید ګناهکار نه وي. )) (٦)

*- ((پوهېږم، چې د اسلام سرتېري له بېوزلیو او کم درآمدو وګړیو څنې وو او ماړه او غوښن وګړي لږ وسوځېدل او زحمت یې وګالل؛ نو اوس زموږ دنده ده، چې تر خپلې وسې یې قدرمني وکړو؛ خو نه غواړم، چې دا قدرمني یوازې په خوله وي؛ بلکې باید په هر ډول ټولنیزو، اقتصادي او فرهنګي چارو کې ارزښت او اهمیت ورکړل شي. ))

---

[1] -دا برخه د "سید جواد ورعي" د " امام خمیني و احیای تفکر دیني" له کتابه اخستل شوې ده، چې چاپ او نشر عروج (وابسته به موسسه تنظیم و نشر آثار امام خمیني) لخوا خپور شوی دی.

*- (( اسلام مالکیت مني؛ خو اسلامي قوانین مالکیت تعدیلوي او که پر اسلامي قوانینو عمل وشي؛ نو هېڅوک به هم د خورا ځمکو خاوند نشي او په اسلام کې مالکیت داسې دی، چې تقریباً ټول په یوه سطحه شي. )) (۷)
*- ((همداسې چې دا "کمیټه امداد" یو ظریف او شریف عمل دی، چې په دې عمل به ان شاء الله له ټول هېواده د ایران د شریف ولس او چارواکیو په همت د بېوزلۍ ټغر راټول شي. )) (۸)
*- (( د اسلامي ټولنو یو تر ټولو ستر درد دادی، چې تر اوسه یې د ډېری اسلامي احکامو واقعي فلسفه نه ده درک کړې او حج له هومره دبدبې سره یې چې لري، تر اوسه هم د یو وچ، بې حاصله، بې ثمره او بې حرکته عبادت په بڼه پاتې دی. . . . . هغه څه چې تر اوسه د ناپوهو او مغرضو شننونکیو او د نورو د مزدورانو لخوا د حج د فلسفې په نامه ویل شوی، دادی، چې حج یو ډله اییز او سیاحتي عبادت او سفر دی. )) (۹)
*- (( آیا باید کېنو، چې محصلین راته پر نېکیو امر وکړي او دندې سرته رسولو ته مو راوبولي؟ له اروپا څخه راته ځوانان پر نېکیو امر وکړي، چې موږ اسلامي حوزه جوړه کړو، تاسې راسره مرسته وکړئ!. ))
*- (( موږ خپل ذهنونه پر وړو منکراتو راټول کړی دی، حال داچې پر نېکیو امر کوونکی او له بدیو منع کوونکی، اسلام ته رابلونکی او د تېریو او ظلمونو ردوونکی دی. د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د وجوب ستره برخه په همدې چارو کې ده؛ موږ پر نېکیو امر او له بدیو منع په وړوکي کړۍکې کړې ده او په هغو چارو کې مو رامحدود کړی دی، چې ضرر یې په خپله په وګړي پورې تړلی وي. . . . . .
خو سترو ګناهونو او منکراتو ته مو پام نه دی؛ هغه خلک، چې د اسلام حیثیت تر پښو لاندې کوي، د بېوزلیو او مستضعفانو حقوق تر پښو لاندې کوي. . . . باید له بدیو منع او نهی عن المنکر وشي. )) (۱۰)
*- ((په خپله د الهي احکامو بیانول او ظلم او بدعت سره مخالفت کول ګټور چار دی؛ ځکه ددې لاملېږي، چې عامه خلک په ټولنیز فساد او فاسق، بې دینه او خاینو چارواکیو پر خیانت پوه شي او ورسره مبارزې ته راودانګي او له ظالمانو سره له همکارۍ ډډه وکړي او له فاسدو او خاینو واکمنانو او چارواکیو سرغړونه وکړي. په داسې چارو کې ددیني علماوو لخوا مخالفت، د ټولنې د دیني مشرۍ لخوا یو ډول "نهی عن المنکر او له بدیو منع" ده، چې

ورپسې به له بدیو د منع یو پیاوړی خوځښت او څپه وي؛ یو داسې خوځښت به وزیږوي، چې ټول غیرتي خلک به پکې ګډون کوي. )) (١١)
*- ((که په اسلام کې یو بدعت وشي او د دیني علماوو چوپیتا، د دین د بې احترامی او د مسلمانانو د عقیدې د کمزوری لامل شي؛ نو دلته له بدیو منع په هره ممکنه وسیله واجب ده او په دې اړه توپیر نه کوي، چې د هغوی انکار د فساد د جرړې د رانړولو په برخه کې ګټور وي که نه وي او که د منکراتو پر وړاندې د هغوی په چوپتیا پسې داسې مفسده وي او په داسې ځایونو کې به په ضرر پسې نه ګرځې؛ بلکې د مطلب اهمیت ته به ګوري. )) (١٢)
*-(( باید ددې حرامخوریو او لوټ مخه ونیسو او ټول خلک پردې چار موظف دي؛ خو ددیني علماوو دنده درنده او مهمه ده. )) (١٣)
*- ((که نن ځواک نه لرو، چې ددې ناوړه چارو مخه ونیسو او د ولس خاینانو، حرامخورانو او غلو ته سزا ورکړو؛ نو باید کوښښ وکړو، چې ځواک یې له منګولو راوباسو او پخپله ترې ځواک ونیسو. )) (١٤)
*- ((دا مطلب باید وویل شي، چې خلک متوجه شي او راتلونکی نسل ددې ډلې چوپتیا خپله حجت نه کړي او ووایي، چې کېدای شي د واکمنانو چلن د شرعې له مخې و او د دین غوښتنه وه، چې ظالمان خرامخوري وکړي او د خلکو مال لوټ کړي. )) (١٥)
*- ((د منکراتو مخنیوی پر ټولو مسلمانانو فرض دی، پر نېکیو د امر او له بدیو د منع حق پر ټولو مسلمانانو فرض دی. )) (١٦)
*- ((پر نېکیو امر او له بدیو منع هغه چار دی، چې پر هر چا فرض دی. . . . تاسې باید و نه ویاست، چې زه خو څه ملا یا طالب نه یم، په ممبر خو نه کېنم؛ خو دینوال او ديندار یاست، چې له خپلې کورنی، زوی، لور او خپلو ملګرو او دوستانو سره خبرې کولای شئ او همدومره تاسې مکلف یاست. )) (١٧)
*- (( د اخلاقي او ټولنیزو ارزښتونو پر ساتنه او د ټولنو پر سمونه ټینګار کوو، چې ځنې له خدایه بې خبره تصور و نه کړي، چې خلک یې د ناوړه نیتونو پر وړاندې بې توپیره دي. )) (١٨)
*- (( د اسلام سند، چې قرآن دی محفوظ دی حتی یو ټکي یې هم بدلون نه دی موندلی او په قرآن کې هر څه شته؛ یعنې یو انسان سازه کتاب دی او لکه څنګه چې انسان هر څه دی؛ معنویت لري، مادیت لري، ظاهر لري او باطن لري؛ قرآن راغلی، چې دا انسان جوړ کړي؛ د انسان ټول ابعاد جوړوي؛ یعنې ټولو هغو اړتیاوو ته یې پام دی، چې انسان یې لري. )) (١٩)

*- (( اسلام يو سياسي دين دی، چې هر څه يې سياست دی؛ حتی عبادت يې سياست دی. )) (۲۰)

*- ((ماشومان مو له سياسته مه لرې کوئ او له سياسته د ماشومانو لرېتوب به دا پايله ولري، چې راتلونکې پرې په ټولنې ته ورځې او هغه کسان، چې غواړي په دې هېواد کې ژوند وکړي اوددې هېواد برخليک يې په لاسونو کې وي؛ بايد پر ټولو هغو دوکو، استعمارونواو چل ولونو پوه او آگاه وي، چې له موږ سره يې کړي دي او دا ټول بايد ورته تاسې وواياست، د ورځې پر مسلو يې پوه کړئ او که داسې و نه کړئ؛ نو خدای مه کړه يوه ورځ به هغه کوږ فکري ستاسې د ماشومانو پوهولو ته ډگر ته راشي، چې پوټه به ورته مسايل بيانوي او ماشومانو ته مو هر اړخيزه ښوونه و او روزنه وکړئ. )) (۲۱)

*- ((يو اساسي توپير دادی، چې هغه څه چې بشر جوړ کړي، يو کمزوري اړخ ته يې پام کړی دی؛ مثلاً هغه قوانين يې وضع کړي، چې نظام وساتل وشي او انتظامات پرې راوړي او داسې قوانين يې وضع کړي، چې يوازې د همدې دنيا دي او د سياست کيفيت او څرنگوالی يې دنيوي دی او ددې قوانينو، چې بشر جوړ کړي، پام يې بېخي هغه نورو اړخونو ته نه دی، چې بشر يې لري؛ تاسې چې کله اسلام ته گورئ؛ نو د انسان د اړخونو هومره طرح او قانون لري. مخکې له دې، چې انسان دنيا ته راشي او مخکې له دې، چې موروپلار واده وکړي؛ نو دې ټولو چارو ته پروگرام لري، چې دا تخم څنگه سم وروزل شي. اسلام دې ته طرح لري، چې څنگه مېرمن يا مېړه وټاکئ، د واده، کوروالي، اميندواری او ته آداب لري. . . . خو د بشر په يو قانون کې هم دومره پراخ بنسټي نشته او دا چار يوازې د انبياوو په ښوونځي کې ليدل کېږي. . . . . )) (۲۲)

*- ((بنسټيزه موخه داده، چې موږ څرنگه کولای شو، چې د وگړي او ټولنې په عمل کې فقه پلي کړو او وکولای شو، چې ستونزو ته ځواب ومومو او د استکبار ټوله وېره هم له همدې ده، چې فقه او اجتهاد عيني او عملي اړخ ومومي او په مسلمانانو کې د پاڅون ځواک راپيدا شي. )) (۲۳)

*- (( د ټولو عقايدو اصلي جرړه، چې زموږ تر ټولو باارزښته او مهمه عقيده ده، د توحيد په اصل کې ده او ددې اصل له مخې موږ معتقد يو، چې د ټولې هستۍ، انسان او عالمونو پيدا کوونکی يوازې ايکي يو خدای دی، چې له ټولو حقايقو خبر دی او پر هر څه وسمن دی او د هر څه مالک دی. دا اصل راښيي، چې انسان بايد يوازې د ايکي يو خدای پر وړاندې تسليم وي او يوه انسان ته هم تسليم نشي؛ خو داچې له هغه انسانه لاروي له خدايه لاروي

وي؛ نو بردې بنسټ يو انسان هم حق نه لري، چې بل انسان د ځان پر وړاندې تسليم ته اړ او مجبور کړي او موږ له دې اصله د انسان د آزادۍ اصل ته رسو، چې هېڅ انسان حق نه لري، چې کوم وګړی او يا ټولنه د آزادۍ له حقه بې برخې کړي، قانون ورته وضع کړي، د هغه کړنې او اړيکې د خپلې پوهې او پېژندنې له مخې، چې خورا نيمګړی دی، وضع کړي او د همدې اصل له مخې موږ معتقد يو، چې قانونګذاري د پرمختګ لپاره ده او يوازې دا چار د خدای واک دی او لکه څنګه د هستۍ او خلقت قوانين هم خدای مقرر کړي دي او د بشر او بشري ټولنو نېکمرغي هم له هغو قوانينو په لاروۍ کې ده، چې د انبياوو په واسطه خلکو ته ويل شوي دي او بشر د همدې امله انحطاط او سقوط هم کړی، چې آزادي يې ترې اخستل شوې او نورو انسانانو ته تسليم دی. )) (٢٤)

پاپلیکونه

١-(صحيفه نور؛ ١٨ ټوک، ٤٣ مخ. )
٢-(صحيفه نور؛ ١٨ ټوک، ٣٣ مخ. )
٣-(صحيفه نور؛ ٧ټوک، ١٦ مخ. )
٤-(صحيفه نور؛ ٢١ ټوک، ١٧٨ مخ. وصيت نامه الهي سياسي. )
٥-(ولايت فقيه، ٦٥ مخ. )
٦-(ولايت فقيه، ٣٩ مخ)
٧-(در جستجوي راه از كلام امام، لومړی دفتر، ٢١ مخ. )
٨-(صحيفه نور، ١٧ ټوک، ٢٤٥ مخ. )
٩-((صحيفه نور، ٢٠ ټوک، ٢٢٩ مخ. )
١٠-(ولايت فقيه، ١٠٦ مخ).
١١-(ولايت فقيه، ١٠٢ مخ)
١٢-(امام خميني، تحرير الوسيله، لومړی ټوک، ٤٥٤ مخ، ٧ مساله)
١٣-(ولايت فقيه، ١٠٤ مخ)
١٤-(ولايت فقيه، ١٠٤ مخ)
١٥-(ولايت فقيه، ١٠٢-١٠٣ مخونه)
١٦-(صحيفه نور، ١٣ ټوک، ٢٤٤ او ٢٤٥ مخونه. )
١٧-(صحيفه نور، ١٨ټوک، ٨٤ مخ)
١٨-(صحيفه نور، ٢١ ټوک، ٣٩ مخ. )
١٩-(صحيفه نور، ٣ ټوک، ١٢١ مخ. )
٢٠-(صحيفه نور، ٩ ټوک، ١٣٦ مخ. )
٢١-(صحيفه نور، ٥ټوک، ١٠٦-١٠٧مخونه)
٢٢-(صحيفه نور، ٥ ټوک، ٢٠ مخ)
٢٣-(صحيفه نور، ٢٠ ټوک، ١٥٧ مخ)
٢٤-(صحيفه نور، ٤ټوک، ١٦٦ مخ)

## دامام خميني (ره)له نظره د تهذيب او د نفس د تزکيې ارزښت

هغوی چې له ځانه دين جوړ کړی او د ډېری وګړيو د کږلاريو لامل شوي دي، ډېری يې د علم خاوندان وو؛ ځينو يې په علمي مراکزو کې زده کړې کړي او رياضتونه يې کړي دي[1]. د يوې باطلې فرقې مشر زموږ په مدرسو کې زده کړه کړې ده؛ خو داچې زده کړې يې له تهذيب او تزکيې سره يو ځای نه وې او د خدای په لار کې ګامونه نه اوچتول، خبايث يې له ځانه نه وو لرې کړي؛ نو دا ټولې رسوايۍ يې وکړې. که انسان له ځانه خبايث و نه باسي، که څومره زده کړه هم وکړي؛ نو نه يوازې ګټه ورته نه لري؛ بلکې خورا تاوانونه هم ورته لري. چې کله پوهه دې خبيث مرکز ته ورننووته؛ نو خبيثې څانګې او پاڼې به کوي او خبيثه ونه يا خبيثه شجره ترې جوړېږي او څومره، چې دا مفاهيم په تورتم او خبيث زړه کې زېرمه شي؛ نو حجابونه ډېرېږي. په هغه نفس کې علم ظلماني حجاب دی، چې مهذب شوی نه وي: العلم هوالحجاب الاکبر؛ نو اسلام ته د فاسد عالم شر تر ټولو شرريانو ډېر دی. پوهه رڼا ده؛ خو په فاسد او تورتم زړه کې تورتم او ظلمت لاپسې نور هم پراخوي. هغه پوهه، چې انسان خدای ته نږدې کوي، د دنيا غواړي په نفس کې يې د ذی الجلال خدای له درشله د لا لرېتوب لامليږي. که د توحيد پوهه هم د خدای پر ځای د بل چا لپاره وي؛ نو يو له ظلماني حجابونو څخه دی؛ ځکه بې له خدايه د بل چا لپاره دی. که د چا په څورالس ډوله قرآيتونو قرآن هم د بل چا لپاره زده وي او و يې لولي؛ نو له خدايه له لرېوالي او حجاب پرته به ورته هېڅ پايله و نه لري. که تاسې زده کړه وکړئ او زحمتونه وګالئ؛ نو شونې ده، چې عالمان شئ؛ خو بايد پوه شئ، چې د عالم او مهذب ترمنځ خورا واټن دی. زموږ استاد مرحوم شيخ[2] به ويل، داچې وايي: "ملا کېدل څومره اسان دي؛ خو انسانېدل څومره ستونزمن دي" سمه خبره نه ده. بايد وويل شي: ملا کېدل څومره ستونزمن دي او انسانېدل ناشوني دي!

---

[1]. له هغوی څخه: د محمد بن عبدالوهاب (د وهابيانو د فرقې بنسټګر)، شيخ احمد احسابي او سيد کاظم رشتي (د شيخيه فرقې بنسټګران) او احمد کسروي او غلام احمد (د قاديانيانو مشران).... نومونه اخستای شو.

[2]. حضرت آيت الله العظمی حاج شيخ عبدالکريم حائري يزدي (۱۲۷۲-۱۳۵۵ ه. ق) په څوارلسمه هجري پېړۍ کې ستر شيعه فقيه. په نجف او سامرا کې له سترو عالمانو څخه هر يو: ميرزای بزرګ شيرازي، ميرزا محمد تقي شيرازي، آخوند خراساني، سيد کاظم يزدي او سيد محمد اصفهاني څخه يې زده کړې کړي دي. پر ۱۳۴۰

د فضایلو، انساني مکارمو او د انسانیت موازین لاس ته راوړل ستاسې یوه ستره او ستونزمنه دنده ده، چې پر غاړه مو ده. ګومان مه کوئ اوس، چې په شرعي زده کړو بوخت یاست او فقه، چې د علوم اشرفه ده، زده کوئ؛ نو هوسا یاست او په خپلو دندو او مسوولیتونو مو عمل کړی دی او که اخلاص او خدای ته د نږدېدو نیت نه وي؛ نو دا پوهې هېڅ ګټه نه لري؛ که العیاذ بالله زده کړې مو د خدای لپاره نه وي او د ځاني غوښتنو، د نوم، مقام او شخصیت د لاس ته راوړو لپاره وي او د همدې چارو لپاره مو ګام پورته کړی وي؛ نو ځان ته مو وزرې او بنګې زېرمه کړې دي. دا اصطلاحات او ځرګندنې که د خدای پر ځای بل ته وي؛ نو وزرې او بنګې دي؛ دا اصطلاحات، چې څومره ډېرېږي، که له تهذیب او تقوا او ځان ساتې سره یو ځای نه وي؛ نو د دنیا او آخرت او د مسلمانانو د ټولنې په تاوان پای ته رسي. یوازې پردې اصطلاحاتو پوهېدل ګټه نه لري. د توحید پوهه هم کې د نفس له پاکۍ سره یو ځای نه وي؛ نو هېڅ ګټه به و نه لري او ډېر وو داسې وګړي، چې د توحید د علم عالمان وو؛ خو ټولنه یې کږلارې کړه او وو داسې وګړي، چې همدا ستاسې پوهه یې په ښه غوره بڼه درلوده؛ خو داچې کږلاري یې درلوده او اصلاح شوي نه وو؛ نو همداچې ټولنې ته ننووتل؛ نو ډېری یې بې لارې او کږلاري کړل. دا وچ اصطلاحات کې بې له تقوا او د نفس له تهذیبه وي؛ نو څومره، چې په ذهن کې زېرمه شي؛ نو کبر او نخوت ته د نفس په کړۍ کې خورا پراخي ورکوي او هغه بدمرغه عالم، چې کبر پرې بړلاسی شو، نشي کولای ځان او ټولنه سمه او اصلاح کړي او تر کلونو کلونو اسلامي زده کړو او د اسلامي مزایاوو او حقوقو تر برخمنېدو روسته، د اسلام او مسلمانانو د پرمختګ په لار کې خنډېږي او ولسونه کږلاري او بې لارې کوي او په دیني مدرسو کې ددې دومره زده کړو او زحمتونو پایله به یې داشي، چې اسلام به معرفي کېدو ته نه پرېږدي او نه به پرېږدي، چې د قرآن حقیقت نړیوالو ته وړاندې شي؛ بلکې شونې ده، چې وجود یې ټولنې او مسلمانانو ته د اسلام او روحانیت د معرفي کېدو په لار کې خنډ شي.

نه وایم، چې زده کړه مه کړئ، تحصیل مه کړئ؛ باید دې خبرې ته مو پام وي، چې که غواړئ اسلام او ټولنې ته ګټور وګړي شئ، د یو ولس مشري وکړئ او مخه یې اسلام ته راواړوئ؛ نو د اسلام له بنسټونو دفاع وکړئ، پکار ده، چې د فقاهت ستنې پیاوړې کړئ او د

---

ه. ق یې د قم د علماوو پر ټینګار او تر استخارت وروسته په هغه ښار کې مېشت شو او د قم علمي مدرسه یې جوړه کړه او آثار یې دادي: درر الفوائد در اصول، الصلوة، النکاح، الرضاع المواریث در فقه.

نظر خاوندان شئ او که خدای مه کړه، زده کړه و نه کړئ؛ نو په دې ديني مدرسو کې مو پاتې کېدل او مېشتېدل حرام دي او نشئ کولای د اسلامي علومو د محصلينو له شرعي حقوقو برخمن شئ؛ البته د پوهې زده کړه پکار ده؛ خو لکه څنگه چې په فقهي او اصولي چارو کې زحمت گالئ؛ د خپلې ځان د سمونې او اصلاح په لار کې هم گامونه پورته کړئ؛ هر گام، چې دعلم د زده کړې لپاره پورته کوئ؛ يو گام هم د ځاني غوښتنو چکولو، د روحاني ځواکونو پياوړي کولو او د اخلاق د مکارم او د معنوياتو د لاس ته راوړو لپاره پورته کړئ.

په واقع کې ددې علومو زده کړه، د نفس د تهذيب، د فضايلو او الهيه معارفلو او آدابو د لاس ته راوړو سريزه او مقدمه ده او د عمر تر پايه په سريزه کې مه پاتې کېږئ، چې پايله درځنې پاتې نشي. تاسې د يوې سترې او سپېڅلې موخې لپاره، چې خدای پېژندنه او د نفس تهذيب دی، دا علوم زده کوئ؛ دا علوم زده کوئ او بايد د خپل کار د ثمرې او پايلې د لاس ته راوړو په تکل کې شئ او خپلې اصلي او بنسټيزې موخې ته د رسېدو لپاره جديت وکاروئ.

تاسې چې کله ديني مدرسو ته راځئ؛ نو تر هر څه دمخه بايدد خپل ځان د سمونې په فکر او تکل کې شئ او تر هغه چې په ديني مدرسو کې مېشت ياست، د زده کړې ترڅنگ بايد خپل نفس هم تهذيب کړئ؛ نو چې کله له ديني مدرسو ولاړئ او د يوې سيمې او يو ولس مشري مو پر غاړه واخسته، تر څو د هغه سيمې وگړي مو له اخلاقي فضايلو گټنه وکړي، عبرت واخلي او اصلاح شي کوښښ وکړئ، مخکې تردې چې ټولنې ته ننوځئ، ځان اصلاح او مهذب کړئ. اوس مو چې اوږې سپکې دي که ځان مو اصلاح او نفس مو تهذيب نه کړ؛ نو هغه مهال ځان اصلاح کولای نشئ، چې ټولنې ته ننوتئ.

ډېرې داسې څيزونه دي، چې انسان يې بېچاره کړی دی او له تهذيب او زده کړې يې لرې کړی دی، چې يو له هغوی څنې، ځينو ته همدا ږيره او پگړۍ ده. چې کله پگړۍ لړه غټه شوه او ږيره اوږده شوه؛ نو که مهذب نه وي؛ نو له زده کړې پاتې کېږي؛ مقيدېږي او ستونزمنه ده، چې اماره نفس تر پښو لاندې کړي او د چا د زده کړې په ټولگي کې حاضر شي. شيخ طوسي [1]-عليه الرحمه-په دوه پنځوس کلنۍ کې هم زده کړيال و، حال داچې په

---

[1]. ابوجعفر محمد بن حسن طوسي (**۳۸۵-۴۶۰** ه. ق) په "شيخ الطايفه" ملقب او د اماميه وو له سترو علماوو څنې دی. هغه د خپل وخت د فقيهانو او متکلمانو مشر و او په ادب، رجال، تفسير او حديث کې هم برلاسی و. ښوونکي يې شيخ مفيد، سيد مرتضی، ابن غضائری او ابن عبدون وو، شيخ د شيعه د حديثو د دوو سترو

درویشت کلنۍ کې یې ځینې کتابونه کښلي دي او ښایي د تهذیب کتاب یې په درویشت کلنۍ کې کښلی دی. [1] او په دوه پنځوس کلنۍ کې به یې د سید مرتضی [2] زده کړیالي کوله، چې هغه مقام ته رسېدلی دی. خدای دې نه کړي، چې د فاضله ملکاتو تر لاس ته راوړنې او د روحاني ځواکونو تر پیاوړي کېدو مخکې د انسان بڼیره لړه سپینه او پګړۍ یې لړه ستره شي، چې له علمي او مانیزو ګټنو او له ټولو بړکاتو روسته پاتې شي؛ تر څو بڼیره سپینه شوي نه وي یو څه وکړئ؛ خدای دې نه کړي، چې د ځان تر جوړونې او اصلاح مخکې یو وګړي ته خلک مخه کړي، مقام ورکړي او شخصیت پیدا کړي او دی هم ځان ورک کړي او مخکې تردې، چې د اختیار واګې مو له لاسه واخستل شي، ځانونه اصلاح او جوړ کړئ. ځانونه په حسنه اخلاقو او غوره خویونو وپسولئ؛ اخلاقي رذایل له ځانه لرې کړئ او په زده کړه او بحثونو او وینو کې اخلاص ولرئ، چې خدای ته نږدې شئ. که په چارو کې نیت نړه نه وي؛ نو دا چار انسان له الهي درشله لرې کوي. داسې دې نه وي، چې تر اویا کالو روسته مو کړنلیک او عملنامه پرانځي؛ نو العیاذ بالله اویا کاله له خدایه لرې شوي وسئ د هغه ډېرې کیسه مو اورېدلې ده، چې دوزخ ته لوېدلې وه؟ تر اویا کالو روسته یې د دوزخ په تل کې د لوېدو عړ واورېدل شو. د یو روایت له مخې، حضرت رسول الله وویل: یو اویا کلن بوډا و، چې ومړ او په دې اویا کالو کې د دوزخ پر لور روان و![3] پام، چې په دیني مدرسو کې تر پنځوسو ډېر و کم کلونو زحمت ګاللو روسته دوزخیان نشئ. باید فکر مو وي. د نفس د تزکیې، تهذیب او د اخلاق او خویونو د سمونې او اصلاح لپاره کړلار او برنامه جوړه کړئ. د اخلاقو ښوونکی ځان ته وټاکئ، د نصیحتونو، وعظ او ویناوو غونډې جوړې کړئ او په یوازې ځان څوک ځان مهذبولای نشي.

---

کتابونو: استبصار او تهذیب خاوند دی، چې د امامیه وو له څلورګونو کتابونو ځنې شمېرل کېږي. شیخ طوسي نجف د شیعه وو علمي مرکز کړ.

[1]. شیخ طوسید تهذیب کتاب، چې د شیخ مفید د مقنعه شرح ده، د خپل استاد (شیخ مفید **۴۱۳** ه. ، ق مړ) پر ژوندون پیل کړی و. شیخ دا مهال څه نا څه شپږویشت کلن و. وګورئ: د شیخ آقا بزرګ تهراني په قلم د تبیان د تفسیر سریزه.

[2]. علي بن حسین بن موسی په "سید مرتضی" او "علم الهدی" مشهور (**۳۵۵-۴۳۶** ه. ق) د اسلام او تشیع له سترو عالمانو ځنې و. د شیعه وو ډېری عالمانو؛ لکه شیخ طوسي ترې زده کړې کړي دي او کتابونه یې دادي: امالي، الذریعه الی اصول الشریعة، الناصریات، الانتصار او الشافي.

[3]. فیض کاشاني؛ کلمات مکنونه؛ **۱۲۳** مخ.

که دیني مدرسې همداسې د اخلاقو له ښوونکیو او د نصیحتونو، وعظ او ویناوو له غونډو تشې وي؛ نو په ورکاوي او پوپناه کېدو به محکومې وي؛ څنګه ده، چې د فقهې او اصولو پوهه ښوونکي ته اړتیا لري، زده کړه او بحث غواړي، په دنیا کې د هرې پوهې او صنعت لپاره ښوونکی پکار دی، څوک په خپلسر نه کارپوهېږي، نه متخصصېږي او نه فقیه او عالمېږي؛ خو معنوي او اخلاقي علوم ــ چې د انبیاوو د بعثت موخه او تر ټولو لطیفې او دقیقې پوهې دي- ښوونې او زده کړې ته اړتیا نه لري او په خپلسر او بې له کوم ښوونکي لاس ته راځي؟! څو ځل مې اورېدلي، چې سید جلیلي[1]........................

د مرحوم شیخ انصاري[2] د اخلاقو او معنویاتو ښوونکی او د فقهې او اصولو استاد و.

الهي انبیاء ددې لپاره مبعوث شوي، چې انسان وروزي؛ انسان جوړ کړي، بشر له ناوړه کړنو، چټلیو، فسادونو او اخلاقي رذایلو لرې کړي او له فضایلو او حسنه آدابو سره یې اشنا کړي؛ "بعث لاتمم مکارم اللاخلاق"[3]، داسې علم، چې خدای ورته دومره توجه کړې او انبیاء یې ورته مبعوث کړي دي؛ اوس زموږ په دیني مدرسو کې دود نه دي او څوک ورته په ښه توګه ارزښت نه ورکوي او په دیني مدرسو کې د معنوي ښوونو د لږوالي له امله کار تردې رارسېدلی، چې مادي او دنیوي چارو په روحانیت کې سوری کړی دی او ډېری یې له روحانیت او معنویته لرې کړي دي، چې ېښځي نه پوهېږي، چې له ېښخه روحانیت څه ته وایي

[1]. سید علي بن سید محمد (۱۲۸۳ ه. ق مړ) د خپلې زمانې د عرفان او زهد له سترو شخصیتونو څخه و، چې له شیخ انصاري او سید حسین د شوشتر له امام جمعې یې اجازه درلوده. سید د ډېرې مودې لپاره په شوشتر کې په قضاء او افتاء بوخت و؛ بیا یې نجف اشراف ته مهاجرت وکړ او هلته د شیخ ا نصاري د فقهې په زده کړه کې حاضر شو او شیخ هم د هغه د اخلاقو په زده کړه کې حاضرېده؛ هغه د شیخ انصاري وصي و او د شیخ د ترفات وروسته یې پر ځای د تدریس پر کرسۍ کېناست. مرحوم سید علي د آخوند ملا حسینعلي همداني ښوونکی او استاد و، چې پخپله یې خورا زده کړیالان درلودل او د هغوی په روزنه بوخت و، چې د میرزا جواد ملکي تبریزي، سید احمد کربلایي، شیخ محمد بهار، سید علي قاضي تبریزي، علامه طباطبایي په څېر رسېدلي وګړي یې د ښوونځي زده کړیالان دي.

[2]. شیخ مرتضی انصاري (۱۲۱۴-۱۲۸۱ ه. ق) په "خاتم الفقهاء و المجتهدین" ملقب او د پېغمبر اکرم د ستر صحابي حضرت جابر بن عبدالله انصاري (رض) له لمسیانو څخه و، چې د علم اصول له نابغو څخه دی، چې په دې فن کې یې ستر بدلونونه رامنځ ته کړل، څخه استادان یې دادي: شیخ موسی کاشف الغطاء، ملا احمد نراقي او سید محمد مجاهد. شیخ انصاري ستر فقیهان وروزل، چې له هغوی څخه: آخوند خراساني، میرزای شیرازي او د میرزا محمد آشتیاني نوم اخستای شو. څخه آثار یې دادي: "فرآئد الاصول "(په رسائل مشهور)، او مکاسب، چې مشهور درسي کتاب دی

[3]. "مبعوث شوی یم، چې د اخلاقو مکارم مو بشپړ کړم. "مجمع البیان، د سورت قلم د څلورم آیت تر تفسیر لاندې.

او یو روحاني او ملا څه دنده لري او څه کړلار او برنامه باید ولري. ځنې یوازې په دې هڅه کې دي، چې یو څه ټکي زده کړي او په خپله سیمه او یا په بل ځای کې یو مقام او شخصیت لاس ته راوړي او له نورو سره لاس او پنجه نرمه کړي! لکه څنګه یې چې ویل: پربېږده، چې "شرح لمعه" ولولم، پوهېږم، چې د کلي له خان سره څه وکړم. داسې دې نه وي، چې د هماغه زده کړې له پیله مو موخه د پلاني منصب او مقام لاس ته راوړل وي او موخه مو دا وي، چې د پلانۍ سیمې یا کلي مشران شئ شونې ده، چې دې ځاني غوښتنو او شیطاني هیلو ته ورسئ؛ خو ځان او اسلامي ټولنې ته به مو بې له ضرره بل څه لاس ته نه وي راوړي. معاویه بن ابي سفیان د یوې مودې لپاره رئیس و؛ خو د ځان لپاره یې بې له ښېرو، لعنت او د آخرت له عذابه هېڅ هم و نه ګټل.
پکار ده، چې ځانونه تهذیب کړئ، چې کله د یو ټبر یا سیمې مشران شوئ، هغوی هم تهذیب کړئ. د ټولنې د اصلاح او جوړونې لپاره ګامونه پورته کړئ او موخه مو دې داوي، چې اسلام او مسلمانانو ته خدمت وکړئ. که د خدای لپاره ګام پورته کړئ؛ نو خدای "مقلب القلوب" دی؛ زړونه به تاسې ته متوجه کړي: "ان الذین آمنوا و عملوا الصالحات سیجعل لهم الرحمان ودا "[1] تاسې د خدای په لاره کې زحمت وګالئ، سرښندنې وکړئ؛ نو خدای به مو هم بې اجره پرېنږدي؛ که په دې دنیا کې نه شول؛ نو په آخرت کې به مو اجر درکړي او که په دې دنیا کې یې اجر در نه کړ؛ نو څومره ښه. دا دنیا خو څه ارزښت نه لري. دا اړ دوړ او شخصیتونه به څو ورځې روسته پای ته ورسي، د خوب په څېر د انسان د سترګو له مخې تېرېږي؛ خو اخروي اجر ناپایه او لایتناهي دی.

---

۱. او هغوی چې ایمان راوړی دی او نېکچاري کوي؛ نو رحمان خدای به یې (د نورو ) په زړونو کې مینه واچوي. (مریم/۹۶ )

## امام خمیني (ره) او اخلاق او سیاست[1]

*- ((داچې انسان یوه ټولګه ده، چې هر څه ته اړتیا لري؛ نو انبیاء هم د همدې لپاره راغلي، چې هغه څه انسان ته ووایي، چې ورته اړتیا لري او که عمل یې پرې وکړ؛ نو بشپړې نېکمرغۍ ته به رسېدلی وي. )) (۱)

*- ((انبیاوو هم ټول هغه څیزونه، چې په روح، عقلیه مقاماتو او غیبیه مراکزو پورې اړوند دي، راته ویلي دي. )) (۲)

*- ((هم هغه څیزونه، چې وګړیزې دندې دي او د انسان تکامل او ترقیات رانغاړي، په قرآن او سنتو کې بیان شوي او هم هغه څیزونه بیان شوي، چې په ټولنې، سیاست، ښوونې، روزنې او اجتماعې پورې اړوند دي. )) (۳)

*- ((موږ یو داسې کتاب لرو، چې وګړیز مصالح، ټولنیز مصالح، سیاسي مصالح، واکمني او هر څه یې رانغاړلي دي. )) (٤)

*- (( هغوی چې اسلام یوازې په دې کې خلاصه کوي، چې وخوري، ویده شي، لمونځ وکړي او روژه ونیسي او ددې ملت په ستونزو او ددې ټولنې د ستونزو په هواري کې ګډون و نه کړي؛ نو د خدای د رسول د وینا له مخې مسلمان نه دی. )) (۵)

*- ((اسلام د انسان ټول ژوند ته له هغه مهاله، چې وزېږي تر هغه وخته چې یې په قبر کې ږدي، احکام لري. )) (٦)

*- (( مګر سیاست څه دی؟ د واکمن او ولس ترمنځ اړیکې، د واکمن او نورو حکومتونو ترمنځ اړیکې او که سیاست دا وي، چې له مفاسدو مخنیوی یې یوه برخه وشمېرل شي؛ نو اسلام هم سیاست لري. . . . اسلام د واکمنۍ چارو او احکامو ته وایي. )) (۷)

*- ((سیاست دادی، چې ټولنې ته لارښوونه وکړي او پر مخ یې بوځي، د ټولنې ټول مصالح په پام کې ونیسي او د انسان او ټولنې ټول اړخونه په نظر کې ونیسي او دوی هغې لوري ته هدایت کړي، چې په صلاح یې وي، د ولس پکې صلاح وي د وګړیو پکې صلاح وي او دا چار په انبیاوو پورې ځانګړې دی. )) (۸)

[1] -دا برخه د "سیدحسن اخلاقي" د "امام، اخلاق، سیاست" له کتابه، چې د موسسه چاپ و نشر عروج لخوا خپور شوی دی، اخستل شوې ده.

*- (( ټول فسادونه، چې په نړۍ کې پیدا کیږي، له ځانمنۍ راولاړیږي؛ د ځواک، مال او ځان سره د مینې له امله دی او ددې ټولو جرړه په "حب نفس" کې ده او دا بوت تر ټولو ستر دی او ماتول یې هم تر ټولو ستونزمن چار دی. )) (۹)

*- ((دا خبره د استعمارګرانو او ښکېلاګرانو ویلې، چې دیانت باید له سیاسته بېل وي او اسلامي علماء دې په ټولنیزو او سیاسي چارو کې لاس نه وهي؛ مګر د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم پر مهال سیاست له دیانته بېل و؟مګر پر هغه مهال ځینې ملایان وو او ځینې سیاستوال او واکمنان؟مګر هغه دوې دستګاهګانې وې؟دا خبرې استعمارګرانو او ښکېلاګرانو او د هغوی مزدورانو جوړې کړې او خپرې کړې دي تر څو دین د مسلمانانو په ژوند کې او د مسلمانانو د ټولنې له سمونه لرې کړي. )) (۱۰)

*- ((داچې وايي: "زموږ له سیاست سره څه کار " معنی یې داده، چې له بېخه اسلام شاته واچوو؛ اسلام یوازې په کوټو کې خخ شي او یوازې په کتابونو کې پاتې شي. )) (۱۱)

*- ((نن نړۍ راکتېونه، بمونه او مزایل نه ګواښـي؛ هغه څه چې نن انسانان او هېوادونه ورکوي او پوپناه کوي، هغه له اخلاقي انحطاطونه او کړلارۍ دي، چې په واکمنانو کې یې دي. )) (۱۲)

*- ((اسلام یوازې مادي ښوونځی نه دی؛ بلکې یو مادي-معنوي ښوونځی دی. . . . اسلام د انسان تهذیب ته راغلی دی. . . د اسلام او ټولو انبیاوو موخه دا وه، چې انسان وروزي. )) (۱۳)

*- ((د اسلام دیانت یوازې عبادي دیانت نه دی. . . . او همدارار یوازې یو سیاسي دیانت نه دی؛ بلکې هم سیاسي دی هم عبادي؛ سیاست یې په عبادت کې دی او عبادت یې په سیاست کې دی؛ یعنې هماغه عبادي اړخ یې یو سیاسي اړخ هم لري. )) (۱٤)

*- ((د اسلام اخلاقي احکام هم سیاسي دي، داچې کوم حکم چې په قرآن کې دی، چې ټول مؤمنان سره ورونه دي، دا یو اخلاقي حکم دی، یو ټولنیز حکم دی، یو سیاسي حکم دی. په اسلام کې څومره خلک دي او پر خدای او پېغمبر یې ایمان لري؛ نو دوی ټول سره ورونه دي او لکه څنګه چې ورور خپل ورو ته په نېکه او مینه ګوري؛ نو ټول وګړي دې یو بل ته په نېکه او مینه وګوري؛ سربېره پردې، چې دا یو ستر اسلامي اخلاق دی او سترې اخلاقي پایلې لري؛ یو ستر ټولنیز حکم هم دی، چې سترې ټولنیزې پایلې لري. )) (۱۵)

*- (( که و مو لیدل، چې واقعاً تېروتۍ؛ نو اعتراف وکړئ. دا اعتراف به مو د ولسونو په نظر کې ستر کړي؛ نه داچې پر خپله تېروتنه اعتراف به مو کوچني کړي. . . . . )) (۱٦)

*- ((تاسې په خپل اسلامي چلن او د خوځښت په خونديي ساتلو او دې خبرې ته په پام، چې خدای تعالی به مو تایید کړي، په اسلامي چلن او اخلاق دا ځواک وساتئ، چې بریالی کړی مو دی. )) (۱۷)

*- ((هر څوک په هر مقام په ځان کې د کمزورۍ احساس کوي؛ څه د مدیریت ضعف او څه د ارادې ضعف. . . . په مړانه او سرلوړۍ دې صالحانو ته ځای پرېږدي، چې په خپله دا صالح عمل يو ډول عبادت دی. )) (۱۸)

*- ((که انسان غواړي خدای ته کار وکړي او د انسانیت مقام ته رسېدل غواړي؛ نو تل باید د خپلو نیمگړتیاوو په لټه کې وي او په دې پسې نه وي، چې څه ښېگڼې لري؛ ځکه که د خپلې نیمگړتیا په لټه کې شو؛ نو د خپلې نیمگړتیا د لرې کولو په تکل کې به شي او که د خپلو ښېگڼو په لټه کې شو؛ نو پخپله دا چار يې پر نیمگړتیاوو یوه پرده ده، چې و به نشي کولای، چې خپلې نیمگړتیاوې ووینی. )) (۱۹)

*- ((باید نیوکه وشي او که نیوکه ونشي؛ نو ټولنه نه اصلاح کېږي. . . )) (۲۰)

*- (( که يو انسان ځان اصلاح کړی وي؛ نو هېڅ بده به پرې و نه لگي، چې ولس پرې نیوکه وکړي. )) (۲۱)

*- (( تاسې د ټولنې د اخلاقو ښوونکي شئ؛ نو ټوله ټولنه به هم ستاسې ملاتړه شي. . . . او که خدای مه کړه، اخلاقي کږلاري پیدا شي او ځاني غوښتنې او شخصي گټې رامخې ته شي. . . چې دا د خدای پر وړاندې يو انحطاط دی او وېره به له دې وي، چې دا بار تر منزله و نه رسوئ. )) (۲۲)

*- (( نن داسې ورځ ده، چې باید اسلام وساتئ او د اسلام ساتنه په دې کې ده، چې خپلې کړنې مو تعدیل کړئ، له ولس سره ښه وچلېږئ، له خلکو سره وروروليي وکړئ او ټول ولس خپل ورونه وگڼي. . . )) (۲۳)

## پایلیکونه


١-(د امام خميني صحيفه، ٤ ټوک، ١٩٠ مخ. )
٢-(د امام خميني صحيفه، ٣ ټوک، ٢٣٧ مخ. )
٣-(د امام خميني صحيفه، ٣ ټوک، ٢٣٧ مخ. )
٤-(د امام خميني صحيفه، ١٨ ټوک، ٤٢٣ مخ. )
٥-(د امام خميني صحيفه، ١٤ ټوک، ٥٢٨-٥٢٧ مخونه. )
٦-(د امام خميني صحيفه، ١ ټوک، ٢٧١ مخ. )
٧- (البيع، ٢ ټوک، ٤٧٢ مخ. )
٨-(د امام خميني صحيفه، ١٥ټوک، ٢١٤ مخ. )
٩-(د امام خميني صحيفه، ١٨ ټوک، ٢٠٦ مخ. )
١٠-(ولايت فقيه، ١٦ مخ)
١١-(د امام خميني صحيفه، ٣ ټوک، ٣٣٨ مخ. )
١٢-(د امام خميني صحيفه، ١٦ټوک، ١٦١ مخ. )
١٣-(د امام خميني صحيفه، ٧ ټوک، ٥٣١ مخ. )
١٤-(د امام خميني صحيفه، ٤ټوک، ٩ مخ. )
١٥- (د امام خميني صحيفه، ١٣ ټوک، ١-١٣٠ مخونه. )
١٦-(د امام خميني صحيفه، ١٤ ټوک، ٩٣ مخ. )
١٧-(د امام خميني صحيفه، ٣ ټوک، ١٤٢ مخ. )
١٨-(د امام خميني صحيفه، ١٩ ټوک، ١٥٧ مخ. )
١٩-(د امام خميني صحيفه، ١٧ټوک، ٢٤٦ مخ. )
٢٠-( د امام خميني صحيفه، ١٤ ټوک، ٤٠١ مخ. )
٢١-(د امام خميني صحيفه، ١٣ ټوک، ١٩٨ مخ. )
٢٢-(د امام خميني صحيفه، ١٢ ټوک، ٣٥١ مخ. )
٢٣-(د امام خميني صحيفه، ٨ ټوک، ٣٧٢ مخ. )

## ديني مدرسو ته د امام خميني (ره)

## خبرداری

شونې ده، چې ناپاکه لاسونه په خپلو ناوړه تبليغاتو، زهرو شيندلو، اصلاحي او اخلاقي برنامې او کړلارې بې ارزښته وښيي، پر ممبر کېناستل او خلکو ته وعظ او نصيحت کول مو له علمي مقام سره په ټکر کې وبولي او د مممبري د نوم د ټاپې په لګولو هغه وګړي له کاره شاته کړي، چې د ديني مدرسو د اصلاح او تنظيم په تکل کې دي. نن کېداى شي په ځينو ديني مدرسو کې پر ممبر کېناستل او موعظه کول ننګ وګڼل شي؛ خو له دې غافله دي، چې حضرت امير المؤمنين-عليه السلام-ممبري و او پر ممنبر يې خلکو ته نصيحت کاوه، خلک يې پوهول، آګاه کول او لارښوونه يې ورته کوله او نور امامان هم همداسې وو.
کېداى شي مرموزو وګړيو دا ناوړه تبليغات کړي وي، چې له ديني مدرسو نه د معنوياتو او اخلاقياتو کډه بار کړي او په پايله کې زموږ ديني مدرسې له پښو او کاره وغورځوي، خداى مه کړه په ديني مدرسو کې مو ډلې جوړونې، ځانمنې، درز او اختلافونه راپيدا شي؛ په ديني مدرسو کې وګړي يو له بل سره لاس و ګرېوان شي او د يو بل پر وړاندې ليکې جوړې کړي، د يو بل سپکاوى وکړي او يو بل دروغجن کړي او په اسلامي ټولنه کې بې پته شي، تر څو پردي او د اسلام دښمنان وکولاى شي، چې پر ديني مدرسو برلاسي شي او له کاره او پښو يې وغورځوي. د ديني مدرسو بدغوارې پوهېږي، چې ولسونه د ديني مدرسو ملاتړ دي او تر هغه يې چې ولسونه ملاتړ وي؛ نو له کاره او پښو غورځول يې ناشونى چار دى.
خو هغه ورځ، چې د ديني مدرسو زده کړيالان او په ديني مدرسو کې وګړي له اخلاقي او اسلامي مبانيو او اصولو لرې شول، يو له بل سره لاس و ګرېوان شول، اختلاف او ګوندي يې وکړه، مهذب او منزه نه وو، په ناوړه او چټلو چارو يې لاس پورې کړ؛ نو قهراً به ولس پر ديني مدرسو او روحانيت او ملايانو بدبينه او بدګڅي شي او د ديني مدرسو له ملاتړه به لاسونه واخلي؛ نو په پايله کې به د دښمنانو او پرديو لاسونه د ديني مدرسو د بندولو او کاره غورځولو لپاره رااوږده شي. که ګورئ، چې دولتونه له ديني مراجعو او علماوو ډارېږي او حساب ترې وړي، ددې لپاره دي، چې د ولسونو ملاتړ ورسره دى او ددې احتمال ورکوي، چې که د يو ملا او روحاني سپکاوى وکړي؛ نو ولسونه به ورپسې راپاڅي او پر لارويونو به

لاس پورې کړي؛ خو که روحانیان او ملایان سره اختلاف وکړي او یو بل یې بدنام کړل او پر اسلامي آدابو او اخلاقو مؤدب نه وو؛ نو په ټولنه کې به له پښو وغورځېږي او ولس به یې هم له ملاتړه لاسونه واخلي [1] ولس تمه لري، چې تاسې ملایان او روحانیان په اسلامي آدابو مؤدب ووسئ؛ حزب الله ووسئ، د دنیا له ساختگي ځل بله ځان وساتئ؛ د اسلامي آرمانو د پرمختگ او اسلام او ولس ته په خدمت کې له هېڅ سربښندنې ځان ډډه نه کړي؛ د خدای تعالی په لار کې او د خدای د رضا د لاس ته راوړنې لپاره گامونه پورته کړئ او بې له ایکي یو خدای، چې د هستی پنځگر دی، بل ته توجه و نه کړئ؛ خو که د خپلې تمې پر خلاف یې ولیدل، چې ماوراء الطبیعه ته د توجه پر ځای مو دنیا ته توجه کړې او د نورو په څېر د دنیوي او وگړیزو گټو په گټلو پسې وسئ او د دنیا د پرېوتیو گټو پر سر سره شخړې کوئ او العیاذبالله اسلام او قرآن مو خپل لوبڅی کړی دی او د دنیا د پرېوتیو، چټلو او بې ننگه گټو په پار مو له دینه لنگه غوا جوړه کړې، چې رالوشئ یې؛ نو ولس به هم کږلاری شي، بدبینه به شي او تاسې به هم مسوول یاست. که ځنې پگړۍ لرونکي او ملایان د خپلو گټو په خاطر یو له بل سره لاس و گرېوان دي، یو د بل سپکاوی کوي، یو بل فاسق گڼي، اړ دوړ یې جوړ کړی وي او د ځینو چارو او منصبونو د نیوو په خاطر یو بل سره سیالۍ کوي، هیاهو او شورزوږ یې جوړ کړی او له اسلام او قرآن سره یې خیانت کړی دی؛ له الهي اماناتو سره یې خیانت کړی دی. خدای تبارک و تعالی د اسلام سپېڅلې دین راته امانت پرېښوولی دی؛ دا قرآن کریم د خدای ستر امانت دی؛ دیني علماء او روحانیون الهي امانتساتي دي او دنده لري، چې دا ستر امانت وساتئ او خیانت ورسره و نه کړئ او دا ځان ځاني، شخصي اختلافات او دنیوي خیانتونه له اسلام او د اسلام له پېغمبر سره ستر خیانت دی.

زه نه پوهېږم دا اختلافات، ځولاسي او گوندي د څه لپاره ده؟ که د دنیا لپاره وي، تاسې خو څه دنیا نه لرئ او که د دنیا له خوندونو او گټو برخمن وئ؛ نو بیا به هم د اختلاف ځای نه و؛ خو داچې روحاني و نه وسئ او له روحانیته مو یوازې ږیره او پگړۍ په ارث وړې وي. هغه

---

[1]. حضرت علي (ع) وايي: " لو ان حملة العلم حملوه بحقه، لاحبهم الله و ملائكته و اهل طاعته من خلقه؛ ولكنهم حملوه لطلب الدنيا فمققتهم الله و هانوا على الناس=که د علم حاملان یې هغسې، چې وړ یې دی، حمل کړي؛ نو په تحقیق، چې خدای، پرښتې او له خدایه د فرمان وړونکیو پرښتو به خوښ وي؛ خو هغوی د دنیا غوښتو لپاره علم وغوښت؛ نو خدای پرې غوسه شو او د خلکو په نزد خوار شول. "(تحف العقول؛ د امیرالمؤمنین د خبرو باب)۲۰۱ مخ.

روحاني، چې له ماوراء الطبیعه سره په اړیکه کې دی، هغه روحاني، چې د اسلام له ژوندیو او جوړونکیو ځانګړنو برخمن دی، هغه روحاني، چې ځان د علي بن ابیطالب-علیه السلام-لاروی ګڼي؛ نو ناشونې ده، چې د دنیا ځل بل او مشتهیاتو ته توجه وکړي؛ دا خو لا لرې خبره ده، چې د هغې پر سر یو له بل سره اختلاف وکړي! تاسې چې له حضرت علي نه د لاروی ادعا کوئ؛ نو لږ تر لږه ددې ستر انسان ژوند خو لږ مطالعه کړئ؛ وګورئ، چې واقعاً له هغه کومه لاروي او پلوي کوئ که نه؟ آیا د آنحضرت د زهد، تقوا، ساده او بې ریا ژوند په اړه له څه خبر یاست که نه؟ آیا د آنحضرت له مبارزو، دېوزلیو په ملاتړ له جګړو نه څه خبر یاست که نه؟ او عمل پرې کوئ که نه؟نو وګورئ، چې د نورو مسلمانانو په پرتله په دې اړه څه امتیاز لرئ.[1]

هغوی چې نن د نړۍ یوې برخې ته اور اچولی او خاوره یې د انسانانو په وینه لړلې او مړې کوي؛ ددې لپاره دي، چې د ولسونو د مالونو او پانګو په لوټولو کې یو له بله مخکې شي او کمزوري او روسته پاتې هېوادونه تر خپلې واکمنۍ لاندې راوړي؛ نو د آزادۍ، د هېوادونو د آبادۍ، له خپلواکۍ او تمامیت ارضي او نورو تېرایستونکیو عنوانونو په نامه هره ورځ د نړۍ په یوه برخه کې اور بلوي او په میلیونو ټنونه بمبونه د بې پناه ولسونو پر سر بمباروي، چې دا چار د اهل دنیا، چې هغسې چټل ذهنونه لري په منطق کې سم دی؛ خو د هغوی په منطق کې ستاسې خپلمنځی اختلاف سم نه دی. که و مو پوښتې، چې ولې اختلاف لرئ، د څه پر سر سره نښتي یاست؛ نو څه ځواب به ورکوئ؛ تاسې په دنیا کې له څه برخمن یاست، چې پر سر یې جګړه لرئ؟ستاسې میاشتنۍ تنخواه، چې ښاغلي یې درته د "شهریه " په نامه درکوي، په میاشت د نورو د سګرټ له خرچې هم لږ دی! ما په یوه مجله که ورځپاڼه کې ولوستل، چې "واتیکان" په واشنګټن کې خپل کشیش ته ډېر رقم پیسې او بودجه لېږي او حساب مې کړل او و مې لیدل، چې د شیعه وو تر ټولو دیني مدرسو یې بودجه لوړه وه! آیا تاسې هم دا کوم ژوند، چې لرئ سمه ده، چې یو له بل سره اختلاف وکړئ او د یو بل پر خلاف ټلواله جوړه کړئ؟

د ټولو هغو اختلافاتو جرړه له دنیا سره په مینه کې ده، چې ټاکلې او سپېڅلې موخه و نه لري او که په تاسې کې هم داسې کوم اختلاف وي؛ ددې لپاره دی، چې له دنیا سره مینه مو له

---

[1]. شیخ صدوق؛ صفات شیعه او همدارازبحارالانوار؛ ۶۵ټوک، ۸۳-۹۵ او ۱۹۲-۱۴۹ مخونه. د "ایمان او کفر "کتاب، د (ان الشیعة هم اهل دین الله.. )باب، "باب صفات الشیعه و اصنافهم.. "خمیني روح الله؛ شرح چهل حدیث، ۲۹ حدیث.

زړه نه ده کاږلې او له هغه ځایه، چې د دنیا ګټې محدودې دي؛ نو هر یو یې لاس ته راوړو ته یو له بل سره سیالي کوئ. تاسې د پلاني مقام غوښتونکي یاست او نور یې هم غواړي؛ نو دا چار قهراً د حسادت او شخړې لاملېږي؛ خو الهي انسانانو، چې له دنیا سره یې مینه له خپل زړه کاږلې ده او بې له خدایه بله موخه نه لري؛ هېڅکله سره نه نښلي او دا مصیبتونه او مفاسد هم نه راولاړوي. که نن ټول الهي پېغمبران په یوه ښار کې راټول شي؛ نو هېڅکله به دوه لاسي نشي او اختلاف به سره و نه کړي؛ ځکه موخه او مقصد یې یو دی؛ د ټولو زړونه حق تعالی ته متوجه دي او د دنیا له مینې نه تش دي.
که ستاسې کړنې، د ژوند وضع او خوی داسې وي، چې اوس ښکاري؛ نو ووېرېږئ له دې، چې دنیا ولاړ شئ؛ خو د علي بن ابیطالب (ع) لارویان و نه وسئ؛ ووېرېږئ له دې، چې په توبه کولو بریالي نشئ او د آنحضرت له شفاعته بې برخې پاتې شئ؛ مخکې له دې، چې فرصت مو له ګوتو ووځي، د چارې په لټه کې شئ؛ له دې رسوا او مبتذلو اختلافاتو لاس واخلئ. دا ګوندي او دوه لاسي ناسمه ده. مګر تاسې له دوو ملتونو ځنې یاست؟مګر مذهب مو له بېلابېلو ځانګو دی؟ ولې نه پوهېږئ؟ ولې یو له بل سره مینه، وروروالي او رښتینولي نه لرئ؟ آخر ولې؟
دا اختلافات خطرناک او په ځان پسې نه جبرانېدونکي مفاسد راوړي. دیني مدرسې له منځه وړي او تاسې په ټولنه کې ضایع او بې پته کېږئ؛ دا ګوندي یوازې ستاسې په تاوان نه تمامېږي، یوازې تاسې نه بې پته کوي؛ بلکې د یوې ټولنې، د یو ولس او اسلام د بې پتۍ لاملېږي. که له اختلافاتو مو یو فساد راولاړ شي؛ نو د خدای په نزد به پر ستره نه بښل کېدونکې ګناه ککړ شوي یاست؛ ځکه ټولنه مو فاسده کړې ده او د دښمن د نفوذ لپاره مو لار هواره کړې ده. کېدای شي پټ لاسونه د دیني مدرسو د له منځه وړو په خاطر ګوندي او دوه لاسي رامنځ ته کړي او په بېلابېلو لارو د نفاق او دوه لاسۍ تخم و شیندي، افکار مسموم او ذهنونو مشوب کړي، "شرعي دندې" جوړې کړي او په دې شرعي دندو، په دیني مدرسو کې فساد راولاړ کړي، چې په دې وسیله هغه کسان له صحنې بهر کړي، چې اسلام ته ګټور دي او و نشي کولای، چې اسلام او اسلامي ټولنې ته خدمت وکړي پکار ده، چې پوه او هوښیار وسئ او ځان تېرنه باسئ، چې داسې زما د شرعي دندې غوښتنه ده او زما شرعي دنده داسې او هغسې ده. کله شیطان انسان ته دندې او مسوولیتونه ور ترغاړې کوي، کله ځانې غوښتنې او ځانمنې د شرعي دندو په نامه انسان ځینو چارو ته هڅوي؛ دا شرعي دنده نه ده، چې انسان د بل انسان سپکاوی وکړي او په خپل دیني ورور پسې خوله راوسپړي. دا له دنیا

سره مینه او ځاني غوښتنې دي او دا د شیطان تلقینات دي، چې انسان یې دې توري ورځې ته کېنولی؛ دا دښمني د دوزخیانو دښمني ده: ان ذلک لحق تخاصم اهل النار[1] . په دوزخ کې شخړې او دښمنۍ وي؛ دوزخیان شخړې او دښمنۍ کوي او یو له بل سره لاس وګرېوان دي؛ که تاسې د دنیا په سر سره شخړه کوئ؛ نو پوه شئ، چې ځانونو ته مو دوزخ چمتو کوئ او د دوزخ پر لور روان یاست. اخروي چارې خو څه شخړه نه لري؛ اهل اخرت یو له بل سره په سوله او هوسا کې ژوند کوي؛ زړونه یې د خدای او دخدای د بندګانو له مینې ډک وي؛ د خدای له بندګانو سره مینه له خدای سره د مینې یوه وړانګه ده، د خدای د مینې سیوری دی. تاسې په خپلو لاسونو اور مه لګوئ؛ د دوزخ اور مه بلوئ؛ د دوزخ اور د انسان په ناوړه کړنو بلېږي او دا د بشر ناوړچاري ده، چې د دوزخ اور بلوي. و یې ویل: جزنا و هی خامدة[2] (موږ له دوزخه تېر شو او هغه مړ او غلی و) که بشر په خپلو ناوړچاریو د دوزخ اور بل نه کړي؛ نو د دوزخ غلی دی. ددې طبیعت باطن دوزخ دی؛ د طبیعت اقبال د دوزخ اقبال دی او چې کله انسان له دې دنیا بلې دنیا ته کډن شي او له سترګو یې پردې لرې شي، پوهېږي، چې: ذلک بما قدمت ایدیکم. [3] و جدوا ما عملوا حاضراً. [4]هر څه چې انسان په دې نړۍ کې کوي، په هغه نړۍ کې یې د سترګو مخې ته ویني او مخې ته یې انځورېږي. فمن یعمل مثقال ذرة خیر یره و من یعمل مثقال ذرة شراً یره. [5]ته وا د ژوند فیلم مو ډک شوی دی او په هغه نړۍ کې به ښوول کېږي او څوک به ترې انکار او نټه هم نشي کولای. زموږ پر ټولو کړنو به مو د بدن غړي شاهدي وایي: قالوا انطقنا الله الذی انطق کل شیءٍ. [6] د هغه خدای پر وړاندې، چې هر څه پر خبرو کوي، له خپلو ناوړو کړنو انکار نشئ کولای او پټولای یې هم نشئ. لږ فکر وکړئ، دوراندیش او لرلیدي وسئ؛ د چارو عاقبت وسنجوئ؛ هغه خطرناک

---

[1]. ص/۶۴

[2]. دې حدیث ته اشاره ده: ولهذا لما سئل بعض ائمتنا عن عموم الایة المذکورة. (مریم/۷۱) قال: جزنا ها و هی خامدة. او ددې لپاره، چې کله زموږ له یوه امامه ددې آیت د شمول په باب پوښتنه وشوه، ځواب یې ورکړ: موږ له دوزخه تېر شو او هغه مړ او غلی و. علم الیقین؛ دویم ټوک، ۹۱۷ مخ.

[3]. دا د هغه څه له امله دي، چې له مخکې مو را لېږلي دي. (آل عمران/۱۸۲)

[4]. او خپلې کړنې به حاضرې ومومي. (کهف/۴۹)

[5]. که څوک د مثقال هومره نېکي وکړي؛ هغه به مومي او که څوک د مثقال هومره بدي وکړي؛ هغه به مومي. (زلزال۷-۸)

[6]. وایي: هغه خدای چې هر څه په خبرو راولي، موږ یې هم په خبرو کړو. (فصلت/۲۱)

عواقب راياد کړئ، د قبر له فشار، عالم برزخ او ستونزو يې غفلت مه کوئ. لږ تر لږه پر دوزخ باور ولرئ او که انسان واقعاً په دې عقباتو باور ولري؛ نو د خپل ژوند دود به بدل کړي او که تاسې هم په دې چارو يقين او باور ولرئ؛ نو داسې خوشې او سرايله به نه گرځئ او خپل هر يو گام او ژبې ته به مو پام وي او د خپل نفس د تزکيې او اصلاح لپاره به هلې ځلې کوئ.

## امام خميني (ره) او د انبياوو ځانګړنې[1]

*- ((پېغمبران هغو نعمتونو ته نظر نه لري، چې د معمولي خلکو ورته پام وي او هغه نعمتونه هېڅ ګڼي. . . . سره له دې، چې فرعون او فرعونيانو واکمني او سلطنتونه درلودل، چې حضرت موسى عليه السلام نه درلودل؛ خو له حضرت موسى سره د روحي کمالونو هغه ځيزونه وو، چې د فرعون پر سلطنت يې چورت هم نه و خراب او کومه د زړه خوشحالي، چې حضرت موسى درلوده، فرعون او فرعونيانو په خوب کې هم نه شوه ليداى. )) (۱)

*- ((چې کله موږ د پېغمبرانو ژوند مطالعه کوو؛ د حضرت موسى ژوند، د حضرت عيسى ژوند او په تېره بيا د حضرت رسول اکرم صلى الله عليه و آله وسلم ژوند؛ نو پوه به شئ، چې ځينو پېغمبرانو حکومت جوړ کړ؛ حکومتي احکام يې درلودل؛ خو که ژوند ته يې وګورې؛ نو بېخي ددې نړۍ د واکمنانو په څېر نه وو؛ په يوه بله بڼه يې ژوند کاوه. . )) (۲)

*- ((پخواني پېغمبران هم چې موږ يې له تاريخه خبر يو له بېوزلې طبقې وو، چې د خپل وخت د واکمنانو پر خلاف يې پاڅون وکړ. )) (۳)

*- ((نو انبياء هم داسې وو؛ يو يې هم اشراف نه و، چې د اشراف پلوى شي؛ هغوى له همدې بېوزليو څخه دي او له همدې طبقې هم راپاڅېدلي او د همدې طبقې پلويان دي او نه پرېږدي، چې پر دې طبقې تېرى وشي. )) (٤)

*- (( تاسې ګورئ، چې د بشر تر ټولو ستر وګړي انبياء وو؛ خو په بشر کې يې تر ټولو ساده ژوند درلود سره له دې، چې تر ټولو ستر وو او ټولو په ستريا او دبدبه پېژندل؛ خو په خپل ژوند کې يې تر ټولو ساده ژوند درلود. . . . )) (۵)

*- ((پېغمبر اکرم څوک و؟ په مکه کې يو شپونکى و، چې ټول ورسره مخالف وو او ټولو کړاوه؛ خو همدا شپونکى پاڅېد او پاڅون يې وکړ او داسې يو کار يې وکړ، چې اوس يې نړۍ داسې کړې ده؛ حضرت عيسى هم همداسې، حضرت موسى هم يو شپونکى و، حضرت ابراهيم هم همداسې يو تن و؛ خو ټولګه وه، هر يو يې يو ملت و؛ يعنې هر څه يې درلودل او تر ټولو ستره خبره خو داده، چې پر خداى يې اډانه او توکل و. )) (٦)

---

[1] -دا برخه موسسه چاپ و نشر عروج د "سيماى معصومين(ع) در انديشه امام خميني" له کتابه اخستل شوې ده.

*- ((انبیاء ددې لپاره څپه وو، چې کفار ولې باید داسې وي، منافقین ولې باید داسې وي؛ ټول انبیاء په دې پسې وو، چې دا کفار او منافقین او دا انسانان، چې د خپلو ځاني غوښتنو په اسارت کې دي، را ازاد یې کړي، چې یوه خورا ستونزمنه دنده او چار و. )) (۷)
*- (( انبیاء او الهي اولیاء، چې پر لارو بلد وو، له عواقبو خبر وو او پرې پوهېدل، د بشر لپاره یې زړه خوړ او هلې ځلې یې کولې، چې خلک وژغوري. )) (۸)
*- ((انبیاوو په عین حال کې، چې دنیا اداره کوله، هېوادونه یې هم سمبالول؛ خو په عین حال کې یې دنیا ته هېڅ ډول لېوالتیا نه درلوده. په اسلام کې د یو هېواد نیولو لپاره فتح کول نه وو، په اسلام کې د واکمنۍ د پراخولو لپاره حکومت کول نه دي او فتح کول ددې لپاره دي، چې انسانان کمال ته ورسوي او د اسلام فتوحات د نورو رژیمونو له فتوحاتو سره توپیر لري او د رژیمونو فتوحات د خدای لپاره دي او د انبیاوو حکومتونه د خدای لپاره وو، چې د خلکو پام خدای ته راواړوي او هغه وګړي اغېزمن کړي، چې د خپلو ځاني غوښتنو او خپلو شوونځیو اسیران دي او هغوی د شیطان له ګونده د خدای ګوند او حزب الله ته راواړوي. )) (۹)
*- ((که دا انسان سرایله خوشې پرېښوول شي؛ نو تر ټولو ځناورو سرغړانده دی او خدای هم له هماغه پیله انبیاء رالېږلي، چې دوی له سرغړاندۍ رابهر او رام کړي؛ خو انبیاوو هغسې چې غوښتل بریالي نه شول؛ خو دا څومره هم چې بریالي شوي دي؛ نو اوس، چې په نړۍ کې په هر ځای کې روغتیا او هوساینه ده، ددین او انبیاوو د هلو ځلو پایله ده. )) (۱۰)
*- ((د تاریخ په ترڅ کې پېغمبران داسې نه وو، چې یوازې ناصحان وي؛ بلکې هغوی په خپلو اخلاقو، کړنو او ویناوو د خلکو د تهذیب دنده پر غاړه درلوده او خدای ددې لپاره مبعوث کړي وو، چې انسانسازي وکړي، انساني خویونو ته په انسانانو کې وده ورکړي، چې انسانان انساني کړنې ولري او ټولو پېغمبرانو په دې لار کې خورا زحمتونه ګاللي دي. )) (۱۱)
*- ((څومره زحمتونه، چې انبیاوو وګالل او څومره جګړې یې د حق د لارې له مخالفینو سره وکړې او په تېره بیا هغه جګړې، چې په صدر اسلام کې راپېښې شوې، مقصد او مراد ترې جګړه او د هېواد او خپلې واکمنۍ پراخي نه وه؛ بلکې مقصد یې د یو عادلانه نظام رامنځ ته کول وو، چې الهي احکام پکې جاري شي. )) (۱۲)

*- ((ټول انبياء ښوونکي او بشر زده کوونکي دي. انبياء يو ښوونځی لري، چې په دې ښوونځي کې غواړي دا د دوه پېښو موجود، چې که سرايله خوشې شي؛ نو تر ټولو ناوړه مخلوق به وي، نېغې لارې او صراط مستقيم ته هدايت کړي. . . . )) (۱۳)
*- ((د الهي موخو په لار کې پاڅون او د حکومت الله استقرار هماغه چار دی، چې انبياوو په دې لار کې خورا سرښندنې وکړې او د اسلام سپېڅلي پېغمبر د خپل عمر تر پايه پر خپل ټول ځواک په دې لار کې سرښندنه وکړه. )) (١٤)
*- ((ټول انبياء د ټولنې اصلاح ته راغلي دي او ټولو همدا دنده پر غاړه درلوده، چې وګړی بايد له ټولنې ځار شي. وګړی، چې څومره هم ستر وي؛ خو چې کله يې د ټولنې له مصالحو سره معارضه وکړه؛ نو دا وګړی بايد قربان شي؛ سيدالشهدا هم پر همدې حساب را مخې ته شو او خپل ياران او انصار يې ځار کړل، چې وګړی بايد له ټولنې ځار شي؛ ټولنه بايد اصلاح شي، بايد په خلکو او ټولنه کې عدالت پلی شي او په دې لار کې خورا ځانونه ځار شوي او خورا زحمتونه ګالل شوي او خورا سرښندنې شوي دي. )) (۱۵)

## حضرت ابراهيم عليه السلام د امام خميني (ره) په ويناوو کې

*- ((حضرت ابراهيم خليل الرحمن عليه السلام له حق تعالی د ډاډ او اطمينان مرتبه وغوښته او حق تعالی هم ورکړه. )) (١٦)

*- ((حضرت ابراهيم عليه السلام د انبياوو د ايمان په ستر او د علم په ځانګړي مقام قناعت و نه کړ، و يې ويل: ((رب ارنی کيف تحيی الموتی )) غوښتل يې د زړه له ډاډ او اطمينانه د شهودي ډاډ مقام ته ځان ورسوي. )) (١٧)

*- ((ستر پېغمبران و ازمېيل شول. حضرت ابراهيم خليل الله په هغه چار کې و ازمېيل شو، چې بايد خپل اولاد قرباني کړي او ټول ستر پېغمبران او الهي اولياء ازمېيل شوي دي. )) (١٨)

*- ((دې د توحيد پلار او د نړۍ بوت شکن موږ او ټولو انسانانو ته راوښوول، چې د خدای په لار کې قرباني، مخکې له دې، چې توحيدي او عبادي بڼه ولري، سياسي او ټولنيز اړخونه لري. موږ او ټولو ته يې رازده کړل، چې د ژوند تر ټولو ګرانه ثمره مو د خدای په لار کې ورکړئ او پر همدې ورځ اختر ولمانځئ. ځان او خپل عزيزان ځار کړئ او د خدای دين او الهي عدل پلی کړئ؛ موږ ټولو او د آدم اولادې ته يې وښوول، چې "مکه" او "منی" د عاشقانو د قربانۍ ځای دی او دلته د توحيد د خپرولو او د شرک د نفې ځای دی او ځان او خپلو عزيزانو ته وابستګي هم شرک دی. . . . . )) (١٩)

*- ((په تاريخ کې ډېری انسانان په يوازې د ظلمونو پر وړاندې راپاڅېدلي دي؛ حضرت ابراهيم يوازې راپاڅېد او بوتان يې مات کړل، يوازې يې قيام وکړ او د بوت لمانځونکيو او شيطانانو پر وړاندې ودرېد او له يوازېتوبه و نه وېرېد؛ ځکه پاځون يې د خدای لپاره و. . . )) (٢٠)

## حضرت موسی علیه السلام د

## امام خمیني (ره) په ویناوو کې

*- ((حضرت موسی علیه السلام یو شپونږ و، چې په هغه ورځو کې له فرعون سره د مبارزې لپاره وګومارل شو؛ نو هغه مهال یې کوم ملګری او ملاتړ هم نه درلود؛ خو پر خپل ذاتي وړتیا او پاځون یې په خپله یوه همسا د فرعون د حکومت بېخ راونړاوه. تاسې خیال کوئ، که د حضرت موسی همسا له ما یا په تاسې کې له کوم یوه سره وه؛ نو آیا موږ دا چار کولای شو؟د حضرت موسی په څېر همت، جدیت او تدبیر غواړي، چې په یوه همسا د فرعون د واکمنۍ ټغر راټول شي او دا چار له هر چا شونی نه دی. )) (۲۱)

*- ((په قرآن کې تر ټولو انبیاوو زیات د حضرت موسی ذکر شوی دی او د حضرت موسی تاریخ په قرآن کې راغلی دی، چې خورا ازرښتمنې ښوونې پکې دي او هغه چلن، چې حضرت موسی له فرعون سره کړی دی یو شپونږ و، چې یوه نړۍ ځواک او اراده ورسره وه او د فرعون د ستر ځواک پر خلاف یې پاځون وکړ او فرعون یې له منځه یووړ. پر الهي قدرت اډانه او د مستکبرینو پر وړاندې د مستضعفینو مصالحو ته پام او د مستکبرینو پر خلاف پاځون د حضرت موسی علیه السلام کړلار ده. )) (۲۲)

## حضرت عیسی علیه السلام د امام خمیني (ره )

## په ویناوو کې

*- (( د حضرت عیسی علیه السلام هر څه معجزه وو دا معجزه وه، چې له باکرې موره وزیږېد؛ معجزه وه، چې په زانګو کې یې خبرې وکړې او معجزه وه، چې د بشر لپاره یې سوله، صفا او روحانیت راووړ. )) (۲۳)

*- ((دا خبره یې په حضرت عیسی علیه السلام پورې هم تړلې ده، چې که پر یوه مخ یې سپېړه درکړه، بل مخ دې هم ورواړوه! موږ داسې حضرت عیسی نه غواړو. دا خبره د حضرت

عیسی نه ده دا د ناغېړو او تنبلانو منطق دی؛ حضرت عیسی یو ستر او اعظم پېغمبر دی؛ هغه چې په خپله زانگو کې خبرې کوي، چې زه به څه کوم، لمونځ به کوم، دا به کړم، دا به کړم او. . . په زانگو کې پر پېغمبرۍ مبعوث شو او داسې یوه بېلگه انسان د تنبلانو او لټانو خبرې نه کوي. )) (٢٤)

*- ((په روایت کې راغلي دي، چې حضرت عیسی علیه السلام او حواریین یې د یو مردار شوي سپي تر څنگه تېرېدل، چې یو له حوارییو څنې وویل: څومره مردار بوی کوي. حضرت عیسی علیه السلام وویل: څومره سپین غاښونه لري او راضي نه شو، چې د حق تعالی د مصنوع ناوړه ذکر وشي؛ هغوی یې نیمگړتیا ولیده او آنحضرت یې کمال ته اشاره وکړه. )) (٢٥)

## حضرت سلیمان علیه السلام د امام خمیني (ره) په ویناوو کې

*- (( حضرت سلیمان بن داود علیه السلام هم سلطان و؛ هغه سلطان، چې پر هر څه واکمن و؛ خو دا هغه سلطنت نه و، چې د سلطان حضرت سلیمان بن داود زړه یې ځان ته لېواله کړی وي. )) (۲٦)

*- (( د مستضعفانو په ګټه او له ظلمه د مخنیوي په خاطر او د ټولنیز عدل د پلي کولو په خاطر د حق حکومت هماغه دی، چې حضرت سلیمان بن داود علیه السلام او ځایناستیو یې ورته کوښښ کاوه، چې دا تر ټولو ستر فرض او عبادت دی؛ لکه څنګه چې کوم روغ سیاست، چې په دې حکومتونو کې و، هم یو لازم چار دی. )) (۲۷)

## حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم

## د امام خمیني (ره) په ویناوو کې

*- (( خاتم پېغمبر (ص) دومره ریاضتونه وکړل او دومره لمونځونه یې وکړل، چې پښې یې وپړسېدې، چې د حق جل جلاله د سپېڅلي ذات لخوا ورته آیت راغی: " طه، ما انزلنا علیک القرآن لتشقی " )) (۲۸)
*- ((د اسلام لومړي شخص له ولس او عادي وګړي سره توپیر نه درلود؛ بلکې تر هغه هم په لاندې کچه یې ژوند کاوه. په اسلام کې د اراوو آزادي له هماغه پیله وه او د پېغمبر اکرم پر مهال ټول خلک آزاد وو، چې خپله خبره وکړي. )) (۲۹)
*- ((ټول وایي، چې که پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم به غوسه شو؛ نو که ولاړ به و؛ نو کېناسته به او که ناست به و؛ نو څملاسته به تر څو غوسه یې سړه شي. )) (۳۰)
*- (( سره له دې، چې پېغمبر اکرم خپلې شخصي دندې تر سره کولې او له خدای تبارک و تعالی سره یې خلوت کاوه، حکومت یې هم جوړ کړ او نړۍ یې اسلام ته راوبلله او د سفیرانو په لېږلو یې خلک دیانت او ټولنیز اړخ ته راوبلل او داسې نه وه، چې ټول ژوند یې د جومات یا کور په ګوټ کې تېر کړی او ذکرونه او عبادتونه یې پکې کړي او ذکرونه او عبادتونه یې هم کړي دي؛ هغه یې هم د خودسازۍ لپاره کړي وو، ذکر یې کاوه؛ خو هغه ذکر یې خودسازي وه، دعا یې کوله؛ خو هغه دعا یې خودسازي او انسان سازي وه. . . . . )) (۳۱)
*- ((د رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم مقصد دا نه و، چې د مکې یا د جزیرة العرب مشرکان له منځه یوسي؛ مقصد یې دا و، چې اسلام خپور کړي او واکمني دي د قرآن او اسلام وي؛ نو دا چې هغوی ددې مقصد د پلي کېدو په لار کې خنډ و؛ نو د همدې لپاره به جګړه راپېښېده. )) (۳۲)
*- ((پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د عربستان دی؛ لکن بلنه یې د عربستان نه ده او یوازې په عربستان پورې ځانګړې نه ده؛ بلکې په ټولې نړۍ پورې اړوند ده. )) (۳۳)
*- ((چې کله رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم له مکې نهیلی شو او و یې لیدل، چې مدینه د چارو د سمبالنې لپاره غوره ځای دی؛ نو له مدینه مېشتو سره پټې اړیکې ټینګې کړې او مدینې ته د تګ پروګرام یې جوړ کړ. )) (۳٤)

*- ((پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم دیارلس کاله په مکه کې وکړېد، په تنگسه کې و، خواری یې وکړې، سپکاوی یې وشو؛ خو هلته یې صبر وکړ او وگړي یې اسلام ته رابلل؛ خو بیا یې ولیدل، چې دلته نور کار نه کېږي؛ نو مدینې ته یې هجرت وکړ او هلته یې ښه وگړي منظم کړل او د لسو کالو لپاره هلته و او ټوله هڅه یې داوه، چې د تېرې جرړه راوباسي. . . . )) (۳۵)

*- (( [پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم] یو عادلانه حکومت جوړ کړ، چې بنسټ یې اسماني قوانین وو او په خپلو خورا هلو ځلو، په زړه پورې ویناوو، منطقي کړلارو او عادلانه چلن او د سرښندونکیو په سرښندنه د یو بنسټیز نظام په جوړولو بریالی شو، چې بنسټونه یې عدالت او توحید و او د عمر تر پایه د توحید او عدالت د بنسټونو د پیاوړي کېدو لپاره یې په خپل ټول ځواک هلې ځلې کولې. )) (۳۶)

*- (( د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم او د خلفاوو پر مهال د مسلمانانو جومات د اسلام د سیاست مرکز و. . . ))(۳۷)

*-((جومات په صدر اسلام کې داسې نه و، چې بیا روسته ځینو کړلارو کړ. جومات هغه ځای و، چې له هماغه ځایه به لښکر روانېده، هلته به سیاسي چارې پر مخ وړل کېدې. . . )) (۳۸)

## پاپلیکونه

۱- کشف الاسرار.
۲-(۵۷/۸/٦) له ایرانه بهر مېشتو ایرانیانو د امام خمیني له ویناوو څنې.
۳-(۵۷/۸/۸) له ایرانه بهر مېشتو ایرانیانو د امام خمیني له ویناوو څنې.
٤-(۵۷/۹/۲۰) له ایرانه بهر مېشتو ایرانیانو د امام خمیني له ویناوو څنې.
۵-(۵۹/۱۰/۱۳) د شورای عالي انقلاب فرهنگي ټولنې ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
٦-(٦٤/۹/۱۹) د ملي شورا وکیلانو او د وزیرانو شورا ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
۷-(٦۰/۱۰/۲۳) چارواکیو ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
۸-(٦۰/۱۰/۲۳) چارواکیو ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
۹-(۵۸/٤/۳) د اصفهان دیني مدرسې زده کړیالانو ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
۱۰-(۵۸/۱۰/۱۵) د صنایع وزارت د انجمن اسلامي کارکوونکیو ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
۱۱-(٦۱/۸/۲۷) د مذهبي اقلیتونو د استازیو غونډې ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
۱۲-(۵۸/٤/۱۷) د شیراز ولایت مېشتو او محصلینو ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
۱۳-(۵۹/٦/۸) پاکستاني او ایراني محصلینو ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
۱٤-(٦۰/۵/۱۰) د ایران او نړۍ مسلمانانو ته د قدس د ورځې په مناسبت د امام خمیني له ویناوو څنې.
۱۵-(٦۰/۱۰/۳۰) د اصفهان او چهار محال بختیاري د جماعت امامانو ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
۱٦-د امام خمیني چهل حدیث کتاب.
۱۷- د امام خمیني آداب الصلوة کتاب.
۱۸-د شهیدانو کورنیو ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
۱۹-(٦۲/٦/۱۲) د بیت الله الحرام زایرانو د نړۍ مسلمانانو د امام خمیني د پیغام یوه برخه.
۲۰-(۵۷/۸/۲۸) له هېواده بهر مېشتو ایرانیانو ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
۲۱-د امام خمیني د ولایت فقیه کتاب.
۲۲-(۵۸/۲/۲٤) د ایران د کلیمیانو غونډې ته د امام خمیني له ویناوو څنې.

۲۳-(۵۸/۱۰/٤) مسيحي كشيشانو د امام خميني له ويناوو څنې.
۲٤-(۵۸/۱۰/٤) مسيحي كشيشانو د امام خميني له ويناوو څنې.
۲۵-د امام خميني د چهل حديث كتاب.
۲٦-(۵۹/۱۱/٤) د ملي شورا وكيلانو او د دولت چارواكيو ته د امام خميني له ويناوو څنې.
۲۷-(٦۸/۳/۱۵) ايران ولس ته د امام خميني له ويناوو څنې.
۲۸- د امام خميني د چهل حديث كتاب.
۲۹- ۵۷/۱۲/۱۰ ايران ولس ته د امام خميني له ويناوو څنې.
۳۰- د امام خميني د چهل حديث كتاب.
۳۱-(٦۳/۲/۲۳) د جمعې د امامانو په دويمه نړيواله غونډه كې ګډوانولو مېلمنو ته د امام خميني له ويناوو څنې.
۳۲- ۵۸/۳/۱۱ د اهواز، قم او بروجرود مېرمنو ته د امام خميني له ويناوو څنې.
۳۳-(۵۸/۸/۱۱) په سعودي عربستان كې مېشتو ايراني محصلينو ته د امام خميني له ويناوو څنې.
۳٤-(۵۷/۸/۱٤) له هېواده بهر مېشتو ايرانيانو ته د امام خميني له ويناوو څنې.
۳۵-(۵۷/۹/۱۱) له هېواده بهر مېشتو ايرانيانو ته د امام خميني له ويناوو څنې.
۳٦-د امام خميني كشف الاسرار كتاب.
۳۷-(٤٤/۸/۲۳) د نجف د علماوو په غونډه كې د امام خميني له ويناوو څنې.
۳۸-(۵۷/۸/۲۰) له هېواده بهر مېشتو ايرانيانو ته د امام خميني له ويناوو څنې.

# د امام خمیني (ره) له نظره د روژې روزنیز اړخ

آیا په دې میاشت کې مو په شعبانیه مناجاتو[1]-چې د شعبان په ټوله میاشت کې یې پر ویلو سپارښتنه شوې ده- د خدای تبارک او تعالی مناجات کړي دي؟ او ددې دعا له لوړو مضامینو مو د ربوبیت ذات په اړه ډېر ایمان او معرفت لاس ته راوړی دی؟ ددې دعا په اړه راغلي دي، چې دا دعا د حضرت امیر - علیه السلام- او د زامنو یې ده او ټولو امامانو به دا دعا ویله او په دې دعا به یې خدای یاداوه؛ [2]او داسې دعاګانې ډېرې کمې پیدا کېږي، چې په اړه یې راغلي دي، چې ټولو امامانو ویله او په هغې یې د خدای مناجات کول. په حقیقت کې دا مناجات د رمضان د سپېڅلي میاشتې د دندو منلو ته یوه سریزه او چمتوتیا ده او کېدای شي ددې لپاره وي، چې پوه او آګاه انسان ته د روژې انګېزه او ثمره ورښیي.
امامانو به ډېری چارې د دعا په ژبه ویلې. د دعا ژبه له نورو ژبو سره خورا توپیر لري، چې آنحضرتانو درلودې او احکام به یې پرې بیانول. ډېری روحاني چارې، ماوراالطبیعه چارې، دقیقې الهي چارې او هغه څه چې د معرفة الله په اړه دي یې د دعا په ژبه بیان کړي دي؛ خو موږ دعاګانې تر پایه وایو؛ خو په خواشینی، چې دې معناوو ته بېخي پام نه کوو او له بېخه نه پوهېږو، چې څه ویل غواړي.
په دې مناجاتو کې وایو: الهی هب لی کمال الانقطاع الیک؛ و انر ابصار قلوبنا بضیاء نظرها الیک، حتی تخرق ابصار القلوب حجب النور فتصل الی معدن العظمة و تصیر ارواحنا معلقة بعز قدسک.[3]
کېدای شي د" الهی هب لی کمال الانقطاع الیک " جمله ددې معنی ښوونکې وي، چې آګاه الهي انسانان باید د رمضان مبارکې میاشتې ته چې په حقیقت کې د دنیا له خوندونو د پرېکون او ځان ساتنې میاشت ده (او دا پرېکون او انقطاع په بشپړه توګه هماغه د "الی الله" پر لور انقطاع دی) ځان چمتو کړي. بشپړ پرېکون او انقطاع دومره په اسانه لاس ته نه راځي.

---

[1] او [2]. اقبال الاعمال؛ د شعبان د میاشتې اعمال، **۲۸۵** مخ؛ مصباح المجتهد و سلاح المتعبد؛ **۳۷۴**. بحارالانوار؛ **۹۱** ټوک، د "الذکر و الدعاء" کتاب، **۳۲** باب، دولسم حدیث، **۹۷-۹۹**.

[3]. خدایه !له دنیا بشپړ پرېکون او ستا پر لور توجه راکړه او د زړه سترګې مو د خپل دیدار په رڼا روښانه کړه، چې د زړه سترګې د رڼاوو پردې وشلوي او د ستریا او جلال معدن ته ورسي او ځانونه مو ستا په قدسي درشل پورې وتړل شي.

خورا کړخت، تمرین، زحمت، ریاضت، استقامت او ممارست غواړي، چې وکولای شي، په ټول ځواک بې له خدانه او "ماسوی الله" پرېکون او انقطاع وکړي او بې له خدایه بل ته يې توجه نه وي؛ ټول انساني غوره ځانګړني او خويونه له نورو نه په پرېکون او په "الی الله" کې نغښتي دي او که څوک ورته ورسېد؛ نو ستري نېکمرغی ته به رسېدلی وي؛ خو دنيا ته په وړوکې توجه ناشونې ده، چې د "الی لله" پر لور پرېکون پلي شي او که څوک وغواړي، د رمضان د مبارکې مياشت روژې په هغو آدابو ونيسي، چې ترې غوښتل شوي دي؛ نو پکار ده، چې بشپړ پرېکون او کامل انقطاع ولري، تر څو وکولای شي ددې سپېڅلې مېلمستيا مراسم او آداب پر ځای کړي او د کوربه مقام ته تر هغه چې شونې وي، عارف شي. د رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د وينا له مخې (د هغه خطبې له مخې، چې آنحضرت (ص) ته منسوبه ده)د رمضان په مياشت کې ټول بندګان د خدای مېلمستيا ته بلل کېږي او په خپله د پالونکي ښبنتن مېلمانه دي. تردې چې وايي: ايها الناس، انه قد اقبل اليکم شهرالله. . . . . . وقد دعيتم فيه الی ضيافة الله.[1] دا څو ورځې، چې د رمضان مبارکې مياشت ته پاتې دي، لږ فکر وکړئ؛ ځان اصلاح کړئ، حق تعالی ته توجه وکړئ؛ له خپلو ناوړه کړنو توبه وکړئ او که خدای مه کړه کومه ګناه مو کړې وي؛ نو د رمضان مبارکې مياشت ته تر ننووتو د مخه توبه وکړئ. خپله ژبه مو د حق تعالی په مناجاتو عادت کړئ؛ هسې نه چې د رمضان په مبارکه مياشت کې غيبت، تهمت او لنډه داچې ګناه وکړئ او په ربوبي محضر کې له الهي نعمتونو سره د باري تعالی په دربار کې ګناهکار حاضر شئ. تاسې په دې شريفه مياشت کې د حق تعالی مېلمستيا ته بلل شوي ياست: دعيتم فيه الی ضيافة الله. ځان د حضرت حق پرتمينې مېلمستيا ته چمتو کړئ. لږ تر لږه د روژې ظاهري آدابو ته خو پابند وسئ (حقيقي آداب يو بل باب دی، چې همېشني زحمت او پاملرنې ته اړتيا لري) د روژې معنی يوازې له خوراک و ښباکه ځان ژغورل نه دي؛ له ګناهونو هم بايد ځان وژغورو. دا د روژې لومړني آداب دي، چې د لومړنيو لپاره دي. (د روژې آداب الهي انسانانو ته نور دي، چې غواړي د ستريا او دبدبې معدن ته ځان ورسوي) تاسې لږ تر لږه د روژې په لومړنيو آدابو عمل وکړئ او لکه څنګه چې نس له خوراک و ښباکه ساتئ، سترګې، غوږونه او ژبه هم له ګناه وساتئ. له همدا اوسه پرېکړه وکړئ، چې ژبه له غيبته، تهمت، دروغو او چټياتو وساتئ، کينه، حسد

---

[1]. خلکو ! د خدای مياشت راغله. . . او تاسې په دې مياشت کې د خدای مېلمستيا ته بلل شوي ياست. وسائل الشيعه؛ اووم ټوک، "کتاب الصوم"، "ابواب احکام شهر رمضان"، اتلسم باب، ۲۰ حديث، ۲۷۷ مخ.

او نورې شيطاني ځانګړنې له زړه بهر کړئ. که و مو کولای شول، چې انقطاع الی الله لاس ته راوړئ او خپلې کړنې نړه او بې ريا ترسره کړئ؛ له انساني او پيرياني شيطانه پرېکون وکړئ؛ خو په ظاهره داسې يوې سترې نېکمرغۍ ته له رسېدو نهيلي يو؛ لږ تر لږه کوښښ وکړئ، چې روژه مو پر محرماتو مشفوع نه وي بې له دې بنې که روژه مو سمه شرعي وي؛ نو خدای ته منظوره نه ده او پورته نه ځي. د عمل پورته تګ او منل کېدل يې له شرعي صحت سره خورا توپير لري. که د رمضان په مبارکه مياشت مو په کړنو او ويناوو کې هېڅ ډول بدلون رانغی او کړنلار مو له روژې تر مخکې سره توپير نه وي کړی؛ نو معلومېږي، چې هغسې روژه مو نه ده نيولې، چې درځنې غوښتل شوې ده او هغه څه مو چې ترسره کړي يوازې عامه حيواني روژه وه.
په دې شريفه مياشت کې الهي مېلمستون ته بلل شوي ياست، که له حق تعالی سره مو معرفت پيدا نه کړ او يا مو معرفت ډېر نه شو؛ نو پوه شئ، چې "ضيافة الله" يا الهي مېلمستيا ته سم ننووتي نه ياست او د مېلمستيا حق مو پر ځای کړی نه دی. بايد هېر نه کړئ، چې د رمضان په مبارکه مياشت کې، چې "شهرالله" ده او د الهي پېرزوګانو او رحمت ورنو ټولو بندګانو ته پرانستي دي او شيطانان په - د يو روايت له مخې[1]- په زنځيرونو تړل شوي دي؛ نو که تاسې و نشئ کولای، چې ځانونه اصلاح او مهذب کړئ او اماره نفس تر خپلو واک او کنټرول لاندې راولئ، ځاني غوښتنې تر پښـو لاندې کړئ، دنيا او ماديت ته خپله لېوالتيا او ورسره اړيکه پرېکړئ؛ نو د روژې مياشت تر تېرېدو روسته ستونزمنه ده، چې دې چارو ته د عمل جامه ورواغوندئ؛ نو له دې فرصته ګټنه وکړئ او مخکې تردې، چې دا طلايي چانس مو له لاسه ووځي، د خپل ځان او نفس د اصلاح، تزکيې او سمونې په فکر او تکل کې شئ او ځانونه د رمضان د مياشتې دندو ته چمتو کړئ. داسې دې نه وي، چې د رمضان د مياشتې تر راسېدو د مخه؛ لکه د شيطان په لاس د کوک شوي ساعت په څېر، چې په دې يوه مياشت کې، چې شيطانان په زنځيرونو کې دي، تاسې اتومات د اسلام له احکامو په سرغړونه

[1]. عن جابر، عن ابی جعفر –عليه السلام- قال کان رسول الله –صلی الله عليه و آله وسلم- يقبل بوجهه الی الناس فيقول:معاشر الناس اذا طلع هلال شهر رمضان، غلت مردة الشياطين و فتحت ابواب السماء و ابواب الجنان و ابواب الرحمة؛ و غلفت ابواب النار و استجيب الدعاء =جابر له امام باقر (ع) روايتوي، چې وايي:د خدای رسول خلکو ته مخ کړ، و يې ويل:خلکو ! چې کله د د رمضان مياشت راښکاره شي؛ نو سرغړانده شيطانان وتړل شي او د اسمان او رحمت ورونه پرانسل شي او د اور ورونه وتړل شي او دعاګانې منل کېږي. وسائل الشيعه؛ اووم ټوک، "کتاب الصوم"، "ابواب احکام شهر رمضان"، اتلسم باب، ۱۴ حديث، ۲۲۴مخ.

او گناه بوخت شئ! کله عاصي او گناهکار انسان له حقه د لرېوالي او گناه د ډېروالي له امله دومره په ناپوهۍ کې ډوب شي، چې نور د شيطان وسوسو ته اړتيا نه لري؛ او پخپله يې د شيطان رنگ اخستی وي. "صبغة الله"[1] د شيطاني رنگ پر وړاندې دی او څوک چې په ځاني غوښتنو پسې ولاړ او له شيطانه يې لاروي وکړه؛ نو په تدريج به د شيطان رنگ واخلي. تاسې تصميم ونيسئ په دې يوه مياشت کې په ځان پام وکړئ او له کړنو او ويناوو ځان وژغورئ، چې خدای پرې خپه کېږي. له همدا اوسه په همدې غونډه کې له خپل خدای سره ژمنه وکړئ، چې د رمضان په مياشت کې به غيبت او تهمت نه کوئ. ژبه، سترگه، لاس، غوږ او نور غړي به مو تر خپل واک لاندې کړئ، خپلې کړنې او ويناوې تر واک لاندې کړئ او کېدای شي ستاسې همدا نيکې کړنې ددې لامل شي، چې خدای تبارک و تعالی هم درته توجه وکړي او توفيق درکړي او د روژې د مياشتې تر تېرېدو روسته-چې شيطانان له زنځيرونو راخلاصېږي-تاسې هم اصلاح شوي ياست او نور د شيطان پر خبرو و نه غولېږئ او مهذب شئ. بيا يې تکراروم، چې د روژې په دې دېرش ورځو کې مو ژبې، سترگو او ټولو غړيو ته مو پام وسه او تل مو پام وسه، چې کومه خبره، چې په ژبه کوئ او کوم مطلب، چې اورئ له شرعي پلوه څه حکم لري؟ دا د روژې ظاهري او لومړني آداب دي؛ لږ تر لږه د روژې پر دې ظاهري آدابو ته پابند ووسئ. که و موليدل، چې څوک غيبت کوي؛ نو مخه يې ونيسئ او ورته وواياست، چې موږ ژمن شوي يو، چې په دې دېرش ورځو کې له محرمه چارو ډډه وکړو او که له غيبته يې مخه نشئ نيولای، له هغه غونډې ووځئ او هلته غيبت ته مه کېنئ او غوږ هم ورته مه ږدئ. مسلمانان بايد له تاسې په امان کې وي. په حقيقت کې هغه مسلمان نه دی، چې مسلمانان يې لاس، ژبې او سترگې په امان کې نه وي.[2] "لا اله الا الله" ويل يوازې ظاهري مسلماني ده. که خدای مه کړه د چا سپکاوی او غيبت وکړئ؛ نو پوه شئ، چې په ربوبي محضر کې ياست، د متعال خدای مېلمانه ياست او د خدای په مخ کې يې د بندگانو سپکاوی کوئ او د خدای د بندگانو سپکاوی د خدای سپکاوی دی.

---

[1]. خدايي رنگ. "صبغة الله و من احسن من الله صبغة و نحن له عابدون" (بقره/١٣٨)

[2]. عن ابی جعفر-عليه السلام-قال قال رسول الله –صلی الله عليه و آله وسلم -:الا انبئکم بالمؤمن؟ممن ائتمنه المؤمنون علی انفسهم و اموالهم، لا انبئکم بالمسلم؟ من سلم المسلمون من لسانه و يده. امام باقر (ع) له رسولله (ص) نه روايت کړی، چې وايي: آيا له مؤمنه مو خبر نه کړم؟مؤمن هغه دی، چې مؤمنان يې د خپل مال او ځان امين کړي. آيا له مسلمانه مو خبر نه کړم؟ مسلمان هغه دی، چې مسلمانان يې له ژبې او لاسه په امان کې وي. "اصول کافي"؛ دريم ټوک، د "ايمان او کفر" کتاب، د "المؤمن و علاماته و صفاته"باب، ١٩ حديث، ٣٣١ مخ.

دوی د خدای بندگان دي؛ په تېره بیا که د پوهې خاوندان وو او د پوهې او تقوا پر لار هم وو. کله گورئ، چې په همدې چارو د انسان چار دې برید ته رسي، چې د مړینې پر مهال خدای تکذیبوي او درغجنوي! د خدای له آیتونو منکرېږي: ثم کان عاقبة الذین اساوا السوای ان کذبوا بآیات الله و کانوا بها یستهزون [1] او دا چارې په تدریج رامنځ ته کېږي؛ نن یو ناسمه څرگندونه، سبا یو ټکی غیبت او نورې ورځې د نورو مسلمانانو سپکاوی او. . . . لږې لږې دا گناهگانې د انسان په زړه کې زېرمه کېږي، زړه توروي او انسان له "معرفة الله" لرې کوي او چار یې تردې بریده رارسي، چې له هر څه انکار او نټه کوي او له حقایقو هم سترگې پټوي.

د ځینو آیتونو او ځینې آیتونو د تفسیر په رڼا کې د انسان کړنې رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم او سپین لمني او معصومو امامانو ته وړاند کېږي[2] او د هغه له مبارکو سترگو تېرېږي، چې کله آنحضرت مو کړنې

ویني، چې له تېروتنواو گناهونو ډکې دي؛ نو څومره به خپه شي؟ مه کوئ، چې د خدای رسول خپه کړئ؛ پردې مه راضي کېږئ، چې د آنحضرت مبارک زړه مات او خپه شي چې کله آنحضرت ووینې، چې کړنلیک مو ټول له غیبت او تهمته ډک دی او ټوله توجه مو مادیت او دنیا ته ده او زړونه مو یو بل ته له کینې، حسد او بدکڅی نه ډک دي؛ نو شونې ده، چې د خدای تعالی او پرښتو په مخ کې خېجله شي، چې امت یې د الهي نعمتونو پر وړاندې ناشکره دی او داسې په خپلسری او سرایله د خدای په امانتونو کې خیانت کوي. یو وگړی، چې په انسان پورې تړاو لري که څه د انسان نوکر وي، که یو خلاف چار یې وکړ؛ نو د انسان

---

[1]. بیا د هغوی چې ناوړه چارې یې کړې دي، د چار عاقبت دا شو، چې د خدای آیتونه یې تکذیب کړل او ملنډې یې پرې ووهلې. (روم/۱۰)

[2]. لکه څنگه چې د توبې د سورت۱۰۵ آیت ورته اشاره لري: و قل اعملوا فسیری الله عملکم و رسوله و المؤمنون و ستردون الی عالم الغیب و الشهادة فینبکم بما کنتم تعملون = او ای پېغمبره ووایه [څه مو چې خوښه وي] و یې کړئ. خدای، رسول او مؤمنین مو کړنې گوري او ډېر ژر به پوه خدای او پټو او ښکارو ته ورستانه شئ او له هغه څه به مو خبر کړي، چې کړي مو دي.

" ابوبصیر له امام صادق نه روایتوي: تعرض الاعمال علی رسول الله –صلی الله علیه و آله وسلم- اعمال العباد، کل صباح ابرارها و فجارها فاحذروها؛ و هو قول الله تعالی: اعملوا فسیری الله عملکم و رسوله = د نېکچارو او بدچارو بندگانو کړنې هر سهار د خدای رسول ته وړاندې کېږي؛ نو پام مو وسه، چې همدا ده د خدای د وینا معنی، چې وایي: اعملوا فسیری الله عملکم و رسوله. " اصول کافي؛ لومړی ټوک، "کتاب الحجة"، "باب عرض الاعمال علی النبی (ص) و الائمة (ع) "۱، ۲، ۲ حدیثونه، ۳۱۸ مخ؛ د برهان تفسیر، دویم ټوک، ۱۵۷ مخ.

د خجالت لاملېږي؛ تاسې د خدای په رسول صلی الله علیه و آله و سلم پورې اړه لرئ، تاسې دیني مدرسو ته په راتګ سره ځان د اسلام په فقهې، رسول اکرم او قرآن کریم پورې تړلی دی؛ نو که کوم ناوړه چار مو وکړ؛ نو آنحضرت پرې خپجله کېږي، هغه ته ګرانه پرېوځي او شوني ده، چې خدای مه کړه ښېرې درته وکړي او لعنت دربانديې ووايي. پردې مه راضي کېږئ، چې رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم او سپین لمني امامان خپه او زړه يې مات شي.

د انسان زړه د هنداري په څېر روڼ او روښانه دی او دنیا ته د ډېرې توجه او د ګناهونو د ډېروالي له امله تورېږي؛ خو که انسان لږ تر لږه روژه د خدای لپاره او بې ریا ونیسي (نه وایم، چې نور عبادتونه دې يې نږه نه وي؛ پکار ده، چې ټول عبادتونه يې نږه او بې ریا وي) دا عبادت، چې له شهوتونو ځان ژغورنه، له دنیوي خوندونو ډډه کونه او بې له خدایه له نورو پرېکون دی، په دې میاشت کې ښه ترسره کېږي او کېدای شي د خدای له رحمته برخمن شي او له زړه يې ښیری او توروالی لرې شي او هیله ده، چې له عالم طبیعت او دنیوي خوندونو يې منحرف او منصرف کړي او چې کله غواړي، چې " د قدر شپې" ته ننوځي؛ نو له هغو رڼاوو او نعمتونو برخمن شي، چې د مؤمنیو لپاره دي.

او د داسې يوې روژې ثوب خدای دی؛ لکه څنګه چې يې ویلي دي: "الصوم لی وانا اجزی به"[1] بل څه د داسې روژې ثواب کېدای نشي، نعیم جنتونه دداسې روژې پر وړاندې بې ارزښته دي او نشي کېدای، چې ثواب يې وګڼل شي؛ خو که داسې وي، چې انسان د روژې په نامه خوله له خوراکي توکیو وتړي او د خلکو غیبت ته يې پرانځي او د رمضان په مبارکو شپو کې، چې وخت ډېر وي او محفلونه ګرم وي، تر پېشمني د مسلمانانو غیبت وکړي؛ نو څه به يې لاس ته رانشي؛ بلکې په داسې مېلمستیا کې د حق تعالی د مېلمستیا آداب نه دي پلي شوي؛ د خپل نعمت د خاوند حق يې ضایع کړی دی؛ هغه د نعمتونو خاوند، چې د انسان تر پیدایښت د مخه يې ټول د ژوند وزلي ورته چمتو کړي دي؛ د تکامل اوزار يې ورته چمتو کړي دي؛ انبیاء يې ورته رالېږلي، اسماني کتابونه يې ورته رالېږلي، تکامل او د عظمت معدن ته د رسېدو لپاره يې ورته ځواک ورکړی دی، عقل او ادراک يې ورکړی دی، کرامتونه يې کړي دي او اوس يې خپلو بندګانو ته مېلمستیا کړې ده، چې د نعمت دسترخوان ته يې

[1]. "فروغ کافي"؛ څلورم ټوک، "کتاب الصوم"، "باب ماجاء فی فضل الصوم والصائم"، شپږم حدیث، ۶۳ مخ.

کښني او د نعمتونو شکر یې په لاس او خوله تر هغه بریده وکړي، چې له وسې یې پوره وي؛ نو آیا سمه ده، چې بندګان یې له نعمته برخمن شي او له هغه اوزارونو او وزلیو ګټنه وکړي، چې ورته یې چمتو کړي دي؛ خو د خپل مولی او باداره سرغړونه وکړي او ورپسې راپاځي؟ هغه اوزار او وزلې، چې هغه ورته ورکړي دي، د هغه پر خلاف یې وکاروي؟آیا دا ناشکري او نمک ناشناسي نه ده، چې انسان د خپل بادار دسترخوان نه کښني او په خپلو ناوړچاریو د نعمت د خاوند په محضر کې بې ادبي او سپکاوی یې وکړي او هغه چارې ترسره کړي، چې د کوربه په نزد ناوړه دي؟

مېلمه باید لږ ترلږه کوربه وپېژني او له مقامه یې معرفت ولري او د مېلمستیا د غونډې پر آدابو ځان پوره کړي او کوښښ وکړي، چې د نزاکت او اخلاق پر خلاف چار ترسره نه کړي، د متعال خدای مېلمه باید د حضرت ذی الجلال خدای له مقام سره عارف وي؛ هغه مقام، چې سپین لمني امامان یې تل په ډېر معرفت او بشپړې پېژندنې پسې وو او تل یې هیله درلوده، چې د رڼا یو داسې معدن ته لاسرسی پیدا کړي؛ "و انر ابصار قلوبنا بضیاء نظرها الیک حتی تخرق اباصر القلوب حجب النور فتصل الی معدن العظمة. " "ضیافة الله" هماغه د "عظمت معدن" دی؛ خدای تعالی خپل بندګان د "عظمت معدن" ته رابللي دي؛ خو که بنده یې وړتیا و نه لري؛ نو نشي کولای، چې داسې یوې پرتمینې غونډې ته ورننوځي. خدای خپل ټول بندګان ټولو معنویاتو او معنوي خوندونو ته رابللي دي؛ خو که بندګان یې داسې مقاماتو ته د رسېدو لپاره چمتو نه وي؛ نو نشي کولای، چې ورشي په روحي چټلیو، اخلاقي رذایلو، قلبیه او قالبیه ګناهونو به څنګه وکولای شي، چې په ربوبي محضر کې حاضر شي او د "رب الارباب"په مېلمستیا کې حاضر شي، چې "معدن العظمة" دی؟ دا هر څه وړتیا غواړي، چمتو کېدل ورته پکار دي؛ په مخ توریو او د زړه په ښیرو، چې زړه یې په ظلماني حجابونوکې پوښلی دی، دا معاني او حقایق نه شو درک کولای. باید دا حجابونه وشلول شي او دا پردې، چې د وصال او ښلون په لار کې خنډ دي، باید وشلول شي، تر څو وکولای شو په دې پرتمینه او نوراني غونډه کې ګډون وکړو.

# مېرمنې د امام خميني (ره) په ويناوو کې[1]

*- (( اسلام غواړي ښځه او نارينه دواړه وده وکړي او اسلام ښځه له هغه څه را وايستله، چې په جاهليت کې وه او څومره خدمت، چې اسلام ښځې ته کړی دی؛ خدای پوهېږي، چې سړي ته يې نه دی کړی او تاسې نه پوهېږئ، چې په جاهليت کې ښځه څه وه او اوس په اسلام کې څه شوې ده. )) (۱)

*- ((اسلام ښځې ته داسې خدمت کړی دی، چې په تاريخ کې يې سارى نشته. اسلام ښځې ته شخصيت ورکړ. )) (۲)

*- ((مورِ غواړو، چې ښځه په خپل ستر انساني مقام کې وي؛ نه د سړيو په لاس کې د ساتېرۍ وسيله. ښځه بايد د خپل برخليک په ټاکلو کې ونډه ولري. )) (۳)

*- (( که انسانسازې ښځې له ولسونو واخستل شي؛ نو ولسونه به له ماتې او انحطاط سره مخ شي. )) (٤)

*- ((ښځه انسانه ده؛ هغه هم يو ستر انسان؛ ښځه د ټولنې ښوونکې ده، له لمنې يې انسانان زيږېږي. د انسانانو ښوونکې ښځه ده، د يوه هېواد نېکمرغي او بدمرغي په ښځې پورې اړه لري؛ ښځه په خپله صحيحه روزنه هېواد ابادوي. د ټولو نېکمرغيو سرچينه د ښځې په لمنه کې ده او ښځه بايد د ټولو نېکمرغيو سرچينه شي. )) (۵)

*- ((ښځو مېړني سړي په خپله لمنه کې روزلي دي. قرآن کريم انسان ساز دی او ښځې هم انسان سازې دي او د ښځو دنده انسان سازي ده او که انسانسازې ښځې له ولسونو واخستل شي؛ نو ولسونه به له ماتې او انحطاط سره مخ شي. (٦)

*- ((د ښځې مقام او رتبه اوچته ده او په اسلام کې لوړپوړي دي. )) (۷)

*- ((اسلام وايي، چې ښځه د سړي په څېر په ټولو چارو کې لاس درلودای شي او لري يې او لکه څنګه سړی بايد له فساده ځان وساتي؛ ښځه هم بايد له فساده ډډه وکړي او ښځه نه بايد د فاسدو سړيو د ساتېرۍ وسيله شي او ښځې دې خپل اوچت مقام له منځه نه وړي، تقوا دې ولري؛ ځکه ښځې د کرامت مقام لري او ښځې هم د سړيو په څېر اختيار لري، خدای تاسې له کرامت سره خلق کړي ياست او آزادې يې خلق کړي ياست. )) (۸)

[1] - دا برخه د "جايگاه زن در انديشه امام خميني" له کتابه، چې د "موسسه چاپ و نشر عروج" لخوا خپور شوی، اخستل شوې ده.

*- ((اسلام ښځو ته ځانګړی نظر لري. چې کله په جزیرة العرب کې اسلام راښکاره شو؛ نو ښځو د سړیو پر وړاندې خپل حیثیت له لاسه ورکړی و او اسلام هغوی سرلوړې کړې، اسلام ښځه له سړي سره مساوي کړه او کومه توجه، چې اسلام ښځې ته یې لري، سړي ته یې نه لري. )) (۹)

*- ((ښځې حق لري، چې په سیاست کې ونډه واخلي او دا یې دنده هم ده، ملایان هم حق لري په سیاست کې ونډه واخلي او دا یې دنده ده. اسلام یو سیاسي دین دی؛ یو دین دی، چې هر څه یې سیاست دی، حتی عبادت یې هم سیاست دی. )) (۱۰)

*- ((ښځې په نړۍ کې کې له ځانګړې ونډې برخمنې دي، د یوې ټولنې صلاح او فساد په هغه ټولنه کې د ښځې له فساد او صلاحه راولاړېږي او ښځې یوازینې موجودات دي، چې له خپلې لمنې ټولنې ته وګړي ورکولای شي، چې له برکته یې یو ټولنه؛ بلکې ټولنې استقامت او لوړو انساني ارزښتونو ته رسي او کېدای شي، چې پرعکس هم شي. )) (۱۱)

*- ((البته سمه دنده د ښځې لپاره هېڅ پروا نه لري؛ خو نه هغسې، چې هغوی (پهلوي رژیم) غوښتل او د هغوی خبره دا نه وه، چې ښځه دې دنده ولري او د هغوی نظر دا و، چې ښځې او سړي له هغه مقامه راکوز کړي، چې لري یې او نه یې پرېښوول، چې ښځه خپله طبیعي وده ولري. )) (۱۲)

*- ((نن په جمهوري اسلامي کې ښځې له سړیو سره هم اوږه د خپل هېواد په جوړونه کې ونډه لري. )) (۱۳)

*- ((نن باید ښځې پر خپلو ټولنیزو او دیني دندو عمل وکړي او عمومي عفاف وساتي او پر هغه عمومي عفاف ټولنیزې او سیاسیې چارې پر مخ بوځي. )) (۱٤)

*- ((باید ټولې ښځې او سړي سیاسي او ټولنیزو چارو ته راننوځي او و یې څاري؛ هم دې ملي شورا وڅاري او هم دې د دولت چارې وڅاري او خپل نظر دې څرګند کړي. )) (۱۵)

*- ((لکه څنګه چې سړي په سیاسي چارو کې لاسوهنه لري او خپله ټولنه ساتي، ښځې هم باید پکې لاسوهنه وکړي او خپله ټولنه وساتي او ښځې هم له سړیوسره په سیاسي او ټولنیزو چارو کې هم اوږه وي؛ البته د هغو احکامو په پام کې نیولو سره، چې اسلام ورته ویلي دي، چې الحمد الله نن په ایران کې پلي کېږي. )) (۱٦)

*- ((په اسلام کې ښځه باید حجاب ولري او هرومرو لازمه نه ده، چې چادري ولري؛ بلکې ښځه کولای شي، چې هره هغه جامه واغوندي، چې حجاب یې ساتي. )) (۱۷)

*- ((وزارتونو ته دې ښځې بربنډې او سرلوڅې نه راځي، ښځې دې ورځي؛ خو له حجاب سره؛ کار دې پکې کړي؛ خو له شرعي حجاب سره. )) (۱۸)
*-((اسلام غواړي ښځې بشپړې انسانانې وروزي، چې د هغوی په لمن کې بشپړ انسانان وروزل شي. )) (۱۹)
*- ((سړي د ښځو په لمن کې روزل شوي دي، تاسې د سړيو روزنکي ياست، خپل قدر وپېژنئ او اسلام ستاسې قدر پېژني. )) (۲۰)
*- ((تاسې اسلام ته خدمت وکړ او تر دې روسته به يې هم کوئ ان اشاء الله. تاسې د ايران مېړني او مېړنۍ وسئ، ستاسې لمنه د عصمت، عفت، او عظمت ده، تاسې دنده لرئ، چې خپل اولادونه مو سم وروزئ، اسلامي روزنه ورکړئ، انساني روزنه ورکړئ، مجاهد يې وروزئ او مونږ ستاسې او د نورو ټولو طبقاتو په مجاهده دا خوځښت تر دې ځايه راورساوه او "جمهوري اسلامي" مو اعلان کړ. )) (۲۱)
*- ((د مور لمنه هغه ښوونځی دی، چې پکې ماشوم روزل کېږي او هغه څه چې ماشوم له موره اوري، غير له هغه څه دي، چې په ښوونځي کې يې له خپل ښوونکي اوري. ماشوم د ښوونکي په پرتله مور ته ښه غوږ ږدي د پلارپه پرتله د مور ترڅنګ ښه روزل کېږي او دا يوه انساني او الهي دنده ده، يو شريف چار دی، دانسان روزل او انسان جوړول. )) (۲۲)
*- ((د اسلام له نظره ښځه د ټولنې په جوړونه کې حساسه ونډه لري او اسلام د ښځې مقام تردې لوړوي، چې هغه وکولای شي، چې په ټولنه کې خپل انساني مقام بيا ومومي او د ځيزوالي له بريده راووځي او له دې ودې سره متناسب کولای شي، چې د اسلامي حکومت په جوړښت کې خپلې دندې او ونډې ترسره کړي. )) (۲۳)
*- ((دا مور، چې په لمن کې يې ماشوم لوېږي، تر ټولو شريفه دنده او تر ټولو ستر مسووليت دی. په نړۍ کې تر ټولو ستره دنده د يو ماشوم روزل او لويول دي او دا هماغه څه وو، چې خدای تبارک تعالی ورته د تاريخ په ترڅ کې پيغمبران راولېږل او انبياء راغلل، چې انسانان جوړ کړي. )) (۲٤)
*- ((مونږ خوشحاله يو، چې ښځې او مېرمنې، ځوانان او بوډاګان، ماشومان او لويان ټول سره اوږه پر اوږه په فرهنګي، اقتصادي او نظامي چارو کې حاضر دي او د اسلام او قرآني موخو د پلي کولو لپاره ان تر سړيو هم غوره فعاليتونه کوي. . . . )) (۲۵)

*- ((دوی مو له اسلامي حکومت وېروي او وايي که حکومت اسلامي شو؛ نو ښځې به په یوه قوطۍ کې واچوي او په یوه کوټه کې به یې تر پایه بندي کړي. په صدر اسلام کې ښځې جګړې ته تلې، په لښکرو کې یې ګډون کاوه او د ټپیانو درملنه یې کوله. )) (۲۶)

پاڼلیکونه

۱-(۵۷/۸/۱۸) له هېواده بهر مېشتو ایرانیانو ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
۲-(۵۷/۸/۱۸) له هېواده بهر مېشتو ایرانیانو ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
۳-(۵۷/۱۲/۱۳) د قم مېرمنو ته د امام خمیني له ویناوو څنې
٤-(۵۷/۱۲/۱۳) د قم مېرمنو ته د امام خمیني له ویناوو څنې
۵-(۵۸/۲/۲٦) د ایران ولس ته د امام خمیني د راډیویي-تلویزیوني پیغام یوه برخه.
٦-(۵۷/۱۲/۱۳) د قم مېرمنو ته د امام خمیني له ویناوو څنې
۷-(۵۷/۱۲/۱۳) د قم مېرمنو ته د امام خمیني له ویناوو څنې
۸-(۵۷/۱۲/۱۳) د قم مېرمنو ته د امام خمیني له ویناوو څنې
۹-(۵۷/۱۲/۱۳) د قم مېرمنو ته د امام خمیني له ویناوو څنې
۱۰-(۵۸/٦/۲٦) د لنګرود مېرمنو د امام خمیني له ویناوو څنې.
۱۱-(٦۱/۱/۲۵) ایران ولس ته د امام خمیني د پیغام یوه برخه.
۱۲-(۵۸/۲/۲٦) د مشهد مېرمنو د امام خمیني له ویناوو څنې.
۱۳-(۵۹/۲/۱۵) ایران ولس ته د امام خمیني د پیغام یوه برخه.
۱٤-(۵۹/٦/۱۹) په کېنهاک کې د ښځو په کنفرانس کې ایراني استازیو ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
۱۵-(۵۹/۱۱/۱۸) په کېنهاک کې د ښځو په کنفرانس کې ایراني استازیو ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
۱٦-(٦۳/۱/۱۹) د قم او د نارمک جامع جومات د اسلامي ښوونځیو غړیو ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
۱۷-(۵۷/۱۰/۷) له کرو ککروفت سره د امام خمیني مرکه.
۱۸-(۵۷/۲/۱۵) علماوو ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
۱۹-(۵۷/۱۲/۱۷) د قم مېرمنو ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
۲۰-(۵۷/۱۲/۱۷) د قم مېرمنو ته د امام خمیني له ویناوو څنې
۲۱-(۵۸/۱/۱۷) د کرمانشاه او دزفول مېرمنو ته د امام خمیني له ویناوو څنې.
۲۲-(۵۸/۵/۲۷) د هېواد د ښوونکیو په غونډه کې د امام خمیني له ویناوو څنې.
۲۳-(۵۷/۸/۱۹) د عفوې د نړیوال سازمان له استازي سره د امام خمیني د مرکې یوه برخه.
۲٤-(۵۸/۳/۲) د اهواز محصلینو ته د امام خمیني له ویناوو څنې.

۲۵-(۶۸/۳/۱۵) د امام خميني الهي سياسي وصيتنامه.
۲۶-(۵۷/۸/۱۷) له هېواده بهر مېشتو ايرانيانو ته د امام خميني له ويناوو څنې.

## امام خميني (ره) او له نفس سره مبارزه

### (ستر جهاد)[1]

*- ((ټولې غوره انساني ځانګړنې له نورو په پرېکون او د په الی الله کې رانغښتې دي. ))
*- ((کوم مقام، چې د خدای صالحو بندګانو ته په پام کې نيول شوی دی، پر وړاندې يې ټوله دنيا او هر هغه څه چې پکې دي، ډېر ناڅيزه دي. ))
*- ((دا دنيا له خپل ټول ځل بل سره تر هغه څه خورا ناڅيزه ده، چې مينه ورسره وشي. ))
*- ((دا په ظاهر ژر تېرېدونکې خوږه دنيا، د هغه ناپايه عذاب پر وړاندې څه ارزښت لري؟ ))
*- (( د خدای پر ځای بل ته توجه انسان د تپو تيارو په حجابونو کې رانغاړي. ))
*- ((دنيوي چارې که د انسان پام دنيا ته کړي او له خدايه يې غافل کړي؛ نو د ظلماني او تپوتيارو د حجابونو لاملېږي. ))
*- ((په حزب الله کې وسئ او د دنيا له ساختګي ځل بله ځان وساتئ. ))
*- ((هغه مُلا، چې ځان د حضرت علي کرم الله وجهه لاوری ګڼي؛ نو ممکنه نه ده، چې د دنيا پر مشتهياتو تېروځي. ))
*-الهي انبياء ددې لپاره مبعوث شوي، چې انسانان وروزي، انسانان جوړ کړي، بشر له چټليو، پليديو، فسادونو او رذيله خويونو لرې کړي او له غوره خويونو او حسنه فضايلو او آدابو سره يې اشنا کړي. ))
*- ((که د خدای په لار کې ګام واخلئ؛ نو خدای مقلب القلوب دی، هغه به زړونه تاسې ته راواړوي . ))
*- ((د ټولو هغو اختلافونو جرړه، چې ټاکلې او سپېڅلې موخه نه لري، له دنيا سره په مينه کې ده. ))
*- ((بې له ايکي يو خدايه بل ته پام مه کوئ. ))
*- ((د انسان زړه د هندارې په څېر، روڼ، پاک او روښانه دی او دنيا ته د ډېرې توجه او ډېرو ګناهونو له امله خيرنېږي. ))

[1] دا برخه د امام خميني(ره) د "مبارزه با نفس يا جهاد اکبر" نه اخستل شوې ده.

*-((په روحي چټليو، اخلاقي رذايلو، په قلبيه او قالبيه گناهونو به څنگه وکولای شو، چې په ربوبي محضر کې حاضر شو او د "رب الارباب" مېلمستون ته، چې "معدن العظمة" دی ورننوځو؟ ))

*- (( له خدايه وډار شئ، د چارو له عواقبو ځان وساتئ او د غفلت له خوبه راويښ شئ. ))

*- ((دوراندیش وسئ، د چارو عواقب ته پام وکړئ او حساب يې کړئ، خپل خطرناک راتلونکی راياد کړئ، د قبر فشار، عالم برزخ او هغه مشکلات او سختۍ راياد کړئ او ترې غفلت مه کوئ، چې درپسې دي. ))

*- (( دوزخ اور د انسان په ناوړه کړنو بلېږي. ))

*- ((که بشر په خپلو ناوړه کړنو د دوزخ اور بل نه کړي؛ نو دوزخ خاموشه دی. ددې طبيعت باطن دوزخ دی؛ د طبيعت اقبال د دوزخ اقبال دی. ))

*- (( هغه څه چې په آخرت کې راپېښېږي، هغه څه دي، چې په دې دنيا کې مو کړي دي. ))

*- ((مخکې له دې، چې فرصت دې له گوتو ووځي، د چارې په فکر کې شه. ))

*- ((تاسې ځوانان د بوډاتوب پر لور او موږ بوډاگان د مرگ پر لور روان يو. ))

*- ((هر ساه چې اخلئ او هر گام، چې پورته کوئ، د عمر هره شېبه مو چې تېرېږي؛ نو سمونه او اصلاح ستونزمنېږي او شونې ده، چې ظلمات او تباهي ډېره شي. ))

*- (( تر څو چې د ځوانۍ اراده او ځواک لرئ، کولای شئ له ځانه ځاني غوښتنې، دنيا ته لېوالتيا او حيواني غوښتنې لرې کړئ. ))

*- (( ځوان زړه لطيف او ملکوتي دی او د فساد انگېزې پکې لږې دي؛ خو څومره، چې عمر په پخېدو وي، په زړه کې د گناه جرړې پياوړې او کلکېږي، تردې چې له زړه يې راايستل ناشوني شي. ))

*- (( توابه يوازې په "اتوب الى الله" نه پلي کېږي؛ بلکې د گناه پرېښوول او پر پرېښولو يې په ټينگار پلي کېږي. ))

*- (( د خدای له خلق سره غوره چلن وکړئ او ښه ورسره چلېږئ او په مينه او محبت ورته گورئ. ))

*- (( د خدای له ښه او صالحو بندگانو سره نېکي وکړئ. ))

*- ((هغه مسلمان نه دی، چې بل مسلمان يې له لاس، ژبې او سترگې په امان کې نه وي. ))

*- (( د خدای د بنده سپکاوی د خدای سپکاوی دی. ))

*- ((ځوک چې په خپلو ځاني غوښتنو پسې ولاړ او له شیطانه یې لاروي وکړه؛ نو په تدریج به د شیطان په لومه کې راښکېل شي.))
*- (( اهل آخرت یو بل سره په صفا او سوله کې دي او زړونه یې د خدای او د خدای د بندگانو له مینې ډک دي.))
*- (( د خدای له بندگانو سره مینه، له خدای سره د مینې یوه وړانگه ده.))
*- ((قرآن کریم د خدای ستر امانت دی او علماء ددې الهي امانت، امانتساتي دي. ))
*- ((د پوهانو دندې خورا درنې دي او علماوو مسوولیت تر نورو خلکو خورا ډېر دی.))
*- ((په روایت کې راغلي، چې د ځلکدن پر مهال د پوه او عالم انسان توبه نه قبلېږي.))
*- (( که کوم عالم کږلاری شو؛ نو شونې ده، چې یو ولس کږلاری کړي.))
*- (( هغه نفس، چې مهذب شوی نه وي، پوهه یې ظلماني حجاب دی.))
*- ((پوهه رڼا ده؛ خو په تیاره او فاسد زړه کې تپه تیاره او تورتم لاپسې نور هم زیاتوي.))
*- ((هغه پوهه، چې انسان خدای ته نږدې کوي، د دنیا غواړي په نفس کې د خدای له درشله د لرېتوب لامل دی.))
*- ((د توحید علم هم کې د خدای پر ځای بل چا ته وي؛ نو ظلماني حجاب دی. ))
*- ((که انسان له ځانه خباثت و نه باسي، که څومره زده کړه هم وکړي؛ نو گټه به ورته نه لري او نه یوازې گټه نه لري؛ بلکې ټول تاوان دی.))
*- (( [زده کوونکیو ته خطاب] که خدای مه کړه، زده کړه و نه کړئ؛ نو حرامه ده، چې په مدرسه کې پاتې شئ. ))
*- ((هر گام، چې د علم د لاس ته راوړو لپاره اخلئ؛ نو یو گام د ځاني غوښتنو د ځپلو، د روحاني ځواکونو د پیاوړي کولو، د اخلاقي مکارمو د لاس ته راوړو او د معنویاتو او تقوا د لاس ته راوړو لپاره هم پورته کړئ.))
*- (( که اخلاص او خدای ته نږدېدل موخه نه وي؛ نو دا پوهې هېڅ گټه نه لري.))
*- ((کوښښ وکړئ، مخکې له دې چې ټولنې ته ورننوځئ، ځانونه اصلاح او مهذب کړئ.))
*- ((له تاسې دا تمه ده، چې کله د فقهې له مرکزه ولاړئ، ځانونه اصلاح کړئ، ځانونه مهذب او جوړ کړئ، چې وکولای شئ خلک اصلاح کړئ.))
*- ((که ستاسې د ناوړه او ناروا کړنو له امله یو تن بې لارې شو او له اسلام واوخوت؛ نو تر ټولو کبیره گناه مو کړې ده.))

*- (( خدای دې نه کړي، چې يو انسان مخکې له دې چې ځان جوړ او اصلاح کړي، په خلکو کې نفوذ، شخصيت او مقام لاس ته راوړي او ځان ورک کړي. ))
*- ((مخکې له دې، چې د اختيار واګې مو له لاسه واخستل شي، ځانونه سم او اصلاح کړئ. ))
*- ((ځانونه په غوره خويونو وپسولئ؛ اخلاقي رذايل له ځانه لرې کړئ او په زده کړه او بحث کې اخلاص ولرئ تر څو داچار مو خدای ته نږدې کړي. ))
*- ((که په چارو کې نيت نږه نه وي؛ نو دا چار انسان له ربوبي درشله لرې کوي. ))
*- ((په ديني مدرسو کې نظم او انضباط راولئ. ))
*- ((د استعمار لاسپوڅي غواړي د اسلام ټول حيثيت تر پښو لاندې کړي او تاسې يې بايد مخې ته ودرېږئ. ))
*- (( له حب نفس، حب جاه، کبر او ځانمنۍ سره مقاومت نه کېږي. ))
*- ((ناوړه عالم، چې دنيا ته يې سترګې خړې کړي او د خپلې کرسۍ او رياست په فکر کې وي، نشي کولای، چې د اسلام له دښمنانو سره مبارزه وکړي. ))
*- ((ګامونه مو الهي کړئ، د دنيا مينه مو له زړه وباسئ؛ نو هله به وکولای شئ، چې مبارزه وکړئ. ))

# د امام خميني (ره) خاطرات[1]

*- ((په دې بايد ټول پوه شو، چې هر څه الله کوي. په دې دومره موده کې، چې زه په خپله روحاني دنده بوخت وم، دا مې احساس کړل، چې ډېرى داسې مسايل وو، چې بې له دې، چې موږ يې وغواړو پخپله به ترسره کېدل. داسې نه وه، چې موږ ورته نقشه کښلې وي او دا يوازې يو الهي هدايت و. )) (١)

*- ((خداى تبارک و تعالى مقدرات لري، چې موږ پرې نه پوهېږو؛ مګر د وخت په تېرېدو. هغه مهال، چې د ايران دولت او محمد رضا شاه د عراق پر دولت دباو راووړ او ما د عراق له دولت سره خبرې اترې وکړې او ورته مې وويل، چې دا يوه شرعي او الهي مسله ده او زه نشم کولاى، چې ستاسې په خوله خپله شرعي او الهي دنده ترسره نه کړم. زه چې دا کوم کارونه دلته کوم؛ نوستاسې خوښه، چې هر څه راسره کوئ. هغوى له موږ غوښتنه وکړه او راته يې وويل: داچې موږ د ايران له دولت سره يو لړ ژمنې لرو او کوم کارونه، چې تاسې او ستاسې اصحاب دلته کوئ، د هغو ژمنو پر خلاف دي، چې موږ يې د ايران له دولت سره لرو او موږ ستاسې دا چارې نه شو زغملاى. ما ځواب ورکړ:زه خو ورسره ژمنه نه لرم او تاسې ورسره ژمنه لرئ. زه يوه شرعي دنده لرم او پر خپله دنده مې عمل کوم او ستاسې پر ژمنو مې چورت نه دى خراب؛ هم به پر ممبرونو وينا کوم او هم به اعلاميې صادروم او هم به پېټي او کسټونه ډکوم او ايران ته به يې لېږم، چې دا مې دنده ده او زه پر خپله دنده عمل کوم او تاسې پر خپله دنده عمل وکړئ. تر څه مودې تګ راتګ روسته هغوى (بعثيانو) زما د نجف ياران وګواښل. ما وليدل، چې کېداى شي زما يارانو ته تاوان ورسي؛ نو د تګ په تکل کې شوم او د عراق د دولت تر څارنې لاندې د کويت پولې ته راغلم. د کويت په پوله کې هم هغه فشارونه، چې د عراق پر دولت وو، د کويت پر دولت هم وو او هغوى حتى ما ته دومره اجازه هم نه راکوله، چې له يوه ځايه بل ځاى ته ولاړ شم او زه له هېچا ګيله نه کوم؛ ځکه هغوى خپلو تړونونو ته ژمن وو؛ خو دا د خداى تبارک و تعالى يو تقدير و، چې موږ ترې بې خبره وو.

---

[1] -دا برخه د "غلامعلى رجايي" د " امام به روايت امام"له کتابه، چې د "چاپ و نشر عروج" لخوا خپور شوى دى، اخستل شوې ده.

موږ داسې ویلي وو، چې تر درې څلورو ورځو کتنو روسته به سوریه ته ولاړ شو او هلته به پاتې شو؛ خو د خدای تقدیر دا و، چې موږ بل ځای ته ولاړ شو او موږ نه پوهېدو، چې دا تقدیر به مو چېرته وړي. )) (۲)
*- ((موږ هېڅ هوډ نه درلود، چې پاریس ته ولاړ شو، دا هغه چارې وې، چې زموږ ارادې پکې هېڅ رول نه درلود؛ هر څه چې وو او تر اوسه، چې هر څه دي او له پیله، چې هر څه وو، د خدای په اراده وو؛ زه د ځان لپاره هېڅ داسې عمل قایل نه یم، چې پخپله مې ترسره کړی وي، هر څه چې وو، د هغه له اړخه دي. داسې چارې کېږي، چې بېخي زموږ په ذهنونو کې هم نه راتلې، چې مثلاً دا کار به داسې وشي او لیدل مو، چې خورا ښه پایله به یې هم ورکوله. په همدې روستیو کې، چې موږ تهران ته راغلو او پوځي حکومت اعلان شوی و او زه بېخي خبر نه وم، چې د څه لپاره یې پوځي حکومت اعلان کړی ـچې بیا روسته ما ته وویل شول ـ خو زما ذهن ته راغلل، چې دا پوځي حکومت مات کړو او هغوی اعلان کړل، چې تر ماسپښین روسته پوځي حکومت دی او ما هم ولیکل، چې پوځي حکومت دې مات شي او بیا روسته زه پوه شوم، چې دسیسه وه. دا پوځي حکومت ددې لپاره و، چې پر واټونو خپل پوځي ځواکونه مستقر کړي او دشپې کودتا وکړي او موږ او تاسې ټول له منځه یوسي، چې دا هم خدای وکړل او دا مسله بېخي زموږ ذهن ته نه راتله. )) (۳)
*- ((دا یو حقیقت دی، چې زه پرې باید اعتراف وکړم، چې یوه کلکه کلا وه، چې د فتح کولو احتمال یې هم نه ورکول کېده؛ خو ماته شوه. یو ولس په تش لاس هغه ابرقدرت مات کړ، چې تر پوزې پر هر ډول وسله سمبال و؛ خو دا زه نه وم، چې دا بری ستاسې پر برخه کړ؛ دا خدای تعالی و.

زه چې په پاریس کې وم او اورېدل مې، چې د ټول هېواد وګړي سره یولاس شوي او ټول یوه خوله وایي: (( پهلوي لړی نه! جمهوري اسلامي هو! ))؛ نو زه هلته پوه شوم، چې په دې چارو کې د غیبو لاس دی. شونې وه، چې یو کلی یا یو ښار یا یو ولایت سره همغږی کړې، چې ټول یوه خوله یو څیز وغواړي؛ خو د ټول هېواد همغږي کول، چې بېلابېلې سلیقې، هیلې او. . . . درلودل، خورا ستونزمن او ناشونی چار و. په دې هر څه کې د غیبو لاس و او خدای تعالی د امام مهدي په واسطه دا تحول او بدلون په خلکو کې رامنځ ته کړ او له هغه وخت را په دې خوا کله هم نهیلی نه شوم. )) (٤)
*- (( د مسایلو په بیانولو کې د رحمت اړخ د تاوتریخوالي تر اړخه خورا اغېزمن وي ما به چې کله د رضاخاني زندی توب او اختناق پر مهال په فیضیه مدرسه کې خبرې کولې؛ نو

هغه مهال به مې، چې د دوزخ او اور په اړه خبره کولې؛ نو ټول به وچ کلک شول؛ خو چې کله به مې د رحمت او جنت په اړه خبرې کولې؛ نو د ټولو زړونه به نرم شول او اوښکې به يې راجارې شوې او دا د رحمت اغېز دی تر تاوتريخوالي په رحمت غوره کولای شو، چې مسايل او چارې هوارې کړو. )) (٥)
*- ((زه د جوزا تر پينځلسم روسته له بنده ازاد شوم او له هغه پېښو خبر شوم، چې په ايران کې شوې وې، بيا قم ته راغلم او له هغه کسانو سره مخ شوم، چې خپل عزيزان يې له لاسه ورکړي وو، گومان مې نه کاوه، چې ددې معنی دوام هغه صحنې وي، چې اوس يې گورم. دا چې د جوزا پر پينځلسمه داسې يوه ستره تاريخي پېښه شوې وه او زه هغه مهال نه پوهېدم، چې د جوزا تر پينځلسم روسته به هم داسې پېښې وشي، چې کورنۍ به پکې خپل عزيزان له لاسه ورکړي؛ البته د خروارونو يو موټی بېلگه ده او زه بايد له تاسې بښنه وغواړم، چې ډېر مصيبتونه مو زغملي دي او دا مصيبت د ايران د ټول ولس لپاره دی او زه له دې عاجزه يم، چې تاسې ته تسليت ووايم. )) (٦)
*- ((ډېری خلکو، چې نږدې ياران مې هم وو او په خپله له ولسه هم سياسي او متفکرو وگړيو وو، ويل، چې دا يو ناشونی چار دی او په تش لاس د يو داسې ځواک پر وړاند درېدنه ناشوني دي او يوازې مړي به ورکړو او په خپله به هم مړو شو او هېڅ پايله به و نه لري.
هغوی د مصلحت له مخې دا خبرې کولې؛ خو ځينو ته مې وويل، چې موږ يوه دنده لرو، چې عمل پرې کوو. موږ د غلبې او برې په شرط پاڅون نه کوو؛ موږ غواړو پخپله دنده عمل وکړ؛ که غالب شو او پايله يې ورکړه؛ نو ښه تر ښه او که مړ شو؛ نو ډېری انبياوو هم پاڅون وکړ؛ خو خپل مقصد ته و نه رسېدل. موږ دنده لرو، چې د هغو تېريو او کړېوهنو پر وړاندې ودرېږو، چې اسلام کمزوری کوي؛ موږ غواړو، چې د داسې بدعتونو پر وړاندې خپل نظر ځرگند کړو، که غالب شو که مغلوب. )) (٧)
*- ((شاه ويلي، چې هغه له ما سره شخصي غرض لري او هغه راسره خپل شخصي خسابونه پاکوي. . . . (يعني ما هغه) په زندان کې اچولی دی، ما تبعيد کړی دی او اوس يې له دې اړخه پاکوي. . . . بايد حساب ورکړي. ښاغليه زه يو لومړی وزير نه وم او يوازې يو وړوکی کور مې درلود؛ زه هغه يم، چې اوس دلته راغلی يم، زما کور مو وليد دومره وړ وکی دی، چې تاسې پکې نه ځايېږئ او تردې ستر هم نه غواړم. زه يې چې کله زندان ته هم يووړم؛ نو و مې ليدل، چې خورا ښه ځای دی، چې هر څه پکې چمتو دي او شته او داسې ځای ما ان

په خوب کې هم نه و ليدلی. پوليسو ته مې وويل:دا ځای خو زما تر کوره ډېر غوره دی (ټول ناستو وخندل) او په رښتيا هم غوره و او چې کله له بنده راووتم او زندان يې هم ما ته داسې زندان نه و، چې زه پکې تنګ شوی وای. چې کله له بنده راووتو نو ستر باغ ته يې يووړم، چې داسې باغ ما کله هم نه و ليدلای. . . . بيا خپل کور ته راغلم. . . . ما دومره عادت هم نه و کړی، چې بهر راووځم او چکر ووهم. )) (٨)

## پاېليکونه


۱-(د امام خميني صحيفه، ۱۹ ټوک، ٤۵۵ مخ)
۲-((د امام خميني صحيفه، ٦ټوک، ۲۲٦-۲۲۷ مخونه))
۳-(د امام خميني صحيفه، ۱۹ ټوک، ۲۸۸ مخ)
٤-(د امام خميني صحيفه، ۷ ټوک، ۵٤ مخ)
۵-(د امام خميني صحيفه، ۱۸ټوک، ۲۰۲ مخ)
٦-((د امام خميني صحيفه، ۱۲ټوک، ٤۷۵-٤۷٦ مخونه))
۷-(د امام خميني صحيفه، ۱۳ټوک، ۱۳۸ مخ)
۸-(د امام خميني صحيفه، ٤ټوک، ۳۰۲-۳۰۳ مخونه)

## د امام خميني (ره) له نظره

## پوهه او ايمان

کله گورې، چې په دې واقعياتو پوه او عالم دی؛ خو ايمان پرې نه لري. "مړوينځی" له مړي نه ډارېږي؛ ځکه يقين لري، چې مړی د چا د کړولو ځواک نه لري؛ هغه مهال، چې ژوندی و او روح يې په بدن کې و؛ نو څه يې له لاسه نه کېدل؛ اوس يوازې يو تش قالب دی؛ خو هغوی چې له مړي ډارېږي، په دې حقيقت ايمان نه لري؛ يوازې علم لري. پر خدای او د سزا پر ورځ عالم دي؛ خو ايمان پرې نه لري او له هغه څه يې زړه بېخبره دی، چې عقل درک کړي دي. د برهان له مخې پوهېږي، چې خدای شته او معاد او قيامت هم شته؛ خو شونې ده، چې همدا عقلي برهان يې د زړه پرده شي او پرې نه ږدي، چې د ايمان رڼا يې پر زړه ولگېږي، تر څو متعال خدای يې له ظلماتو او تورتمونه راوباسي او د رڼا عالم ته يې ننباسي: "الله ولی الذين آمنوا يخرجهم من الظلمات الی النور"[1] د هغه چې خدای تبارک و تعالی ولي او پالندوی وي او له تورتمونو يې راايستی وي؛ نوره گناه نه کوي، غيبت نه کوي، تور نه لگوي، له ايماني ورور سره کينه او حسد نه کوي؛ په خپل زړه کې د نورانيت احساسوي او دنيا او دنيايي چارو ته ارزښت نه ورکوي؛ لکه څنگه چې حضرت امير (ع) وويل: "که دنيا او پکې هر څه راکړي، چې د عدالت پر خلاف او جابرانه د يو مېږي له خولې د جوار يوه دانه واخلم؛ نو هېڅکله به دا خبره و نه منم "[2]خو په تاسې کې ځينې هر څه تر پښو لاندې کوئ، د اسلام د سترو علماوو غيبت کوئ؛ که څوک د کوڅې د سر د هټيوال غيبت کوي، دوی د اسلام د سترو علماوو غيبت، سپکاوی او بې ادبي کوي؛ ځکه ايمان يې لا پياوړی نه دی او د خپلو کړنو پر سزا يقين نه لري.

او "عصمت" يوازې پښپړ ايمان دی؛ د انبياوو او اولياوو د عصمت معنی دا نه ده، چې مثلاً حضرت جبرائيل عليه السلام يې لاس ونيسي ( البته که حضرت جبرائيل د شمر (د امام حسين د وژونکي)لاس هم ونيسي؛ نو گناه به نه کوي؛ بلکې عصمت د ايمان زوکړه ده. که

---

[1]. خدای د مؤمنانو پالندوی دی؛ هغوی له تورتمونه راباسي او رڼا ته يې ننباسي. (بقره/۲۵۷)

[2]. والله لو اعطيت الاقاليم السبعة بما تحت افلاکها علی ان اعصی الله فی نملة اسلبها جلب شعيرة، ما فعلته. (نهج البلاغه؛ ۲۱۵ خطبه)

انسان په حق تعالی ایمان ولري او د زړه په سترګو متعال خدای د لمر په څېر ویني؛ نوناشونې ده، چې ګناه وکړي؛ لکه څنګه چې د یو ځواکمن وسلوال پر وړاندې "عصمت" رامنځ ته کېږي.

دا وېره پر شتون له عقیدې راولاړېږي، چې له ګناه کولو خوندي کوي او ژغوري. سپین لمني امامان له پاکې ختې تر خلقت روسته، په ریاضت او نورانیت او فاضله ملکاتو په لاس ته راوړو، تل ځان د خدای – چې له هر څه خبر دی او پر ټولو چارو احاطه لري - په محضر کې ویني؛ د "لا اله الا الله" په معنی ایمان لري، باور لري، چې بې له الله هر څوک او هر څه فاني دي او د انسان په برخلیک کې ونډه نشي درلودای: "کل شیء هالک الا وجهه"[1] که انسان یقین ولري او ایمان پیدا کړي، چې ټول عوالم؛ ظاهر او باطن ربوبي محضر دی او حق تعالی په هر ځای کې حاضر او څارن دی او حق او د حق د نعمت د خاوند په شتون کې ناشونې ده، چې ګناه وکړي. انسان د یو کوچني ماشوم پر وړاندې ګناه نه کوي، خپل عورت نه بربنډوي؛ نو څنګه ده، چې د حق تعالی پر وړاندې او د ربوبیت په محضر کې عورت بربنډوي! او د هر تېري او جنایت له کولو وېره نه لري؛ ځکه د ماشوم پر شتون ایمان لري؛ خو د ربوبیت په محضر که علم لري؛ خو ایمان نه لري؛ بلکې د ګناه او ډېرې سرغړونې له امله، چې زړه یې ورته تور کړی دی، دا ډول چارې او حقایق بېخي منلای نشي او کېدای شي، چې د صحت او واقعیت احتمال یې هم ور نه کړي. واقعاً که احتمال ورکړئ، چې د لارې پر سر داړونکی ځناور دی او شونې ده، چې و مو کړوي او یا یو وسلوال وګړی ولاړ دی او شونې ده، چې یرغل درباندې وکړي؛ نو پر هغه لار له تګه به پر شا شئ او تم به شئ او د خبرې د صحت په لټه او هڅه کې به شئ. آیا شونې ده، چې یو څوک د دوزخ او اور ته د ننووتو احتمال ورکړي؛ خو بیا هم ګناه وکړي؟ آیا ویلای شو، چې یو تن متعال خدای خدای حاضر او ناظر ګڼي او ځان د هغه په ربوبي محضر کې ګوري او احتمال ورکړي، چې وینا او کړنو ته یې سزا ټاکل شوې وي، حساب و کتاب وي او په دې دنیا کې چې هر ټکی، چې پر ژبه راوړي، هر ګام، چې پورته کوي او هر کړنه، چې کوي، ثبت او ضبطېږي؛ "ملائکة الله، "رقیب" او "عتید"[2] یې دي، څاري یې او ټولې کړنې او ویناوې یې ثبتوي؛ خو بیا یې له ناوړچارې څه باک نه وي؟؛ نو دلته دي، چې ددې حقایقو د وقوع احتمال هم نه

---

[1]. (قصص/۸۸)

[2]. ما یلفظ من قول الا لدیه رقیب عتید. (ق/۱۸)

ورکول کېږي.  د ځينو له ژوند، کړلارو او چلن له څرنګوالي جوتېږي، چې بېخي د ماورای طبيعت عالم احتمال نه ورکوي؛ ځکه يوازې احتمال کافي دی، چې انسان له ډېرو ناوړو چارو وژغوري.

## پر سیمه اییزو بدلونونو د امام خمیني (ره) د تفکراتو اغېزې[1]

اسلام ټایمز – نړیوال شخصیتونه او متفکران د آفریقا د شمال بدلونونه د ایران له اسلامي انقلاب او د امام خمیني له سترو تفکراتو د اغېزمنېدو پایله ګڼي.

*-دکتر "راسم النفیس" مصری څېړونکی او استاد: د امام خمیني (ره) شخصیت یې بې ساری او د معاصرې اسلامي نړۍ خورا ستر شخصیت وګاڼه او په اسلامي نړۍ کې په روستیو بدلونونو کې د امام خمیني (ره) له تفکراتو انکار او نته په رڼا ورځ له لمره د انکار په څېر وګڼله، وایي: (( له کله نه چې د امام روح الله موسوي خمیني له شخصیت سره آشنا شوی یم؛ دا شخصیت مې یو بې ساری شخصیت موندلی دی او کړای شو امام خمیني (ره) د معاصرې اسلامي نړۍ له خورا سترو شخصیتونو څخه وګڼو. هغوی چې غواړي د سیمې په روستیو بدلونونو، پېښو او د اسلامي ولسونو په پاڅونو کې د امام خمیني د تفکراتو له اغېزه منکر شي؛ نو په واقع کې کوښښ کوي، چې په رڼا ورځ کې له لمره منکر شي؛ خو خوښه یې خپله څه چې وایي و دې یې وایي او لمر په ګوته نه پټېږي؛ خو باید وویل شي، چې نن اسلامي نړۍ د روسته پاتې او سکون له حالته راوتې او د تجدد او حیات پړاو ته بیا ننوتې ده او په دې چارو کې د امام خمیني (ره) د تفکراتو له اغېزو هېڅ منکرېدای نه شو. روسته تردې، چې د فلسطین مسله څېنو هېره او شاته کړې وه؛ خو امام خمیني دا چار بیا پر خپل حقیقي ځای کې کېښود او دا هغه ګوزار و، چې د صهیونستانو پر پلویانو امام خمیني وکړ. او نن اسلامي امت په خورا ځغاسته پر مخ روان دی، تر څو وکولای شي، چې په نننۍ نړۍ کې خپل ځای ورغاوي او خپلو سترو موخو؛ لکه د فلسطین ازادي او له نړیوالو سترو قدرتونو خلاصون، چې د امام خمیني (ره) له موخو څخه دي، ورسي. ))

*-د تایلنډ په بانکوک کې د دیني مدارسو استاد؛ "قوي حیدر" امام خمیني د نړۍ لپاره بېلګه مشر ګڼي، وایي: ((په نړۍ کې هر ازادي غواړی باید د امام خمیني له لیکې لاروي وکړي او د سیمې روستیو پاڅونونو جوته کړه، چې د امام خمیني وړاندوینې د پلي کېدو په حال کې دي او امام خمیني له هماغه پیله دې چارو ته اشاره کړې وه او لکه څنګه چې امام خمیني ویلي وو، چې له نړۍ به د صهیونزم جرړه راوایستل شي او له صهیونستانو سره د مقابلې لپاره

---

[1] -دا برخه د "www.islamtimes.org" له وېبپاڼې اخستل شوې ده.

دې یوازې په لاریونو اکتفا و نشي؛ بلکې عملي گامونه دې پورته شي او د سیمي له خوځښتونو باید مالي او سیاسي ملاتړ وشي. ))
*-"شیخ احمد روسناك" د لهستان د مسلمانانو د اسلامي شورا مشر: (( نن چې څه په سیمه کې گورو د امام خمیني وړاندوینې یې جوتې کړې او نن چې موږ د اسلامي ولسونو د راویښېدل وینو؛ هغه وړاندوینې دي، چې امام خمیني په خپل ژوند کې کړې وې او نن د پلي کېدو پر حال دي. ))
*-د پاکستان د نړیوال اسلامي پوهنتون رئیس: (( د ایران انقلاب ددې وروسیتو انقلابونو د هدایت څراغ دی. په ایران کې د امام خمیني په مشرۍ د اسلامي انقلاب بري د سیمې خلک هیلمن کړل، تر څو هغوی هم په خپلو زور ځواکو حکومتونو پسې راپاڅي او تر هغه کېنني، تر څو خپلو موخو ته رسېدلې نه وي. بېشکه هغه څه چې نن د خلکو د پاڅونونو په بڼه وینو د امام خمیني ره له تفکراتو د لاروۍ پایله ده او د اسلامي انقلاب بري له هماغه پیله په خلکو کې دا روحیه ور پو کړې وه، چې اوس یې سر راښکاره کړ. بېشکه هر مهال، چې خلکو د خپلو استبدادي او دیکتاتوري حکومتونو پسې راپاځېدلي؛ نو کوښښونه یې پایلې ته رسېدلي دي او دا کوښښونه یې د استکباري حکومتونو د ړنگېدو لامل شوي دي. ))
صدیقي فلسطین د اسلامي نړۍ تر ټولو خورا مهم لومړیت وگاڼه او د نړۍ له ټولو مسلمانانو یې وغوښتل، چې له صهیونزم سره دې مقابلې ته چمتو شي.
*-د الجزیره تلویزیون مدیر: (( امام خمیني (ره) په نړۍ کې د ولسي پاڅون د فرهنگ بنسټگر دی. )) او ټینگار یې وکړ، چې په دې روستیو کې اسلامي پاڅونونه دې د ایران اسلامي انقلابه بېلگه کړي.
صلاح الدین زي محمد په عربي نړۍ کې د ولسي پاڅونونو په اړه او همداراز په دې ویښتیا کې د امام خمیني (ره) د ونډې په اړه او همدارز نیوکه یې وکړه، چې دا پاڅونونه واحده مشري نه لري؛ نو د ایران له اسلامي انقلابه د بېلگې اخستنې غوښتونکی شو، و یې ویل: (( امام خمیني نه یوازې د ایران په ولس کې کاریزماتیک مشر؛ بلکې عربي نړۍ او ټولو مسلمانانو ته مشر دی. امام خمیني (ره) ددې فکر بنسټ کېښود، چې ولس کولای شي، چې د دیکتاتوري حکومتونو پر وړاندې ودرېږي او بري ته ورسي. ))
*-آذری متفکر "الدنیز قلي اف" د آذربایجان د روښانفکرانو د ټولنې رئیس: (( د اسلامي نړۍ د ویښتیا سیلاب د امام خمیني له تفکراتو په لاروۍ پیل شوی دی. بېشکه چې دا ټول پاڅونونه د امام خمیني له تفکراتو او ویناوو اغېزمن وو؛ ځکه امام خمیني (ره) په عمومي

افکارو کې جوهري چارې دنبال کړې او عدالت یې د خپلې برنامې سرلوحه کړې وه. او په منځني ختیځ کې چې نن څومره پاڅونونه کڅو، ددې ستر مشر؛ یعنې امام خمیني د تفکراتو پایله ده. ))

*- د تونس د اصلاح او پراختیا د گوند مشر: (( د عربي نړۍ نننۍ پاڅونونه د امام خمیني (ره) د تفکراتو پایله ده. داچې د ایران اسلامي انقلاب تر دېرشو کلونو تېرېدو روسته مصر، تونس او د سیمې نورو هېوادونو ته راورسېد، علت یې دا و، چې عربي چارواکیو له دې ولسي پاڅون سره اړیکه نه نیوه او ملاتړ یې ترې نه کاوه. د امام خمیني (ره) افکارد وخت په تېرېدو سره په نړۍ کې خپاره شول داسې، چې د عربي نړۍ نننی پاڅون د ایران د اسلامي انقلاب د پروني پاڅون او انقلاب پایله ده او پخه خبره ده، چې دا پاڅونونه به د ایران د اسلامي انقلاب ملاتړ وي او د ایران د اسلامي انقلاب لارې ته به د وام ورکوي. عربي ولسونه هم باید د ایران د اسلامي جمهوریت په څېر د اسرائیلو د صهیونستي رژیم سفارت وتړي او پر ځای یې د فلسطین سفارت پرانځي او تر څو اسرائیلو د مسلمانانو نیولې خاوره نه وي پرېښې؛ نو تر هغه دې د فلسطین او لبنان له ولسونو ملاتړ وکړي. . . . . . . داچې ددې انقلابونو پیل دی؛ نو ددې لپاره چې پایله او ثمر ورکړي؛ نو باید ملاتړ ترې وشي تر څو وکولای شي د عربي او اسلامي نړۍ په گټه نړیوالې سیاسي او اقتصادي معادلې و څرخوي. ))

*-دکتر "حسبي امیرالدین" د اندونیزیا د اسلامي مطالعاتو د پوهنتون استاد: (( امام خمیني (ره) له زورځواکو سره د ولسونو مبارزې ته نړیواله بڼه ورکړه. . . . . په خواشینۍ باید ووایم، چې چارواکي، چې ځواک ته ورسي؛ نو له خپل ځواکه د خپل ولس پر خلاف گټنه کوي او امام خمیني په دې انقلاب له زورمتیو او زورځواکانو سره د مبارزې بنسټ کېښود. . . . . د ایران انقلاب واحده مشري درلوده؛ خو سیمه اییز انقلابونه واحده مشري نه لري. د ایران ولس پوهېده، چې څه غواړي؛ خو د سیمې خلک تر اوسه منسجم نه دي او معلومه نه ده، چې څوک به حکومت په لاس کې اخلي. ))

*-اختر مهدي هندی متفکر: (( د امام خمیني تفکرات د سیمې په پاڅونونو کې راڅرگندېږي. د اسلام اصلي موخه د انساني ټولنې راویښول دي او امام خمیني په همدې پیغام په تکیه د نړۍ وگړي د فلسطین پر مسئله پوه کړل او ټول یې له فلسطینه ملاتړ ته راوبلل. . . . امام خمیني د "نه شرقي او نه غربي " په شعار او همداراز له استعمار او استکبار سره په مخالفت په نره محمدي اسلام پسې و او نن گورو، چې دا تفکرات د سیمې په

هېوادونو کې راڅرګندېږي. مسلمان ولسونه په دې دوو اصلونو:" پر خدای د خلکو بشپړ ډاډ او د خدای پر وړاندې د مسوولیت احساس" په تکیه کولای شي، چې د زورواکیو او ظالمو چارواکیو پر خلاف ودرېږي او بري ته ورسي. . . . د امام خمیني لار باید هېره نشي؛ باید د نړۍ ټول مسلمانان یې لار تعقیب کړي، تر څو نهایي بري ته ورسي. ))

*-علامه "ابراهیم محمد الوزیر" د یمن د هېواد دیني شخصیت: ((د سیمې ننني پاڅونونه د امام خمیني ره په پرونیو ګامونو پیل شوي دي. . . . له صهیونستي رژیم سره د امام خمیني ره د مبارزاتو د لار تعقیبول پر ټولو مسلمانانو فرض دي. د سیمې د ننیو پېښو پر لار د تګ لومړي ګامونه امام خمیني پورته کړي وو او د امام خمیني برکتونه به ان شاء الله د اسلامي امت تر نهایي بري او د پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د ستر مصلح تر راتګه دوام ومومي. له صهیونستي رژیم سره د امام خمیني د مبارزې لار باید ټول مسلمانان او عربي نړۍ تعقیب کړي او که د فلسطین ولس او صهیونستي رژیم په اړه د امریکا دوه مخی سیاست نه و؛ نو اسلامي نړۍ به ډېر پخوا کولای شول، چې د فلسطین مسله هواره کړي. ))

*-دکتر عبدالجبار سعید د قطر د پوهنتون استاد: (( د امام خمیني انقلاب کرامت او د ژوند اصلي مقام ته د رسېدو لپاره د ولسونو ذهنیت راویښ کړ. . . . . امام خمیني د تېرې پېړۍ خورا ستر مصلح و. دې مصلح وکولای شول، چې د ایران ولس خپلو سترو هیلو او موخو ته ورسوي. امام خمیني په تېرو کلونو کې د یو اسلامي انقلاب ضرورت احساس کړ، چې د ایران ولس لپاره د پتمن ژوند تامینونکی وي او په خپلو غورځو پرځو یې وکولای شول، چې د ایران ولس دې ارمان ته ورسوي. د سیمې ولسونه د خورا وخت په تېرېدو اوس دې بري ته رسېدلي دي. زما په نظر دا ټکی ددې اصلاحګر مشر د شخصیت په تېزبینۍ کې یې خورا مهم شخصیتي ټکی و او بېشکه چې کرامت او د ژوند اصلي مقام ته د رسېدو لپاره، امام خمیني په ولسونو کې دا ذهنیت راویښ کړ. ))

*-د کویت د پوهنتون استاد: امام خمیني اسلام راژوندی کړ. په حقیقت کې امام خمیني د ټول بشریت لپاره یوه ستره لاس ته راوړنه وه. ډېره به ستونزمنه وي، چې موږ هغه کاریزما او جذابیت، چې د امام خمیني (ره) په شخصیت کې دی، په بل وګړي کې ومومو. موږ په نړۍ کې خورا انقلابونه وکتل، چې ټولو یې د انسان مقام راټیټ کړ؛ خو یوازېنی انقلاب، چې انسان یې خپل ستر مقام ته ورساوه، د امام خمنیني انقلاب و. د ایران ولس د امام خمیني لار ته د دوام لپاره درنه دنده لري. د نړۍ ولسونو د امام خمیني له افکارو په الهام د خپلې ازادۍ د لاس ته راوړو لپاره ډېرې هیلې لاس ته راوړې دي. بېشکه د امام خمیني تفکرات د عربي

نړۍ د پاځونونو په دې پسرلي کې څرګند تر سترګو کېږي او خورا اغېز پرې لري. ولسونو له امام خميني زده کړل، چې څرنګه له ظلم سره مبارزه وکړي. امام خميني د غربي هېوادونو او امريکا او د هغوی د حرموني؛ يعنې اسرائيل سره د مبارزه لپاره بېلګه وه. هغه مهال، چې ايران خورا ضعيف و، امام خميني ټولې نړۍ ته جوته کړه، چې د انسان اراده تر هر بم او مزايله پياوړې ده او دې تفکر په تدريج عربي هېوادونو او د نړۍ نورو برخو ته لار ومونده. ))

*-"جابر جوير" کويتی عالم: (( امام خميني د نړۍ د ولسونو د زړه په تل کې ځای لري. امام خميني يو بې ساری شخصيت و، چې و يې کولای شول، چې د نامسلمانو ولسونو په زړونو کې هم ځای پيدا کړي. داچې امام خميني په زړونو کې ځای درلود؛ علت يې داو، چې ددې وګړي شخصيت بشپړ دی او له هر لوري، چې ورته وګورو؛ نو پوهېږو، چې ددې وګړي شخصيت بشپړ تکامل ته نږدې دی؛ د بېلګې په توګه کولای شو، چې د امام خميني سياسي، فقهي او ټولنيز اړخ ته اشاره وکړو. د اسلامي وحدت په اړه امام خميني وکولای شول، چې کوټلي ګامونه پورته کړي او دا يوازې يوه ادعا نه ده او هر څوک کولای شي، چې د امام خميني ويناوو ته مراجعه وکړي او دې واقعيت ته ورسي او امام خميني د مسلمانانو وحدت ته پر ځانګړي مقام قايل و. نن موږ ګورو، چې نړيوال قدرتونه او امريکا خپلو موخو ته د رسېدو لپاره د مسلمانانو له اختلافه ګټه کوي او امام خميني هغه مهال دا خطر احساس کړ او ددې چاره په لټه کې شو. امام خميني تر دېرشو کالو مخکې د ټولو مسلمان ولسونو په وحدت پسې و، تر څو دښمنان يې ونشي کولای، چې له دې لارې پرې ګوزار وکړي او نن موږ ټول د مسلمانانو د وحدت اړتيا احساسوو. ))

*-"شريف ادريس عبدالقادر عايس" د سوډان امام جماعت:(( د سيمې د پاځونونو بېلګه د ايران اسلامي انقلاب دی. . . . امام خميني يو ستر شخصيت و، چې د نړۍ د مسلمانانو په زړه کې ځای لري؛ امام د مظلومانو ملاتړ و او د ايران مسلمان ولس او نړۍ ته يې جوته کړه، چې کولای شو، چې داستکبار پر وړاندې ودرېږو او ديکتاتوري حکومتونه ړنګ کړو. اسلامي ولسونو يو مشر ته اړتيا درلوده، چې هدايتکوونکی يې شي او هغه يوازې امام خميني و. د سيمې د پاځونونو بېلګه د ايران اسلامي انقلاب دی؛ خو په خواشينۍ، چې واحد او واقعي مشر نه لري او زه هيلمن يم، چې د هغوی انقلابونه هم د ايران د اسلامي انقلاب په څېر بری ومومي. ))

# د امام خميني (ره) الهي-سياسي

## وصيت[1]

بسم‌الله الرحمن الرحيم
قالَ رسولُاللهِ ـ صلَّى‌الله عليه و آله و سلَّم: اِنّى تارِكٌ فيكُمُ الثّقلَينِ كتابَ اللهِ و عترتى اهلَ بيتى؛ فإِنَّهُما لَنْ يفْتَرِقا حَتّى يرِدَا عَلَى الْحَوضَ.
الحمدُلله و سُبحانَكَ؛ اللّهُمَّ صلِّ على محمدٍ و آلهِ مظاهر جمالِك و جلالِك و خزائنِ اسرارِ كتابِكَ الذى تجلّى فيه الاَحديه بِجميعِ أسمائكَ حتّى المُسْتَأْثَرِ منها الّذى لايعْلَمُهُ غَيرُك؛ و اللَّعنُ على ظالِميهم اصلِ الشَجَرِه الخَبيثه.
مناسبه به وي، چې څو لنډې خبرې د "ثقلين" په باب وکړم؛ نه د غيبي، معنوى او عرفاني مقام له پلوه، چې زما په څېر د خلکو قلم بېوسې دى له دې، چې په هغې مرتبې، چې عرفان يې پر ټول دايرة وجود، له ملک تر اعلى ملکوته او له هغه ځايه تر لاهوته او هغه څه چې زما او ستا په فهم کې نه راځي، درونډ دى او زغمل يې له وسې وتلى چار دى، که و نه وايم؛ نو ممتنع دى او نه هغه څه چې پر بشريت تېر شوي دي، له مهجوروالي يې د "اکبر ثقل" او "کبير ثقل" د مقام د لوړو حقيقتونو نه، چې تر هر څه اکبر دى، بې اکبر ثقله، چې تر هر څه مطلق اکبر دى او نه هغه څه چې د خداى د دښمنانو او طاغوتيانو له اړخه پر دې دوو ثقلو تېر شوي دي، چې دمعلوماتو او وخت د لږوالي له امله يې زما په څېر بندګانو ته شمېرل ناشونى چار دى؛ بلکې مناسب مې وليدل، چې ډېره لنډه اشاره هغه څه ته وکړم، چې پر دې دوو تېر شوي دي.
کېداى شي د"لَنْ يفْتَرِقا حتّى يرِدا عَلَى الْحَوض" جمله دې ته اشاره وي، چې د رسول الله ـ صلى‌الله عليه و آله و سلم ـ تر سپېڅلي وجود روسته، چې هر څه يې پر يوه تېر شوي، پر بل يې هم تېر شوي دي او د يوه مهجوريت د بل مهجوريت دى، تر څو دا دواړه مهجور په حوض کوثر کې رسول الله ـ صلى‌الله عليه و آله و سلم ـ ته راشي او آيا دا حوض د کثرت او وحدت د نښلون او اتصال ځاى دى او په سمندر کې د ځاڅکيو اضمحلال دى يا کوم بل

[1] -دا برخه له www.aviny.com څخه اخستل شوې ده.

څه دي، چې د بشر په عقل او عرفان یې رانغاړلی نشي او باید وویل شي، چې کوم تېري، چې د رسول الله ـ صلی‌الله علیه و آله و سلم ـ پردې دوو امانتونو د طاغوتیانو لخوا شوي دي، پر مسلمان امت؛ بلکې پر بشریت تېر شوی دی، چې قلم یې له ویلو بېوسه ده.
او ددې خبرې ویل پکار دي، چې د "ثقلین" حدیت په ټولو مسلمانانو کې متواتر دی او د اهلسنتو په کتابو کې په "شپږګونو صحاحو" او نورو کتابونو کې یې په متواتر ډول څو څو ځل په بېلابېلو ځایونو او ټکیو له پیغمبر اکرم ـ صلی‌الله علیه و آله و سلم ـ نه رانقل شوی دی او دا حدیث شریف ټول بشر؛ په تېره بیا د بېلابېلو مذاهبو مسلمانانو ته پرېکنده حجت دی او باید ټول مسلمانان، چې غاړه پرې خلاصه شوې، ځواب یې ورکړي او که کوم بې خبره ناپوه ته کوم عذر وي؛ خو د مذاهبو علماوو ته کوم عذر نشته.
اوس ګورو، چې د خدای پر کتاب، پر دې الهي امانت او د اسلام له پیغمبره - صلی‌الله علیه و آله و سلم ـ نه پر پاتې شونیو څه تېر شوي دي؛ هغه له درده ډکې چارې باید د وینو ژړا ورته وشي. د حضرت علي (ع) تر شهادت روسته پیل شوو او ځانمنو او طاغوتیانو قرآن کریم د ضدقرآني حکومتونو لپاره یوه وسیله کړ او د قرآن حقیقي مفسران او پر حقایقو یې آشنایان، چې ټول قرآن کریم یې له پیغمبر اکرم ـ صلی‌الله علیه و آله و سلم ـ نه اخستی او زده کړی و اد "اِنّی تارکٌ فیکُمُ الثقلان" غږ یې په غوږونو کې و؛ په بېلابېلو پلمو او له مخکې په جوړیو شویو دسیسو یې ګوښه کړل او په حقیقت کې قرآن یې –چې تر حوض کوثره تر رسېدو پورې بشریت د مادي او معنوي ژوند احکام پکې وو-له صحنې بهر کړ او د الهي عدل پر حکومت-چې ددې سپېڅلي کتاب له آرمانونو ځنې و او دی- یې د بطلان کرښه راکښوده او د خدای له دینه، کتاب او الهي سنتو د انحراف او کږلارۍ بنسټ یې کېښود او چار تردې ځایه راورسېد، چې قلم یې له ویلو او شرحې شرمېږي او څومره، چې دا کوږ بنسټ مخې ته راغی؛ نو کږلاري او بې لاري یې ډېره شوه، تر دې چې قرآن کریم د نړیوالو د ودې او د ټولو مسلمانانو د راټولېدو وسیله؛ بلکې بشري عائلة، د احدیت له شامخ مقامه یې د محمدی (ص) تام کشف ته تنزل وکړ، چې بشریت باید هلته ورسوي، چې باید ورسي او دا د "علم الاسماء" ولیدة د شیطانانو او طاغوتان له شره وژغوري او نړۍ قسط او عدالت ته ورسوي او حکومت سپین لمنو الهي اولیاوو - علیهم صلوات الاولین و الآخرین ـ ته وسپاري تر څو هغوی یې هغه ته وسپاري، چې د بشریت صلاح پکې ده-داسې یې له صحنې بهر کړل؛ ته وا چې بېخي د بشریت په ښیون او هدایت کې ونډه نه لري او چار تردې راورسېد، چې د جائرو حکومتونو او خبیثو ملایانو په لاس کې د قرآن ونډه د فساد او

ظالمانو او له حق تعالی له سرغړونکیو خوا توجیه شو او په خواشینی، چې د دسیسه گرو د ښمنانو او جاهله دوستانو په لاس دې برخلیک جوړونکي کتاب، بې له هدیرو او د مړیو په غونډو کې هېڅ ونډه نه درلوده او نه یې لري او هغه چې باید د مسلمانانو او بشریت د راټولولو او د ژوند کتاب شي، د درز او اختلاف وسیله شوه او یا په ټولیزه توگه له صحنې بهر شو او و مو لیدل، چې که چا به د اسلامي حکومت او سیاست خبره کوله، چې اسلام، رسول اکرم- صلی‌الله علیه و آله و سلم ـ قرآن او سنت پکې خورا ونډه لري؛ نو داسې به وه؛ لکه تر ټولو ستره گناه یې چې کړې وي او د "سیاسي ملا" ټکی د "بې دینه ملا" له ټکي سره موازن شوی و او اوس هم دی او په دې روستیو کې سترو شیطاني ځواکونو، د کړلاریو او له اسلامي ښوونو بې خبره حکومتونو په واسطه، چې په دروغو یې ځان په اسلام پورې تړلی دی، د ابر قدرتونو د شیطاني موخو د تثبیت لپاره یې قرآن په ښکلي خط چاپ کړی او شاوخوا ته یې لېږي او په دې شیطاني چل ول قرآن له صحنې بهر کول غواړي. موږ ټولو ولید، کوم قرآن، چې محمد رضا خان پهلوي چاپ کړ او ځینې یې تېرایستل او ځینې له اسلامه بې خبره ملایان یې ستایونکي وو او گورو، چې ملک فهد هر کال د خلکو ډېری شتمني د قرآن پر چاپ او د ضد قرآن مذهب پر تبلیغ لگوي او وهابیت؛ دا بې بنسټه او په ټولیزه توگه خرافي مذهب دودوي او د خلکو او غافلو خلکو مخه یې ابرقدرتونو ته کړې ده او له اسلام او قرآنه د اسلام او قرآنه د د منځه وړو لپاره گټنه کوي.

موږ ویاړو او قرآن او اسلام ته زموږ ژمن ولس ویاړي، چې د هغه مذهب لارویان یو، چې غواړي قرآني حقایق، چې د مسلمانانو؛ بلکې د بشریت د یووالي خبره کوي، له قبرونو او هدیرو مو راوایست او له هغو ټولو قیوداتو نه چې د بشر پر لاسونو، زړه او عقل راتاو شوي او د فنا، نېستی او ورکاوي، مریینې او د طاغوتیانو د بندگی پر لور یې راکاږي، د بشر د تر ټولو سترې ژغورنکې نسخې په نامه گټو.

موږ ویاړو، چې د هغه مذهب لارویان یو، چې پخپله رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم یې د خدای تعالی په امر بنسټگر و او امیرالمؤمنین علي بن ابیطالب دا له ټولو قیوداتو راخلاص شوی بنده، له مریینې د انسان د راخلاصولو دنده درلوده.

موږ ویاړ، چې نهج البلاغه، چې تر قرآن روسته د مادي او معنوي ژوند تر ټولو ستر دستور او ژغورونکی کتاب دی او معنوي او حکومتي احکام یې تر ټولو غوره ژغورنده دي، زموږ د معصوم امام دی.

موږ وياړو، چې سپين لمني امامان له علي بن ابيطالب نه نيولي تر حضرت امام مهدي صاحب زمان - عليهم آلاف التحيات والسلام- پورې، چې د وسمن خداى په امر ژوندى او پر چارو څارن دى، زموږ امامان دي.
موږ وياړو، چې ژوند ښناندې دعاگانې، چې "صاعد قرآن" ورته ويل کېږي، زموږ د امامانو دي. موږ د امامانو په "شعبانيه مناجاتو"، د حسين بن علي ـ عليهما السلام ـ د عرفات په دعا او "صحيفه سجاديه" دا د آل محمد زبور او "فاطميه صحيفه"، چې د خداى له لوري مرضيه زهرا ته الهام شوى کتاب دى، زموږ دى.
موږ وياړو، چې "باقر العلوم"، زموږ دى، چې د تاريخ تر ټولو لوړ شخصيت دى او بې له خداى، رسول اکرم ـ صلى‌الله عليه و آله ـ او سپين لمنو امامانو عليهم السلام يې چا مقام درک کړى نه دى او درک به يې هم نشي کړاى.
موږ وياړو، چې مذهب مو "جعفري دى"، چې زموږ فقه، چې ناپايه سمندر دى، د هغه له يوه آثارو څخه ده او موږ ټولو سپين لمنو امامانو ـ عليهم صلوات‌الله ـ ته ژمن او لارويان يې يو.
موږ وياړو، چې زموږ سپين لمني امامان ـ صلوات الله و سلامه عليهم ـ د دين د سرلوړۍ او د قرآن کريم د احکامو د پلي کولو په موخه، چې د عدل حکومت جوړول يې يو اړخ دى، بندونه او تبعيدونه يې تېر کړي دي او په پاى کې د خپل وخت د جابرانه او ظالمانه او طاغوت د حکومتونو د راپرځولو په لار کې شهيدان شوي دي.
او موږ نن وياړو، چې غواړو د قرآن او سنتو مقاصد پلي کړو او زموږ ولس په دې ستره برخليک سازه لار کې له خپل سرومال‌ه تېر دي او د خداى په لار کې هرې سرښندنې ته چمتو دي.
موږ وياړو، چې مېرمنې او زړې او ځواني ښځې، غټې او وړې په فرهنگي، اقتصادي او نظامي چارو کې له سړيو سره هم اوږه او ترې غوره د اسلام د سرلوړۍ او قرآني مقاصدو لپاره کار کوي او هغوى، چې د جگړې وسه لري، په پوځي زده کړو که له اسلام او اسلامي هېواده د دفاع په دې مهم واجباتو کې گډون کوي او له محروميتونو، چې د دښمنانو او د اسلام او قرآن له احکامو بې خبره دوستانو پر هغوى؛ بلکې پر اسلام او مسلمانانو ورتپلي دي، ځان يې ترې په مړانه او متعهدانه خلاص کړى دى او له هغو قيدونو يې ځان را بهر کړى دى، چې د اسلام دښمنانو د ځينو ناپوهه او د اسلام له مصالحو ناخبره ملايانو په واسطه رامنځ ته کړي وو او هغوى چې د جگړې وس نه لري، د جگړې د جبهې تر شا په ازرښتمنه

ښه، چې د ولس زړه له مينې او شوقه لړزوي او د دښمنانو زړه د غوسې په اور کې سوځوي، خدمت کوي او بوختې دي.
او موږ څو څو ځل وليدل، چې حضرت زينب ـ عليها سلام‌الله ـ په څېر ښځې، چې د خدای او د اسلام د سرلوړی په لار کې يې خپل زامن له لاسه ورکړي او له هر څه تېر شوي دي او په دې چار وياړي او پوهېږي، چې هغه څه يې، چې لاس ته راوړي دي؛ ان تر نعيمو جنتونو هم غوره دي؛ د دنيا ناڅيزه متاع خو لا څه کړې.
او زموږ ولس؛ بلکې د نړی اسلامي او مستضعف ولسونه وياړي، چې د هغوی دښمنان، چې د ستر خدای، قرآن کريم او اسلام دښمنان دي، هغه داړونکي دي، چې خپلو شومو گټو ته د رسېدو لپاره هر جنايت کوي او خپل رياست او گټو ته د رسېدو لپاره دوست او دښمن نه پېژني او د هغوی په سر کې امريکا او په خپل ذات کې دولتي ترهگره، چې ټولې نړی ته يې اور اچولی دی او د هغه نړيوال صهيونست هم ژمنه ده، چې خپلو گټو ته د رسېدو لپاره هغه جنايتونه کوي، چې قلم يې له ليکولو او ژبې يې له ويلو شرمېږي او د "لوی اسرائيل" بېځايه خيال يې هر جنايت ته اړ باسي او اسلامي ولسونه او د نړی مستضعفان وياړي، چې د هغوی دښمنان "اردني حسين" دا جنايتکار او حسن او حسنی مبارک له اسرائيلو سره په يوه آخوره کې دي او امريکا او اسرائيلو ته په خدمت کولو کې له خپل ولس سره هر جنايت ته چمتو دي او موږ وياړو، چې زموږ دښمن صدام هغه تن دی، چې دوست او دښمن يې د جنايتکار، د نړيوالو حقوقواو د بشر د حقوقو تر پښو لاندې کوونکی گڼي او ټول پوهېږي، د عراق مظلوم ملت او د خليج شيخ مېشتو ته يې خيانت، د ايران له ملت سره تر خيانته لږ نه دی. دا يوازې د خدای تعالی غيبي مرستې دي، چې ولسونه په تېره بيا د ايران ولس يې راويښ کړ او له ظالم شاهنشاهي نظام يې د اسلام رڼا ته هدايت کړل.
کوم وياړبه تردې لوړ او ستر وي، چې امريکا له خپلو ټولو جنگي وزلو سره او د نړی د مظلومو ملتونو او روسته پاتې ولسونو د شتمنيو په لوټ او ډله اييزو رسنيو په درلودو، د ايران د غيور ولس او د حضرت بقية الله-ارواحنا لمقدمه الفداء- د حکومت پر وړاندې له پښو غورځېدلې او رسوا شوې ده او دومره له پښو غورځېدلې او رسوا شوې، چې نه پوهېږي، چې چا ته لاس اوږد او متوسله شي او هر چا ته چې مخ کوي، د رد ځواب اوري او دا چار يوازې په حضرت باري تعالي ـ جلَّت عظمتُه ـ په غيبي مرستو کېږي، چې ولسونه په تېره بيا د اسلامي ايران ولس يې راويښ کړ او له ستمشاهي تورتمونه يې د اسلام د رڼا پر لور هدايت کړل.

زه اوس شریفو غمځپلیو ولسونو او د ایران ولس ته سپارښتنه کوم، چې له دې صراط مستقیم، چې نه په محلد ختیځ او نه کافر ختیځ پورې تړاو لري؛ بلکې په هغې صراط پورې، چې خدای ور پر برخه کړی دی او کلک، کوټلی، پیاوړی، ژمن او تلپاتې دی، یوه شېبه هم ددې نعمت له شکره غفلت و نه کړئ او د ابرقدرتونو د ناپاکو مزدرانو لاسونه، څه بهرني مزدوران او له بهرنیانو بتر کورني مزدوران په پاک نیت او پولادي اراده کې سوری او لار پیدا نه کړي او پوه شئ، چې څومره د نړۍ ډله ایيزې رسنۍ او د ختیځ او لویدیځ شیطاني ابرقدرتونه اشتلم وهي، خدای تعالی به یې هم په دې دنیا او هم په نورو نړیو کې سزا ورکړي.
"إنَّه ولی النِّعَم و بِیدِه ملکوتُ کلِّ شی ء "
او په ډېر عجز او خاکسارۍ له مسلمانو ولسونو غواړم، چې له سپین لمنو امامانو؛ دې د نړۍ د سترو لارښودانو او د هغوی له سیاسي، ټولنیز او اقتصادي فرهنگه د زړه له کومې په غوره توگه په پوره سرښندنه لاروي وکړئ او له هغې جمله څنې له سنتي فقهې، چې د رسالت او امامت د ښوونځي بیانونکې ده او د ولسونو د عظمت او ودې لامل ده، څه لومړني احکام یې او څه ثانویه احکام یې، چې دواړه د اسلامي فقهې ښوونځي دي، پوټۍ او د کک هومره هم کاږه نشئ او له حق او مذهب سره د خناسانو او معاندو وسوسو ته غوږ مه ږدئ او پوه شئ، چې ان یو گام کږلاري د مذهب، اسلامي احکامو او د الهي عدل د حکومت د له منځه تلو سریزه ده او له هغه جملې څنې د جمعې له لمانځه، چې د لمونځ د سیاست څرگندونکی دی، غفلت مه کوئ، چې دا د جمعې لمونځ د حق تعالی له لوري پر جمهوي اسلامي ستره پېرزو ده او له هغې جملې څنې د سپین لمنو امامانو په تېره بیا د مظلومانو او د شهیدانو د ښاغلي؛ حضرت ابي عبدالله الحسین له ویره هېڅلکه غفلت مه کوئ او پوه شئ هغه څه چې ددې اسلامي تاریخي حماسې د لمانځلو او پر آل بیتو پر تېري کوونکي د لعنت او ورته د ښېرو په اړه د سپین لمنو امامانو ـ علیهم‌السلام ـ سپارښتنې دي، په ټول تاریخ کې تر ابده د ظالمو واکمنانو پر خلاف د ولسونو مېړني غږونه دي او پوهېږئ، چې د بني امیه وو، چې له منځه او دوزخ ته تللي، تېریو ته ښېرې او پرې لعنت ویل د نړۍ پر ظالمان غږ دی او دا دود باید تر تله ژوند پاتې شي.
او پکار ده، چې د سپین لمنو امامانو ـ علیهم سلام‌الله ـ په ستاینو او ویر د هماغه وخت د تېري او تېري کوونکیو جنایتونه وویل شي او په دې وخت کې، چې د امریکا، روس او په هغوی پورې په اړوند حکومتونو او د هغوی له جملې څنې د آل سعود، په واسطه د اسلامي نړۍ د مظلومیت وخت دی؛ باید په دې ویرونو او ستاینو کې ورته ښېرې او لعنت پرې وویل

شي او ټول باید پوه شو، چې هغه څه چې د مسلمانانو ترمنځ د مسلمانانو د یووالي لامل دی، دا سیاسي مراسم دي، چې د مسلمانانو د ولس او په تېره بیا د اثنی عشري شیعه وو خوندي ساتونکي دي.
او دا خبره ویل غواړم، چې زما سیاسي-الهي وصیت یوازې د ایران په ولس پورې اړه نه لري؛ بلکې د نړۍ ټولو مظلومو مسلمانانو پورې اړه لري.
او له عزوجل خدایه غواړم، چې د یوې شېبې لپاره هم موږ او ولس مو پر خپل حال پرېنږدي او په خپلو پېرزوګانو د اسلام له زامنو او سرتېرو سره مل شي.

روح الله الموسوی الخمینی

بسم‌الله الرحمن الرحیم

د پرتمین اسلامي انقلاب ارزښت، چې د میلیونونو ارزښتمنو انسانانو او د زرونو جاوید او ژوندیو شهیدانو او ددې شهیدانو د غمځپلیو لاس ته راوړنه ده او د نړۍ میلیونونه مسلمانانه او مستضعفان ورته هیلمن دي، دومره دی، چې ارزونه یې له قلم او بیانه وتلی چار دی. زه روح‌الله موسوی خمینی، چې له خپلو ټولو تېروتنو سره د متعال خدای له پېرزو او کرمه نهیلی نه یم او له خطرونو د ډکې لار زوکړه یم؛ هماغه د زړه مطلق تړاو د کریم کرم ته دی، د یو وړوکي طالب په نامه، چې د نورو ایماني ورونو په څېر، دې انقلاب او لاس ته راوړنو ته یې هیلمن یم، د وصیت په نامه اوسني او راتلونکي نسل ته یو لړ مطالب که څه تکراري دي، د زړه له کومه او د نیت په نړه توب لیکم.

۱- موږ پوهېږو، چې دې پرتمین انقلاب، چې له ستر ایرانه د نړۍ خورو او ظالمانو لاسونه پرېکړل، په الهي مرستو بریالی شو. که د خدای څواکمن لاس نه و؛ نو ناشونې وه، چې یو ۳۶ میلیوني جمعیت له هغه ټولو ضد اسلامي او ضد روحاني تبلیغاتو، په تېره بیا په روستۍ پېړۍ کې په رسنیو، ویناوالیو او غونډو کې له ضد اسلامي، ضدملي او ملیت هغو ټولو بېحسابه درز اچونو، له هومره شعرونو او د فحشا، عیاشي، مزوچړچو، جوارۍ، مسکراتو او مخدره توکیو له مرکزونو سره، چې ټول د ځوان او فعال نسل د کږلاري کولو لپاره، چې باید د خپل گران هېواد د پرمختگ او سرلوړۍ لپاره فعالیت وکړي، په فساد، بې توپیرۍ او خائنانه پېښو، چې فاسد شاه او د بې فرهنگه پلار په لاس یې، دولتونو او فرمایشي شوراگانو، چې د څواکمنو سفارتونو لخوا زموږ پر ملت راتپل کېدل او تر ټوله بده د پوهنتونو، عملي مراکزو او لیسو وضع، چې د هېواد برخلیک یې لاسونو ته ورسپارل کېده، د لویدیځپالو او ختیځپالو سل په سلو کې د اسلام او اسلامي او ملي ضد استادانو، د "ملیت" او "ملیتپالی" په نامه، چې البته ښه وگړي هم پکې وو؛ خو د هغوی په فاحش اقلیت او په تنگسه کولو یې، نه شو کولای، چې مثبت کار وکړي او سره له دې په لسگونو نورې چارو یې نه شو کولای، چې کوم مثبت چار وکړي؛ له هغې جمله څنې د روحانیانو او دیني علماوو گوښه کول او د تبلیغاتو په څواک یې د ډېریو فکري انحراف؛ نو ناشونې وه، چې دا ولس په دې وضعیت یو موټی راپاڅي او په واحد فکر او د "الله اکبر" په غږ او په هېښنده سرښندونو پاڅون وکړي او کورني او بهرني ټول شا ته کړي او په خپله د خپل هېواد برخلیک په لاس کې واخلي؛ نو شک باید و نشي، چې د ایران اسلامي انقلاب له ټولو انقلابونو بېل دی: هم یې په رامنځ ته کېدو کې او هم یې د مبارزې په څرنگوالي کې، هم د انقلاب په انگېزه او هم په پاڅون کې او شک نشته، چې

دا یوه الهي او غیبي ډالۍ وه، چې د خدای له لوري، دې مظلوم او لوټل شوي ولس ته ورکړه شوې ده.
۲- اسلام او اسلامي حکومت الهي ښکارندې دي، چې په کارولو یې په لوړه کچه په دنیا او آخرت کې د خپلو زامنو نېکمرغي تامینوي او ددې ځواک لري، چې پر تېریو، لوټنو، فسادونو او یرغلونو سور قلم راکاږي او انسانان مطلوب کمال ته ورسوي او هغه ښوونځی دی، چې د نورو غیر توحیدي ښوونځیو پر خلاف پر ټولو وګړیزو، ټولنیزو، توکیز، مانیزو، فرهنګي، سیاسي، نظامي او اقتصادي چارو کې لاس لري او پرې څارن دی او یو ټکی که څه خورا وړوکی وي، چې د انسان او ټولنې په توکیز او مانیز پرمختګ کې ونډه لري یې نه دی پرېښی او د ټولنې او وګړي د تکامل پر لار خنډونو ته یې اشاره کړې ده او د هغوی د لرې کولو لپاره یې غورځې پرځې کړي دي او اوس، چې د خدای تعالی په مرسته او توفیق او د ژمن او ځواکمن ولس په لاسونو د جمهوري اسلامي بنسټ کېښوول شوی دی او هغه څه چې په اسلامي حکومت کې مطرح دي، اسلام او پرمختللي احکام یې دي؛ نو د ایران پیاوړي ولس ته پکار دي، چې په ټولو اړخونو کې یې د منځپانګې په خوندي ساتلو کې او پلي کولو کې هڅې وکړي، چې د اسلام خوندي ساتل د ټولو واجباتو په سرلړ کې دی، چې عظام انبیاء له حضرت آدمه -علیه السلام-نه تر خاتم النبیین _ صلی‌الله علیه و آله و سلم- پورې ټولو په دې لار کې نه ستړې کېدونکې سرښندنې کړې دي او یوه مانع او خنډ هم ددې سترې الهي فریضې په سر ته رسولو کې خنډېدای نه شو او همداراز تر هغوی روسته یې ژمنو اصحابو کرامو او سپین لمنو امامانو ـ علیهم صلوات الله ـ د وینې د سرښنندنې تر بریده د اسلام د خوندي ساتلو لپاره کوښښونه کړي دي. نن په ځانګړې توګه د ایران ولس او په عمومي توګه پر ټولو مسلمانانو واجب دي، چې دا الهي امانت، چې په ایران کې په رسمي بڼه اعلان شوی دی او په لنډه موده کې یې سترې پایلې ورکړې دي، په خپل ټول ځواک وساتي او د پایښت لپاره یې د غوښتنو په پوره کولو او په لار کې د خنډونو او ستونزو لرې کولو ته هڅې وکړي او هیله ده، چې د رڼا تر وړانګو لاندې یې ټول اسلامي هېوادونه راشي او ټول اسلامي دولتونه او ولسونه په دې چار کې سره حیاتي تفاهم وکړي او د تل لپاره د مظلومو او غمځپلیو له سره د نړۍ خوارو جنایتکارو ابرقدرتونو لاسونه پرېکړي.
زه، چې د خپل عمر روستۍ ساه ګانې اخلم، د خپلې دندې له مخې هغه چارې ددې الهي امانت په پایښت او ساتنه کې او هغه خنډونه او خطرونه چې یې ګواښي، اوسني او راتلونکي نسل ته وایم او د نړۍ پال له درشله ټولو ته د مرستې او توفیق غوښتنه کوم.

الف: شک نشته، چې د اسلامي انقلاب برى هماغه د بري رمز دى او د بري په رمز ولس پوهېږي او په تاریخ کې به یې راتلونکي څوځاتونه ولولي، چې دوه اصلي رکنه یې: الهي انګېزه او د اسلامي حکومت عالي مقصد او په وحدت کلمه په ټول هېواد کې د هماغې انګېزې لپاره د ولس راټولېدل دي.

زه ټولو اوسني او راتلونکیو نسلونو ته وصیت کوم، چې که غواړئ اسلام او الهي حکومت وي او د بهرنیو او کورنیو استعمارګرانو او استثمارګرانو لاسونو مه له هېواده لنډ شي؛ نو دا الهي انګېزه، چې خدای تعالی پرې په قرآن کريم کې سپارښتنه کړې ده، له لاسه مه ورکوئ او ددې انګېزې پر وړاندې، چې د بري او پایښت راز دی، د موخې هېرول، درز او اختلاف دی. هسې خو نه ده، چې ټولې نړۍ او سیمه ایزو تبلیغاتو خپل ټول ځواک په ډنډورو او دروغو درز اچونو ته کاروي او ملیاردونه ډالر پرې لګوي. سیمې ته د جمهوري اسلامي د مخالفانو سفرونه بې انګېزه نه دي. په خواشینۍ، چې په هغوی کې د ځینو اسلامي هېوادونو واکمنان هم لیدل کېږي، چې یوازې خپلو ګټو ته یې پام وي او په پټو سترګو د امریکا مني او ځیني ملایان هم ورسره یو ځای شوي دي.

نن او په راتلونکې کې هم هغه څه چې باید ایران او د نړۍ مسلمانانو ته مطرح وي او ارزښت یې په پام کې ونیسي، د کورورانیو درز اچونکیو تبلیغاتو خنثی کول دي. مسلمانانو او په تېره بیا ددې وخت ایرانیانو ته زما سپارښتنه دا ده، چې ددې دسیسو پر وړاندې غبرګون وښیي او له هرې شونې لار خپل وحدت او انسجام لاپسې نور هم پیاوړی کړي او کفار او منافقان نهیلي کړي.

ب: له هغو مهمو دسیسو څنې په روستۍ پېړۍ، په تېره بیا معاصرو لسیزو کې او په تېره بیا د انقلاب تر بري روسته په څرګنده په سترګو کېږي، د ولسونو او په تېره بیا د ایراني ولس د نهیلولو لپاره پراخه او بېلابېل تبلیغات دي. کله د ناپوهۍ له مخې او یا په ډاګه وایي: داچې اسلامي احکام ۱۴۰۰ کاله مخکې وضع شوي، په اوسني وخت کې نشي کولای، چې هېوادونه سمبال کړي یا داچې اسلام یو ارتجاعي دین دی او له هر نوون او د تمدن له مظاهرو سره مخالف دی او په اوسني وخت کې ناشوني دي، چې هېوادونه له نړیوال تمدن او مظاهرو یې بهر کړو او دې ته ورته بې عقله او د شیطان له مخې او د اسلام د سپېڅلیتا په پلوۍ، چې اسلام او نور ادیان له معنویاتو او د نفسونو له تهذیب سره سرو کار لري، له دنیوي مقاماتو ژغورنکي دي او دنیا پرېښوونې او هغو عبادتونو او ذکرونو ته رابلل کوي، چې انسان خدای ته نږدې کوي او حکومت او سیاست او د واکمنۍ چارې ددې مقصد او د هغو سترو

معنوي چارو پر خلاف دي؛ ځکه دا هر څه د دنيا لپاره دي، چې په خپله دا چار د انبياوو له مسلک سره په ټکر کې دي! په خواشينۍ، چې دې دويمې بڼې تبليغاتو پر له اسلامه په ځېنو بې خبره ملايانو او متدينانو اغېز کړی دی، چې د حکومت او سياست په چارو کې لاس درلودل د فسق هومره يوه ستره ګناه ګڼي او کېدای شي ځينې يوه هم داسې وي، چې دا يو ستر ناورين دی، چې اسلام پرې اخته و.
لومړۍ ډله، چې بايد وويل شي، چې له حکومت، قانون او سياسته يا خبر نه دي او يا په لوی لاس ځان په بې خبرو کې وهي؛ ځکه د قوانينو پلي کول د قسط او عدالت، له تېري او ظالم حکومت د مخنيوي، د وګړيز او ټولنيز عدالت د خپراوي او له فساد او فحشا او ډول ډول کړلاريو د مخنيوي لپاره او آزادي د عقل، عدل، خپلواکۍ او خودکفايۍ پر کچه، له استعمار، استثمار او استبعاد د مخنيوي او د فساد او تباهۍ نه د ټولنې د ژغورنې لپاره دعدل پر کچه د قصاص او تعزيراتو وضع کولو لپاره او د عقل او عدل او انصاف په موازينو سياست او د ټولنې مخې ته وړل او په سلګونو نورې داسې چارې، هغه څه نه دي، چې د وخت په تېرېدو د تاريخ په ترڅ کې په ټولينز ژوند کې زاړه شي. دا ادعا هغه ته ورته ده، چې وويل شي، چې په دې پېړۍ کې بايد عقلي او رياضي قوانين بدل شي او پر ځای يې نور قواعد کېښوول شي. په صدر خلقت کې بايد ټولنيز عدالت پلی شي او له تېري او لوټنې او قتلونو مخه و نيول شي؛ نو داچې نن اتوم دی؛ نو هغه کړنلار زړه شوې ده او دا ادعا، چې اسلام له نوونو سره مخالف دی-هماغه دی، چې نسکور شوي محمدرضا پهلوي به ويل، چې دوی غواړي په دې وخت کې په خارويو سفر وکړي –او دا يو بېځايه تور دی؛ ځکه که د تمدن له مظاهرو او نوونو مراد، برسېرنې، اختراعات، ابتکارات او پرمختللي صنعتونه وي، چې د بشر په پرمختګ او تمدن کې لاس لري؛ نو هېڅکله اسلام او کوم بل توحيدي دين ورسره مخالف نه دی کړی او نه به يې کوي؛ بلکې علم او قرآن او اسلام تاييد کړی دی او که د تجدد او تمدن معنی هغه وي، چې ځينې مسلکي روښانفکران يې وايي، چې په ټولو منکراتو کې آزادي؛ ان په لواط او داسې چارو کې؛ نو ټول اسماني اديان، پوهان او عقلاء ورسره مخالف دي؛ که څه ختيځ ځېلي او لويديځ ځېلي يې په پټو سترګو پېښې کوي او دودوي يې.
اما دويمه طايفه، چې موذيانه نقشه لري او اسلام له حکومت او سياسته بېل ګڼي، بايد دې ناپوه ته وويل شي، چې قرآن کريم او د رسول الله ـ صلی‌الله عليه و آله ـ سنت، چې د حکومت او سياست په باب څومره احکام لري، د بل څه په اړه يې نه لري؛ بلکې د اسلام

ډېرى احكام عبادي-سياسي دي، چې ترې غفلت خورا غمونه او مصيبتونه راولاړوي. د اسلام پېغمبر ـ صلی‌الله عليه و آله ـ د نړۍ د نورو حكومتونو په څېر يې حكومت جوړ كړ؛ خو د ټولنيز عدالت د خپراوي په موخه او لومړيو اسلامي خلفاوو پراخه حكومتونه درلودل او د علي بن ابيطالب –عليه السلام- حكومت هم په پراخه معنی د هماغه انگېزې څرگند ښكارندوی دی او تر هغه روسته هم په تدريج حكومت د اسلام په نامه و او نن هم له اسلام او رسول اكرم ـ صلی‌الله عليه و آله ـ په لاروۍ د اسلامي حكومت مدعيان خورا ډېر دي.
زه په دې وصيتامه كې ترې په اشاره تېرېږم؛ خو هيلمن يم، ليكوالان، ټولنپوهان، تاريخپوهان او مسلمانان يې له اشتباه راووځي او هغه څه چې وويل شول او ويل كېږي، چې انبياء ـ عليهم‌السلام ـ له معنوياتو سره سروكار لري او د هغوی په نزد حكومت او واكمني رټل شوی او كرلی چار دی او انبياء او الهي اولياء ترې ډډه كوي او موږ هم بايد داسې وكړو؛ نو دا له خواشينۍ يوه ډكه اشتباه ده او پايلې يې د اسلامي ولسونو وركاوی او خونخوارو استعمارگرانو ته د لار پرانستل دي؛ ځكه هغه څه چې رټل شوي او كرلي دي، شيطاني، ديكتاتوري او ظالم حكومتونه دي، چې د كرو او بې لاريو دنيوي انگېزو لپاره ترې گټنه كېږي. د شتمنيو راټولول، ځواك غواړي او طاغوتپالي او بالاخره هغه دنيا او دنيوي چارې رټل شوې او كرلي دي، چې انسان له حق تعالی غافلوي؛ خو د مستضعفانو په گټه، له ظلمه د مخينوي، د ټولنيز عدالت د پلي كولو لپاره د حق حكومت هماغه دی، چې د حضرت سليمان بن داوود عليه السلام په څېر پېغمبرانو، پېغمبراكرم ـ صلی‌الله عليه و آله ـ او ځايناستيو يې ورته كوښښ كاوه، چې تر ټولو ستر واجبات او پلي كول يې تر ټول غوره عبادت دی؛ لكه څنگه، چې كوم روغ سياست، چې په دې حكومتونو كې و؛ نو دا چارې ورته پكار وې. بايد د ايران هوښيار ولس په خپل اسلامي ليد دا دسيسې خنثی كړي او ژمن ليكوالان او ويناوال دې له دې ولس سره مرسته وكړي او د شيطانانو او دسيه گرو لاسونه دې لنډ كړي.
ج - او همدا ډول دسيسې او شايد تر دوی خطرناكې هغه ډنډورې، چې په ټول هېواد او په ولايتونو كې ډېرې وې، چې جمهوري اسلامي هم چا ته كوم كار و نه كړ؛ بېچاره خلك، چې په څومره، مينه او لېوالتيا يې سرښندنه وكړه، چې له هغه ظالمانه طاغوتي رژيمه خلاصی ومومي؛ خو تر هغه په بتر رژيم ككړ شول. بېچاره خلك، چې په څومره مينه او لېواليتا يې سرښندنه وكړه، چې ځان له ظالمانه طاغوتي رژيمه خلاص كړي؛ خو په يو بتر رژيم واوختل. كبرجن پكې خورا كبرجن او مستضعفان پكې نور هم مستضعف شول. زندانونه له

هغو ځوانانو ډک شول، چې د هېواد راتلونکې او هیله ده او په زندانونو کې کړول او شکنجې تر پخواني رژیمه بترې او خورا غیرانساني دي! هره ورځ یو لړ خلک د اسلام په نامه غره غره او اعدامېږي! او کاشکې د اسلام نوم یې پر دې جمهوري نه ایښوده! دا وخت تر رضاخان او زویه یې خورا بتر دی! خلک په کړاو او ګرانۍ کې غوپه دي او واکمنان دا رژیم د کمونزم پر خلاف هدایتوي! د خلکو شتمني او اموال مصادره کېږي او په هر څه کې د ولس آزادي اخستل شوې ده! او ډېری داسې نورې چارې، چې له پخوانۍ نقشې سره پلې کېږي او داچې دسیسې او نقشې ایستل شوي دي، دلیل یې دادی، چې هره ورځ یو چار په ګوټ ګوټ کې د خلکو پر ژبه دی؛ په ټکسیانو کې همدا یو مطلب، په ملي بسونو کې همدا مطلب او په غونډو کې هم د همدې مطلب پسپکي کېږي او لره چې دا ډنډوره زړه شوه یوه بله دودوي؛ خو په خواشینۍ، چې ځینې ملایان هم له دې شیطاني چلونو بې خبره دي - او یو له بل سره په تماس نیولو دا ګومان کوي، چې مطلب هماغه دی او خبره همدا ده او ډېری یې، چې دا مسایل اوري او باور کوي، چې د دنیا له وضعې او د نړۍ له انقلابونو او تر انقلابونو د روسته کړاوونو نه اطلاع نه لري؛ لکه څنګه چې له هغو پېښو سم خبر نه لري، چې ټول د اسلام په ګټه دي – او په پټو او بې خبره دا مطالب اوري او په خپله هم یا د ناپوهۍ له مخې او یا په لوی لاس ورسره یو ځای کېږي.

زما سپارښتنه داده، چې د نړۍ د اوسني حالاتو تر مطالعې مخکې او د اسلامي انقلاب او نورو انقلابونو تر پرتلنې مخکې او تر انقلابونو مخکې او روسته د هېوادونو او ولسونو له وضعیت سره تر اشنایي مخکې او داچې تر انقلابونو روسته پرې څه راغلي دي او دې طاغوت ځپلي هېواد ته تر توجه مخکې، چې رضاخان او تر هغه بتر محمد رضا، چې سترې ملاماتوونکې وابستګیانې، د وزارتونو، اقتصادي ادارو او اردو ناوړه وضع، د عیاشۍ مرکزونه، مسکرات پلوري، د ژوند په ټولو چارو، ښوونه روزنه، لیسو، پوهنتونو، سینماګانو په وضع کې بې بندوبارۍ او خپلسري، د مزوچړچو مرکزونه.

او له پخواني وخت سره پرتلنه او د دولت کړنو ته رسېدګي او ان د ځنباک له اوبو، کلینک نه په بې برخو او محرومو کلیو او بانډو کې د رغاونې جهاد او پرتلنه یې د پخواني رژیم سره او د راتپلې جګړې په پامنیوي او د هغې پیامدونه؛ لکه په میلیونو بېځایه شوي وګړي، د شهیدانو کورنۍ، جګړه ځپلي او د افغانستان او عراق په میلیونو کډوال او وتېز یا اقتصادي بندېز او د امریکا او ورپورې د کورنیو او بهرنیو پرله پسې دسیسې او هغه اړدوړ، چې د اسلام د مخالفانو، کړلاریو او ان ناپوهو دوستانو لخوا په لاره اچول شوي دي او لسونه نور مسایل؛

نوغوښتنه داده، چې پر خبره تر پوهېدو د مخه نیوکې، منفي بافي او کنځلې مه کوئ او په دې په پښو پر نوي درېدلي اسلام رحم وکړئ، چې تر پېړیو پېړیو د خلکو له ناپوهۍ او تېریو او زور متۍ روسته په پښو درېدلی دی او تاسې بې ځایه نیوکه کوونکي لږ فکر وکړئ، چې آیا غوره به نه وي، چې د بېځایه نیوکو پر ځای د سمونې په چار کې مرسته وکړئ او له خدایه د بې خبره منافقانو، ظالمانو، پانګوالو او بې انصافه محتکرانو د پلوۍ پر ځای د مظلومانو، غمځپلیو او بېوزلیو پلویان شئ او د بلواګرو ډلو او له مفسدو ترهګرو نه د غیرمستقیم پلوۍ پر ځای، ترور شویو، مظلومو روحانیونو او د مظلومانو د ژمنو خدمتدګارانو پلوي وکړئ؟

ما کله هم نه دي ویلي او نه یې وایم، چې نن په دې جمهوري کې د هغه ستر اسلام پر ټولو اړخونو عمل کېږي او ځینې وګړي، د ناپوهۍ، عقدو او بې انضباطۍ له امله د اسلام د مقرراتو پر خلاف عمل نه کوي؛ خو خبره مې داده، چې مقننه، قضاییه او اجراییه ځواکونه په خپل ټول ځواک سره ددې هېواد د اسلامي کېدو لپاره هڅې کوي او میلیوني ولس یې هم پلوی، ملاتړ او مرستیال دی او که بېځایه نیوکه لږکی وګړي یا اقلیت یې مرستې ته لېچې ونغاړي؛ نو ددې چارو پلي کول به په ځغاسته او اسانه شي؛ خو که خدای مه کړه دا وګړي په خود کې نشي او داچې میلیوني ولس راویښ شوی دی، مسایلو ته یې پام دی او په صحنه کې حاضر دي؛ انساني-اسلامي چارې به د خدای په غوښتنه او خوښه په پراخه توګه پلي او د عمل جامه واغوندي او کږلاري او بېځایه نیوکه کوونکي به ددې ستر سیلاب پر وړاندې مقاومت ونشي کولای، زه په جرات او ډاډه مدعي یم او وایم، چې په اوسني وخت کې دا میلیوني ولس د رسول الله _ صلی‌الله علیه و آله ـ په وخت تر حجازیانو، د امیرالمؤمنین او حسین بن علي ـ صلوات الله و سلامه علیهما ـ په وخت کې تر کوفیانو او عراقیانو غوره دي. هغه حجاز، چې د رسول‌الله ـ صلی‌الله علیه و آله ـ په وخت کې یې هم یې ځینو مسلمانانو خبره نه منله او د ډېری پلمو په راوړو به یې جهاد ته له تګه سرغړونه کوله او خدای تعالی د توبې په سورته رټلي هم دي او د عذاب ژمنه یې ورسره کړې ده. دومره دروغ یې پرې وتپل، چې د روایتونو له مخې په ممبر یې ورته ښېرې وکړې او دې عراقیانو او کوفیانو څومره له امیرالمؤمنین سره ناوړه چلن وکړ او سرغړونه یې ترې وکړه، چې له دې خلکو د آنحضرت له شکایتونو نه د تاریخ کتابونه ډک دي او هغه هم د عراق او کوفې مسلمانان وو، چې له سیدالشهدا ـ علیه‌السلام ـ سره هغه وشول او هغوی چې یې په شهادت کې لاس نه درلود یا وتښتېدل او یا په تمه شول، چې په تاریخ کې هغه ناورین راپېښ شي؛ خو نن ګورو، چې د

ایران ولس له مسلحو ځواکونو نه نیولي تر پولیسو، سپاهیانو، بسیج، ولسي ځواکونو، کوچیانو او داوطلبانو پورې په جګړه او د جګړې تر شا له خپلو ځواکونو په خورا لېوالتیا او سرښندنه ملاتړ کوي او ګورئ، چې څه حماسې يې پنځولي دي او ګورو، چې ګران ولس څومره ارزښتمنې مرستې کوي او ګورو، چې د شهداوو پاتې شوني، جګړه ځپلي او متعلقین يې څومره په ورین تندي له موږ او تاسې سره مخېږي او دا ټوله د مینې، ایمان او خدای، اسلام او همېشني اخروي ژوند ته د لېوالتیا له امله دي، حال داچې په وخت کې يې نه رسول اکرم ـ صلی‌الله علیه و آله و سلم ـ شته او نه معصوم امام ـ صلوات الله علیه او ددې ولس انګېزه پر غیبو ایمان او ډاډ دی او دا د هر اړخیز بري راز دی او اسلام باید وویاړي، چې داسې ځوځات يې روزلی دی او موږ هم ویاړو، چې په داسې یو وخت کې له داسې يې ولس سره یو.

او زه دلته یو وصیت هغه وګړیو ته چې په بېلابېلو انګېزو له جموري اسلامي سره مخالفت کوي او ځوانانو ته؛ څه نجونې څه هلکان، چې منافقان او فرصت طلبه کږلاري ترې د خپلو ګټو په پار ګټنه کوي، کوم، چې بېطرفه او یا په آزاد فکر دې د قضاوت په ګرېوان کې سر ښکته کړي او د هغوی تبلیغات، چې غواړي جمهوري اسلامي سقوط وکړي او د هغوی د عمل څرنګوالی او کیفیت او له بېوزلیو او هغه ډلو او حکومتونو سره، چې ملاتړې يې دي او هغه وګړي او ډلې، چې د هېواد په دننه کې ورسره یو ځای شوي دي او ملاتړ ترې کوي او خپلمنځي او د پلویانو اخلاق او کړنې او په بېلابېلو پېښو کې يې د دریځ بدلون په ځېرنه او بې له ځاني غوښتنو وڅېړي او و ارزوئ او د هغو د حالاتو ارزونه وکړئ، چې په دې جمهوري اسلامي کې د منافقانو او کږلاریو په لاس شهیدان شوي دي او د هغوی او د ښمنانو تر منځ يې، چې د داوړو لوریو د ویناوو کسټې او پېټې ته به لاسرسی لرئ، وا يې ورئ؛ نو پوه به شئ، چې کومه ډله د ټولنې د بېوزلیو او بې برخو پلویان دي.

ورونو! زما تر مرګه مخکې دا پاڼې مه لولئ؛ شونې ده، چې تر ما روسته يې ولولئ او هغه مهال به زه په تاسې کې نه یم، چې د خپلې ګټې په پار او د مقام لپاره مې، زړونه مو لاس ته راوړم او ستاسې له ځوانو زړونو سره لوبې وکړم.

داچې تاسې وړ ځوانان یاست؛ نو خوښ یم، چې ځواني مو د خدای، اسلام او جمهوري اسلامي په لار کې تېره کړئ تر څو د دواړو نړیو نېکمرغی ته ورسئ او له غفور او ښناند خدایه غواړم، چې د انسانیت نېغې لارې ته مو هدایت کړي او زموږ او ستاسې له تېروتنو نه

په خپله پراخه لورنه او رحمت تېر شي او تاسې هم له خدایه په خلوتونو کې همدا چار وغواړئ، چې هغه هادي او رحمان دی.
او یو وصیت د ایران شریف ولس او نورو ولسونو ته په فاسدو او د سترو ځواکونو په لومو کې پر راښکېل حکومت اخته دي، کوم. د ایران شریف ولس ته سپارښتنه کوم، چې د هغه نعمت، چې په خپله او د پتمنو ځوانانو په جهاد مو لاس ته راوړی دی، د خپلو تر ټولو ګرانو او عزیزو چارو په څېر یې قدرمني او ساتنه وکړئ او په لار کې یې، چې ستر الهي نعمت او امانت دی، هلې ځلې او کوښښ وکړئ او له هغو ستونزو مه ډارېږئ، چې په دې لار کې مو مخې ته راځي؛ ځکه إن تَنْصروا‌الله ينْصُرْكم و يثَبِّتْ اَقدامَكم او د جمهوري اسلامي په ستونزو کې ځان شریک وګڼئ او د ستونزو په هوارې کې کوښښ وکړئ او دولت او ملي شورا خپله وګڼئ او د یو مینه ناک محبوب په څېر یې پاسوالي او ساتنه کوئ.
او ملي شورا، دولت او چارواکیو ته سپارښته کوم، چې ددې ولس په قدر پوه شي او بېوزلیو او بې برخو، چې زموږ د سترګو تور او د ټولو د نعم اولیا دي او جمهوري اسلامي یې په سربښندونو پلی شوی او پایېنه یې د هغوی په چوپړونو پورې اړه لري، ته هر ډول خدمت وکړي او ځان له خلکو او خلک له ځانه وګڼي او تل طاغوتي حکومتونه، لوټماران، بې فرهنګه او زورمټي وو، محکوم کړئ؛ البته په هغه انساني کړنو، چې یو اسلامي حکومت یې وړ وي.
اسلامي ولسونو ته سپارښتنه کوم، چې جمهوري اسلامي حکومت او د ایران له مجاهد ولس دې خپله بېلګه کړي او د خپل جائر حکومتونه که درته سر ښکته نه کړي؛ نو که خپله خوښه مو وي او د ایران د ولس هم دا خوښه ده، چې په خپل ټول ځواک یې لرې کړئ؛ ځکه د ولسونو د بدمرغۍ لامل دي او په ختیځ او لویدیځ پورې تړلي دي او په ټینګه درته سپارښتنه کوم، چې د اسلام او جمهوري اسلامي پر خلاف د دښمنانو تبلیغاتو ته غوږ مه ږدئ؛ ځکه ټول کوښښ یې دادی، چې اسلام ګوښه کړي، تر څو د ابرقدرتونو ګټې خوندي پاتې شي.
د- د شیطاني ابرقدرتونو، استعمار او استثمارګرانو یوه نقشه، چې له کلونو کلونو را په دې خوا پلي کېږي او په ایران کې یې د رضاخان پر مهال زور واخست او د محمدرضا پر مهال په بېلابېلو بڼو پیګیري شو، د روحانیت ګوښه کول دي، چې د رضا خان پر مهال د فشار، دباو، د روحانیت د جامې د اغوستو منع کول، بندي کول، تبعید، بې پته کول او اعدام او غرغره کول وو او د محمد رضا پر مهال په نورو کړنلارو، چې یوه یې د پوهنتوني وګړیو او روحانیت ترمنځ د دښمنۍ رامنځ ته کول وو، چې په دې اړه خورا تبلیغات هم وشو، چې په

خواشيني، چې د دواړو قشرونو د بېخبرۍ له امله له دې شيطاني دسيسو، دسيسه جوړونکيو خورا پايلې لاس ته راوړې. يو خوا په ليسو او پوهنتونو کې هڅه وشوه، چې ښوونکي او استادان او د پوهنتون چارواکي ختيځپال او لويديځپال او له اسلامه کړلاري او له نورو اديانو وټاکي، چې ژمن مؤمنان په اقليت کې شي او د حکومت په راتلونکې کې اغېزمن قشر له ماشومتوب تر ځوانۍ يې داسې وروزي، چې په مطلقه توګه له اديانو او په ځانګړه توګه له اسلام او ورپورې له ټولېو په تېره بيا له روحانيت او ديني مبلغان کرکجن ووسي.

او دوی يې په هغه وخت کې د انګليس لاسپوڅي او مزدران او د پانګوالي، ځمکه لرونکيو او د ارتجاع پلويان او د تمدن او پرمختګ مخالفين معرفي کول. بلخوا په ناوړه تبليغاتو يې روحانيان، ديني مبلغان او متدينان يې له پوهنتون او پوهنتونيانو وېرول او ټول يې په بې دينۍ، خپلسرۍ او له اسلامي احکامو او اديانو سره په مخالفت تورنول. پايله داچې چارواکي د اديانو، اسلام، روحانيونو او متدينانو مخالف ووسي او ولسونه، چې له دين او ملا سره علاقه لري، له دولت او ورپورې اړوند چارو سره مخالف ووسي او د دولت او ولس او پوهنتوني او ديني زده کړيالانو ترمنځ دې ژور اختلاف د لوټمارانو لپاره داسې لار پرانسته، چې د هېواد ټولې زېرمې يې په واک او د ولس ټولې زېرمې يې جېبونو ته ولاړې؛ لکه څنګه مو چې وليدل، چې په دې مظلوم ولس يې څه وکړل او همداسې روان وو، چې نور به څه کېدل.

اوس، چې د متعال خدای په غوښتنه او د ولس په مجاهدت –له ملا نيولي تر پوهنتوني، بازاري، کارګر، بزرګر او نور قشرونه- د اسارت بندونه شليدلي دي او د ابرقدرتونو د ځواک بندونه يې مات کړي او هېواد د هغوی او په هغوی پورې له ټولېو يې راخلاص کړی دی؛ نو سپارښتنه مې داده، چې اوسنۍ او راتلونکی نسل دې غلفت نه کوي او پوهنتوني پټمن ځوانان دې له ملايانو او ديني زده کړيالانو سره پياوړی تفاهم رامنځ ته کړي او د غدارو دښمنانو له دسيسو مه غافلېږئ او همداچې و مو ليدل، چې کوم وګړی يا وګړي غواړي په خپله کړنه يا وينا د نفاق تخم وشيندي، نصيحت او لارښوونه ورته وکړئ او که دا چار اغېزمن نه و؛ نو مخ ترې واړوئ او ګوښه يې کړئ او پرېنږدئ، چې شيندلی تخم يې راوټوکېږي؛ ځکه د سرچينې مخه په اسانه نيول کېږي؛ په تېره بيا که په استادانو کې داسې ځوک پيدا شو، چې غواړي اختلاف راپيدا کړي؛ نو لارښوونه ورته وکړئ او که و نه شوه؛ نو په ټولګي کې او په خپله ورسره مه کېنئ او زما دا سپارښته ډېری ملايانو او ديني زده کړيالانو ته متوجه ده او په پوهنتونو کې دسيسې له ځانګړې ژورتيا برخمنې وي او هر محترم قشر، چې د ټولنې متفکر مغز دی، بايد دې دسيسو ته يې پام وي.

ه –او په خواشینۍ له هغه نقشو، چې په هېوادونو او زموږ په گران هېواد کې یې ستر اغېز وکړ او اغېزې یې تر ډېره تر اوسه هم پاتې دي؛ له ځانه د استعمار ځپلیو هېوادونه پردي کول دي او د هغوی ختیځپال او لویدیځپال کوي دي؛ داسې چې خپل ځان او خپل فرهنگ او ځواک یې هېڅ وگاڼه او لویدیځ او ختیځ یې ځواکمن اړخونه او د هغوی توکم او فرهنگ یې غوره توکم او فرهنگ وگاڼه او هغه دوه ځواکه یې د عالم قبله کړه او له دې دوو ځواکونو پورې تړاو یې غیرقابل اجتنابه چار معرفي کړ! او ددې غمجن چار کیسه اوږده ده او کوم گوزارونه مو چې ترې خوړلي او اوس یې هم خورو؛ خورا کړونکي دي.
او خورا غمجنه خو داده، چې هغوی تر خپل ښکېلاک لاندې مظلوم هېوادونه په هر چار کې روسته پاتې او مصرفي هېوادونه یې ترې جوړ کړل او دومره یې موږ له خپلو ځانو او شیطاني ځواکونو وډارولو، چې یو ابتکار او نوون ته د نږدېدو مړانه مه نشو کولای او خپل هر څه مو ورته ورتسلیم او وروسپارل او د خپل ځان او د خپل هېواد برخلیک مو هغوی ته ورکړ او په پټو سترگو یې لاس په سینه د حکم مطیعان یو او دا مصنوعي پوچې او تش مغزي ددې لامل شوې، چې په هېڅ چار کې په خپله فکر او پوهه اډانه و نه کړو او په پټو سترگو د لویدیځ او ختیځ پیښنې وکړو او کوم فرهنگ، ادب، صنعت، ابتکار او نوون مو چې درلود؛ نو پرې هغه بې فرهنگه لویدیځپال او ختیځپالو لیکوالانو او ویناوالو ملنډې ووهلې او سپک یې کړ او زموږ خپل سیمه اییز فکر او ځواک یې نهیلی او وځاپه او اوس هم دا چار کوي او پردي دودونه او رواجونه که څومره هم مبتذل او مفتضح وي، په خپلو کړنو او ویناوو دودوي. فی المثل که په کومه لیکنه، کتاب یا وینا کې څو فرنگي ټکي وي؛ نو بې له دې، چې محتوا او منځپانگې ته یې پام وکړي؛ په خورا لېوالتیا یې مني او لیکوال یې پوه او روښانفکره معرفي کوي او له زانگو نیولي تر قبره، چې هر څه ته وگورو؛ نو که لویدیځي یا ختیځي نوم پرې کېښوول شي؛ نو د ټولو به ورته پام وي او د تمدن او پرمختگ له مظاهرو به شمېرل کېږي؛ خو که د خپل فرهنگ او سیمه اییز نوم پرې کېښوول شي؛ نو څوک به ورگوري هم نه او زوږ به وشمېرل شي. که ماشومان مو لویدیځي نوم ولري؛ نو پرې ویاړي او که خپل نوم ولري؛ نو سر به یې لاندې اچولی وي. واټونه، کوڅې، دوکانونه، شرکتونه، درملتونونه، کتابتونونه، ټوکران او نور توکي که څه هم په هېواد کې تولید شوي وي؛ باید بهرنی نوم ولري، تر څو د خلکو خوښ شي او استقبال ترې وکړي.
د ژوند په ټولو چارو او ناستو پاستو کې فرنگپالي د سرلوړۍ، ویاړ، تمدن او پرمختگ او پر وړاندې یې خپل دودونه روسته پاتي او زوړپالي گڼل کېږي، که په هېواد کې د یو رنځ درملنه

کېږي، باید درملنې ته یې بهر ولاړ شو او خپل پوهان او طبیبان مو محکوم او نهیلي کړي دي. انګلستان، فرانسې، امریکا او مسکو ته تګ ازرښتمن ویاړ او نور حج او نورو دیني سپېڅلیو ځایونو ته تګ روسته پاتي او زوړپالي ده. دیني او معنوي چارو ته بې اعتنایي روښانفکر او تمدن او پر وړاندې یې دې چارو ته ژمنه روسته پاتي او زوړپالي ده.
زه نه وایم، چې موږ هر څه لرو؛ څرګنده ده، چې په دې نږدې تاریخ په تېره بیا په دې روستیو پېړیو کې یې موږ له هر پرمختګه بې برخې کړې یو او خاینو چارواکیو په تېره پهلوي ځوځات او د خپلو لاس ته راوړنو پر خلاف تبلیغاتي مراکز او همداسې ځان ته په ټیټه او ناڅیزه کتو موږ له هر فعالیت او پرمختګه بې برخې کړي یو.
د هر ډول توکیو راواردول او د نارینه وو او ښځو په تېره بیا د ځوانانو سرګرمول او په بېلابېلو وارداتي توکیو؛ لکه د سیګار، ځل بل او تجملاتو او د ماشومانو د لوبو په سامان کورنۍ سیالۍ ته راګډول او څومره یې چې له لاسه کېدل، د دوی مصرفي اموخته کول، چې له غمه ډکه کیسې لري او د ځوانانو سرګرمول او تباه کول، چې فعال غړي دي او ورته د مزو چړچو او عیاشیو مراکز جوړول او په زرونو داسې په نقشه او حساب شوي غمونه، چې هېوادونه یې پرې روسته ساتلي دي.
زه ګران ولس ته دلسوزانه او خادمانه وصیت کوم، چې تر ډېره بریده له دې ډېرو جالونو او دامونو مو ځان خلاص کړی دی او حاضر بې برخې ځوځات فعالیت او ابتکار او نوون ته راپاڅېدلی او و مو لیدل، چې ډېری کارخانې، پرمختللي وسایل؛ لکه الوتکې او نور وزلي، چې ګومان نه کېده، چې ایراني متخصصین به ددې کارخانو او ورته چارو پر لار اچولو وسمن شي او ټول لاسونه مو لویدیځ او ختیځ ته اوږده کړي وو، چې د هغوی متخصصین راته دا هر څه پر لار واچوي. د اقتصادي بندیز او راټپل شوې جګړې له امله؛ زموږ خپلو ګرانو ځوانانو خپلې اړتیاوې جوړې کړې او په ارزانه بیه یې راوړاندې کړې او د هېواد اړتیا یې پوره کړه او جوته یې کړه، چې که غواړو؛ نو کولای یې شو.
باید هوښیار، ویښ او څارن ووسئ، چې په لویدیځ او ختیځ پورې تړلي سیاستوال مو په خپلو شیطاني وسوسو په نړیوالو لوټمارانو پورې و نه تړي او په اراده، هوډ، فعالیت او هلو ځلو مو خپلې اړتیاوې پوره کړئ او ځان په نورو پورې له تړاوه وساتئ.
او باید پوه شئ، چې د آریا او عرب توکم له اروپا، امریکا او شوروي هېڅ هم کم نه لري او که ځان وپېژني او ومومي او له ځانه نهیلي لرې کړي او نورو ته یې سترګې نه وي؛ نو په راتلونکې کې به د هر چار او د هر څه د جوړولو ځواک لري. او هغه څه ته، چې تاسې ته

ورته نور انسانان هم وررسېدلي، تاسې به هم وروروسئ؛ خو په دې شرط، چې په خدای ډاډه وکړئ، نورو ته خپل تړاو پرېکړئ او شرافتمن او پتمن ژوند ته او د بهرنیانو له ولکې د راووتو لپاره سختۍ وزغمئ.
او دولتونو ته پکار دي، چې څه په اوسني نسل کې او څه په راتلونکي نسل کې د خپلو متخصصینو قدرمني وکړي او په مادي او معنوي مرستو یې تشویق کړي او د کوروانکیو او مصرفي جوړونکیو توکیو ځنې دې مخنیوی وکړي او پر هغه څه دې گوزاره وکړي، چې ورسره شته، تر څو هر څه پخپله جوړ کړي.
او له ځوانانو؛ نجونو او هلکانو غواړم، چې خپلواکي، ازادي او انساني ارزښتونه دې، که څه د کړاوونو په زغملو وي، د فحشا په مرکزونو کې، چې د پردیو لویدیځیانو لخوا دروړاندې کېږي، ترې نه نه قربانوي؛ چې هغوی لکه څنګه چې تجربې ښوولې، بې د ستاسې له تباهۍ، وابستګۍ، پر طبیعي زېرمو مو له خېټې اچونې او داچې ملت او هېواد مو مصرفي کړي، بل څه نه غواړي او غواړي په دې وزلو او ورته وزلو تاسې روسته پاتې وساتي او د هغوی په اصطلاح "نیمه وحشي" مو وساتي.
او د هغوی له سترو دسیسو ځنې یوه؛ لکه څنګه چې مې ورته اشاره وکړه او څو څو ځل مې یاد کړ، د تعلیمي مراکزو په تېره بیا د پوهنتونو په لاس کې نیول دي، چې د هېوادنو مقدرات او برخلیکونه یې په لاسونو کې دي. د هغوی کړنلار له روحانیونو او دیني مدرسو سره د پوهنتونو او لیسو په پرتله توپیر لري. د هغوی نقشه داده، چې روحانیون له مخې اوچت او گوښه کړي یا په ځپلو، تاوتریخوالي او وهلو ډبولو، چې د رضا خان پر مهال به دا کېده؛ خو سرچپه او اپوټه پایله یې ترې واخسته یا د زده کړي او په اصطلاح له روښانفکر قشره یې د بېلولو لپاره په ناوړه تبلیغاتو، تورونو او شیطاني نقشو لارو لاس پورې کوي، چې دا هم د رضا خان پر مهال پلې کېده او د هغه پر مهال تر دباو او ځپلو لاندې وو او د محمد رضا پر مهال دې نقشو ادامه وموندله؛ خو په تاوتریخوالي نه؛ بلکې په پټه.
او په پوهنتونو کې یې نقشه داده، چې ځوانان له خپل فرهنګ، ادب او ارزښتنو کاږه کړي او لویدځ یا ختیځ ته راکاږي او بیا چارواکي له همدوی ځنې وټاکي، چې د هېوادونو پر برخلکیونو واکمني وکړي تر څو د دوی په واسطه خپلو گټو ته ورسي. دوی هېواد ولوټي او لویدیځپال دې کړي او روحاني قشر په گوښه کېدو، کرکجنیدو او ماتې د مخنیوي وس و نه لري او دا یې تر خپلې واکمنې لاندې د هېوادونو د روسته ساتلو لپاره غوره لار ده؛ څکه بې له کوم غږ، زحمت او بیې هر څه د ابر قدرتونو جېبونو ته وراچوي.

نو اوس چې پوهنتونونه او علمي مراکز د سمونې او پاکسازۍ په پړاو کې دي؛ نو موږ ټولو ته پکار دي، چې له اړوند چارواکیو سره یې مرسته وکړو او د تل لپاره پرې نه ږدو، چې پوهنتونونه مو کږلاري کړي او په هر ځای کې، چې کومه کږلاري په سترګو لیدل کیږي، په چټک ګامونو یې د لرې کولو په هڅه کې شو او دا حیاتي چار باید په لومړي پړاو کې په خپله د پوهنتون او علمي مراکزو د ځوانانو په ځواکمن لاس تر سره شي، چې د پوهنتون او علمي مراکزو ژغورنه او سمون د هېواد او ولس ژغورنه او سمونه ده.

او په لومړي پړاو کې ټولو ځوانانو او په دویم پړاو کې والدینو او د هغوی دوستانو او چارواکیو او پر هېواد زړه سوانده روښانفکرانو ته په بل پړاو کې وصیت کوم، چې دا چار چې هېواد مو له ژوبلېدو ساتي، د زړه له کومې دې چار ته کوښښ وکړئ او راتلونکي نسل ته یې وسپارئ او ټولو مسلسلو نسلونو ته توصیه کوم، د خپل هېواد او انسانساز اسلام د ژغورنې لپاره خپل پوهنتونونه له لویدیځپالۍ او ختیځپالۍ خوندي وساتئ او په انساني-اسلامي عمل له خپل هېواده د ابرقدرتونو لاسونه لنډ او نهیلي یې کړئ.  خدای مو مل او ساتونکی شه.

ز – له خورا مهمو چارو څنې یو هم د اسلامي ملي شورا د وکیلانو ژمنه ده. موږ ولیدل، چې ایران تر مشروطه روسته او تر پهلوي جنایتکار رژیم پورې او تر هغه وخته بتر او خطرناکتر په دې تحمیلي فاسد رژیم کې څومره ضربې د ناصالح او کږلارې ملي شورا له امله وخوړې او هېواد د دوی د پردیو نوکرانو له لاسه څومره ملاماتونکي تاوانونه وکړل.  په دې پنځوس کلونو کې یو له څان جوړ شوی اکثریت د مظلوم اقلیت پر وړاندې ددې لامل شو، چې هر څه انګلستان او شوروي او په دې روستیو کې امریکا غوښتل، د همدې له خدایه په بې خبره کږلاریو کې هېواد تباهۍ او نېستۍ ته راکښود او تر مشروطه روسته، کله هم تقریبا د اساسي قانون پر مهمو مادو عمل و نشو -تر رضا خان مخکې په یو لړ لویدیځپالو او زمینخوارانو او د پهلوي رژیم پر مهال د هغه رژیم سفاک او ورپورې په اړندو - اوس، چې د پالونکي څښتن په عنایت او د ستر ملت په همت د هېواد برخلیک د ولس په لاس کې دی او د پارلمان وکیلان پخپله له ولسه د هغوی په خپله ټاکنه بې د دولت او ولایتونو د زور ځواکیو له لاسوهنې وټاکل شول؛ نو هیله ده، چې اسلام او د هېواد مصالحو ته یې په ژمنتیا له هر ډول کږلارۍ مخنیوی وشي.

زما اوسني او راتلونکي ولس ته وصیت دادی، چې پخپله هوډمنه اراده او اسلامي احکامو او د هېواد مصالحو ته په ژمنتیا په هرو ټاکنو کې اسلام او جمهوري اسلامي ته ژمن وکیلان،

چې غالباً د ټولنې په منځنیو او ښوزلیو کې دي، له نښې لارې –ختیځ او لویدیځ ته-، چې کږلاري نه وي او بې له دې چې کږلاریو ښوونځیو ته یې لېوالیتا وي او تحصیل یې کړی وي او د ورځې او پر سیاسي چارو پوه وي، اسلامي ملي شورا ته یې وټاکي.
د روحانیت محترمې ټولنې په تېره بیا مراجع عظام ته وصیت کوم، چې ځانونه د ټولنې له چارو په تېره بیا د جمهور رئیس او د ملي شورا د وکیلانو له ټاکنو ګوښه او لرې نه کړي او په دې چار کې دې بې توپیره نه پاتې کېږي. ټولو ولیدل او راتلونکي نسلونه به یې واوري، چې د ختیځ او لویدیځ د سیاستوالو لاسونو، روحانیون، چې د مشروطیت بنسټ یې په خورا زحمتونو او کړاوونو ایښی و له صحنې بهر کړل او روحانیونو هم د سیاستوالو په خبره تېروتل او د هېواد او مسلمانانو په چارو کې لاس وهل یې له خپل مقامه وتلی چار وباله او صحنه یې لویدیځپالو ته پرېښووه او پر هېواد او اسلام یې هغه کانې وکړې، چې جبرانول یې خورا اوږد مهال ته اړتیا لري.
اوس، چې بحمدالله تعالی خنډونه له لارې لرې شوي او په چارو کې د ټولو طبقو د لاس درلودو لپاره فضا ازاده ده؛ نو هېڅ عذر نه دی او د مسلمانانو له چارو ځان ګوښه کول له سترو نه ښښل کېدونکیو چارو څخه ده. هر څوک د خپلې وسې او نفوذ تر کچې لاندې دې اسلام او هېواد ته خدمت وکړي او په ټول جدیت دې د لویدیځ ښکېلاکګرانو او یا ختیځپیالو او کږلاریو ته له اسلامه د خپلو خپلوانو د لېوالتیا او تګ مخنیوی وکړي او پوه دې شي، چې د اسلام او اسلامي هېوادونو مخالفین، چې هماغه نړیوال لوټمار دي، په تدریج زموږ او نورو اسلامي هېوادونو کې سوړه کوي او د ولس پخپلو وګړیو، هېوادونه د ښکېلاک په دام ښکېلوي. باید په هوښیارۍ څارن ووسئ او د سوړه ایستونکي د لومړي ګام په احساسولو یې مقابله وکړئ او مهلت ور نه کړئ. خدای مو مل او ساتونکی شه.
له اوسنیو او راتلونکي د اسلامي ملي شورا له وکیلانو غواړم، چې که خدای مه کړه کږلاریو عناصرو په دسیسو او سیاستبازۍ پر خلکو خپل وکالت وروتاپه؛ نو ملي شورا دې یې اعتبارنامه رد کړئ او پرې دې نهږدي، چې ان یو خرابکار وابسته عنصر هم ملي شورا ته راننوځي.
او رسمي مذهبي اقلیتونو ته وصیت کوم، چې له پهلوي پېره عبرت واخلي، چې خپل وکیلان دې خپل مذهب او جمهوري اسلامي ته ژمن او جهانخوارو ابرقدرتونو ته غیر وابسته، چې الحادي، انحرافي او التقاطي ښوونځیو ته لېوالتیا و نه لري، وټاکي او ملي شورا ته دې یې ولېږي.

او د ملي شورا له ټولو غړيو غواړم، چې د زړه له کومې په حسن نيت او ورورولۍ له خپلو همکارانو سره وچلېږي او ټول دې هڅه وکړي، چې خدای مه کړه قوانين دې له اسلامه کاږه نه وي او ټول دې اسلام او اسماني احکامو ته ژمن او پټمن ووسي تر څو دنيوي او اخروي نېکمرغيو ته ورسي.
او د نګهبان له محترمې شورا غواړم او ورته سپارښتنه کوم، څه په اوسني نسل کې او څه په راتلونکي نسل کې، چې په بشپړه ځيرنه او ځواک دې پخپلو اسلامي او ملي دندو عمل وکړي او د هېڅ ځواک تر اغېز لاندې دې نه راځي او د اسلام له شرعې او له اساسي قانون سره له مخالفو قوانينو مخنيوی دې وکړي او د هېواد د ضروراتو په ملاحظې کله بايد ثانويه احکامو او کله هم بايد ولايت فقيه ته مراجعه وشي.
او خپل شريف ولس ته مې وصيت دادی، چې په ټولو ټاکنو کې څه د جمهور رئيس ټاکنې، څه د ملي شورا، څه د مشرتابه مقام د ټاکلو لپاره د خبرګانو شورا په ټاکنو کې برخه واخلي، تل دې په صحنه کې وي او کوم وګړي، چې ټاکي د هغو ضوابطو پر بنسټ دې وي، چې اعتبار پرې کېږي؛ مثلا د رهبر د ټاکلو لپاره د خبرګانو شورا په ټاکنو کې پام وکړئ، که ناغېږي وکړي او خبرګان د شرعيه موازينو او قانون له مخې و نه ټاکئ؛ نو اسلام او هېواد به نه جبرانېدونکي تاوانونه وکړي، چې په دې بڼه کې به ټول د متعال خدای پر وړاندې مسوول او غاړه به مو بنده وي.
او داسې ولس، د تقليد د مراجع، ستر علماء، بازاريان، بزګران، کارګران او کارمندان ټول د هېواد او اسلام په برخليک کې مسوول دي؛ څه په اوسني نسل کې او څه په راتلونکي نسل کې.
په ډېرې ځايونو کې په مسامحه کې عدم حضور تر ټولو کبيره ګناه ده؛ نو د پېښې علاج يې بايد تر پېښېدو مخکې وشي؛ ګنې نو له ټولو به ورخ اوبو وړې وي او دا هغه حقيقت دی، چې تر مشروطه روسته مو لمس کړ، چې تردې بل ستر او لوړ علاج نشته، چې ولس په ټول هېواد کې ورته ورسپارل شوې دندې د اسلامي ضوابطو او اساسي قانون له مخې ترسره کړي او د جمهور رئيس او د ملي شورا د غړيو په ټاکنه کې له ژمنې تحصيل کړې روښاونفکرې طبقې سره، چې له استثمارګرو قدرتونو سره يې اړيکه نه وي او په تقوا او اسلام او جمهوري اسلامي ته ژمنتيا مشهور وي، مشوره وکړي. له علماوو او متقي او له جمهوري اسلامي سره ژمن ملايانو سره مشوره وکړي او پام دې يې وي، چې جمهور رئيس او د ملي شورا غړي دې له هغې طبقې څخه وي، چې د ټولنو د بېوزليو او مستضعفانو بېوزلي يې لمس کړې وي او د

هغوی د هوساینې په فکر کې وي؛ نه له پانګوالو، زمینخوارانو، شتمنو، مرفه او مزوچړچو کې له ډوبو خلکو، چې د بې برخې، لوږې او بېوزلۍ پر تراخو نه پوهېږي.
او باید پوه شو، چې جمهور رئیس او د ملي شورا وکیلان وړ او اسلام ته ژمن او پر خپل هېواد زړه سواندي وي؛ نو ډېرې ستونزې به راپېښې نشي او که کومې ستونزې هم وي؛ نو هغه به له منځه ولاړې شي او همدا معنی باید د رهبر او مشرتابه د ټاکنې لپاره د خبرګانو د شورا په هکله هم په ځانګړې توګه په پام کې ونیول شي، چې خبرګان، چې د ولس په ټاکنه ټاکل کېږي که په ځېرنه او د هماغه وخت له مراجع تقلیدو او د ټول هېواد له علماوو سره په سلامشوره وټاکل شي او متدینین، ژمن پوهان د خبرګانو مجلس ته لار ومومي؛ نو ډېرې ستونزې به د رهبر او رهبري شورا ته ددې وړ او ژمنو شخصیتونو په ټاکنه راپېښې نشي او یا به یې په وړتیا له منځه ولاړې شي او د اساسي قانون د یوسل نهمې او یوسل اوولسمې مادې له مخې د خبرګانو او وکیلانو او د رهبر یا رهبري شورا په ټاکنه کې د ولس درنه دنده ځرګندېږي او په دې ټاکنو کې مسامحه به خورا تاوان اسلام، هېواد او جمهوري اسلامي ته ولري، چې احتمال یې خورا ارزښتمن دی او ورته الهي دنده رامنځ ته کوي.
او په دې پېر کې، چې په جمهوري اسلامي او په حقیقت کې د ابرقدرتونو او په هغوی پورې په دننه او بهر کې د تړلیو د یرغل وخت دی، رهبر او رهبري شورا ته مې وصیت دی، چې خپل وخت اسلام، جمهوري اسلامي او بېوزلیو او مستضعفانو ته په خدمت کې تېر کړي او ګومان دې نه کوي، چې پخپله رهبري ورته یوه ډالۍ او ستر مقام دی؛ بلکې ورته یوه درنه او خطرناکه دنده ده، چې که د ځاني غوښتنو له مخې پکې تېروتنه وشي؛ نو په دې نړۍ کې به ورته همېشنی ننګ او په هغه دنیا کې به ورته اور او د خدای غوسه وي.
او له منان او هادي خدایه غواړم، چې موږ او تاسې له دې خطرناکې ازمېښتې سپین مخي راوباسي او دا خطر لږ څه خفیف اوسني او راتلونکیو جمهور رئیسانو، دولتونو، چارواکیو ته یې د مقام او درجې له مخې هم متوجې دی، چې باید متعال خدای حاضر و ناظر او ځان یې په محضر کې وګڼي او خدای دې ورته لارښوونه وکړي.
ح ـ او یو له مهمو چارو څنې د قضاوت چار دی، چې د وګړیو له ځان، مال او ناموس سره سروکار لري او رهبر او رهبري شورا ته مې وصیت دادی، چې د قضایي چارو لپاره د لوړپوړي چاروکي په ټاکنه کې دې کوښښ وکړي، چې په شرعي، اسلامي او سیاسي چارو ژمن، مخینه لرونکي او د نظر خاوندان وټاکي.

او د قضاوت له عالي شورا هم غواړم، چې د قضاوت د چارو وضع په پخواني رژیم کې خواشینوونکې وه، ورته جدي پام او سم یې کړي او د هغو وګړیو لاس له دې ارزښتمنې کرسۍ لنډ کړي، چې د وګړیو پر ځان و مال لوبې کړي او اسلامي عدالت ورته مطرح نه وي او په پوره جدیت او کوښښ په ستره محکمه کې بدلون راولي او قضاوت خپل شرایط لري، چې ان شاء الله که د دیني مدرسو په تېره بیا د قم علمیه مدرسې په خورا جدیت وروزل شي او معرفي شي او د هغو قضاتو پر ځای وټاکل او وګومارل شي، چې په اسلام کې ټاکلي شرایط نه لري، چې ان شاء الله ډېر ژر به په ټول هېواد کې اسلامي قضاوت پلی شي.

او په اوسني او راتلونکي وخت کې محترم قضات ته وصیت کوم، چې د هغو احادیثو په رڼا کې، چې له معصومینو ـ صلوات‌الله علیهم ـ نه د قضا د اهمیت او د هغه خطرونو په اړه، چې قضاوت یې لري او دې خبرې ته یې پام وي، چې په ناحقه قضاوت ونشي، دا مهم چار ترسره کړي او پرې نهږدي، چې دا مقام ناوړه وګړیو ته وسپارل شي او څوک یې چې وړ دي، ددې چارو له سمبالونې دې سرغړونه نه کوي او ناوړه وګړیو ته میدان خالي نه پرې ږدي او پوه دې شي؛ لکه څنګه چې ددې مقام خطر ستر دی؛ اجر، فضل او ثواب یې هم ستر دی او پوهېږئ، چې د قضا د چارو سمبالول یې وړ وګړي ته کفایي فرض دی.

ط- او زما وصیت سپېڅلیو دیني مدرسو ته دادی، چې څو ځل مې هم ورته اشاره کړې ده، چې په دې پېر کې، چې د اسلام مخالفینو د اسلام او جمهوري اسلامي د راپرځولو لپاره ملا تړلې ده او له هرې شونې لارې دې شیطاني مقصد ته رسېدو لپاره کوښښ کوي او هغوی شومو مقصدو ته د رسېدو لپاره یوه مهمه او اسلام ته خطرناکه لار په دیني مدرسو کې د کږلاریو او تبهکارو وګړیو وردننه کول دي، چې په لنډمهاله موده کې یې په ناوړه کړنو او ناوړه اخلاقو دیني مدرسې بدنامې کړي او په اوږد مهال کې یې ستر خطر دادی، چې سترو مقامونو ته ورسي تر څو شیطان صفته وګړي د اسلامي علومو په پوهاوي ځان اسلام ته د لېواله خلکو په زړونو کې ورځای کړي تر څو پردې کړنو پر اسلام، دیني مدرسو او هېواد باندې خطرناک ګوزارونه وکړي.

او پوهېږو، چې ستر قدرتونه په ټولنو کې به بېلابېلو بڼو؛ لکه ملیګرایان، مصنوعي روښانفکران او مصنوعي ملایان زېرمه لري، چې که وخت په ګوتو ورغی؛ نو تر ټولو خطرناک او ورانکاري دي، چې کله د دېرش-څلوېښت کالو لپاره په اسلامي کړلار او په مصنوعي سپېڅلتیا یا "پان ایرانیسم"، هېوادپالي او نورو چلولونو په صبر او پراخه سینه ژوند کوي او په مناسب وخت کې خپلې دندې او ماموریتونه سر ته رسوي او زموږ ګران ولس په

دې لنډه موده کې د انقلاب تر بري روسته یې ښېلګې لیدلي؛ لکه "مجاهد خلق"، "فدایي خلق" او "توده ای" او داسې نور نومونه او پکار ده، چې ټول په خورا هوښیارتوب دا ډول دسیسي شنډې کړو او تر ټولو مهمه یې دیني مدرسې دي، چې سمونه او سمبالونه یې د مخینه لرونکي فاضلو ګرانو استادانو پر غاړه ده، چې د تقلید د مراجعو تایید ورسره وي او کېدای شي "نظم په بې نظمۍ کې دی"تز د همدې نقشه ایستونکیو له شومو القائاتو او هڅونو څخه وي.

په هر حال زما وصیت دادی، چې په ټولو پېرونو کې په تېره بیا په اوسني پېر کې، چې نقشو او دسیسو خورا زور اخستی دی؛ نو د دیني مدرسو د سمونې او سمبالنې لپاره پاڅون پکار دی او ددې چار لپاره دې علماء او مدرسین وخت وباسي او پخپلو دقیقو او سمو کړلارو دې دیني مدرسې په تېره بیا د قم دیني مدرسه او د هېواد نورې سترې مدرسې له دې ستر خطره وژغوري.

او په کار ده، چې علماء او ګران مدرسین په هغو زده کړو کې، چې په فقهاهت پورې اړوند دي او فقهي او اصولي مدرسې، چې معظمو مشایخو له لیارې، چې د اسلامي فقهې د پاتېینې یوازېنی لار ده، کاږه نشي او کوښښ وکړي، چې هره ورځ دې خپلې څېړنې، بحثونه، نظرونه، ابتکارونه او څېړنې زیاتې کړي او سنتي فقه، چې د سلف صالح میراث دی، چې کږلارې ترې د تحقیق او تدقیق د ارکانو سستېدل دي، محفوظ پاتې شي او هره ورځ په څېړنو پسې څېړنې وشي او البته د نورو علومو په مسلکونو کې هم باید د هېواد او اسلام د اړتیاوو له مخې دې پروګرامونه جوړ شي او په دې مسلکونو کې به هم مسلکي وګړي وروزل شي او تر ټولو مهم او لوړ چار، چې باید پکې ښوونه، روزنه او زده کړه وشي، اسلامي معنوي علوم دي؛ لکه د اخلاقو علم، د نفس تهذیب، سیر و سلوک الی الله ـ رزقنا الله و ایاکم ـ، چې اکبر جهاد دی.

ی - له هغو چارو څخه، چې سمونه او تصفیه یې پکار ده، اجراییه قوه ده. کله شونې ده، چې ټولنې ته ګټور او مترقي قوانین له ملي شورا تېر او شورای نګهبان یې تنفیذ کړي او مسوول وزیر ته هم وسپارل شي؛ خو که همدا قانون ناصالح پلي کوونکي ته ورسېدل؛ نو مسخوي یې او د هغه مقرراتو پر خلاف، په کاغذبازیو، بوروکراسیو، چې پرې روږد شوي دي یا په لوی لاس خلک کړوي او زوروي، چې ورو ورو ترې بلوا جوړه شي.

په دې او راتلونکي پېر کې مې وزیرانو ته وصیت دی، چې سربېره پردې دې، چې تاسې او د وزارتونو کارکوونکي له هغه بودجې نه چې ارتزاق کوئ، د ولس شتمني ده؛ نو ټول باید د

ولس او په تېره بیا د مستضعفانو خادمان ووسئ او ولس ته ستونزې راولاړول او د خپلې دندې پر خلاف عمل کول حرام او خدای مه کړه کله د الهي قهر لاملېږي، تاسې ټول د ولس ملاتړ ته اړمن یاست او د ولس او په تېره بیا د بې برخې طبقو په ملاتړ وو، چې برى لاس ته راغی او د ظالم شاهي نظام لاسونه له هېواد او زړمو یې لنډ شو او که له همدې ملاتړه بې برخې شئ؛ نو شاته به کړای شئ او د ظالم شاهي نظام په څېر به مو ظالم او تېري کوونکي وګڼي ځایونه ونیسي؛ نو باید په خپل خدمت د ولس پام ځان ته راواړوئ او له غیر اسلامي-انساني کړنو ډډه وکړئ.
او په همدې انګېزه د تاریخ په ترځ کې د هېواد راتلونکیو وزیرانو ته سپارښتنه کوم، چې د والیانو په ټاکنه کې پام او خورا ځیرنه وکاروئ او وړ، متدین، ژمن، عاقل او له خلکو سره همغږي وګڼي وټاکئ تر څو هره ورځ په هېواد کې هوساینه ډېره شي او باید پوه شئ، چې که څه ټول وزیران د چارو په اسلامي کولو کې مسوولیت لري؛ څو ځینې یې ځانګړې ځانګړنې لري؛ لکه د بهرنیو چارو وزارت، چې له هېواده بهر د سفارتونو مسوولیت یې پر غاړه دی. ما د بري له هماغه پیله د بهرنیو چارو وزیرانو ته په سفارتونو کې د بدلون او پر اسلامي کولو یې سپارښتنې کړي دي؛ خو په هغوی کې یا ځینو و نه غوښتل او یا یې و نه شو کولای، چې په دې چار کې مثبت کوټلې ګامونه پورته کړي او اوس، چې د انقلاب له بري درې کاله تېرېږي، که څه اوسني د بهرنیو چارو وزیر ددې چار لپاره یو لړ ګامونه اوچت کړي دي او هیلمن یم، چې په کوټلیو ګامونو او دې چار ته په وخت ورکولو سره دا مهم چار ترسره کړي.
او په دې او راتلونکي وخت کې مې د بهرنیو چارو وزیرانو ته سپارښتنه داده، چې ستاسې دندې او مسوولیت خورا ډېر دی؛ څه د وزارتونو او سفارتونو په سمونه او بدلون کې او څه په بهرني سیاست کې د خپلواکۍ په ساتنه، ملي ګټو او له هغو هېوادونو سره د حسنه اړیکو کې، چې زموږ په هېواد کې د لاسوهنې په تکل کې نه وي او له ټولو هغو چارو دې په پرېکنده توګه ډډه وکړي، چې په هر اړخ کې مو نورو ته وابسته کوي او باید پوه شي، چې په ځینو چارو کې وابستګي شونې ده، چې تېرایستونکي ظاهر ولري او یا په اوسني وخت کې ګټور وي؛ خو په پایله کې د هېواد جرړه له بېخه راوباسي او کوښښ وکړئ، چې له اسلامي هېوادونو سره اړیکې ښه کړئ او چارواکي یې راویښ او وحدت ته یې راوبلئ، چې خدای له تاسې سره دی.

او زما وصیت د اسلامي هېوادونو ولسونو ته دادی، چې په تمه نشئ، چې له بهره به له تاسې سره څوک اسلامي موخو او د اسلامي احکامو په پلي کولو کې مرسته وکړي؛ تاسې پخپله باید دې حیاتي چار ته لېچې راونغاړئ، چې ازادي او خپلواکي مو پکې ده.
او د اسلامي هېوادونو علماوو، خطیبانو او ویناوالو ته بلنه ورکړئ، چې ځانونه له بهرني هېوادونو سره له اړیکې راخلاص کړي او له خپل ملت سره تفاهم وکړي؛ نو په دې ترڅ کې به وي، چې برى به مو په غېږ کې وي او همداراز ولسونه وحدت ته راوبلئ او له توکمپالى او نژادپرستى ډډه وکړئ، چې د اسلام د احکامو پر خلاف چار دی او خپلو ایماني ورونو ته چې په هره سیمه، هر هېواد او د هر توکم وي د وروروله لاس ورکړي؛ څکه ستر اسلام ورته ورونه ویلي دي او که د حکومتونو او ولسونو په همت او متعال خدای په تایید کومه ورځ دا ایماني وروروولي پلی شوه؛ نو و به گورئ، چې د نړی تر ټولو ستر ځواک به مسلمانان وي او د هغې ورځې په هیله، چې د نړی پال څښتن په غوښتنه او مرسته دا وروروولي او برابري لاس ته راشي.
او د ارشاد وزارت ته مې په ټولو پېرونو او په تېره بیا په دې پېر کې، چې ځانگړې ځانگړنې لري، وصیت دی، چې د باطل پر وړاندې د حق او د جمهوري اسلامي د حقیقي څېرې په څرگندولو او وړاندې کولو کې هلې ځلې او غورځې پرځې وکړي او په دې پېر کې مو چې د ابرقدرتونو لاسونه له خپل هېواده لنډ کړي دي؛ نو په ابرقدرتونو پورې د تړلیو ډلییزو رسنیو د ناوړه تبلیغاتو تر یرغل لاندې یو او څومره تورونه، دروغونه، چې په ابرقدرتونو پورې دې تړلیو رسنیو په دې نوي په پښو دربدلي جمهوري اسلامي راوتپل او راتپي يې. په خواشینى د سیمې ډېری اسلامي هېوادونه، چې د اسلامي حکم له مخې یې باید موږ ته د وروروله لاس راکړی وای؛ نو له موږ او اسلام سره په دښمنى یې لاس پورې کړ او ټولو د جهانخوارنو په چوپړ کې راباندې هر اړخیز یرغلونه وکړل او زموږ تبلیغاتي ځواک خورا کمزوری او بېوسه دی او پوهېږئ، چې نن نړی پر تبلیغاتو څرخي او په خورا خواشینى، لیکوالان او په اصطلاح روښانفکران، چې په یو له دې دوو قطبونو پورې تړاو لري او وابستگي لري، ددې پر ځای، چې د خپل هېواد او ولس د خپلواکى او ازادى په فکر کې شي؛ ځانمني، فرصت طلبي، ځاني غوښتنې او انحصار غواړي یې مجال نه ورکوي، چې یوه شېبه تفکر وکړي او د خپل هېواد گټې او مصالح په پام کې ونیسي او په دې جمهوري او پخواني رژیم کې ازادي او خپلواکي سره پرتله کړي او پتمن ارزښتمن ژوند، چې هغه څه یې پر وړاندې له لاسه ورکړي، چې هوساینه او عیشزدگي ده، له هغه سره، چې ظالم شانهشاهین نظام به یې پر

وړاندې لاس ته راوړل او هغه نوکري، چاپلوسي او ظلم او فساد سره يې وسنجوي او پردې نوي پر پښتو دربدلي جمهوري باندې له ناروا تورونو لاس واخلي او له ولس او دولت سره دې په واحده ليکه کې له خپلي ژبې او قلمه د طاغوتيانو او ظالمانو پر خلاف کار واخلي.
او د تبليغ چار يوازې د ارشاد د وزارت دنده نه ده؛ بلکې د ټولو پوهانو، ويناوالو، ليکوالانو او هنرمندانو دنده ده. د بهرنيو چارو وزارت دې هڅه وکړي، چې تبليغي نشريات ولري او د اسلام روښانه څېره نړيوالو ته څرګنده کړي او که دا څېره له هغه جميل جمال سره، چې قرآن او سنتو په ټولو اړخونو کې ورته بلنه کړې ده، د اسلام د مخالفانو او دوستانو له کرېپوهونو له نقابه رابهر شي؛ نو اسلام به په ټوله نړۍ کې خپور شي او وياړمن بېرغ به يې په هر ځای کې اوچت شي. ځومره خواشيني او له غمه ډکه خبره ده، چې مسلمانان داسې متاع لري، چې له صدر عالمه تر نهايته پورې ساری نه لري؛ خو و نه يې شو کولای، چې دا ګرانبيه او ارزښتمن ګوهر، چې هر انسان يې په خپل ازاد فطرت غوښتونکی دی، نړيوالو ته يې وړاندې کړي؛ بلکې په خپله هم ترې غافل، جاهل او کله ترې تېښته هم کوي!
او زما وصيت ليکوالانو، ويناوالو، روښانفکرانو، بې ځايه نيوکه کوونکيو او عقده ای وګړيو ته دادی، چې ددې پر ځای، چې خپل وخت د جمهوري اسلامي د بهير پر خلاف کې تېر کړئ او ځومره مو چې وسه وي د ملي شورا، دولت او نورو خادمانو ته يې بدبينيي، بدکڅۍ او بدغواړۍ کې تېر کړئ او په خپل دې عمل مو هېواد د ابرقدرتونو پر لور روانوئ؛ له خپل خدای سره يوه شپه خلوت وکړئ او که پر خدای ګروهمن نه ياست يا عقيده پرې نه لرئ؛ نو له خپل وجدان سره خلوت وکړئ او خپله باطني انګېزه، چې ډېری داسې کېږي، چې په خپله انسانان ترې بې خبره وي، وڅېړئ او ارزونه يې وکړئ، وګورئ، چې په کومه کچه او معيار او په کوم انصاف په ښارونو او جبهو کې ددې قلم قلم شويو ځوانانو وينه ناليدي ګڼئ او له هغه ملت سره، چې غواړي د کورنيو او بهرنيو ظالمانو او لوټمارانو له ولکې ځان بهر کړي او خپلوکي او ازادي يې په خپل ځان او په ګرانو زامنو لاس ته راوړې ده او غواړي په سرښندنه يې وساتي، ورسره مو د اعصابو جګړه پيل کړې ده او اختلافاتو او خاينانه فتنو ته لمنه وهئ او کبرجنو او ظالمانو ته لار پرانځئ. ايا غوره به نه وي، چې په خپل فکر، قلم او وينا مو دولت، ملي شورا او ولس ته د هېواد د ساتنې لپاره لارښوونه وکړئ؟ آيا غوره به نه وي، چې له دې بېوزله او محروم ولس سره مرسته وکړئ او په خپله مرسته مو د اسلامي حکومت په استقرار او پياوړي کېدو کې مرسته وکړئ؟ آيا دا ملي شورا، جمهور رئيس، دولت، قضايي قوه تر هغه څه بده ګڼئ، چې په پخواني رژيم کې وو؟ ايا هغه ظلمونه مو له

یاده ایستلي، چې پخواني رژیم به پر دې مظلوم ولس روا ګڼل؟ ایا نه پوهېږئ، چې دا اسلامي هېواد هغه مهال د امریکا لپاره یوه پوځي هډه وه او په دې کړنه یې مستعمره کوله او ملي شورا، دولت او پوځي ځواکونه یې په واک کې وو او د هغو مستشارانو، صنعتګرانو او متخصصانو به ددې ولس پر زېرمو څه کول؟ ایا په ټول هېواد کې مو د فحشا خپرول او د فساد مراکز؛ لکه د مزوچړچو ځایونه، جواري، میخانې، د الکلي مشروبات پلورنځي، سینماګانې او نور مراکز، چې هر یو د ځوان نسل د تباه کولو لپاره لاملونه وو، له یاده وتلي دي؟ ایا د هغه رژیم له فساد ډکې ډله اییزې رسۍ، مجلې او ورځپاڼې مو هېرې کړې دي؟ او اوس، چې د فساد بازارونه نه لیدل کېږي او اوس څو محکمو یا څو ځوانانو، چې شونې ده، چې ډېری یې له کرلاریو ډلو نه راننوتي وو او د اسلام او جمهوري اسلامي د بدنامولو لپاره یې انحرافي او کږلارې چارې کولې او د یو لړ مفسد فی الارض، چې د اسلام او جمهوري اسلامي پر خلاف پاڅون کوي، وژلو مو چغې راپورته کړي دي او هغوی چې په ډاګه اسلام محکوموي او پر خلاف یې یا وسلوال او یا ترهغه بتر او خطرناک په قلم پاڅون کوي؛ نو تاسې ورسره اړیکې ټینګوئ او د ورورۍ لاس ورکوئ او د چا وینه، چې خدای حلاله ګڼلې؛ نو هغوی مو د سترګتو تور شوي دي او د څوارلسم د اسفند د ناورین رامنځ ته کوونکیو ننداره ته ناست یاست؛ نو آیا دا اسلامي او اخلاقي کړنه ده؟ او د دولت او قضایي قوې کړنو مو چغې راپورته کړې او انصاف غواړئ، چې معاندین، منحرفین او ملحدینو ته د خپلو کړنو سزا ورکوي؟ زه تاسې ورورنه ته چې تر څه بریده مو له مخینو خبر یم او له ځینو سره مو مینه هم لرم، خورا درته خواشینی یم؛ نه داچې د خیرخواهۍ په جامه کې اشرار، د شپونې په جامه کې لېوان او هغه لوبغاړي وو، چې پر ټولو یې ملنډې ووهلې او د هېواد او ولس د تباه کولو په تکل کې او یو له دوو قطبونو ته د خدمت په تکل کې وو-هغوی چې په خپلو چټلو لاسونو زموږ د ټولنې ارزښتمن انسانان، علماء او د ټولنې ښوونکي شهیدان کړل، د مسلمانانو په مظلومو ماشومانو یې رحم و نه کړ، دوی د ستنېدو لار نه لري؛ ځکه د اماره نفس شیطان پر ې واکمني کوي.

خو تاسې مؤمن ورونه له دولت او ملي شورا سره، چې کوښښ کوي بې برخیو، مظلومانو، وږیو او بربنډو ته چې د ژوند له هر نعمته بې برخي دي خدمت وکړي؛ تاسې یې ولې مرسته نه کوئ او شکایتونه کوئ؟

ایا په دې لنډه موده کې ددې دولت او جمهوري بنسټونو خدمت له دې ټولو ستونزو، ګډوډیو، چې په هر انقلاب پسې راځي او راتپل شوې جګړه له دې دومره تاوانونو سره او په

میلیونو کورني او بهرني کډوال او د بهرنیو په لار کې خنډ اچونې، د پخواني رژیم د رغاونې له چارو سره پرتله کوئ؟ ایا نه پوهېږئ، چې هغه مهال د رغاونې چارې یوازې په ښارونو هغه هم په مرفه سیمو پورې ځانګړې وې او بېوزلیو او بې برخو وګړي ترې لرې یا بېخي برخمن نه وو او اوسنی دولت او اسلامي بنسټونه ددې بې برخې طبقې لپاره په خپل ټول ځواک خدمت کوي؟ تاسې مؤمنان هم د دولت ملاتړي شئ، چې چارې په ځغاسته پر مخ ولاړې شي.

س -یو له هغو چارو، چې یادونه او سپارښته یې پکار ګڼم دادی، چې اسلام نه ظالمانه، بېحسابه او د مظلومو وګړیو د بې برخې کوونکې پانګوالۍ سره موافق دی؛ بلکې په ډاګه یې په کتاب او سنتو کې غندلی دی او د ټولنیز عدالت مخالف یې ګڼي- که څه ځینې کوږپوهان او د اسلام له حکومتي او سیاسي چارو بې خبره په خپلو ویناوو او لیکنو کې داسې ښیي (او بیا یې هم ترې لاس نه دی اخستی)، چې اسلام د بې بریده پانګوالۍ او مالیکت پلوی دی او په دې کړنلار یې چې په خپل کږپوهنه له اسلامه برداشت کړی دی، د اسلام نوراني څېره یې پوښلې ده او مغرضانو او د اسلام دښمنانو ته یې لار پرانستې ده، چې پر اسلام ګوزارونه وکړي او اسلام د لویدیځ د پانګوالۍ؛ لکه د امریکا، انګلستان او نورو لوټمارانو په څېر رژیم ګڼي او ددې ناپوهانو په کړنو او ویناوو پر تکیه یې یا په لوی لاس او یا هم د کم عقلۍ له مخې بې له دې، چې د اسلامي واقعي اسلامپوهانو ته مراجعه وکړي، معارضې ته راپاڅېدلي دي- او نه د کمونزم، مارکسزم او لننزم په څېر رژیمونه، چې له وګړیز مالکیت سره مخالف او پر اشتراک قایل دي، له هغه زیات اختلاف سره، چې له پخوا سره یې اوسنۍ وخت په ښځه او هجنسبازۍ کې اشتراک لري او یوه دیکتاتوري او ځپونکې استبداد یې و.

بلکې اسلام یو معتدل رژیم دی، چې په محدوده توګه مالکیت پېژني او درناوی یې کوي، که په رښتیا عمل پرې وشي؛ نو روغ اقتصادي څرخونه او ټولنیز عدالت، چې د یو روغ رژیم لازمه ده به پلي شي. دلته هم یوه ډله له خپلو کوږ پوهیو او د اسلام له روغ اقتصاده په بې خبرۍ، د هغې لومړۍ ډلې پروړاندې شوي دي او د قرآن او نهج البلاغې پر ځینو ویناوو په استناد یې اسلام د کږلاریو ښوونځیو؛ لکه مارکس او ورته ښوونځیو موافق معرفي کړی دی او د قرآن کریم او نهج البلاغې نورو ویناوو ته یې پام نه دی کړی او په خپل سر او لږه پوهه راپاڅېدلي او "اشتراکي مذهب" تعقیبوي او له هغه ګونده ملاتړ کوي، چې کفر، دیکتاتوري

او اختناق پکې دی او انساني ارزښتونه ناليدي ګڼي او له انسانانو سره د څاروي په څېر چلن کوي.

او ملي شورا، شورای نګهبان، دولت، جمهور رئيس او قضايي شورا ته مې وصيت دی، چې د الهي احکامو پر وړاندې خاضع او خاکسار ووسئ او د پانګوالۍ، لوټمار او ظالم قطب او ملحد اشتراکي او کمونستي قطب د بې محتوا تبليغاتو تر اغېز لاندې رانشي او په اسلامي حدودو کې مالکيت او پانګوالۍ ته دې درناوی وکړي او ولس ته ډاډ ورکړئ، چې رغونکې پانګوالي او فعاليتونه به پيل شي او هېواد به په سپکو او درنو صنايعو کې خودکفايۍ ته ورسوئ.

او مشروعو شتمنو او پيسه دارانو ته وصيت کوم، چې خپله عادلانه شتمنۍ دې په کار واچوي او په پټيو، کليو او کارخانو کې دې پر رغنده چارو لاس پورې کړئ، چې په خپله دا يو ارزښتمن عبادت دی.

او ټولو هغو ته چې د بې برخو طبقو د رفاه لپاره کوښښ کوي، وصيت کوم، چې د دنيا او اخرت ښېګڼه مو د ټولنې بې برخو ته په خدمت کې ده، چې د تاريخ په ترڅ د ظالم شاهنشاهي او خانخاني نظام له امله په کړاو او زحمت کې وو او څومره به ښه وي، چې شتمني وګړي په داوطلبه بڼه کېږدۍ مېشتو ته کورنه چمتو کړي او ډاډمن دې ووسي، چې د دنيا او اخرت ښېګڼه يې پکې ده او له انصافه لرې ده، چې يوه بې کوره او بل خورا اپارتمانونه ولري.

ع –او زما وصيت روحانيونو او مصنوعي روحانيونو ته چې په بېلابېلو انګېزو له جمهوري اسلامي او نهادونو سره يې مخالفت کوي او خپل وخت يې پر راپرځولو او سقوط تېروي او له مخالفانو، دسيسه ګرانو او سياسي لوبغاړيو سره مرسته کوي او کله لکه څنګه چې خبر شوی يم کله له خدايه د بې خبرو شتمنو نه دې مقصد ته د رسېدو لپاره غټې غټې پيسې هم اخلي: که د دنيا لپاره مو دا عمل کړی وي- او خدای به پرې نه ږدي، چې تاسې دې شوم مقصد ته ورسئ-نو تر څو چې لار خلاصه ده؛ نو له خدايه ښښنه وغواړئ او له مظلوم ولس سره همغږي شئ او له جمهوري اسلامي، چې د ولس په سرښندونو لاس ته راغلی دی، ملاتړ وکړئ، چې د دنيا او اخرت خير مو پکې دی، که څه ګومان نه کوم، چې په توبه کولو به بريالي شئ.

او هغو وګړيو او ډلو ته مې وصيت، چې د ځينو تېروتنو څه په لوی لاس او څه په تېروتنه کې تېروتي دي او له اسلامي احکامو سره مخالف وو او د جمهوري اسلامي او حکومت له اصل

سره يې مخالف وو او د خدای لپاره يې ددې نظام د سقوط او راپرځولو لپاره هلې ځلې کولې او په خپل تصور يې، چې دا جمهوري د سلطنتي رژيم په څېر او يا ورته دی؛ نو په رښتين نيت دې په خلوت کې تفکر وکړي او د انصاف له مخې دې يې له پخواني رژيم سره پرتله کړي او بيا دې پام وکړي، د نړۍ په انقلابونو کې گډوډي او پر غلطه تلنه او فرصت طلبياني غير قابل اجتناب دي او که تاسې پام وکړئ او ددې جمهوري ستونزې په پام کې ونيسئ- لکه دروغجن تبليغات، دسيسې، په دننه او له بهره وسلوال يرغلونه او له اسلام او دولته د ولس د خپه کولو په موخه د دولت په ټولو ارگانونو کې دمفسدانو او د اسلام د مخالفانو نفوذ او د ډېرى چارواکيو د تجربې نه درلودل او د هغه وگړيو دروغجنې ډنډورې، چې له سترو غيرمشروعو گټيو يې لاسونه لنډ شوي دي او يا يې گټه لږه شوې ده او د شرع د قضات خور اکموالی او ملاماتوونکې اقتصادي ستونزې او د څو ميليوني چارواکيو په تصفيه او تهذيب کې ستر خنډونه او ستونزې يې او د صالحو کارپوهانو او متخصصينو وگړيو کمبود او لسگونه نورې داسې ستونزې، چې تر څو انسان پخپله ورته رانږدې نه وي؛ نو ترې نه خبرېږي –بلخوا د سترو شتمنيو غرضمند سلطنت غواړي وگړي، چې په سود او پر ځمکو د لاندې کولو له لارې يې په قاچاق او احتکار د ټولنې غريب او بېوزلي د هلاکت تر بريده تر دباو لاندې نيولي دي او ټولنه فاسدوي؛ نو تاسې ته شکايت او تېرايستو ته مو راغلي دي او کله هم د اعتماد راجلبولو لپاره او ځان د مخلص مسلمان په نامه ښوولو لپاره په پيسو کې برخه درکوي او دروغجنې اوښکې تويوي، غوسه کوي مو او مخالفت ته مو اړباسي، چې همدوی په نامشروعو گټود خلکو وينې څښې او د هېواد د اقتصاد ملا يې ماته کړې ده.

زه د ورورولۍ له مخې متواضعانه نصيحت کوم، چې ښاغلي دې د داسې ډنډورو تر اغېز لاندې نه راځي او د خدای او د اسلام د خوندي ساتلو لپاره دا جمهوري پياوړې کړئ او بايد پوه دې شي که دې جمهوري اسلامي ماتې وخوړه؛ نو پر ځای به يې د بقية الله ـ روحی فداه ـ د خوښې او ستاسې د خوښې او حکومت رانشي؛ بلکې د نړۍ د دوو قطبونو څنې د يو قطب په خوښه به حکومت راځي او د نړۍ بې برخې، چې اسلام او اسلامي حکومت ته يې مخه کړې او زړه يې پرې تړلی دی، به نهيلي شي او اسلام به د تل لپاره گوښه کړای شي او تاسې به هم يو وخت پر خپلو کړنو پښېمانه شئ او هغه مهال به بيا پښېماني څه گټه نه لري او تاسې تمه لرئ، چې ټولې چارې به په يوه شپه کې د خدای او اسلامي احکامو له مخې شي؛ نو دا مو تېروتنه ده او د بشر په ټول تاريخ کې داسې کومه معجزه نه ده شوې او نه به وشي او پر هغه ورځ، چې ان شاء الله تعالی د ټولو مصلح راښکاره شي؛ نو گومان مه کوئ، چې يوه

معجزه به وشي او په يوه ورځ کې به ټوله نړۍ اصلاح شي؛ بلکې په کوښښونو، غورځو پرځو او سرښندونو به ظالمان گوښه او وځپل شي او که ستاسې نظر د ځينو کږلاريو عاميانو په څېر وي، چې د امام مهدي د ظهور لپاره به د کفر او ظلم لپاره هڅه وشي تر څو ټوله نړۍ ونيسي، چې د امام مهدي در راښکاره کېدو سريزې چمتو شي؛ فانّا لله و انّا اليه راجعون.
او د نړۍ ټولو مسلمانانو او مستضعفانو ته مې وصيت دادی، چې تاسې بايد په تمه کېنئ او انتظار وباسئ، چې د هېواد چارواکي يا بهرني ځواکونه به راشي او خپلواکي او ازادي به درډالۍ کړي او موږ او تاسې لږ تر لږه په دې ورستيو سلو کلونو کې وليدل، چې په تدريج د جهانخوارو ابرقدرتونو پښه اسلامي هېوادونو او نورو وړو هېوادونو ته رااوږده شوې ده يا سمو تاريخونو راته ويلي دي، چې ددې هېوادونو يو چارواکی او دولت هم د خپلو ولسونو د هوساينې، ازادۍ او خپلواکۍ په فکر کې نه وو او نه دي؛ بلکې ډېری يې پر خپلو ولسونو پر تېري او زندۍ کولو بوخت دي او څه يې چې کړي دي، د خپلو او گوندي گټو لپاره يې کړي دي يا د مرفه او شتمنو طبقو لپاره کړي دي او بې برخې او کېږدۍ مېشتيو وگړي د ژوند له ټولو نعمتونو ان له اوبو او ډوډۍ هم بې برخې وو او له دې بدمرغيو به يې د شتمنو په گټه گټنه کوله او يا داچې د سترو قدرتونو لاسپوڅي وو او څومره يې چې په لاس کې وو خپل هېوادونه او ولسونه يې وابسته کړل او په بېلابېلو چلونه يې خپل هېوادونه د ختيځ او لويديځ د مصرف او گټو بازارونه کړل او د هغوی گټې يې خوندې کړې او خپل ولسونه يې روسته پاتې او مصرفي کړل او اوس هم په همدې نقشو روان دي.
او تاسې ای د نړۍ مستضعفانو او ای اسلامي هېوادونو او ای مسلمانانو راپاڅئ او خپل حق مو په منگولو او غاښونو واخلئ او د ابرقدرتونو او لاسپوڅو چارواکيو له تبليغاتي هياهو مه ډارېږئ او جنايتکار چارواکي، چې ستاسې د لاس گټلې ستاسې او د اسلام دښمنانو ته ورتسليموي، له خپل هېواده بهر کړئ او پخپله او ژمن خادمان دې د چارو واگې په لاس کې واخلي او ټول د اسلام تر وياړن بېرغ لاندې راټول شئ او د اسلام له دښمنانو سره وجنگېږئ او له بې برخو دفاع وکړئ او د يو اسلامي او يا ازادو جمهوريو پر لور ولاړ شئ، چې ددې چار په پلي کېدو به د نړۍ ټول کبرجن پر گونډو کړئ او د نړۍ ټول مستضعفان به مو د ځمکې مشرۍ او وارثت ته رسولي وي او د هغې ورځ په هيله او تمه، چې خدای يې ژمنه کړې ده.
ص - يو ځل بيا ددې وصيت په پای کې د ايران شريف ملت ته وصيت کوم، چې په نړۍ کې د کړاوونو، زحمتونو، بې برخيو او سرښندونو د زغملو حجم د رتبې له لوړوالي او د

مقصد له ارزښتمنې سره سمون خوري؛ د هغه څه لپاره، چې تاسې شريف او مجاهد ولس ورته راپاڅېدئ او دوام ورکوئ او ورته له سر او ماله تېرېږئ؛ نو خورا او تر ټولو لوړ او ارزښتمن مقصد دی او هغه مقصد دی او هغه مقصد دی، چې په ازل کې له صدر عالمه او تردې روسته نړۍ کې به تر ابده وړاندې شوی دی او کېږي به او هغه په پراخه معنی د الوهيت ښوونځی او په لوړو درجو د توحيد فکر دی، چې د خلقت او غايت اساس يې د وجود په پراخۍ کې په درجو او مراتبو غيب او شهود دی او هغه په ټولو معناوو او درجو په محمدي ـ صلی الله عليه و آله و سلم ـ ښوونځي کې په خپلو ټولو درجاتو او معناوو متجلی شوي دی او د ټولو انبياوو ـ عليهم سلام‌الله ـ او الهي اولياوو ـ سلام الله عليهم ـ کوښښ يې د پلي کولو لپاره و او بې له دې بهيره مطلق کمال او ناپايه جلال او جمال ته لار موندنه ناشونی چار دی. هغه دی، چې خاورينو ته پر ملکوتيانو غوراوی او شرافت ورکړی دی او هغه څه چې ترې خاورينو تر پر تلو لاس ته راځي؛ يو موجود ته هم په ټول خلقت کې په سرّ و عَلن کې لاس ته نه راځي.

ای مجاهد ولسه! تاسې تر داسې بېرغ لاندې ځئ، چې په ټوله مادي او معنوي نړۍ کې ولاړه ده، که و يې مومئ که يې و نه مومئ، چې د ټولو انبياوو ـ عليهم سلام‌الله ـ او د مطلقې نېکمرغۍ يوازېنۍ لار ده او په همدې انګېزه دي، چې ټول انبياء شهادت ته ورغاړې وتي دي او سور مرګ " احلی من العسل " ګڼي او ستاسې ځوانانو يې د جګړې په جبهو کې يو ګوټ څښلی او په وجد راغلي دي او د هغوی په ميندو، خويندو، پلرونو او ورونو کې ځرګند شوي دي او موږ بايد په حقه ووايو:" يا ليتنا کنّا معکم فنفوز فوزاً عظيماً".

او بايد پوه شو، چې ددې وړانګو يو اړخ په سوځنده پټيو، په کارخانو، کارګاهګانو، د صنعت، ابداع او اختراع په مرکزونو او په اکثريته توګه په ولس، په بازارونو، واټونو او کليو او په ټولو هغو چارواکيو کې، چې پر دې چارو د اسلام او جمهوري اسلامي، پرمختګ او د هېواد د خودکفايي لپاره بوخت دی، ځرګنده ده.

او تر څو چې د مرستې او ژمنې دا روح په ټولنه کې وي؛ نو ان شاء الله هېواد مو د دښمن له آسيبه خوندي دی او بحمدالله تعالی ديني مدرسې، پوهنتونونه او د علمي مراکزو ځوانان مو له دې غيبي الهي نفخې برخمن دي او دا مراکز يې دربس په چوپړ کې دي او د خدای په اميد د تبهکارانو او کږلاريو لاسونه ترې لنډ دي.

او ټولو ته مې وصيت دی، چې د خدای په ياد په هر اړخيز ډول د ځان پېژندنې، خودکفايۍ او خپلواکۍ پر لور ولاړ شئ او شک مه کوئ، چې خدای مو مل دی که تاسې يې په چوپړ کې شئ او د اسلامي هېواد پرمختګ ته د تعاون او مرستې روح ته دوام ورکړئ.
او زه چې په ګران ولس کې د ويښتيا، ژمنې، سرښندنې او د حق په لار کې د مقاومت او صلابت څه وينم او هيلمن يم، چې د متعال خدای په فضل به دا انساني معاني ټول ولس ته ولېږل شي او په هر نسل کې به زياتېږي.
په ارام او ډاډمن زړه او په خوشحاله او هيلمن ضمير د خدای په فضل د وروڼو او خويند له چوپړه رخصتېږم او د ابديت پر لور سفر کوم. د خير دعا ته مو اړ يم او له رحمان او رحيم خدايه غواړم، چې ولس ته په خدمت کې له لنډونه مې تېر شي.
او له ولسه هيلمن يم، چې تېروتنې، لنډون او ناغېړۍ مې وبښـي او په ځواک، اراده او هوډ پر مخ ولاړ شي او پوه دې شي، چې د يو خادم په تګ په يو اوسپنيز بند کې سوری نه کېږي، چې ستر او غوره خادمان مو په چوپړ کې دي او الله ددې ولس او د نړۍ د مظلومانو ساتونکی دی.

والسلام عليکم و علی عبادالله الصالحين و رحمةالله و برکاته
۲۶دلو ۱۳۶۱ / ۱ جمادی الاولی ۱۴۰۳
روح‌الله الموسوی الخمينی

دا وصيت دې زما تر مړينې روسته احمد خميني خلکو ته ووايي او که کوم عذر يې درلود؛ نو محترم جمهور رئيس، يا د ملي اسلامي شورا رئيس يا د هېواد د عالي ديوان مشر دې يې ووايي او که کوم عذر يې درلود؛ نو د شورای نګهبان کوم فقيه دې يې خلکو ته ووايي.

روح الله الموسوی الخمينی

## د امام خميني (ره) آثار[1]

- شرح دعای سحر
- شرح حدیث رأس الجالوت
- حاشیه امام بر شرح حدیث رأس الجالوت
- التعلیقة علی الفوائد الرضویة
- شرح حدیث جنود عقل و جهل
- مصباح الهدایة إلی الخلافة والولایة
- تعلیقات علی شرح فصوص الحکم ومصباح الانس
- شرح چهل حدیث (اربعین حدیث)
- سرالصلوة
- آداب نماز (آداب الصلوة)
- رساله لقاءالله
- حاشیه بر اسفار
- کشف‌الاسرار
- انوار الهدایة فی التعلیقة علی الکفایة (۲ جلد)
- بدایع الدرر فی قاعدة نفی الضرر
- الرسائل العشرة
- رساله الاستصحاب
- رساله فی التعادل و التراجیح رساله الاجتهاد و التقلید
- تحریر الوسیله ۲ ټوکه
- کتاب البیع - ۵ ټوکه
- ولایت فقیه یا حکومت اسلامی یا نامه‌ای از امام موسوی کاشف‌الغطاء
- کتاب الخلل فی الصلوة
- جهاد اکبر یا مبارزه با نفس
- رساله توضیح المسائل

---

[1] -دا برخه له www.wekipedi.com څخه اخستل شوې ده.

- مناسک حج «احکام مطابق با فتاوای حضرت امام خمینی»
- تفسیر سوره حمد
- استفتائات ۳ جلد
- دیوان شعر
- سبوی عشق
- ره عشق
- باده عشق
- نقطه عطف
- محرم راز
- مقام رهبری در فقه اسلامی با استفاده از کتاب البیع
- مسائل امر به معروف و نهی از منکر از تحریر الوسیله
- مسئله قضاوت از کتاب تحریر الوسیله
- جهاد نفس از کتاب اربعین حدیث
- رابطه نیت و اخلاص از کتاب اربعین حدیث
- مناهج الوصول الی علم الاصول ۲ بوکه.
- رساله فی الطلب و الاراده
- رساله فی التقیه
- رساله فی قاعده من ملک
- رسالة فی تعیین الفجر فی اللیالی المقمره
- کتاب الطهارة - ۴ بوکه.
- تعلیقة علی العروة الوثقی
- المکاسب المحرمه ۲ بوکه.
- تعلیقه علی وسیلة النجاة
- رساله نجاة العباد
- حاشیه بر رساله ارث
- تقریرات درس اصول آیت‌الله العظمی بروجردی
- مناهج الوصول الی علم الاصول ۲ بوکه
- رساله فی الطلب و الاراده

- رساله فی التقیه
- رساله فی قاعده من ملک
- رسالة فی تعیین الفجر فی اللیالی المقمره
- کتاب الطهارة - ۴ تهوکه.
- تعلیقة علی العروة الوثقی
- المکاسب المحرمه ۲ تهوکه.
- تعلیقه علی وسیلة النجاة
- رساله نجاة العباد
- حاشیه بر رساله ارث
- تقریرات درس اصول آیت‌الله العظمی بروجردی
- صحیفه امام «مجموعه آثار امام خمینی » ۲۲ تهوکه.
- صحیفه نور
- وصیت‌نامه
- لمحات الاصول
- کوثر ۳ تهوکه
- منشور روحانیت
- وعده دیدار
- فریاد برائت
- آوای توحید

## سرچينې


۱- امام خميني (ره) در حديث ديگران.
۲- امام خميني (ره) و جهان معاصر، لومړی او دويم ټوک.
۳-صحيفه نور، ۱۳ ټوک.
٤- صحيفه نور، ۱۸ ټوک.
۵- د تبيان كتاب، ۱۹ دفتر (د امام خميني (ره)د ويناوو ټولگه)
٦-سفينة البحار، دويم ټوک.
۷-د تهران د دويم سياسي او نړيوال سيمينار د مقالو ټولگه، ۱۳۷۰.
۸-خورشيد بی غروب.
۹-مبلغان، جوزا، ۱۳۸۱، ۲۹ گڼه، عبدالكريم پاک نيا.
۱۰-د ميثاق خون مجله، (۵۷-۵٦)مسلسله گڼه، د ۱۳٦۸ ثور او جوزا.
۱۱-د پيام مستضعفين مياشتنۍ مجله، د افغانستان د سازمان نصر د نشراتي ارگان مجله، ۷۱ مسلسله گڼه، ۱۳٦۸.
۱۲-د كيهان ورځپاڼه، ۱۳٦۹/٤/۱۸.
۱۳-كيهان انديشه، ۲۹ گڼه، ۱۳٦۹ كال.
١٤-نداى حق، د افغانستان د اسلامي حزب نشراتي ارگان، اوولسمه گڼه، دریمه كال، د ۱۳٦۰ آذر مياشت.
۱۵-جوانان از ديدگاه امام خميني؛ موسسه چاپ و نشر عروج.
۱٦-مهدي منتظر قايم؛ آزادي های فكري و شخصي از ديدگاه امام خميني؛ موسسه چاپ و نشر عروج.
۱۷-علي باقر شيخاني؛ دوستي با خدا با سيری د آثار و انديشه های امام خميني (ره)؛ موسسه چاپ و نشر عروج.
۱۸-غلامعلی رجايي؛ امام به روايت امام؛ موسسه چاپ و نشر عروج.
۱۹-جايگاه زن در انديشه امام خميني (س)؛ موسسه چاپ و نشر عروج.
۲۰-سيمای معصومين در انديشه امام خميني؛ موسسه چاپ و نشر عروج.

۲۱- سید حسن اسلامي؛ امام، اخلاق، سیاست؛ موسسه چاپ و نشر عروج.
۲۲-سید جواد ورعي؛ امام خميني و احیای تفکر اسلامي؛ موسسه چاپ و نشر عروج.
۲۳-مهدي براتعلي پور؛ امام خميني و جامعه مدني؛ موسسه چاپ و نشر عروج.
۲٤-خود باوري و خود کفايي از ديدگاه امام خميني؛ موسسه چاپ و نشر عروج.
۲۵- افغانستان در کلام امام-امام از دیدگاه شخصیتهای افغان و جهان.
۲٦-www. google. com

پای